

# افغانستان

په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو خونديتوب

کلنی راپور ۲۰۱۸


د افغانستان لپاره
د ملګرو ملتونو
مرستندويه پلاوی

د بشري حقونو لپاره
د ملګرو ملتونو
د عالي کمیشنرۍ دفتر


فبروري ۲۰۱۹، کابل افغانستان




DISCLAIMER

The boundaries and names shown and the designations used on this map do not imply official endorsement or acceptance by the United Nations.

Dotted line represents apporximately the line of Control in Jammu and Kashmir agreed upon by India and Pakistan. The final status of Jammu and Kashmir has not yet been agreed upon by the parties.

Geographic Coordinates: WGS84

Production Date: February 2017

دا راپور او په وسله واله شخړه کې د ملکیانو د خوندیتوب ټول راپورونه چې دلته یې حواله ورکړل شوې د یوناما پر ویب پاڼه په لاندې پته د لاسرسي وړ دي: http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

د لومړي مخ انځور: © عمر سبحاني / رویټرز

د ۲۰۱۸ کال د اپریل پر ۳۰ نېټه یوه ډله ژورنالستان او لومړنۍ مرسته رسوونکي د کابل ښار په منځ کې په یوه ځانمرګي برید کې ګیر راغلل. د یوې ښځې په ګډون نهه ژورنالستان هغه مهال ووژل شول او شپږ نور ټپیان شول کله چې یوه ځانمرګي بریدګر چې د ژورنالست په څېر د ژورنالستانو جعلي هویت پاڼه او کمره یې له ځان سره ګرځول، په ځان پورې تړلي چاودیدونکي توکي وچول. دغه بریدګر د مخکینۍ چاودنې په صحنه کې چې د ملي امنیت ریاست پر یوه چیک پوست باندې پر موټر سایکل سپور د یوه ځانمرګي بریدګر له خوا ترسره شوه، د لومړي مرسته رسوونکو او ژورنالستانو را رسیدو ته په تمه پاتې شوی و. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د دغو دواړو بریدونه مسوولیت پر غاړه واخیست، کوم چې د څلورو ماشومانو په ګډون د ټولټال ۶۳ ملکي تلفاتو (۲۱ مړه او ۴۲ ټپي) لامل شول.

**"دا د ملګرو ملتونو لسم راپور دی چې په افغان شخړه کې د ملکیانو کړاو مستند کوي – چې په یوه لسیزه کې له ۳۲۰۰۰ زیات ولسي وګړي وژل شوي او شاوخوا ۶۰۰۰۰ نور ټپیان شوي. اوس د دې وخت رارسیدلی چې نور دغې بشري بدبختۍ او غمیزې ته د پای ټکی کیږدو. د ملکیانو د وژلو او ټپي کولو د مخنیوي تر ټولو غوره لار د جګړې پای ته رسول دي. ځکه نو تر هر څه زیات اړتیا ده چې موږ د سولې د راوستلو لپاره خپلې ټولې هڅې تر سره کړو. زه له ټولو ښکېلو خواو څخه غوښتنه کوم چې له هر فرصت څخه په ګټه اخیستو دغه کار تر سره کړي. "**

تدامیچي یاماموتو ، د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د عمومي منشي ځانګړی استازی ، کابل ، فبروري ۲۰۱۹

**"په افغانستان کې جګړه د ډېرو ملکي وګړو د دوامداره مرګ ژوبلې لامل کرځېدلې او ډېرو نورو ته یې اوږدمهاله جسمي او فزیکي کړاو اړولی. دا چې په روان کال د وژل شویو ماشومانو شمېر د ریکارډ تر کچې خورا لوړ دی، په ځانګړې ډول ټکان ورکوونکی دی. د ژ وند له لاسه ورکولو تر څنګ، خراب امنیتي وضعیت زیاتره افغانان د هغوی له اقتصادي، ټولنیز او کلتوري حق څخه بې برخې کړي، چې په زرګونو ماشومان وار له مخې پر ښوونځیو او روغتیاي مرکزونو د بریدونو له امله د ټول عمر لپاره معلول شوي. زه د جګړې پر ټولو ښکېلو خواوو غږ کوم چې د بشرپالنې او بشري حقونو د نړیوالو قوانینو درناوي وکړي څو د ټولو ملکي وګړو ژوند خوندي او وژغورل شي."**

میشل بشلیت ، د بشري حقونو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنر ، جنیوا ، فبروري۲۰۱۹

## ماموریت

د افغانستان کې په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د خوندیتوب اړوند د ۲۰۱۸ کال دغه راپور ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا چمتو شوی ، چې د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د ډسمبر تر ۳۱ نېټې پورې موده رانغاړي.

دغه راپور د یوناما د بشري حقونو د څانګې له خوا د هغه صلاحیت او واک له مخې چمتو شوی ، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورى له خوا د ۲۴۰۵ (۲۰۱۸) پریکړه لیک پر بنسټ یوناما ته ورکړل شوی تر څو د ملکي وګړو وضعیت وڅاري ، د دوي د خوندیتوب د باوري کېدو په موخه هڅې همغږې کړي ، [. . . ] حساب ورکول تقویه کړي او د بنسټیزو ازادیو او بشري حقونو د احکامو ، چې د افغانستان په اساسي قانون او نړیوالو تړونونو کې ، چې افغانستان یې غړیتوب لري تسجیل شوي دي ، په بشپړ ډول پلي کیدو کې مرسته وکړي ، په ځانګړي ډول د هغو احکامو په پلي کولو کې چې د ښځو له خوا د هغوی له ټولو حقونو څخه د برخمن کیدو سره تړاو لري.

د ملګرو ملتونو د امنیت شورى ۲۴۰۵ (۲۰۱۸) شمېره پریکړه لیک چې په افغانستان کې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وضعیت او په ځانګړي توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړوند روانې څارنې او راپور ورکونې ته اهمیت ورکوي.

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه: په خپلواکه او ناپیلې ډول د داسې پیښو څارنه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي ؛ په وسله والو جګړو کې د زیانمن شویو ملکي وګړو د ساتنې د تقویې په موخه ملاتړ ؛ او د داسې نوښتونو پیل چې د نړیوالو بشري حقونو ، د بشر پالنې د نړیوال قانون ، د افغانستان د اساسي قانون په شمول د ژوند حق او جسمي سلامتۍ او د افغانستان نور قوانینو سره سمون ولري او په جګړه کې د ټولو ښکېلو غاړو له لوري رعایت شي.

دا راپور د افغانستان د پاره د ملګرو ملتونو مرستندویه ماموریت ( یوناما ) او د ملګرو ملتونو د بشري حقونو د عالي کمشنرۍ دفتر په ګډه چمتو کړی.

# د مطالبو فهرست


میتودولوژي ........ i
د راپور لنډیز ........ ۱
سپارښتنې ........ ۶
۱. هغه سیاسي او امنیتي تحرکات (داینامیکس) چې د ملکي وګړو خوندیتوب اغیزمنوي ........ ۹
II. په ملکي وګړو د وسله والې جګړې اغیز ........ ۱۱
الف. ښځې او وسله واله جګړه ........ ۱۱
ب. ماشومان او وسله واله جګړه ........ ۱۲
۱. د جګړې د ښکېلو خواوو له خوا د ماشومانو ګمارنه او کارَونه ........ ۱۴
۲. د ماشومانو په ضد جګړې پورې اړوند جنسي تاوتریخوالی ........ ۱۵
ج. پر پوهنې/زده کړې د وسله والې جګړې اغیز ........ ۱۶
د. پر روغتیا د وسله والې جګړې اغیز ........ ۱۷
ه. له جګړې څخه پاتې شوني چاودیدونکي توکي ........ ۱۸
۳. دولت ضد عناصر ........ ۲۰
الف. عمومي کتنه ........ ۲۰
۱. طالبان ........ ۲۱
۲. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ........ ۲۳
ب. هغه تاکتیکونه او د پېښو نوعیت چې ملکي وګړو ته د تر ټولو زیات زیان لامل شوي ........ ۲۴
۱. تعبیه شوي چاودیدونکي توکي (ځانمرګي او غیر انتحاري) ........ ۲۴
۲. هغه بریدونه چې په قصدي ډول ملکي وګړي او ملکي شیان په نښه کوي ........ ۲۸
۳. د جګړې پورې اړوند د ملکي وګړو تښتونې ........ ۳۴
۴. د ملکي وګړو په ضد ترسره شوي ناقانونه سزاګانې ........ ۳۵
۵. د نظامي موخو لپاره د کورونو او نورملکي ځایونو کارول ........ ۳۶
۴. دولت پلوه ځواکونه ........ ۳۷
الف. عمومي کتنه ........ ۳۷
۱. افغان ملي امنیتي ځواکونه ........ ۳۸
۲. نړیوال نظامي ځواکونه ........ ۳۹
۳. دولت پلوه وسله والې ډلې ........ ۳۹
ب. هغه تاکتیکونه او د نمونو ډولونه چې ملکي کسانو ته زیات زیان اړوي ........ ۴۲
۱. هوايي عملیات ........ ۴۲
۲ . د تلاشي عملیات ........ ۴۶
۳. د افغان ملي امنیتي ځواکونو او خوست ساتنې ځواک له خوا د ملکي کسانو عمدي وژنې ........ ۴۸
۵ . ځمکنۍ نښتې: د ډزو په تبادله کې راګیر ملکي کسان ........ ۵۰
الف. کتنه ........ ۵۰

ب. د ځمکنیو نښتو پر مهال د ډزو د غیر مستقیمو سیستمونو څخه را منځ ته شوي ملکي تلفات ........................ ۵۲
ج. د ځمکنیو نښتو پر مهال د ډزو په نتیجه کې را منځ ته شوي ملکي تلفات ........................................ ۵۳
د. د پولې د پورې غاړې څخه ډزې .................................................................................. ۵۴
۶. د احتساب د هڅو په شمول د ملکي تلفاتو د کمولو پالیسۍ ګانې او میکانیزمونه ................................. ۵۵
الف. افغان ملي امنیتي ځواکونه او نړیوال پوځي ځواکونه ............................................................ ۵۵
ب . طالبان ............................................................................................................... ۵۸
لومړۍ ضمیمه: حقوقي چوکاټ ....................................................................................... ۶۱
دویمه ضمیمه: د جګړې اصلي خواوې ................................................................................ ۶۵
دریمه ضمیمه. اصطلاحات .............................................................................................. ۶۸
څلورمه ضمیمه: د ملکي تلفاتو ولایتي تجزیه ....................................................................... ۷۴
پنځمه ضمیمه: د طالبانو له خوا ادعا شوي بریدونه: د هدف د نمونې پر اساس تجزیه .............................. ۷۷
شپږمه ضمیمه: د "جنګي جرمونو" په اړه د طالبانو د ادعاوو فهرست ................................................ ۷۸
اومه ضمیمه: په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۸ کال د کلني راپور په اړه د افغانستان د اسلامي جمهوریت غبرګون ........................................................................................................ ۷۹
اتمه ضمیمه: په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۸ کال د کلني راپور په اړه ناټو د غوخ ملاتړ ماموریت غبرګون ............................................................................................................ ۸۰
نهمه ضمیمه: په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۸ کال د کلني راپور په اړه د طالبانو غبرګون..... ۸۲

## میتودولوژي

له ۲۰۰۹ کال راهیسې، یوناما په افغانستان کې د جګړې ښکېلو خواوو ته منسوب شوي ملکي تلفات د یوې منسجمې میتودولوژۍ په کارونې سره په سیستماتیک ډول مستند کوي، کوم چې د کال په کال د جریان شننې او راپور ورکونې لپاره زمینه برابره کړې ده. د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما کار د بشري حقونو او د بشرپالنې د نړیوالو قوانینو د اصولو پر بنسټ ولاړ دی، او میتودولوژي یې د غوره کړنو او د بشري حقونو د عالي کمیشنر د دفتر د سلا مشورو او لارښوونې پر اساس رامنځ ته شوې.

د ملکي تلفاتو شتون په دې مانا نه دی چې سرغړونه ترسره شوې، که څه هم د ملکي تلفاتو لوړې شمېرې ښايي د سرغړونو ښکارندوې وي یا د زیان نمونې منعکس کړي.

### تاییدونه او د ثبوت معیار

د ملکي وګړو د ساتنې د راپورونو په موخه، یوناما په راپورونو کې یوازې تایید شوي ملکي تلفات شاملوي.[1] د تایید شویو تلفاتو په خبر هغه ثبت شوي ملکي تلفات دي، چې د هغو معلوماتو د بشپړتیا پر بنسټ وي چې یوناما بیا کتلې وي، دا یې معلومه کړې وي چې د دې څرګند او قناعت وړ شواهد شته چې ملکي وګړي وژل شوي یا ټپي شوي. د دغه معیار د پوره کولو لپاره، یوناما لږ تر لږه درېو مختلفو او خپلواکو سرچینو ته اړتیا لري لکه قرباني، شاهدان، طبی ماهرین، ځایي چارواکي، په جګړه کې د ښکېلو غاړو له خوا تایید، قومي مشر او یا نوري سرچینې. تر هغه ځایه چې شونې ده معلومات د قربانیانو یا د پېښو د شاهدانو او د پېښې په ساحه کې د حقیقت موندنې کتنو له لومړنیو راپورونو څخه ترلاسه شوي. د امنیتي ستونزو له امله چې د پېښې ځای ته لاس رسي اغېزمن کوي، د حقیقت موندنې دغه ډول څېړنې تل شونې نه وي. په دغه ډول شرایطو کې یوناما پر یو لړ تخنیکونو اتکا کوي چې د پراخو باوري شبکو له لارې تر شونې حده د پراخو سرچینو او معلوماتو په کارولو سره معلومات ترلاسه کړي، چې ټول یې د اعتبار او باور لپاره ارزول کیږي. په دغو تخنیکونو کې د پېښې ځایونو څخه د راغونډ شوي دیجټلي شواهدو ازموینه لکه ویډیويي انځورونه او عړیز ریکارډونه؛ د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه لیدنې؛ د ملګرو ملتونو د امنیت او خوندیتوب د څانګې او نورو ادارو راپورونه؛ د دویم لاس سرچینې؛ د نا دولتي ادارو او د دریم ګړي له خوا راغونډ شوي معلومات؛ او خپله په جګړه کې ښکېلې خواوې شامل دي. یوناما په فعال ډول د جنډر په لحاظ له بېلابېلو سرچینو سره او همدارنګه د نژادي لیریکو، قومي او مذهبي ډلو او په ټولنه کې له منزوي شویو ډلو سره مشورې کوي، څو د نظریاتو تنوع یقیني او د هر ډول تبعیض خطر راکم کړي.

کله چې یوناما د ملکي تلفاتو په اړه د معلوماتو له کیفیت او کمیت څخه نه وي ډاډمنه، نو هغه تلفات د تایید شویو هغو په څېر په پام کې نه نیسي. په دې راپور کې ناتایید شوي پېښې نه دي ځای شوي. یوناما د پېښو په اړه معلومات د جګړې له ښکېلو خواوو سره شریکوي څو په خپله راپور ورکونه کې کره والي یقیني کړي، له ښکېلو خواوو سره د مخنیوونکو او احتیاطي تدابیرو په نیولو کې مرسته وکړي، او قربانیانو ته د خسارې د جبران د برابرولو په ګډون، احتساب ته وده ورکړي.

### د سرچینو ساتنه

د ملکي تلفاتو د پېښو د مستند کولو پرمهال، یوناما له هر ډول ممکنه غچ څخه د معلوماتو د برابرونکو زیانمنیدونکو سرچینو ساتنې ته پام کوي، لکه په خوندي موقعیتونو کې لیدنه، له مروجو ټولنیزو نورمونو سره سم له ښځو سره د مرکو ترسره کول او په هغو سیمو کې د حقیقت موندنې څېړنې نه ترسره کول، چې ښايي سرچینې له ګواښ سره مخ کړي.

### د مسؤلیت منسوبونه

څرنګه چې په جګړه کې ډېرې غاړې ښکېلې دي، یوناما هره هڅه کوي چې د امکان تر حده په دقیق ډول په ملکي مرګ ژوبله کې مسؤل لوری په کره او مشخصه توګه په ګوته کړي. خو له عملیاتي چاپېریال سره د ملو ننګونو له امله ښايي دغه کار تل شونې نه وي. د مثال په ډول، لومړنۍ سرچینې ښايي د دې وړ نه وي چې مسؤلې خواوې په څرګند ډول معلومې کړي یا په

[1] یوناما همدارنګه هغه پېښې مستند او تاییدوي چې د ملکي شتمنۍ د زیان لامل شوې وي.

هره پیښه کې د مختلفو نظامي فعالینو او د وسله والو ډلو د غړو ترمنځ توپیر وکړي او ښايي هر وخت د کوم لوري له خوا مسوولیت منل شوي نه وي. یوناما د هرې ملکي مرګ ژوبلې مسؤلیت یا دولت پلوه ځواکونو یا دولت ضد عناصرو ، په ګډه دواړو ډلو ، یا نا پیژانده لوري ته منسوبوي. د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د ځمکنیو نښتو په پیښو کې په کومو کې چې ملکي تلفات یوه لوري ته نه شي منسوب کیدای ، یوناما د تلفاتو مسؤلیت په ګډه دواړو ډلو ته منسوبوي او دغه د "دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو" په نوم ثبتوي. چیرې چې مړینې له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي وي ، او په پریکنده ډول یوه خوا یا خواوو ته نه شي منسوب کیدای ، یا ښايي د پخوانیو جګړو پاته شوني چاودیدونکي توکي وي ، دغه ډول پیښې د "نا پیژانده مرتکب" په څېر ډلبندي کیږي.

### د قربانیانو د ملکي وضعیت معلومول

په ځینو پیښو کې ، د راپور شویو قربانیانو ملکي وضعیت نه شي کیدای په پریکنده ډول معلوم شي یا یې پر سر اختلاف موجود وي. د یوناما د تعریف له مخې ملکي وګړي هغه څوک دي چې د وسله واله ځواکونو غړي یا د منظم شوې وسله والې ډلې غړي نه وي. یوناما هغه تلفات نه مستند کوي چیرې چې ملکیانو د مړینې یا ژوبلې پرمهال په مستقیم ډول جګړو کې برخه اخیستې وي او نه د هغو افرادو مړینه او ژوبله مستند کوي څوک چې له بریدونو څخه خوندي وي خو د بشرپالنې د نړیوال قانون لاندې ملکي کسان نه شمېرل کیږي ، لکه له جګړې لویدلي اشخاص یا د وسله والو ځواکونو طبي او دیني پرسونل.[۲] یوناما د جګړې وړ عمر لرونکي نارینه افراد ملکیان یا جنګیالي نه انګیري.خو پر ځای یې دغه ډول ادعاوې په هر انفرادي تلفاتو پورې اړوند د موجوده حقایقو پر بنسټ ارزوي او مستند کوي. چیرې چې پوره معلومات نه وي موجود ، دغه ډول تلفات د راپور په ارقامو کې نه شاملیږي.

یوناما ادعا نه کوي چې په دغه راپور کې وړاندې شوې شمېرې بشپړې دي او منې چې په عملیاتي چاپیریال کې د محدودیتونو په پام کې نیولو سره ،کیداي شي د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې پوره راپور ورکړل شوی نه وي.

### د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کمیسیون سره همغږي

یوناما د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کمیسیون د ځانګړي څېړنو د ټیم سره د پیښو په اړه د حقیقت موندنې په ترسره کولو او د ټولو تمایلاتو او نمونو په شننه کې په ځانګړي ډول همغږي او همکاري کوي. یوناما او د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کمیسیون وخت نا وخت د څارنې ګډ ماموریتونه ترسره کوي.

---

[۲] د لا زیاتو معلوماتو لپاره لومړۍ ضمیمه: د حقوقي چوکاټ او دریيمه ضمیمه: د ملکیانو او د ملکي تلفاتو د تعریف لپاره د اصطلاحګانو برخه وګورئ

## د راپور لنډيز

په تولیز ډول ملکي تلفاتو په درلودلو سره ، د ماشومانو د مړینې په شمول ، په افغانستان کې وسله والې شخړې په ۲۰۱۸ کال کې په دوامداره توګه ملکي کسانو ته د نه منلو وړ ډېر زیان اړولی او ملکي تلفات ریکارډ لوړې کچې ته رسیدلي. یوناما د وسله والې شخړې په پایله کې ټولټال ۱۰۹۹۳ ملکي تلفات (۳۸۰۴ مړینې او ۷۱۸۹ ټپي کیدنې) مستند کړي ، دا د ۲۰۱۷ کال[3] په پرتله د ټولو ملکي تلفاتو په برخه کې پنځه سلنه زیاتوالی او د ملکي تلفاتو په برخه کې ۱۱ سلنه زیاتوالی څرګندوي. که څه هم چې د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې دوامداره کموالی را منځ ته شوی ، خو دا کموالی د دولت ضد عناصرو ، په تیره بیا د داعش / اسلامي دولت خراسان څانګې له خوا د ځانمرګي بریدونو[4] په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې د پام وړ زیاتوالي نښیي ، د هوایي بریدونو او تلاشي د عملیاتو په پایله کې ملکیانو ته د زیات زیان اوښتو له امله متاثره شوی. ځانمرګو بریدونو او هوایي عملیاتو هر یوه په خپل وار زیات ملکي تلفات اړولي کوم چې د یوناما له خوا د دغو تاکتیکونو په پایله کې مستند شوي.

په ۲۰۱۸ کال کې دولت ضد عناصر په دوامداره توګه د زیاتو ملکي تلفاتو لامل شوي. په ۲۰۱۸ کال کې په ځانمرګي او غیر ځانمرګي بریدونو کې د دولت ضد عناصرو له خوا د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو کارول د ملکي تلفاتو مخکښنه لامل پاتې شوی چې د ټولو تلفاتو ۴۲ سلنه جوړوي. د ټولو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د تاکتیکونو په پایله کې د ملکي تلفاتو په شمېر کې ۱۱ سلنه زیاتوالی راغلی ، دا د ځانمرګو ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو په پایله کې د ۲۲ سلنې زیاتوالي له امله را منځ ته شوی ، ملکي تلفات د ریکارډ لوړو کچو ته رسیدلي.[5] په داسې حال کې چې غیر ځانمرګو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو له ۱۶سلنې زیات تلفات را منځ ته کړي ، ځانمرګي ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي د ټولو ملکي تلفاتو د نږدې ۲۶ سلنې لامل شوي ، د ځانمرګو او غیر ځانمرګو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې ټولټال ۴۶۲۷ ملکي تلفات (۱۳۶۱ مړینې او ۳۲۶۶ ټپي کیدنې) را منځ ته شوي. په ملکي کڼ میشتو سیمو کې د ځای پر ځای شویو

**د ټول ملکي ملکي وګړو چې وژل شوي یا ټپي شوي ټوټل شمیره**

د جنوری څخه تر دسمبر ۲۰۰۹-۲۰۱۸




چاودیدونکو توکو ، د بیلګې په توګه د ځانمرګي او د فشار په ذریعه د فعالیدونکو توکو بې توپیره او ناقانونه کارولو او همدارازد ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د کارولو له لارې د ملکیانو مخ پر زیاتیدونکي عمدي په نښه کول د زیاتې اندیښنې وړ دي.

[3] له هغه راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په منظم ډول د ملکي تلفاتو ثبتول پیل کړي ، یوناما ۹۱۶۷۵ ملکي تلفات ثبت کړي (۳۲۱۱۴ مړینې او ۵۹۵۶۱ ټپي کیدنې). په ۲۰۱۷ کال کې ، یوناما ۱۰۴۵۹ ملکي تلفات تصدیق کړي (۳۴۴۰ مړینې او ۷۰۱۹ ټپیان).

[4] یوناما د "ځای پر ځای شویو ځانمرګو چاودیدونکو توکو" یا "ځانمرګو بریدونو" اصطلاح کاروي څو هغه ټول بریدونه پکې شامل وي چیرته چې مرتکب ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي کاروي ، معمولا په ځان پورې تړل شوي چاودیدونکي توکي یا په موټر کې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي ، چې د چولو سره سم د هغه یا هغې په مړینه تمام شي. په دې کې ' ډله ییز بریدونه' هم شامل دي. دریمه ضمیمه وګورئ: لغتونه.

[5] په ۲۰۱۸ کال کې د ۲۰۱۷ کال د دوو سلنو په پرتله ، د غیر ځانمرګو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو شمېر کم شوی.

کابل ولایت هغه سیمه ده چې تر ډېره بریده د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د کارولو له امله ډېره متاثره شوې ، په داسي حال کې چې په ننګرهار ولایت کې د ځای پر ځای شویو چاودیدونکوتوکو له امله ملکي تلفات څلور برابره لوړ شوي (تر ډېره د غیر ځانمرګي بریدونو په پایله کې) ، دا لومړی ځل دی چې ننګرهار نږدې د کابل ولایت کچې ته رسیږي.[6]

ځمکنۍ نښتې ، په تیره بیا د دولت پلوه او دولت ضد عناصرو تر منځ[7] ، د ملکي تلفاتو د دویم لوړ لامل په حیث پاته شوې ، چې ۳۱ سلنه یا ۳۳۸۲ ملکي تلفات (۹۱۴ مړیني او ۲۵۶۸ ټپي کیدنې) دي. دا درې سلنه کموالی څرګندوي ، دا د ۲۰۱۷ کال راهیسې د هغه تمایل دوام دي چې یوناما د پام وړ کموالی مستند کړ.[8] د ځمکنیو نښتو د تلفاتو په برخه کې دغه دوامداره کموالی د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو په برخه د کموالي له امله را منځ ته شوی ، په داسي حال کې چې دولت ضد عناصرو ته د تلفاتو منسوب شوې کچې د ۲۰۱۷ کال په څېر په ځای پاته دي. یوناما یادونه کوي چې یو شمېر زیاتو فاکتورونو د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو د کموالي د مسلې سره مرسته کړې ، په هغو کې په ځمکنیو نښتو کې بدلون او په کم میشتو سیمو کې عملیات ، د جګړو په اړه ملکیانو ته د خبرداري ورکول او د ملکي کسانو د ښه خوندیتوب لپاره د پالیسي ګانو دوامداره پلي کول شامل دي.[9]




د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي کسانو په وړاندې د هدف نیولو عمدي بریدونه چې زیاتره یې د ځانمرګي او ډله ییزو بریدونو له امله را منځ ته شوي ، د زیاتې اندیښنې وړ دي ، دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۴۸ سلنه زیاتوالی ښیي ، چې دا په ۲۰۱۸ کال[10] کې ۴۱۲۵ ملکي تلفاتو (۱۴۰۴ مړیني او ۲۷۲۱ ټپي کیدنې) ته لوړ شوی.

د داعش / اسلامي دولت د خراسان څانګې له خوا د ملکیانو د عمدي هدف ګرځولو په پایله کې د ملکی تلفاتو شمېر دوه برابره شوی ، په ۲۰۱۷ کال کې تلفات ۸۴۳ وه خو په ۲۰۱۸ کال کې ۱۸۱۷۱ وه ، دا تلفات تر ډېره د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په پایله کې را منځ ته شوې چې ملکیان یې هدف نیولي ، په دې کې د شیعه لړکیو په وړاندې فرقه یې انګیرل شوې بریدونه شامل دي.

[6] په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما لاندې موارد ثبت کړي: په کابل ولایت کې ټولټال ۱۸۶۶ ملکي تلفات (۵۹۶ مړینې او ۱۲۷۰ ټپژې کیدنې). د دغو له جملې څخه ځان مرګي او غیر ځانمرګي ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي ۹۸ سلنه یا ۱۸۱۵ ملکي تلفات (۵۷۶ مړینې او ۱۲۳۹ ټپي کیدنې) جوړوي ، دا د ۱۷۶۹ ملکي تلفاتو (۴۶۱ مړیني او ۱۳۰۸ ټپي کیدنو ) په پرتله په ۲۰۱۷ کال کې د ځانمرګو او غیر ځانمرګو ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په پایله کې را منځ ته شوي. په ننګرهار ولایت کې ، یوناما په ۲۰۱۸ کې ۱۸۱۵ ملکي تلفات ( ۶۸۱مړیني او ۱۱۳۴ ټپي کیدنې) ثبت کړي. له دې جملې څخه ځانمرګی او غیر ځانمرګي ځای پر ځای شویو چاودیدونکي توکي ۶۵ سلنه تلفات ، یا ۱۱۶۶ ملکي تلفات (۳۱۴ مړینې او ۸۵۲ ژوبل) جوړوي ، د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله کې په ننګرهار کې د دغو تاکتیکونو په پایله کې ۲۶۹ ملکي تلفات (۷۴ مړیني او ۱۹۵ ژوبلې) را منځته شوې.

[7] یوناما د دولت پلوه عناصرو ، په تیره بیا د طالبانو او داعش تر منځ په ځمکنیو نښتو کې ۵۰ ملکي تلفات ثبت کړي.

[8] په ۲۰۱۷ کال کې ، یوناما د ځمکنیو نښتو په پایله کې ټولټال ۳۴۸۵ ملکي تلفات (۸۲۴ مړیني او ۲۶۶۱ ټپي کیدنې) مستند کړې ، دا د ۲۰۱۶ کال د ورته مودې په پرتله د داسې ملکي تلفاتو په شمېر کې ۲۳ سلنه کموالی ښیي.

[9] ۵ څپرکی وګورئ: ځمکنۍ نښتتې: د ډزو په تبادله کې راګیر ملکیان او ۶ څپرکی: د ملکي کسانو د تلفاتو د راکمولو پالیسي ګانې او میکانیزمونه ، د احتساب د هڅو په شمول.

[10] په دې شمېر کې د دولت ضد عناصرو له خوا د افغان ملي پولیسو په نښه کولو بریدونه شامل ندي ، کومو چې ۶۶۹ اضافي ملکي تلفات (۱۹۵ مړیني او ۴۷۴ ټپي کیدنې ) رامنځته کړي ، ځکه چې د پولیسو هدف نیول ښايي د هغه خوندیتوب څخه ګټه پورته نه کړي چې بنسټ یې په ملکي وضعیت ولاړ دی په هغو فعالیتونو پورې تړاو لري چې د جګړې پر مهال یې پر مخ وړل او کوم چې ښایې په دښمنیو کې د هغوی د مستقیم ګډون لامل شي (په هغو پېښو کې چې ملکي تلفات شمېرل شوي یوازې هغه نور هم شامل دي چې متاثره شوي چا چې په جګړه کې برخه نه ده اخیستې). یوناما همدارنګه د دولت پلوه عناصرو لخوا هغه بریدونه نه دي شامل کړي چې موخه یې د نامعلومو موخو په نښه کول وو او کومو چې ټولټال ۱۶۲ ملکي تلفات (۴۲ مړینې او ۱۲۰ ټپي کیدنې) را منځ ته کړي.

د طالبانو له خوا د ملکي کسانو د عمدي هدف نیولو په پایله کې د ملکي تلفاتو په شمېر کې نږدې دوه برابره زیاتوالی راغلی ، یعنی د تلفاتو شمېر په ۲۰۱۷ کال کې ۹۱۶ و چې دا بیا په ۲۰۱۸ کال کې ۱۷۵۱ ته لوړ شو. دا زیاتوالی تر ډېره په کابل کې د جنوري د ۲۷ نېټې د ځانمرګي امبولانس موټر بم د هغې پېښې سره تړاو لري ، کومه چې تر ټولو وژونکې پېښه وه چې د یوناما له خوا تر اوسه مستنده شوې ، دا زیاتوالی همدارنګه د اکتوبر په ۲۰ د ټاکنو په تړاو (د رای ورکولو په ورځ) د هغو بریدونه سره هم تړاو لري چې کله یوناما په ۲۰۱۸ کال کې د ملکي تلفاتو دومره لوړ ارقام په یوه ورځ کې مستند کړې.

یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي کسانو د تلفاتو په برخه کې د هدفمند قصدي وژنو په پایله کې د افرادو هدف ګرځول ، په تیره بیا د ویشتلو په پایله کې را منځ ته شوې کموالی مستندې کړي.[11] په هرصورت ، یوناما په ځانګړې توګه د دولت ضد عناصرو لخوا د مذهبي مشرانو او قومي مشرانو په شمول د ملکي وګړو د دوامداره هدف نیولو په اړه اندېښمنه ده.

د پارلماني ټاکنو د مپاشتو په درشل او د رای ورکولو د ورځو په جریان کې ، یوناما د دولت ضد عناصرو په تیره بیا د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي د یوه تنظیم شوي کمپاین څخه د ټولټاکنو په تړاو د پېښو د نظارت په مهال ښیې تر څو ټاکنو ته زیان ورسوي او افغانان په ټاکنیزو پروسو کې د ښودنې او ازادانه ګډون څخه مخنیوي وکړي. دا د ملکي اهدافو په وړاندې او په ملکي ګڼ میشتو سیمو کې یو شمېر بریدونه احتوا کوي ، چې په دې کې د تښتونو ، ګواښونو ، تهدیدونو او ځورونو د اندېښنې وړ بڼې هم شاملې وې. د ۲۰۱۸ کال د اپریل د ۱۴ څخه د ۲۰۱۸ کال تر پایه د رای ورکونکو د راجستر کولو د مودې په پیل سره ، یوناما د ټاکنو په تړاو د ټولټال ۳۱۰ ملکیانو د تښتولو تر څنګ ، د ټاکنو په تړاو ټولټال ۱۰۰۷ ملکي تلفات (۲۲۶ مړینې او ۷۸۱ ټپي کېدنې)[12] تصدیق کړي. طالبان په ۲۰۱۸ کال کې د ټاکنو په تړاو د نیمایی ملکي تلفاتو باعث شوي.[13]

په ۲۰۱۸ کال کې ، د دولت پلوه ځواکونو له خوا د هوایي بریدونو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې د پام وړ زیاتوالی مستند شوی ، د ۲۰۱۷ کال په پرتله د دې تاکتیک د کارولو له لارې د ټولو ملکي تلفاتو په برخه کې ۶۱ سلنه زیاتوالی او د مړینو په برخه کې ۸۲ سلنه زیاتوالی راغلی. هوایي بریدونه د ټولو ملکي تلفاتو نهه سلنه جوړوي او له هغه راهیسې چې کله په ۲۰۰۹ کال کې یوناما د ملکي تلفاتو په مستند کولو پیل وکړ ، د ډېر زیات ملکي زیان د اوښتو لامل شوي. یوناما په اندېښنې سره یادونه کوي چې په ۲۰۱۸ کال کې د هوایي عملیاتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالی تر ډېره د نړیوالو پوځي ځواکونو د عملیاتو په پایله کې را منځ ته شوی او د افغان پوځي ځواکونو په پرتله د زیاتو ملکي تلفاتو لامل شوي. یوناما په ځانګړې توګه اندېښنه لري چې په ۲۰۱۸ کال کې د تلاشي د عملیاتو پر مهال د افغان ځواکونو ، په تیره بیا د ملي امنیت د ریاست ځانګړي ځواکونو په ملاتړ د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا ترسره شویو هوایي بریدونو د پام وړ مړینو د لوړو ارقامو په ګډون) زیات ملکي تلفات اړولي.

د ملکي تلفاتو په برخه کې د ټولیز زیاتوالي په پرتله ، په ۲۰۱۸ کال کې د ښځو او ماشومانو تلفات را ټیټ شوي ، خو بیا هم دا تلفات ډېر لوړ وو. په داسې حال کې چې په ۲۰۱۸ کال کې د ماشومانو ټولټال ۳۰۶۲ تلفات (۹۲۷ مړینې او ۲۱۳۵ ټپي کیدنې) ریکارډ شوې ، دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله یو څه ټولیز کموالی ښیي ، د هوایي بریدونو او ځانمرګو بریدونو په پایله کې په ۲۰۱۸ کال کې[14] د ماشومانو مړینه ریکارډ کچې ته لوړه شوه او تلفات نږدې دوه برابره شوي. په ۲۰۱۸ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۸ سلنه ماشومان وو. په ۲۰۱۸ کال کې د شخړې سره د تړلو ملکي تلفاتو ۱۰ سلنه ښځې وې.[15] یوناما

---

[11] دریمه ضمیمه وګورئ:د عمدي وژنو د تعریف لپاره لغات.

[12] د دغو ملکي تفاتو نږدې نیمایي برخه د اکتوبر په ۲۰ او ۲۱ د رای ورکولو په ورځو کې واقع شوې.

[13] یوناما د ټاکنو په تړاو ټولټال ۱۸۹ پیښې د کومو په نتیجه کې چې ۵۰۸ ملکی تلفات (۱۰۲ مړینې او ۴۰۶ وژنې) را منځ ته شوې طالبانو ته منسوب کړې او د ټاکنو په تړاو د ځانمرګو او غیر ځانمرګو ځای پر ځای شوی چاودیدونکو توکو ۷ پیښې د کومو په نتیجه کې ۳۳۸ ملکی تلفات را منځ ته شوې (۹۴ مړینې او ۲۴۴ټپې کیدنې) داعش ته منسوب کړې. د نورو توضیحاتولپاره د بریدونو په اړه د پارلماني ټاکنو په اړه په دریمه b.ii برخه کې د ملکیانو او ملکي موخو د عمدي هدف نیولو د بریدونو په اړه لاندې فرعي برخه وګورئ .

[14] په ۲۰۱۷ کال کې ، یوناما د ماشومانو ټولټال ۳۱۷۹ تلفات (۸۶۱ مړینې او ۲۳۱۸ ټپي کیدنې) مستند کړي. په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما د ماشومانو ۹۲۷ مړینې مستندې کړې ، دا لوړ ارقام د ۲۰۱۶ کال کې ریکارډ شوې لوړ ارقامو سره ورته والی لري.

[15] د ښځو د تلفاتو ارقام ټولې ښځې احتوا کوي چې عمرونه یې ۱۸ کاله او یا د هغه څخه لوړ وي ، نجونې چې عمرونه یې د ۱۸ کلونو څخه ټیټ وي د ماشومانو په تلفاتو کې حسابیږي.

د ښځو ټولټال ۱۱۵۲ تلفات (۳۵۰ مړینې او ۸۰۲ ټپي کېدنې) مستند کړې ، دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله ۶ سلنه کموالی ښیي ، دا تر ډېره د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ښځو د تلفاتو په برخه کې د کموالي له امله را منځ ته شوی.

یوناما د دولت پلوه ، افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ماشومانو د استخدام او د جګړې د اهدافو د پاره کارولو په اړه په دوامداره توګه راپورونه ترلاسه کړي. په داسې حال کې چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د لیکو په دننه کې د اطفالو د رسمي استخدام په هکله پرمختګونه شوي ، د جنسي موخو په شمول د ماشومانو کارول د یوې ستونزې په حیث پاته شوې. که څه هم چې د جزا نوی تعدیل شوی کوډ د ۲۰۱۸ کال په فبرورۍ کې نافذ شو ، صریحا د *بچه بازۍ عمل*[١٦] یې جرم پیژندلی ، د دغو جرمونو لپاره احتساب د پام وړ یوه ننګونه ده.

د ۲۰۱۸ په اوږدو کې ، یوناما د هغو بریدونو او ګواښونو په برخه کې چې معارف متاثره کوي زیاتوالی مستند کړی — دا د ۲۰۱۷ کال په پرتله درې ځله زیاتوالی ښیي ، دا زیاتوالی تر ډېره بریده له دې امله را منځ ته شوی چې طالبان د پارلماني ټاکنو په درشل کې د رای ورکونکو د ثبت په مرکزونو او د رای ورکونې په مرکزونو چې په ښوونځیو کې واقع شوي بریدونه کړي. یوناما همدارز په ۲۰۱۸ کال کې د دولت ضد عناصرو په تیره بیا د داعش/ اسلامي دولت خراسان څانګې له خوا د افغان ملي امنیتي ځواکونو د ترسره شویو پوځي عملیاتو په غبرګون کې د تعلیمي مرکزونو په وړاندې د یوه راپورته کېدونکې تمایل په اړه اندېښنه لري.[١٧] یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د روغتیا پالنې په وړاندې د دوامداره بریدونو په اړه چې په ۲۰۱۸ کال کې مستند شوي ، اندېښمنه ده ، او همدارنګه په زیات شمېر زی ملکي کسانو د دې اغیز په ګوته کوي .

## د ملکي تلفاتو منسوبونه




یوناما زیاتره ملکي تلفات -۶۳ سلنه- دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي ، چې ۳۷ سلنه یې طالبانو ، ۲۰ سلنه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ، او شپږ سلنه یې نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي.

دولت پلوه ځواکونه په ۲۰۱۸ کال کې د ۲۴ سلنه ملکي تلفاتو (۱۴سلنه د افغان ملي امنیتي ځواکونو ، شپږ سلنه د نړیوالو نظامي ځواکونو ، دوه سلنه د دولت پلوه وسله والو ډلو او دوه سلنه د نا معلومو دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا) لامل شوي.

د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ د ځمکنیو نښتو پر مهال د ډزو تبادله چې کوم مشخص لوري ته نه شواې منسوب کېدای د ۱۰ سلنه ملکي تلفاتو لامل شوې. د ځمکنۍ نښتو له امله هغه ملکي تلفات چې د پاکستان نظامیانو ته منسوب شوي د یو سلنې کم ملکي تلفاتو لامل شوي دي. د ملکي تلفاتو پاتې دوه سلنه ، چې عمدتا له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي ، هیڅ کوم لوري ته نه شواې منسوب کېدای.

## دولت ضد عناصر

په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما ۶۹۸۰ ملکي تلفات (۲۲۴۳ مړه او ۴۷۳۷ ټپي) دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي ، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله درې سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي.[١٨] دغه زیاتوالی عمدتا په ملکي میشتو سیمو کې د ځانمرګو او د تعبیه

[١٦] دریمه ضمیمه وګورئ: لغات
[١٧] په معارف باندې د وسله والې شخړې د اغیز په اړه دویمه لاندې ج برخه وګورئ
[١٨] په ۲۰۱۷ کال کې ، یوناما دولت ضد عناصرو ته ۶۷۶۸ ملکي تلفات (۲۳۰۳ مړه او ۴۴۶۵ ټپي) منسوب کړي.

شویو چاودېدونکو توکو د نورو تاکتیکونو د بې توپیره کارونې او په دغو وسیلو سره د ملکیانو عمدي په نښه کولو سره په تیره بیا د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا ، او دغه راز د ځمکنیو نښتو پرمهال په ملکي میشتو سیمو کې او له ملکي میشتو سیمو څخه د هاوانونو ، لاسي بمونو او راکیټونو په څېر د غیر مستقیمو وسلو د سیستمونو د کارونې له امله رامنځ ته شوي. دولت ضد عناصر په تیره بیا طالبان د هدفي وژنو او د ځمکنیو نښتو پرمهال د ډزو له امله د لږو تلفاتو لامل شوي.

یوناما طالبانو ته ۴۰۷۲ ملکي تلفات (۱۳۴۸ مړه او ۲۷۲۴ ټپي) منسوب کړي ، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله اوه سلنه کموالي په ډاګه کوي د ټولو ملکي تلفاتو ۳۷ سلنه جوړوي.[19] یوناما داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته ۲۱۸۱ملکي تلفات (۶۸۱ مړه او ۱۵۰۰ ټپي) منسوب کړي ، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۱۱۸ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي د ټولو ملکي تلفاتو ۲۰ سلنه تشکیلوي.[20] یوناما ۶۷۸ ملکي تلفات (۱۹۶ مړه او ۴۸۲ ټپي) نورو نامعلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.[21]

د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي تلفاتو مخکښ لامل اوس هم ځانمرګي او ډله ییز بریدونه دي ، کوم چې د ۲۸۰۹ ملکي تلفاتو (۸۸۶ مړه او ۱۹۲۳ ټپي) لامل شوي او د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۲۲ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي او په ۲۰۰۹ کال کې له کوم وخت راهیسې چې یوناما په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو مستند کول پیل کړي ، یوازې په یوه کال کې د ولسي مرګ ژوبلې تر ټولو لوړ شمېر ګڼل کیږي. تعبیه شوي غیر انتحاري چاودیدونکي توکي تقریبا په ۲۰۱۷ کال کې د ورته ۱۸۱۸ ملکي تلفاتو ۴۷۵ مړه او ۱۳۴۳ ټپي) لامل شوي. دولت ضد عناصر د ځمکنیو نښتو پرمهال نږدې په ۲۰۱۷ کال کې د ورته ۱۳۹۴ ملکي تلفاتو (۲۹۱ مړه او ۱۱۰۳ ټپي) لامل شوي.

یوناما مني چې طالبانو دا په ډاګه کړې چې د ملکیانو د د خوندیتوب لپاره یې اقدامات ترسره کړي ، خو د طالبانو له خوا د غیر مستقیمو وسلو د سیستمونو او د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کارونه چې ملکي وګړي او ملکي شیان یې په نښه کړي ، او دغه راز په ملکي میشتو سیمو کې د دولت پلوه ځواکونو په وړاندې د وسلو د کارونې په اړه چې بې توپیره اغېزې یې درلودې ، د دوامداري اندېښنې یادونه کوي.

### دولت پلوه ځواکونه

یوناما دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ۲۶۱۲ ملکي تلفات (۱۱۸۵ مړه او ۱۴۲۷ ټپي) مستند کړي ، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله په ملکي تلفاتو کې ۲۴ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي. دغه زیاتوالي عمدتا د نړیوالو ځواکونو له خوا د هوایي عملیاتو او دغه راز د افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ترسره شویو چاپېزو عملیاتو له امله په ملکي تلفاتو کې د پام وړ زیاتوالي رامنځ ته شوي. هوایي عملیات او ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو د ورته شمېر تلفاتو لامل شوي ،[22] او په ۲۰۱۸ کال کې دولت پلوه ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو مخکښ لاملونه ګڼل کیږي.

یوناما افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ۱۵۳۵ ملکي تلفات (۶۰۶ مړه او ۹۲۹ ټپي) منسوب کړي ، کوم چې تقریبا د ۲۰۱۷ کال له شمېرو سره ورته دي. یوناما نړیوالو نظامي ځواکونو ته ۶۷۴ ملکي تلفات (۴۰۶ مړه او ۲۶۸ ټپي) منسوب کړي ، چې زیاتره یې د هوایي عملیاتو له امله رامنځ ته شوي او له هغو شمېر زیات دي چې په ۲۰۱۷ کال کې ثبت شوي. دولت پلوه وسله والې ډلې د ۱۸۰ ملکي تلفاتو (۹۹ مړه او ۸۱ ټپي) لامل شوي ، کوم چې د ۲۰۱۷ کال د شمېرو نږدې دوه برابره کیږي.[23]

---

[19] طالبانو ته له منسوب شویو پیښو ، دغې ډلې د ۱۵۳ بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستي چې د ۹۴۳ ملکي تلفاتو (۳۱۹ مړه او ۶۲۴ ټپي) لامل شوي.

[20] داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته له منسوب شویو پیښو ، دغې ډلې د ۴۵ بریدونونو مسوولیت پر غاړه اخیستی (چې زیاتره یې ملکی وګړي په نښه کړي) کوم چې د ۱۷۵۲ ملکي تلفاتو (۵۱۴ مړه او ۱۲۳۸ ټپي) لامل شوي.

[21] په دې کې نامعلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ۶۷۸ ملکي تلفات (۱۹۶ مړه او ۴۸۲ ټپي)؛ هغو وسله والو ته چې ځانونه د داعش/اسلامي دولت د خراسان ولایت ډلې جنګیالي معرفي کوي منسوب ۱۹ ملکي تلفات (۱۱ مړه او اته ټپي) ؛ تحریک طالبان پاکستان ته منسوب یوه وژنه او پاته نور ملکي تلفات چې په ګډه د دولت ضد عناصرو مختلفو ډلو ته منسوب شوي ، شامل دي.

[22] په ۲۰۱۸ کال کې ، هوایي عملیات او ځمکنۍ نښتو نه هر یو یې د ۱۰۱۵ ملکي تلفاتو لامل شوي. که څه هم یوناما ملاحظه کړې ، چې د هوایي عملیاتو له امله د رامنځ ته شویو ملکي تلفات شمېر (۵۳۶) د ځمکنیو نښتو له امله د رامنځ ته شویو تلفاتو د شمېر (۲۸۲) په پرتله دوه برابره زیات و.

[23] پاتې ملکي تلفات نا پیژانده مختلفو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي.

په هوايي عملياتو کې زياتوالي د هغو ملکي تلفاتو کموالي بيرته زيات کړی چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ځمکنيو نښتو پرمهال رامنځ ته شوي ، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله نهه سلنه راکم شوي او د ۱۰۱۵ ملکي تلفاتو (۲۸۲ مړه او ۷۳۳ ټپي) لامل شوي. يوناما د ځمکنيو نښتو له امله رامنځ ته شوي نږدې ټول ملکي تلفات افغان ملي امنيتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کړي ، چې دوه سلنه يې نړيوالو نظامي ځواکونو ته منسوب شوي.

يوناما د هوايي عملياتو په پايله کې ۱۰۱۵ ملکي تلفات (۵۳۶ مړه او ۴۷۹ ټپي) مستند کړي.[24] له دغو تلفاتو يې ۶۳۲ ملکي تلفات (۳۹۳ مړه او ۲۳۹ ټپي) نړيوالو نظامي ځواکونو ، ۳۰۴ ملکي تلفات (۱۱۸ مړه او ۱۸۶ ټپي) افغان هوايي ځواک او پاته ۷۹ ملکي تلفات ناپيژانده دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي. چاپيز عمليات د ۳۵۳ ملکي تلفاتو (۲۸۴ مړه او ۶۹ ټپي) لامل شوي ، چې زياتره يې د ملي امنيت رياست د ځانګړو ځواکونو او خوست ژغورنې ځواک له خوا اړول شوي ، چې دواړه يې د نړيوالو نظامي ځواکونو له ملاتړ څخه برخمن دي.[25]

د ملکي تلفاتو د مخنيوي لپاره د دولت پلوه ځواکونو هڅو لکه د پاليسي ګانو او هڅو دوامدار تطبيق څو ځواکونه وروزي ، د ملکي تلفاتو پيښې معلومې او له هغوي زده کړې وکړي ، د ځمکنيو نښتو له امله د ملکي تلفاتو په کموالي کې مرسته کړې ، په داسې حال کې چې پر هوايي بريدونو او چاپيزو عملياتو د هغوي زياتې اتکا د تلفاتو د زياتيدو لامل شوی.

## سپارښتنې

يوناما د جګړې ښکېلو خواوو ته راتلونکې سپارښتنې وړاندې کوي څو ملکي وګړي وساتي ، د ملکي تلفاتو مخنيوی وکړي او د بشرپالنې او بشري حقونو د نړيوالو قوانينو لاندې خپل مکلفيتونه رعايت کړي.

### دولت ضد عناصر

- د ځانمرګو او ډله ييزو بريدونو پرمهال په ځان پورې تړلو او په نقليه وسيلو کې د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د کارونې په ګډون په ځانګړې ډول کله چې دغه ډول وسيلې په بې توپيره او بې تناسب ډول په ملکي ميشتو سيمو کې کارول کيږي ، د ټولو تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د بې توپيره او بې تناسبه کارونه ودروي ، او د ناقانونه فشاري ماينونو کارونه زر تر زره پای ته ورسوي.
- د راتلونکو ټاکنو پروسو په زمينه کې ، د ټاکنو اړوند پر ټولو تسهيلاتو له بريدونو او د ټاکنو اړوند کارمندانو او رايه اچوونکو له ګواښونو ډډه وکړي: دا يقيني کړي چې هغه ښوونځي ، روغتيايي مرکزونه او عبادت ځايونه چې ښايي د ټاکنو لپاره وکارول شي له بريد څخه خوندي دي او افراد کولی شي چې په خوندي او ازاد ډول په ټاکنو کې ګډون وکړي.
- د ملکي وګړو او ملکي اهدافو عمدي په نښه کول ژر تر ژره ودروي. د دولت د ملکي ادارو ، د بشري حقونو د مدافعينو ، قاضيانو ، ژورنالستانو ، څارنوالانو ، د ښوونځيو د ښوونکو ، د لومړنيو مرسته رسوونکو او مرستندويه کارمندانو عمدي هدف ګرځول- په تيره بيا د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې له خوا- بايد سملاسي ودرول شي.
- له ملکي ميشتو سيمو او پر ملکي ميشتو سيمو د غير مستقيمو وسلو د سيستمونو (هاوانونو ، راکيټونو او لاسي بمونو) کارونه ودروي.

[24] دا د ۲۰۱۷ کال سره پرتله شوي ، چيرې چې يوناما د دولت پلوه ځواکونو له خوا د هوايي عملياتو له امله رامنځ ته شوي ۶۳۱ ملکي تلفات (۲۹۵ مړه او ۳۳۶ ټپي) ملکي تلفات ثبت کړي.
[25] دا د ۲۰۱۷ کال سره پرتله شوي ، چيرې چې يوناما د دولت پلوه ځواکونو له خوا د چاپيزو عملياتو له امله رامنځ ته شوي ۹۲ ملکي تلفات (۶۳ مړه او ۲۹ ټپي) ملکي تلفات ثبت کړي

- دا يقيني کړئ چې ټولې لاربښوونې او حکمونه د بشرپالنې له نړيوال قانون په ځانګړي ډول د احتياط ، توپير او تناسب له اصولو سره په سمون کې دي او د بې توپيره بريدونو يا د داسې بريدونو ترسره کوونکي محاکمه کړي چې ملکي وګړي او ملکي شيان يې په نښه کړي. د "ملکي " هغه تعريف تطبيق کړئ چې د بشرپالنې له نړيوال قانون سره په سمون کې دی ، د طالبانو د مشرتابه هغه اعلاميې تطبيق کړئ کومې چې د ملکي وګړو او ملکي ميشتو سيمو په وړاندې بريدونه منع کوي ؛ هغه لارښوونې او حکمونه عملي کړي چې طالبانو ته د ملکي تلفاتو د مخنيوي امر کوي ؛ او د طالبانو د ملکيانو د ساتنې پاليسي ګانې د خلکو ترمنځ عامې کړئ.

- د هغو لارښوونو او حکمونو د تطبيق لپاره اقدامات ترسره کړئ ، چې د ماشومانو ګمارنه او کارونه منع کوي او د هغو قوماندانانو لپاره احتساب يقيني کړئ ، څوک چې ماشومان ګماري او کاروي.

- د پوليو د واکسيناتورانو او کمپاينرانو په ګډون د روغتيايي ودانيو او روغتيايي کارمندانو په وړاندې ټول بريدونه او ګواښونه ودروي ، د ښوونځيو او پوهنې اړوند پرسونل په وړاندې ټول بريدونه او ګواښونه پای ته ورسوي او دا يقيني کړئ چې پوهنې ته د ماشومانو لاس رسي د نظامي عملياتو له امله نه دی اغيزمن شوي.

**افغان دولت**

- د خوست ژغورنې ځواک په ګډون ، زر تر زره ټولې نا قانونه وسله واله ډلې او مليشې منحل او بې وسلې کړئ ، يا يې غړي په رسمي ډول په افغان ملي امنيتي ځواکونو د چاڼ تر يوې پياوړې کړندود وروسته ځای پر ځای کړئ ، د ملي امنيت د رياست د ځانګړو ځواکونو د عملياتو په تړاو شفافيت او احتساب زيات کړئ ، کوم چې د حکومتي د رسمي قوماندې له تسلسل څخه بهر ښکاري او بايد د نړيوالو نظامي فعاليتو سره همغږي شي ؛ او د بشري حقونو ټولې سرغړونې او د بشرپالنې له نړيوال قانون څخه د تيرې ټول تورونه د احتساب د يقيني کولو په موخه وڅيړئ.

- له ملکي ميشتو سيمو او پر ملکي ميشتو سيمو د غير مستقيمو وسلو د سيستمونو (هاوانونو ، راکيټونو او لاسي بمونو)کارونه ودروي ؛ د جنګي الوتکو د کارونې په تړاو د تاکتيکي لارښوونو ، د جګړې د اصولو او نورو طرز العملونو طرحه کول او بهتر کول جاري وساتئ.

- د ساتنې او امنيتي د اوسنيو اقداماتو د تقويه کولو ، د مخنيوونکو ميکانيزمونو غښتلي کولو او د متضرر شويو ټولنو سره د غوره همغږۍ او اړيکو د يقيني کولو په ګډون ، د دمذهبي مشرانو او دغه راز له فرقه ييزو انګيزه لرونکو بريدونو څخه د شيعه مذهبه لرکيو د ساتنې لپاره هڅې زياتې کړي.

- د قوماندې ، کنترول ، او د تعبيه شويو چاودېدونکو توکو د استحصال په ګډون ، د دغو توکو د له منځه وړلو لپاره د موثرو عملياتو د ترسره کولو په برخه کې د افغان ملي امنيتي ځواکونو ظرفيت تقويه کول جاري وساتئ ، او دا يقيني کړئ چې دولت د دې لپاره ټولې اړينې سرچينې ځانګړې کوي څو د تعبيه شويو چاودېدونکو توکو په ضد د ملي ستراتيژي بشپړ تطبيق يقيني کړي.

- د دې په پام کې نيولو سره چې ښايي د راتلونکو ټاکنو لپاره به په پراخه کچه ښوونځي او په کمه کچه روغتيايي مرکزونه او جوماتونه په ټاکنو پورې اړوند ځايونو په خبر وکارول شي ، ټول هغه مخنيوونکي اقدامات تقويه کړئ چې ملکي وګړو په ځانګړې ډول ماشومانو ته د بالقوه زيان کچه لا راکموي.

- د عمر معلومولو او چاڼ طرز العملونه تقويه کړئ او په افغان ملي پوليسو کې د ماشومانو ساتنې د واحدونو چارې لا پسې پراخې کړئ څو په امنيتي پوستو کې فعاله او ګټوره ځانه ځای کړي چې د افغان ملي امنيتي ځواکونو د غړو له خوا په جګړه ييزو او غير جګړه ييزو نقشونو کې د ماشومانو د کارونې د پيښو مخنيوی وکړي ؛ د جزا په تعديل شوي کود کې د بچه بازۍ اړوند احکام تنفيذ او د ماشومانو په وړاندې د جنسي تاوتريخوالي د جرمونو لپاره احتساب يقيني کړئ.

- دا يقيني کړئ چې د جګړې د زيان ارزونې په پوره پاملرنې سره ترسره شوې ، او د عملياتي چاپيريال په پام کې نيولو سره ، که چيرې شونې وي ، د تيرو عملياتو د اغيز په اړه نظامي ځواکونو ته د معلوماتو ورکولو موثر ميکانيزم برابر کړي ، څو په راتلونکې عملياتي پلان جوړونه کې مرسته وکړي ؛ د ملکي تلفاتو تر تورونو وروسته د زيان د پراخو ډولونو د معلومولو ، شفافيت د يقيني کولو ، د عملياتي کړنو بهتره کولو ، د احتساب ته وده ورکولو او له زيان د اغيزمن شويو وګړو لپاره د خسارې د مناسبو ، موثرو او چټکو جبرانونو د برابرولو يقيني کولو په موخه تر عملياتو وروسته بيا کتنې او څېړنې جاري وساتي.

### نړيوال نظامي ځواکونه

- د ملکي تلفاتو د مخنيوي لپاره ، په تيره بيا د هغو هوايي بريدونو په زمينه کې چې په سيمه کې تر بريد لاندې د راغلو افغان او/يا نړيوالو نظامي ځواکونو د ملاتړ لپاره ترسره کيږي او يا په بله هره زمينه کې پر ودانيو د ترسره کيدونکو بريدونو لپاره موجوده تاکتيکي پروتوکولونه په بشپړ ډول بيا وګورئ او غښتلي کړئ.

- د هوايي عملياتو او چاپيزو عملياتو په پايله کې د ملکي تلفاتو تر تورونو وروسته د زيان د پراخو ډولونو د معلومولو ، د شفافيت د يقيني کولو ، د عملياتي کړنو بهتره کولو ، احتساب ته د ودې ورکولو او د زيان د اغيزمن شويو وګړو لپاره د خسارې د مناسبو ، موثرو او چټکو جبرانونو د برابرولو د يقيني کولو په موخه تر عملياتو وروسته بيا کتنې او څېړنې جاري وساتئ.

- افغان ملي امنيتي ځواکونو ته په پاليسي ، عملياتي او تاکتيکي کچو د دوامدارو روزنو ، سرچينو او اړوند ملاتړ د برابرولو له لارې د ملکي وګړو د تلفاتو د مخنيوي د ملي پاليسي په تطبيق کې د افغان دولت ملاتړ جاري وساتئ ، په ځانګړې ډول له غير مستقيمو وسلو او جنګي الوتکو څخه ملکي وګړو ته د زيان اوښتلو د مخنيوي لپاره مخه نيوونکې اقدامات ترسره کړي.

- له افغان همکارانو سره د ملکي تلفاتو د پېښو د بيا کتنې هڅې غښتلې کړئ کومې چې د ګډو عملياتو په پايله کې رامنځ ته شوې ؛ د افغان ملي امنيتي ځواکونو لپاره د جګړې د زيان د ارزونو په ترسره کولو کې زياته روزنه او مرسته برابره کړي ؛ او په هغو پيښو کې چې ملکي تلفات رامنځ ته شوي ، له اغيزمن شويو ټولنو سره  د هغوی د افغان همتايانو لارې ګډون او ښکېلتيا زياته کړي.

## ۱. هغه سیاسي او امنیتي تحرکات (داینامیکس) چې د ملکي وګړو خوندیتوب اغیزمنوي

په ۲۰۱۸ کال کې ملکي وګړي په ځانګړي ډول ښځې او ماشومان په افغانستان کې د وسله والې جګړې څخه تر هرچا زیات اغیزمن شوي چې ډیری یې ژوند او یا هم د بدن غړي له لاسه ورکړي اویا هم په اجباري توګه بیځایه شوي،[۲۶] دګواښونو او تهدیدونوسره مخامخ شوي، او اړینو پوهنې او روغتیایی خدمتونو ته یې لاس رسی له لاسه ورکړی. د تمایلاتو په اړه د وړاند وینې سره سم چې سراسر کال کې مشاهده شول، ۲۰۱۸ کال د مخ پر زیاتیدونکي ملکي تلفاتو سره پیل شو چې په دې لړ کې نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د جنوري په لومړیو کې په ننګرهار او جوزجان ولایتونو کې د یو لړ هوایي بریدونو له امله ملکي تلفات واوښتل او په تعقیب یې دهمدې میاشتې په وروستیو کې د دولت ضد عناصرو له خوا ځانمرګي بریدونه ترسره شول چې په دې کې ۲۷ جنوری د دولت ضد عناصرو له خوا په کابل ښار کې خونړي برید هم شامل دی، او له کوم وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کې په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو مستند کول پیل کړي، دا تر ټولو زیات مرګونې برید دی.

افغان هوایي ځواک، د ایتلافي قواوو د غوځ ملاتړ ماموریت په ملاتړ د خپل عملیاتي ځواک پراخول جاري ساتلي او د ۲۰۱۸ په ډسمبر میاشت کې افغان هوایی ځواکونو د دې ظرفیت پیدا کړ چې د شپې له خوا هوایي جګړه ییز عملیات ترسره کړای شي. د ۲۰۱۸ کال په پسرلي کې طالبان د "الخندق" په نامه د عملیاتو په پیل کې له هغه څه لاس په سر شول چې غوښتل یې دستر ښارونو نیول یې دمعمول له مخې دعملیاتی پلان یوه برخه وي او پر ځای یې پر دی ټینګار وکړ چې باید نړیوال نظامي ځواکونه او د هغوی افغان دولتي ملاتړي په نښه کړي. په همدې اړوند نړیوالو نظامي ځواکونو په ډاګه کړه چې دوی به هم دکم میشتو سیمو په عوض د سترو نظامي مرکزونو مرسته اوکړ میشتو ملکي ځایونو باندې تمرکز وکړي.[۲۷] په افغانستان کې د امریکا متحده ایالاتو د خپلو ځواکونو لپاره د جګړې په بعضی قواعدو کی اسانتیا راوسته چې دهمدی له امله یې د خپلو هوایي بریدونو بځینې مشخص شرایط له منځه یوړل چې په تعقیب یې د ۲۰۱۷ کال[۲۸] په پای کې افغانستان ته نور سرتیري هم راولیږل او د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې یې خپل هوایي بریدونه زیات کړل چې په نتیجه کی د امریکا هوایی ځواکونو د تیر کال په پرتله ۷۰ سلنه زیاتې وسلې وکارولې.[۲۹]

دا په داسې حال کې ده چې په ټول افغانستان کې د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ترمنځ د وسله والو جګړو عمومي شمېر په لږ ه اندازه راټیټ شوی اګرچې د هیواد په یو شمېر برخو کې جګړه سخته شوې په ځانګړي ډول په ختیځ، جنوب ختیځ او د جنوب په یو شمېر سیمو کې.[۳۰] طالبانو په کم میشتو سیمو کې یو شمېر ساحې ونیولې او په هغو سیمو کې یې پرمختګ وکړ چې په کلونو کلونو پکې جګړه نه وه ترسره شوې. دوی دهغه ستراتیژیکی امنیتي پوستو په شمول چې کابل ته پر غزیدلو لویو لارو پرتې وې په موقت ډول تر خپلې ولکې لاندې راوستې چې د اوسیدونکو د تلو راتلو ازادي یې محدوده کړه او د لویو ښارونو ترمنځ د توکو او وګړو لیږد را لیږد یې له خنډونو سره مخ کړ. دیوی خوا د طالبانو دمشرتابه امر خپلو ځايي ډلو ته چې پر ځايي سرچینو او عایداتی منابعو اتکا زیاته کړي او دبلی خو ا دغی ډلې کوشش وکړ چې هیواد په زیاتو برخو کې خپل شتون اعلان کړي نوځکه طالبانو په دی وروستیو کلونو کی په ځایی خلکو او نادولتي ټولنو فشار زیادکړ ترڅو طالبانو ته ناقانونه مالیه ورکړې چې دغه فشار په دی وروستیو کی لوړی کچې ته رسیدلی.[۳۱]

د جون په میاشت کې د کوچني اختر په لومړیو دریو ورځو کی د دولت او طالبانو ترمنځ د اوربند وروسته، طالبانود اګست په میاشت کې پر غزني څکه برید وکړ چې په لوي اختر کې د دویم اوربند د شونتیا مخه ونیسي. په دغه برید کی چی له یوې

---

[۲۶] د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د همغږۍ دفتر نږدې ۳۶۰۰۰۰ افراد ثبت کړي، چې په ۲۰۱۸ کال کې د جګړې له امله بیځایه شوي. یوناما ملاحظه کړې چې د دولت او مختلفو دولت ضد عناصرو ترمنځ د ولکې لاس په لاس کیدو له امله زیات شمېر افراد څو ځلي بیځایه شوي. د جګړې له امله د بیځایه کیدنې په اړه د لا زیاتو معلوماتو لپاره دغه انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://www.humanitarianresponse.info/en/operations/afghanistan/idps

[۲۷] دغه انټرنیټ پاڼه وګورئ:- https://www.nytimes.com/2018/07/28/world/asia/trump-afghanistan-strategy-retreat.html.

[۲۸] د لا زیاتو معلوماتو لپاره د هوایي عملیاتو په اړه ۴. ب. ۱ برخه وګورئ

[۲۹] په ۲۰۱۸ کال کې، په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالاتو ځواکونو په ۲۰۱۷ کې د ۴۳۶۱ په پرتله ۷۳۶۲ وسلې کارولي. دغه انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://www.afcent.af.mil/About/Airpower-Summaries/

[۳۰] په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د خوندیتوب او امنیت ځانګې له خوا د برابرو شویو شمېرو سره سم.

[۳۱] یوناما د ۲۰۱۸ کال په پای کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا له تجارتي ترانسپورت څخه په زور د پیسو اخیستلو راپورونه ملاحظه کړي.

اونۍ یی زیات دوام وموند په سلګونو ملکي وګړي د څمکنیو نښتو او هوایي بریدونو له امله تلف شول چې د عیني شاهدانو دراپورونو له مخی ملکي شتمنۍ پکی هم په قصدي توګه دزیان اوخساری سره مخامخ شوې. د کال په اوږدو کی تر پایه پوری د هیواد په جنوب ختیځو سیمو کې امنیتي اندیښنې په لوړه کچه موجودي وې او په ځانګړې ډول طالبانو د غزني ښار په شاوخوا سیمو کې پر دولتي ځواکونو خپل فشار جاري وساته چی ددغه فشارونو په لړ کې طالبانو د نومبر په میاشت کې د غزني ولایت په لویدیځ کی په هزاره میشتو سیمو پراخ بریدونه هم وکړل او زیاتی کورنۍ یی بی ځایه کړلې .

د ۲۰۱۸ کال په اپریل کې د رایه اچوونکو د ثبت له پېل راهیسې د اکتوبر د رایه اچونې تر ورځو پورې د ولسي جرګې ټاکنو پر سیاسي او امنیتي چاپیریال اغیز وشینده. د رایه اچوونکو د ثبت مرکزونو په ضد د طالبانو او داعش ډلې له خوا بریدونو په سلګونو ملکي تلفات اړولي او زده کړی ته یی د ماشومانو لاسرسي اغیزمنه کړی کوم چې د اوږدې مودې لپاره د نا امنۍ له امله خپلو ټولګیو ته د حاضریدو اماده نه وو اویا هم په زیاته ویره کې وو. د اکتوبر پر ۱۸ د طالبانو له خوا په یوه مسوولیت منل شوي برید کې د کندهار ولایت د امنیې قوماندان تر وژنې وروسته په دغه ولایت کې دولسي جرګی ټاکنې د اکتوبر تر ۲۷ نېټې پورې وځنډیدې. دغه ټاکنې د هیواد په نورو برخو[32] کې د مهالویش سره سم د اکتوبر پر ۲۰ او په ۲۱ نیټو په اوږدو کې د مخامخ شویو تخنیکي ستونزو له امله په یومحدود شمېر ولسوالیو کې ترسره شوې. په داسې حال کې چې زیات شمېر وګړي په دې وتوانیدل څو خپلې رایی وکاروي خو یو شمېر نور یې د طالبانو له خوا د ګواښونو ، تهدیدونو ، تښتونو او تاوتریخوالي سره مخ شول چا چې په ټاکنو کې د خلکو ګډون مخه نیوله. د رایه اچونې لومړی ورځ د ملکي تلفاتو له لوړ شمېر سره مله وه (په تیره بیا ژوبلي) چې په ۲۰۱۸ کال کې یوازې په یوه ورځ کې تر ټولو زیات ملکي تلفات ثبت شوي ، کوم چې د کال په اوږدو کې د غیر مستقیمو وسلو د سیستمونو له امله له رامنځ ته شویو تلفاتو سره د پام وړ مرسته کړې.[33]

په ۲۰۱۸ کال کی تر ټولو هیله بښوونکي حرکت د جون په میاشت کې د کوچني اختر په اولو دریوشپو او ورځو کې د دولت او طالبانو له خوا د دوه اړخیز اوربند مراعت کول وو د کوم په اوږدو کې چې له ثبت شویو تلفاتو څخه دغو دواړو ډلو ته نږدي هیڅ ملکي تلفات نه دي منسوب شوي.[34] په سپتمبر میاشت[35] کې د افغانستان دسولی پروسی لپاره د امریکا د متحده ایالاتو د ځانګړې استازي په ګمارنې او د امریکا د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د رسمي ناستو په رسمي اعلان او دغه راز د افغان دولت له خوا له طالبانو سره تر کوم مخکیني شرط پرته د خبرو اترو په وړاندیزونو سره ، د ۲۰۱۸ په اوږدو کې د سولې په لور ډیپلوماتیکې هڅې زیاتې شوې. په نومبر کې ، دروسیی حکومت د افغان سولې پروسې په اړه د یوې ناستې کوربه و ، دا د "مسکو فارمټ" سلا مشورو دریيمه ناسته وه ، چې ۱۱ هیوادونو او د طالبانو د سیاسي دفتر پلاوي په کې برخه واخسته. دغې ناستې د دې فرصت برابر کړ چې د طالبانو افکار و پلټل شي او دوی دعام افغانانو ملاتړ څخه د بشري حقونو او د ښځو د حقونو په تړاو خبرشي ، کوم چې ښایي د یوه پراخ ډیالوګ لپاره د پیل ټکی برابر کړي. څرنګه چې ۲۰۱۸ کال پای ته ورسید ، له پیچلو سیمه ییزو او کورنیو ډینامیکونو/حرکتونو سره سره د سولې د رسمي مذاکراتو په لور هلې ځلې جاري وې.

[32] د غزني ولایت په استثنا سره ، چیرې چې د موجوده امنیتي وضعیت له امله لا پخوا د ټاکنو د ځنډولو پریکړه نیول شوې وه.

[33] د ټاکنو د تاوتریخوالي په اړه د یوناما ځانګړی راپور وګورئ ، انټرنټ پاڼه:-https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

[34] د اوربند پر مهال طالبانو ته یوازې د فشاري ماین یوه ثبت شوې پیښه منسوب شوې ، او باور کیده چې فشاري ماین مخکې له مخکې ځای پر ځای شوی و. په دغه موده کې ثبت شوي هیڅ ملکي تلفات دولت پلوه ځواکونو ته نه دي منسوب شوي. خو بیا هم داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د جون پر ۱۶ او ۱۷ په ننګرهار ولایت کې د طالبانو او ملکي وګړو د غونډو په ضد دوه ستر بریدونه ترسره کړل ، چې د ۱۸۱ ملکي تلفاتو (۴۸ مړه او ۱۳۳ ټپي) لامل شول.

[35] دغه انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://www.state.gov/r/pa/ei/biog/287479.htm.

## II. په ملکي وګړو د وسله والې جګړې اغیز

### الف. ښځې او وسله واله جګړه

*"ما له خپل خاوند او پنځو ماشومانو سره یو خوشحال ژوند درلود ، موږ درې زامن او دوې لوڼې درلودې. په ۲۰۱۵ کال کې زما خاوند او درې زامن هغه مهال د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو د چاودنې له امله ووژل شول کله چې خپلې هټۍ ته پر لار وو. له هغې ورځې راهیسې ژوند یوه بدبختي ده ، څرنګه چې زه یوازې ۲۵ کلنه وم او کار کولو ته اړ شوم چې د خپلو دوو ژوندیو لوڼو لپاره روزي وګټم. ما د صفا کارۍ په څېر په کورونو کې کار پیل کړ خو د ورځې ۵۰ افغانۍ ترلاسه کړم ، خو دا کافي نه وې. په دې وروستیو کې ما خپله لور ډاکټرته بېوله چې زموږ پر موټر ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي وچاودیدل. پر دغې ورځ ما خپلې دواړه لوڼې له لاسه ورکړې او زه سخته ټپي شوم ، زه د خپل مرګ لپاره دعا کوم ، او دا پوښتنه کوم چې زه تر اوسه ولې ژوندۍ یم. ما خپله ټوله کورنۍ له لاسه ورکړه او د ژوند کولو لپاره کومه هیله نه لرم. زموږ په ټولنه کې په کورنۍ کې له نارینه پرته ژوند کول خورا ستونزمن وي."*[36]

-- ۲۸ کلنه ښځه ، په اروزګان ولایت کې د فشاري ماین قرباني.

ښځې لا اوس هم له وسله والې جګړې څخه په زیاته کچه کړیږي. په ۲۰۱۸ کال کې ، ښځې د جګړې داړوندو ملکي تلفاتو ۱۰ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۱۲ سلنه کموالي په ډاګه کوي. یوناما په ۲۰۱۸ کال کی د وسله والې جګړې له امله د ښځو ۱۱۵۲ (۳۵۰ مړې او ۸۰۲ ټپي) تلفات مستند کړي ، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله شپږ سلنه کموالي په ګوته کوي. د ځمکنیو نښتو له امله د ښځو په تلفاتو کې اته سلنه کموالي له دغه عمومي جریان سره مرسته کړې.

۲۰۱۷ کال ته ورته ، دولت ضد عناصر د ښځو د ۵۸۳ تلفاتو (۱۶۱ مړې او ۴۲۲ ټپي) لامل شوي ، چې د ښځو د ټولټال تلفاتو د شمېر ۵۱ سلنه جوړوي. دولت پلوه ځواکونه د ښځو د ۳۹۴ تلفاتو (۱۴۷ مړې او ۲۴۷ ټپي) لامل شوي چې د ښځو ترمنځ د تلفاتو ۳۴ سلنه په ګوته کوي. د ځمکنیو نښتو پرمهال د دوو تبادله چې کوم مشخص لوري ته نه شي منسوبیدای د ښځو د ۱۶۵ تلفاتو (۴۱ مړې او ۱۲۴ ټپي) لامل شوي.[37]

د ښځو په تلفاتو کې د عمومي کموالي سره سره ، یوناما د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته منسوب د ښځو په تلفاتو کې ۳۳ سلنه زیاتوالي په نښه کړی ، چې زیاتره یې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله رامنځ ته شوي. یوناما د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته د منسوب شویو ۱۴ ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله د ښځو ۱۳۱ تلفات مستند کړي ، چې د دغه ډول پیښو له امله د ښځو په تلفاتو کې ۲۷ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي.

> **د ښځو د تلفاتو مخکښ لاملونه:**
>
> **ځمکنۍ نښتې (۵۰ سلنه):** د ښځو ۵۷۶ تلفات (۱۳۲ مړې او ۴۴۴ ټپي)
>
> **ځانمرګي او ډله ییز بریدونه (۱۶ سلنه):** د ښځو ۱۸۵ تلفات (۵۲ مړې او ۱۳۳ ټپي)
>
> **هوایي عملیات (۱۳ سلنه):** د ښځو ۱۵۶ تلفات (۸۴ مړې او ۷۲ ټپي)
>
> **ځای پر ځای چاودیدونکي توکي (غیر انتحاري) (۱۲ سلنه):** د ښځو ۱۳۷ تلفات (۴۳ مړې او ۹۴ ټپي)

د دولت ضد عناصرو د موازي قضایي سیستم له معلوماتو سره سم ، یوناما د هغوی څلور داسې پیښې مستندې کړې چې د ملکي وګړو په ضد د ناقانونه سزاګانو ترسره کول رانغاړي ، چې د پنځه ښځو د تلفاتو (یوه مړینه او څلور ژوبلې) لامل شوي. د مثال په ډول ، د اکتوبر پر ۷مه نیټه د جوزجان ولایت په درزاب ولسوالۍ کې ، د طالبانو له خوا دوه ښځې د "غیر اخلاقي کړنو" لکه له پردیو سره پر تیلفون خبرې کول او له کوم نارینه محرم پرته له کوره بهر ګرځیدل ، د ترسره کولو په تور په دُرو ووهل شوې.[38] په دُرو د ښځو تر وهلو وړاندې ، د راپورونو له مخې طالبانو حاضرو خلکو ته اعلان کړه چې دغه سزا د اسلامي شریعت پر بنسټ د طالبانو د محکمې پریکړه ده ، څو د نورو لپاره یوه بیلګه وګرځي.

---

[36] په کندهار ښار کې په یوه روغتون کې له قرباني سره د یوناما مرکه ، ۲۰۱۸ (کره نېټه نه ده په ډاګه شوې).

[37] ښځو ۱۰ نور تلفات (یوه مړه او نهه ټپي) د پاکستان له خوا د توپونو ګوذارولو او د نا معلومو دولت پلوه وسله والو ځواکونو له خوا رامنځ ته شوي

[38] دریمه ضمیمه: اصطلاح ګانې وګورئ

پر ښځو د وسله والې جګړې د مستقیمې اغیزې ورخوا ، هغوی همدارنګه د وسله والې جګړې د پراخو اغیزو له خوا په نامتناسب ډول اغیزمنې شوې ، کوم چې د ګوښه توب ، بې وزلۍ ، تبعیض/توپیر او تاوتریخوالي په وړاندې د هغوی زیانمنتوب لا پسې پیاوړی کوي. ښځې د کورنۍ د نارینه غړو د لاسه ورکولو له امله ، څوک چې د ټولنیز- اقتصادي پاینښت او د کورنۍ او خپلوانو د امنیت لپاره مهم دي ، کړیږي. په هغه ځایونو کې جګړه روانه وي ، روغتیایي خدمتونو ته د ښځو لاسرسي په سخت ډول له خنډونو سره مخ دی ، ځکه چې دروغتیایي خدمتونو وړاندی کوونکي یا خو د جګړې له امله ځای دروغتیایي مرکزونو پریښودو ته اړ شوي یا د ناامنۍ له امله نه شي کولی روغتیایي خدمتونه وړاندی کړي. یوناما په نښه کړی چې د وسله والو بریدونو ،




ځمکنیو نښتو او د چاودیدونکو توکو چاودنو د ښځو ترمنځ د هغوی د کورنیو او د خپل جسمي خوندیتوب په اړه ویره زیاته کړې. نو له همدې امله ښځې په خپلو کورونو او کلیو کې له خپلو کورنیو سره پاتې کیدو یا له خپلو کورنیو سره د سیمې پریښودو ته اړ شوي. یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي ، چې د افغان حکومت لپاره د ښځو ، سولې او امنیت په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۱۳۲۵ پریکړې په اړه د عمل ملي پلان بشپړ تمویل او تطبیق خورا مهم او حیاتي دی ، تر څو دښځو او نجونو مصونیت د قانون ،پالیسۍ او دعمل په چوکاټ کې تامین شي او ښځې او نجونې له تاوتریخوالي وژغورې.

## ب. ماشومان او وسله واله جګړه

پر ماشومانو د وسله والې جګړې سخت اغیز لا اوس هم دوام لري ، کوم چې په ۲۰۱۸ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۸ سلنه جوړوي. د جنوري د لومړۍ او دسمبر د ۳۱مې نیټې ترمنځ ، یوناما د ماشومانو ۳۰۶۲ تلفات (۹۲۷ مړه او ۲۱۳۵ ټپي) ثبت کړي. که څه هم دا د ۲۰۱۷ کال په پرتله لږ څه کموالي وړاندې کوي ، خو په ۲۰۱۸ کال کې د ماشومانو وژنه د ریکارډ لوړې کچې ته رسیدلې.[39] هلکان د ماشومانو د تلفاتو ۷۱ سلنه او نجونې یې ۲۷ سلنه جوړوي.[40] د ماشومانو په تلفاتو کې دغه لږ کموالی عموماً د ځمکنیو نښتو او له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله په تلفاتو کې کموالي ته منسوب شوی کوم تمایل چې په ۲۰۱۷ کال کې هم په نښه شوی. له دې سره سره ، یوناما د دې یادونه کوي چې د ماشومانو تلفات لا اوس هم د منلو وړ نه لوړ دي او د هوایي بریدونو له امله د ماشومانو د تلفاتو د شمېر په اړه اندیښمنه ده ، کوم چې د ۲۰۱۴ کال راهیسې کال په کال لوړیږي.

[39] له کوم وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال په سیستماتیک ډول د ملکي تلفات مستند کول پیل کړي د ماشومانو مړینه پرتله شوي. په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما د ماشومانو ۹۲۷ مړینې مستندې کړي ، چې په ۲۰۱۶ کال کې د مستند شویو تلفاتو لوړی کچې سره ورته دي ، چیرې چې یوناما د ماشومانو ۹۲۶ مړینې مستندې کړې وی.

[40] په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما د هلکانو ۲۱۸۲ تلفات او د نجونو ۸۳۱ تلفات مستند کړي. یوناما پدی ونه توانیده چې د ماشومانو دتلفاتو ۴۹ واقعو جنسیت تایید کړي.

په داسې حال کې چې په ۲۰۱۸ کال کې د دولت ضد عناصرو له خوا د ماشومانو زیات تلفات اړولي خو یوناما د دولت پلوه ځواکونو ته د ماشومانو په منسوب شویو تلفاتو کې هم زیاتوالي مستند کړی. ددولت ضد عناصر د ماشومانو د ۱۳۴۳ تلفاتو (۳۲۴ مړه او ۱۰۱۹ ټپیان) لامل شوي ، چې په ۲۰۱۸ کال کې د ماشومانو د ټولو تلفاتو ۴۴ سلنه جوړوي او د ۲۰۱۷ کال په پرتله درې سلنه کموالي په ډاګه کوي. دولت پلوه ځواکونه د ماشومانو د ۱۰۵۱ تلفاتو (۴۱۴ مړه او ۶۳۷ ټپي) لامل شوي ، چې د ماشومانو د ټولو تلفاتو ۳۴ سلنه جوړوي او د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۱۵ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي. یوناما د ماشومانو ۴۷۰ تلفات (۱۲۴ مړه او ۳۴۶ ټپي) په ګډه دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړي ، چې د ماشومانو ترمنځ د ټولو تلفاتو د ۱۵ سلنې سره برابر دي.[41] د ماشومانو له دغو تلفاتو ، ۲۷۳ (۶۲ مړه او ۲۱۱ ټپیان) هغه دي چې د ځمکنیو نښتو پر مهال د وسلو د کارونې له امله رامنځ ته شوي او عاملین یې نه دي مشخص شوي ، او پاتې نور یې د جګړې څخه د پاته شوو چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي ، چې د وروستیو جګړو ښکېلو خواوو ته په ګډه منسوب شوي.

د ماشومانو د تلفاتو مخکښ لاملونه:

**ځمکنی نښتې (۳۹ سلنه):** د ماشومانو ۱۱۹۲ تلفات (۲۷۶ مړه او ۹۱۶ ټپیان)

**ځای پر ځای چاودیدونکي توکي (غیر انتحاري) (۱۷ سلنه):** د ماشومانو ۵۱۷ تلفات (۱۲۹ مړه او ۳۸۸ ټپیان)

**هوایي عملیات (۱۶ سلنه):** د ماشومانو ۴۹۲ تلفات (۲۳۶ مړه او ۲۵۶ ټپیان)

**له جګړې څخه پاته شوني چاودیدونکي توکي (۱۴ سلنه):** د ماشومانو ۴۲۶ تلفات (۱۳۶ مړه او ۲۹۰ ټپیان)

د ماشومانو د تلفاتو مخکښ لامل لا اوس هم د دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ترمنځ ځمکنی نښتې ګڼل کیږي ، کوم چې د ماشومانو د ټولو تلفاتو ۳۹ سلنه جوړوي. ځمکنیو نښتو ماشومانو ته ۱۱۹۲ تلفات(۲۷۶ مړه او ۹۱۶ ټپیان) اړولي ، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۱۷ سلنه کموالي په ډاګه کوي.[42] زیاتره دغه پیښې د غیر مستقیمو وسلو لکه هاوانونو ، راکیټونو او لاسي بمونو د کارونې له امله رامنځ ته شوي. د دولت ضد عناصرو له خوا د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو غیر انتحاري توکو استعمال د ماشومانو ترمنځ د تلفاتو دویم اصلي لامل وه چې په ۲۰۱۸ کال کې د ماشومانو د ثبت شویو ۵۱۷ تلفاتو (۱۲۹ مړه او ۳۸۸ ټ ټپیان) لامل شوي- چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله پنځه سلنه کموالي په ګوته کوي.

یوناما د هوایي عملیاتو په واسطه د ۲۰۱۴ کال راهیسې د ماشومانو په تلفاتو کې د دوامدار لوړوالي په اړه اندیښمنه ده ، په ځانګړې ډول په ۲۰۱۸ کال د لوړ شمېر له امله.[43] د دولت پلوه ځواکونو له خوا هوایي عملیات په ۲۰۱۸ کال کې د ماشومانو ۴۹۲ تلفات (۲۳۶ مړه او ۲۵۶ ټپیان) اړولي ، چې د تیر کال په پرتله ۸۵ سلنه زیاتوالي او د وژل شویو ماشومانو په شمېر کې ۱۰۷ سلنه زیاتوالی ګڼل کیږي. په ۲۰۱۸ کال کې د هوایي عملیاتو له امله د ماشومانو د تلفاتو له نیمایی زیاته برخه (۵۷ سلنه) نړیوالو نظامي ځواکونو ، ۳۷ سلنه افغان هوایي ځواک او پاته برخه یې نا معلومو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي.

یوناما په ۲۰۱۸ کال کې د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله د ماشومانو ۲۷۵ تلفات (۶۷ مړه او ۲۰۸ ټپیان) مستند کړي ، چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۳۳ سلنه زیاتوالي او د وژل شویو ماشومانو په شمېر کې ۱۱۶ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي ، چې زیاتره یې د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا بریدونو ته منسوب شوي. یوناما د ماشومانو دغه ډول ۱۵۲ تلفات (۴۰ مړه او ۱۱۲ ټپیان) داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړي ، چې د تیر کال په پرتله ۱۵۸ سلنه زیاتوالی په ډاګه کوي. یوناما د ماشومانو دغه ډول ۸۳ تلفات (۲۴ مړه او ۵۹ ټ ټپیان) طالبانو ته منسوب کړي ، چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۳۵ سلنه کموالی په ډاګه کوي.

[41] د ماشومانو د پاته تلفاتو زیاتره برخه کوم مشخص عامل ته نه شي منسوب کیدای. پاکستاني نظامي ځواکونه د ماشومانو د ۱۸ تلفاتو (څلور مړه او ۱۴ ټپي) لامل شوي.

[42] په ۲۰۱۷ کال کې ، یوناما د ځمکنیو نښتو له امله د ماشومانو ۱۴۳۴ تلفات (۳۲۵ مړه او ۱۱۰۹ ټپیان) مستند کړي.

[43] یوناما د هوایي بریدونو له امله د ماشومانو راتلونکي تلفات ثبت کړي: ۲۰۰۹- ۱۵۲ (۹۲ مړه او ۶۰ ټپي)؛ ۲۰۱۰- ۴۸ (۲۷ مړه او ۲۱ ټپیان)؛ ۲۰۱۱- ۱۸۳ (۱۲۷ مړه او ۵۶ ټپي)؛ ۲۰۱۲- ۷۴ (۵۱ مړه او ۲۳ ټپیان)؛ ۲۰۱۳- ۴۹ (۳۵ مړه او ۱۴ ټپیان)؛ ۲۰۱۴- ۵۴ (۳۲ مړه او ۲۲ ټپي)؛ ۲۰۱۵- ۹۱ (۳۶ مړه او ۵۵ ټپیان)؛ ۲۰۱۶- ۲۰۰ (۷۸ مړه او ۱۲۲ ټپیان)؛ ۲۰۱۷- ۲۶۶ (۱۱۴ مړه او ۱۵۲ ټپیان).




یوناما ۱۶ داسې پیښې مستندې کړې په کومو کې چې د دولت ضد عناصرو زیاتره د طالبانو له خوا ۴۲ ماشومان تښتول شوي.[٤٤] دولت ضد عناصرو زیاتره د دولت پلوه ځواکونو د غړو یا د هغو اشخاصو ماشومان تښتولي چې د دوی په اند د دولت ملاتړي دي. له بربريته په ډکه يوې ځانګړې پيښې کې ، د ۲۰۱۸ کال د مارچ پر ۱۱ د جوزجان ولايت په درزاب ولسوالۍ کې هغو وسله والو چې ځانونه يې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت دله[٤٥] معرفي کړی د افغان محلي پوليسو د يوه غړي خپلوان ۱۳ کلن يتيم وتښتاوه او يوه مياشت وروسته يې سر ځيني پرې کړ. يوناما دغه راز په بغلان ولايت کې د افغان ځايي پوليسو د قوماندان له خوا د يوې نجلۍ تښتونه او جنسي استثمار مستند کړی.[٤٦]

## ۱. د جګړې د ښکیلو خواوو له خوا د ماشومانو ګمارنه او کارونه

یوناما په دومدار ډول د دولت ضد عناصرو ، افغان ملي امنيتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ماشومانو د ګمارنې او کارونې راپورونه ترلاسه کړي. د دولت ضد عناصر د جګړه ييزو نقشونو لپاره لا اوس هم د ماشومانو ګمارنه او کارونه جاري ساتلې ، که څه هم د افغان ملي امنيتي ځواکونو په ليکو کې د ماشومانو د رسمي ګمارنې په تړاو پرمختګ شوی ، خو د ماشومانو کارونه لا اوس هم يوه ستونزه شمېرل کيږي.

په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما د ۳۸ ماشومانو (۳۷ هلکان او يوه نجلۍ) ګمارنه او کارونه مستند کړې ، چې زياتره يې د هيواد په ختيځه سيمه کې رامنځ ته شوي. نوموړې اداري د ۱۷ ماشومانو ګمارنه او کارونه د تحريک طالبان پاکستان ، پنځه ماشومان طالبانو ، دوه د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت دلې ، يو دنا معلومو دولت ضد عناصرو ، پنځه دافغان ملي امنيتي ځواکونو (څلور د افغان سيمه ييزو پوليسو او يو د افغان ملي پوليسو) او ۸ د دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کړي. بيا هم داسې انګيرنه /باور کيږي چې د دغو پيښو په اړه په بشپړ ډول راپور نه دی ورکړل شوی.

ماشومان د دولت ضد عناصرو له خوا د چاودیدونکو توکو د ځای پر ځای کولو ، د وسیلو د لیږدولو ، د استخباراتي معلوماتو په راغونډولو کې د مرستې کولو ، د ځانمرګو بريدونو ترسره کولو او په شخړو کې د ګډون کولو لپاره کارول کيږي. د ۲۰۱۸ کال

[٤٤] زياتره ماشومان د کوم زيان پرته راخوشې شوي ، چې دغه زياتره د قومي مشران تر منځګړيتوب وروسته ترسره شوي. په دوو پيښو کې ، دوه تښتول شوي ماشومان وژل شوي (تولټال دوه وژنې).
[٤٥] دويمه ضميمه: د جګړې اصلي ښکېلې خواوې او د دغې ډلې په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره د دغه راپور ۳. الف. ۲ برخه وګورئ.
[٤٦] د قربانيانو د ساتنې په موخه د دغو پيښو په اړه مشخص معلومات لرې کړای شوي.

د جولای پر ۳۱ نېټه د جوزجان ولایت په درزاب ولسوالۍ کې دیوی لوړې کچې په ځانګړې پېښه کې ۲۵۰ شکمن وسلوال کسان چې ځانونه یې د داعش/ د اسلامي دولت خراسان ولایت دډلې افراد معرفی کول افغان امنیتي ځواکونو ته تسلیم شول چې پدی کی ۵۵ ځلمکي او ۴ کوچني ماشومان چې عمرونه یې د ۱۲ کالونو څخه کم وو هم شامل وو. نوموړي ماشومان د دغې ډلې له نورو غړو سره یو ځای پرته له دې چې مدافع وکیلانو ته لاسرسي ولري او مخکې تر دې د ماشومانو د اصلاح مرکز ته ولیږدول شي ، د ملي امنیت په ریاست کې د اوږدې مودې لپاره بندي شوي وو.[47]

یوناما د کورنیو چارو وزارت له خوا په ټولو ۳۴ ولایتونو کې د ماشومانو د ساتنې واحدونو په جوړولو سره د دولت له خوا د ماشومانو د ګمارنې د مخنیوي په موخه دغه ترسره شوی پرمختګ ستایي. دغه کار د ۳۶۴ عارضینو (کوم کسان چې غوښتل یی د افغان ملي ځواکونو په لیکو کی شامل شي) چې عمرونه یې د ۱۸ کلونو څخه کم وه په ۲۰۱۸ کال کې د افغان ملي پولیسو په لیکو کی دداخلیدو څخه منع شوي.[48] خو بیا هم ، د ماشومانو کارَونه په ځانګړې ډول د افغان دسیمه ییزو پولیسو او تر یوې کمې اندازې د افغان ملي پولیسو په لیکو کی یوه ستونزه ګڼل کیږي. یوناما په دوامدار ډول د دې راپورونه تر لاسه کړي ، چې ماشومان په جګړه ییزو لیکو کې د ساتونکو اود پولیسو په پوستو کې د چایو او خوړو برابرونکو په څېر کارَول شوي. په ځینو حالاتو کې ، دغه ماشومان له جنسي استثمار او تاوتریخوالي سره هم مخ شوي. یوناما دافغانستان حکومت دی ته هڅوي چې دجلب او جذب په مراکزو کی غوښتنلیک ورکوونکو کسانو دعمر د ارزونې او چاڼ طرز العملونه لا هم پیاوړي کړي او دافغان ملي پولیسو د ماشومانو د ساتنې واحدونو چاری نوری هم پراخه کړي تر څو دپولیسو په پوستو کې فعاله څارنه ترسره کړي.

یوناما د هغو ماشومانو اړتیاوو ته د رسیدګۍ د غبرګون میکانیزمونو د کافي نشتون یادونه کوي چې په رسمي ډول له وسله والو ځواکونو یا ډلو سره یو ځای دي ، له توقیف څخه راخوشې شوي او یاهم هغه ماشومان چې د کم عمر له امله د پولیسو او وسله والو ځواکونو له خوا د ګمارنې د پروسې پر مهال را جلا شوي. دا په داسې حال کې ده چې دغه ماشومان د نورې ګمارنې او کارَونې په وړاندې زیانمنیدونکي دي. دغو موضوعګانو ته د لاسرسۍ په لار کې د ننګونو په منلو سره ، یوناما د نړیوالې ټولنې په ملاتړ افغان دولت داسې لارو چارو لټولو ته هڅوي چې ترڅو داسی ماشومان رواني ملاتړ ، روغتیا ، پوهنې ، مسلکي روزنې او د عایداتو تر لاسه کولو پروګرامونو ته زیاته لاسرسي ولري او له خپلو کورنیو او ټولنو سره د هغوی له بیرته یو ځای کیدنې سره مرسته وکړي.

## ۲. د ماشومانو په ضد جګړې پوری اړوند جنسي تاوتریخوالی

په افغانستان کې جګړې پوری اړوند د ماشومانو په ضد جنسي تاوتریخوالي یوه هغه اندیښنه ده چې رسیدګي ورته نه ده شوې. ماشومان د جګړې د ښکېلو خواوو له خوا د جنسي تاوتریخوالي قربانیان دي ، چې له ځورونې ، استثمار او جنسي تیري سره مخ شوي. په ۲۰۱۸ کال کې یوناما د ماشومانو په وړاندې د جنسي تاوتریخوالي څلور پېښې مستندې کړي ، چې درې یې د افغان ملي پولیسو او یوه یې د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا ترسره شوی. خو بیا هم دغه شمېر د ستونزې پراخوالی نه منعکس کوي ، د دې په پام کې نیولو سره چې باور کیږي دغه ډول قضیې په پراخه کچه نه راپور کیږي ، او که په اړه یې کله هم راپور ورکړل شي د زیاتو حساسیتونو او د قرباني د ساتنې د اندیښنې له امله تاییدول یې ستونزمن دي.

د یوناما له خوا په تایید شویو پیښو کې د بچه بازۍ قضیې هم شاملې دي ، له زیانه هغه ډکه کړنه چیرې چې هلکان د شتمنو یا ځواکمنو نارینه وو له خوا د ساعت تیرۍ ،په ځانګړې ډول نڅا او جنسي کړنو ، لپاره په ناوړه ډول کارول کیږي. د مثال په ډول ، په تخار ولایت کې یو هلک د نږدې یو کال لپاره د افغان ملي پولیسو د غړو په ګډون له یو قوماندان څخه بل قوماندان ته لاس په لاس شوی او د بچه بازۍ لپاره کارول شوی. د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې ، د شکمنو عاملینو د نیولو امرونه صادر شوي خو بیا هم د راپور تر لیکنې پورې هیڅ یو یې نه دی نیول شوی.

[47] د دغو ډول موضوعګانو د حساسیت له امله یوناما په دې و نه توانیده څو دا تایید کړي چې ایا دغه ماشومان د هغوي تر نیونې مخکې د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا ګمارل شوي او کارول شوي وو ، د پیښې شرایط دا جدي اندیښنه را ولاړوي ، چې لږ تر لږه یو شمېر یې د نوموړې ډلې له خوا ګمارل شوي او کارول شوي.

[48] د هغو شمېرو سره سم چې د یونیسف له خوا برابرې شوې.

په داسې حال کې چې د جزا تعدیل شوي کوډ کوم چې د ۲۰۱۸ په فبروري کې نافذ شو ، په څرګند ډول د بچه بازۍ کړنه جرم ګڼي ، خو بیا هم د دغه ډول جرمونو لپاره احتساب لا اوس هم یوه ننګونه ګڼل کیږي. په دغه ډول کړنو کې د ځواکمنو نارینه وو د ښکېلتیا او د کلتوري حساسیتونو له امله ، د دغو کړنو لپاره معافیت په پراخه کچه شتون لري او قربانیان د پېغور او د ټولنې څخه له جلاتوب سره مخ دي. یوناما دافغانستان دولت دې ته هڅوي ، چې د جزا تعدیل شوی کوډ نافذ کړي او د بچه بازۍ د عاملینو لپاره حسابدهي یقیني کړي ، او د افغان ملي امنیتي ځواکونو د روزنې او پوهاوي د لړونې له لارې د جګړې د ښکېلو خواوو له خوا د ماشومانو په ضد د جنسي تاوتریخوالي مخنیوی وکړي ، او د قربانیانو لپاره بیساری مرسته اوملاتړ برابر کړي.

## ج. پر پوهنې/زده کړې د وسله والې جګړې اغیز

وسله والې جګړې په ۲۰۱۸ کال کې پوهنې ته دروند زیان اړولي. د جنوري د لومړۍ او ډسمبر د ۳۱ ترمنځ ، یوناما د هغو بریدونو په ګډون چې ښوونځي یې په قصد یا په تصادفي ډول په نښه کړي ؛ د ښوونیزو کارمندانو د وژنې ، ژوبلې او تښتونې ؛ او د ښوونیزو مرکزونو او مامورینو په وړاندې د ګواښونو په ګډون ، ۱۹۱ داسې پیښې ثبت کړي چې پوهنه یې اغیزمنه کړې. د دغو پېښو شمېر په ۲۰۱۷ کال کې د مستند شوي شمېر په پرتله نږدې درې برابره دی. دغه زیاتوالی عمدتا د دولت ضد عناصرو له خوا پر هغو ښوونځیو بریدونو ته منسوب شوی چې د ۲۰۱۸ د ولسي جرګې د ټاکنو لپاره کومې چې په اکتوبر کې ترسره شوی ، د رایه اچوونکو د ثبت او رایه اچوونې د مرکزونو په وړاندی کارول شوي.

په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما د ټاکنو اړوند ۹۲ پېښې مستندې کړې چې پوهنه یې اغیزمنه کړې چې زیاتره پیښی یې طالبانو ته منسوبي شوي.[49] تر ټاکنو په مخکنیو میاشتو [50] کې او پخپله د ټاکنو ورځو پر مهال د دولت ضد عناصرو له خوا د رایه اچوونکو د ثبت او پر انتخاباتي مرکزونو بریدونه چې زیادتره یی په ښوونځیو کې موقعیت درلود ،[51] د اوږدې مودې لپاره د ماشومانو پر خوندیتوب او پوهنې ته په لاسرسۍ اغیز کړی. که څه هم دغه بریدونه د پوهنیزو خدمتونو په نښه کولو یا ګډوډلو په موخه نه وو ترسره شوي خو د دغو ځایونو په نښه کول د ماشومانو د تلفاتو ، د ښوونځیو د زیان ، د ښوونځیو د تړل کیدو او/یا د ماشومانو دحاضرۍ د کمیدو لامل شوي چې د ماشومانو پر خوندیتوب او پوهنې ته یې د هغوي پرلاسرسی حق اغیز کړي.

دولت تر ټاکنو څو ورځې مخکې او د ټاکنو پر ورځ دولتي ښوونځي د ټولو زده کوونکو پر مخ وتړل چې په دغه کار سره یې پر هغو ښوونځیو د مستقیمو بریدونو په پایله کې چې د انتخاباتي مرکزونو په څېر کارول شوي ووډ ماشومانو د زیان کچه راټیټه کړه. خو بیا هم د ښوونځیو ودانۍ د قصدي او تصادفي بریدونو له امله زیانمنې شوی ، چې پوهنې ته یې د ماشومانو لاسرسي اغیزمنه کړی.

د ټاکنو اړونده بریدونو څخه جلا چې پوهنه یې اغیزمنه کړې ، همدارنګه یوناما په ۲۰۱۸ کال کې د دولت ضد عناصرو په تیره بیا د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا د ښوونیزو مرکزونو په ضد د بریدونو او ګواښونو د جریان په اړه اندیښمنه ده چې د دولت پلوه ځواکونو د نظامي عملیاتو په وړاندې یی د غبرګون په بڼه کارولی ، کوم چې په پراخه کچه د ښوونځیو د تړل کیدو او ملکي تلفاتو لامل شوي. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د یوې اعلامیې او راډیوي خپرونې له لارې چې د ۲۰۱۸ کال د جون پر ۳ نېټه خپره شوی په ښکاره توګه یی د ښوونځیو ،په ځانګړې ډول د نجونو ، په نښه کولو هوډ څرګند کړی.[52] دداعش ډلی په دې ادعا سره چې د تیرو درې ورځو په ترڅ کې د نړیوالو نظامي ځواکونو او د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا د ننګرهار ولایت په هسکه مینه ولسوالۍ کې پر هستوګنیزو سیمو د هوایي عملیاتو په جریان کی کې شاو خوا سل ښځې او ماشومان وژل شوي ، نوموړې ډلې اخطار ورکړ چې تر دې وروسته به په ننګرهار ولایت

[49] دغه شمېر په ښوونځیو کې د ځای پر ځای شویو انتخاباتي مرکزونو په وړاندې د ترسره شویو بریدونو شمېر نه منعکس کوي ، بلکې یوازې هغه شمېر منعکسوي چې پوهنه یې اغیزمنه کړې ، لکه هغه بریدونه چې د ښوونځیو ودانیو ته یې زیان اړولي وي یا په موقت ډول د پوهنې د بندیدو لامل شوي وي.

[50] د رایه اچوونکو د ثبت موده د ۲۰۱۸ کال د اپریل پر ۱۴ پیل او د دغه کال تر جولای پورې وغځیده.

[51] له نږدې ۵۰۰۰ انتخاباتي مرکزونو څخه ، کوم چې همدارنګه د رایه اچوونکو د ثبت د مرکزونو په څېر هم کارول شوي ، له ۵۰ سلنې زیات یې په ښوونځیو کې موقعیت درلود.

[52] په ننګرهار ولایت کې د خپاره شویو لیکونو کاپي د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې د ډیټابیس په دوسیه کې موجود ده.

کې د نجونو ټول ښوونځي د برید هدف وي.[۵۳] دغې ډلې تر دغه اخطار وروسته د ۲۰۱۸ کال په پاتې برخه کې ۳۴ دغه ډول بریدونه ترسره کړي چې د نهو ماشومانو په ګډون د ۶۴ ملکي تلفاتو (۲۵ مړه او ۳۹ ټپي) لامل شوي. په دغو بریدونو کې هغه درې ډله ییز بریدونه شامل دي چې په ګډه توګه د ۴۶ ملکي تلفاتو (۱۷ مړه او ۲۹ ټپي) لامل شول: د ۲۰۱۸ کال د جون پر ۱۱ نېټه په جلال اباد ښار کې پر پوهنې ریاست برید؛ د ۲۰۱۸ کال د جولاي پر ۱۱ نېټه په جلال اباد ښار کې پر پوهنې ریاست برید؛ او د ۲۰۱۸ کال د جولاي پر ۲۸ د ټولنې د نرسنګ او قابله ګۍ پر ښوونیز انستیتوت برید. د دغې ډلې په کمپاین کې د ښوونځیو په شاوخوا سیمو کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ځای پر ځای کول هم شامل دي، چې د زده کوونکو او د پوهنې د کارکوونکو د تلفاتو لامل شي، یا په ټولنې کې ویره خپره کړي ترڅو د خپلو ماشومانو د ښوونې او روزنې مرکزونو ته د ورتګ مخه ونیسي. یوناما د ۲۰۱۸ کال له جون څخه تر ډسمبر پورې دغه ډول ۲۵ پېښې تایید کړي. د کال په دویمه نیمایي برخه کې د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا د هیواد په ختیځو سیمو کې پر ښوونیزو مرکزونو بریدونو پوهنې ته د ماشومانو لاسرسي د پام وړ اغیزمنه کړې.

یوناما دغه راز د طالبانو له خوا د دولت د نظامي عملیاتو یا مشخصو ترسره شویو اقداماتو په غبرګون کې په راکېټونو، هاوانونو یا تعبیه شویو چاودیدونکو توکو سره د ښوونځیو د ګواښنې، تړلو، سوځولو یا هدف ګرځولو ۱۰ پېښې مستندې کړې. د مثال په ډول، د ۲۰۱۸ کال د مئ په میاشت کې طالبانو د هغوی د تش په نامه د پوهنې د رییس تر نیونې وروسته په تخار ولایت کې ۲۸ ښوونځي وتړل. د ۲۰۱۸ کال د جولاي په پیل کې په لوګر ولایت کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او د نړیوالو نظامي ځواکونو د ګډو نظامي عملیاتو په غبرګون کې طالبانو په مُحَمَّد اغا ولسوالۍ کې دجمله ۶۴ ښوونځیو څخه د هلکانو ۳۴ ښوونځي او د نجونو پنځه ښوونځي د دوو اونیو لپاره وتړل، او په پل عالم ولسوالۍ کې د نجونو او هلکانو دوه ګډ ښوونځي وسوځول. په ورته ډول، د ۲۰۱۸ کال د مارچ پر ۲۱، د پوهنې د ریاست تر هغې پریکړې وروسته چې د ښوونکو معاشات به د نغدو تادیاتو پر ځای د بانک له لارې تادیه کیږي- یو داسې ګام چې له ښوونکو به د طالبانو د مالیاتو اخیستل راکم کړي- طالبانو یو فرمان صادر کړ، چې په کندز ولایت کې یې د ۳۴۲ ښوونځیو د تړلو امر کاوه. اوه میاشتې وروسته، طالبانو په غزني ولایت کې د ښوونکو، مدیرانو او د ولسوالۍ د پوهنې کارمندانو په ګډون د پوهنې ۱۲۵ کارکوونکي وتښتول، ځکه چې هغوی د بانکي حسابونو له لارې خپل معاشات تر لاسه کول.

یوناما په ۲۰۱۸ کال کې د طالبانو له خوا پر مختلطو یا د نجونو پر ښوونځیو د بریدونو پنځه پیښې مستندې کړي، چې ټول یې د هیواد په لویدیځه سیمه (د فراه او هرات ولایتونه) کې رامنځ ته شوي. په دغو پیښو کې د ښوونځیو سوځولو او ودانیو د ننه د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو چَول شامل دي. د اپریل پر ۵مه په یوه پیښه کې، طالبانو په هرات ولایت کې د نجونو د لیسې سرمعلم په ډزو وویشت او ویې واژه. همدارنګه یوناما په لوګر، بادغیس او بدخشان ولایتونو کې د طالبانو له خوا د نجونو د ښوونځیو په وړاندې د ګواښونو درې پیښې تایید کړې. د مثال په ډول، د اګست پر ۲۶مه، د لوګر ولایت په بَرکي بَرک ولسوالۍ کې طالبانو د نجونو د ښوونځیو مدیران راغونډ کړي وو او هغوی ته یې امر وکړ چې له لومړي تر دولسم ټولګي ښځینه ښوونکې او هغه نجونې چې له اوم تر دولسم ټولګي پورې زده کړې کوي باید نور ښوونځیو ته لاړې نه شي. دغه ګواښونه په ولسوالۍ کې د هغو نجونو د ټولګیو د تړل کیدو چې له شپږم څخه په پورته ټولګیو کې یې زده کړې کولې او د کوچنیو نجونو لپاره د ښځینه ښوونکو پر ځای د نارینه ښوونکو د بدلیدو لامل شول.

## د. پر روغتیا د وسله والې جګړې اغیز

یوناما په ۲۰۱۸ کال کې د روغتیایي مرکزونو او کارکوونکو په وړاندې د قصدي بریدونو یا ګواښونو یا روغتیایي مرکزونو ته د تصادفي زیان په ګډون، ۶۲ پیښې تایید کړي چې روغتیایي پاملرنه او خدمتونه یې متاثره کړې. یوناما دولت ضد عناصرو ته ۴۶ پیښې منسوبې کړي چې پدې کې طالبانو ته ۳۰ پیښې، داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته ۱۱ پیښې، هغو

[۵۳] د ننګرهار ولایت په ده بالا ولسوالۍ کې د دغو درې ورځو پر مهال، یوناما د دولت پلوه ځواکونو له خوا د هوایي عملیاتو په پایله کې ۱۷ ملکي تلفات (اوه مړه او ۱۰ ټپي) تایید کړي.

وسله والو ته چې ځانونه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډله معرفي کوي درى پيښى ، او نا معلومو وسله والو ډلوته دوه پيښې منسوبې دي. ددولت پلوه ځواکونوته ټولټال ۱۶ پيښې منسوبې دي.[٥٤]

د دولت ضد عناصرو له خوا د واکسيناسيون کمپاينونو په ځانګړي ډول د پوليو کمپاينونو مخه نيول د ځانګړې انديښنې وړ ده. يوناما په ۲۰۱۸ نهه داسي پيښې مستندې کړې په کومو کې چې دولت ضد عناصرو د روغتيا پالنې کارمندان ګواښلي ترڅو د پوليو په ګډون د واکسيناسيون کمپاينونه ودروي. له دغو پيښو شپږ په ختيځه سيمه (کونړ او ننګرهار ولايتونه)، دوه په شمالي سيمه (جوز جان) او يوه په لويديځه سيمه (فراه ولايت) کې رامنځ ته شوي. پنځه پيښې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې ، دوه پيښې هغو وسله والو ته چې ځانونه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت معرفي کوي او دوه طالبانو ته منسوب شوي.

پورتنۍ شمېرې ښايي د ستونزې پراخه انځور وړاندې نه کړي. د روغتيا د نړيوالې اداري او يونيسف له معلوماتو سره سم ، په ۲۰۱۸ کال کې د پوليو ۲۱ نوې قضيې راپور شوي ، چې پنځلس يې د هيواد په جنوبي او شپږ يې په ختيځو برخو کې رامنځ ته شوي. دواړو ادارو راپور ورکړی ، چې د واکسيناسيون کمپاينونه په جنوبي سيمه کې د نه لاسرسي له جدي ننګونو سره مخ دي ، چيرې چې د مځ مياشتې راهيسې د کور په کور واکسينو کمپاين باندې د بنديز له امله کابو ۸۴۰۰۰۰ ماشومان نه شي واکسين کيدای. که څه هم د ۲۰۱۸ په وروستيو کې د ځای په ځای واکسينو لپاره لاسرسي ترلاسه شوه ، خو دغه لار د پوليو وايروس د سرايت د مخنيوې لپاره کافي نه ده.

کلينيکونه هم د ټاکنو پورې داړوند تاوتريخوالي له امله اغيزمن شوي ، خو د ښوونځيو په پرتله په خورا کمه کچه. د رايه اچوونکو د ثبت او رايې اچونې ځينې مرکزونه چې په روغتيايي کلينيکونو کې ځای پر ځای شوي وو د بريد له ګواښ سره مخ شول. د ټاکنو پر مهال په ملکي ميشتو سيمو او پر ملکي ميشتو سيمو د غير مستقيمو وسلو د کارونې په وجه دغه راز د کلينيکونو په ګډون ملکي ودانيو ته زيان اړولی.

## ه. له جګړې څخه پاتې شوني چاودېدونکي توکي

*"د جمعې ورځې پر غرمې ، زموږ ګاونډي د غونډۍ له سر څخه د هاوان يوه مرمۍ راوړه ، چې ښويه او اوږده وه. زيات ماشومان يې د ليدو لپاره راغونډ شول. کله چې زموږ ګاونډي د هاوان مرمۍ په ډبرې ووهله ، هغه وچاوديده ، چاودنې يو ډاړونکی غږ وکړ او زه بې هوښه شوم. تر هغې وروسته مې نور هيڅ نه دي په ياد. کله چې په هوش راغلم ، زه په روغتون کې وم."* [٥٥]

-- د چاودېدونکو توکو د چاودنې يوه اته کلنه قرباني نجلۍ ، دغې چاودنې د ۲۰۱۸ د سپتمبر پر ۲۱ د فارياب ولايت په شيرين تګاب ولسوالۍ کې نهه ماشومان ووژل او پنځه نور يې ټپي کړل. هغې په دغې پيښې کې خپله پښه له لاسه ورکړه.

د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ او د ډسمبر د ۳۱ ترمنځ ، يوناما له جګړې څخه د پاته شونو چاودېدونکو توکو له امله ۴۹۲ ملکي تلفات (۱۵۰ مړه او ۳۴۲ ټپي) مستند کړي ، چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۲۳ سلنه کموالی په ډاګه کوي. په ۲۰۱۷ کال کې د نښه شوي جريان سره سم ، دغه کموالی ښايي دغه فکتورونو ته منسوب شي چې: د جګړې له ډګرونو څخه د جګړې د پاته شونو چاودېدونکو توکو پاکول ، د دغو توکو په اړه روان ښوونيز پروګرامونه او د خطر د سيمو نښاني کول.

[٥٤] پنځه پيښې افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو (يوه افغان ملي پوليسو ، دوه افغان ملي اردو ، يوه د ملي امنيت رياست او يوه په ګډه افغان ملي پوليسو او د ملي امنيت رياست ته)، دوه دولت پلوه وسله والو ډلو ، يوه نا معلومو دولت پلوه ځواکونو ، يوه په ګډه افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو او طالبانو ، څلور نړيوالو نظامي ځواکونو ، او درې په ګډه افغان ملي دفاعي او امنيتي ځواکونو او نړيوالو نظامي ځواکونو ته منسوب شوي.

[٥٥] په روغتون کې له قرباني سره د يوناما مرکه ، فارياب ولايت ، ۲۳ سپتمبر ۲۰۱۸.

ماشومان لا اوس هم له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله په بې تناسب ډول زیانمن کیږي. په ۲۰۱۸ کال کې، دوې له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله د ټولو ملکي تلفاتو ۸۷ سلنه جوړوي، چې د یوناما له خوا د ۳۶۷ هلکانو په ګډون د ماشومانو ۴۲۶ تلفات (۱۳۶ مړه او ۲۹۰ ټپي) ثبت شوي. هغه ماشومان چې له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له پیښو ژوندي پاتې شوي د هغوی د بدن د غړو، د سترګو دید، د نورو جدي ټپونو او رواني تروما له امله د هغوی د ژوند پر کیفیت د تلپاتې زیانمنونکي اغیز سره ژوند کوي.




یوناما زیات شمېر داسې قضیې مستندې کړې په کومو کې چې ماشومان له دې امله وژل یا ټپي شوي چې هغوی له جګړې څخه پاته هغه چاودیدونکي توکي لمس کړي چې هغوی پیدا کړي او یایې له دغو وسیلو سره یې لوبې کړي یا یې کور ته وړي. د مثال په ډول، د سپتمبر پر ۲۱مه د فاریاب ولایت په شیرین تګاب ولسوالۍ کې یوې ډلې ماشومانو چې کورنې ژوې یې څرول یو ناچاوده توکی پیدا کړ، کلې ته یې یوړ او پر ډبرو یې تر هغه وواهه ترڅو وچاودید، دغې چاودنې نهه ماشومان ووژل او پنځه نور یې ټپي کړل. دوو ماشومانو په کې خپلې پښې له لاسه ورکړې. یوناما ماشومانو ته له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو د خطر په اړه د زده کړې او د هغوی د پوهاوي د لوړولو پر اهمیت ټینګار کوي، ترڅو هغو ماشومانو ته ورسیږي چې په لړیو پرتو سیمو کې ژوند کوي.

په ۲۰۱۸ کال کې له جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو له امله تر نیمایي زیات ملکي تلفات د وروستیو جګړو ښکېلو خواوو ته منسوب شوي (عمدتا په کډه دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ته). یوناما د هغه ستر ګواښ یادونه کوي چې هغه بېځایه شوې کورنۍ ورسره مخ دې څوک چې هغو سیمو ته بیرته ستنیږي چیرې چې درنې جګړې ترسره شوې. که چیرې پر دغو توکو له ککړو سیمو څخه دچاودیدونکو توکو په نښاني کولو، معلومولو او پاکولو لپاره کوټلي ګامونه پورته نه شي، د ملکي وګړو وژل او ټپي کیدل به دوام ومومي.

د جګړې ښکېلې خواوې مکلفې دې چې له جګړې څخه پاته شوني چاودیدونکي توکي نښاني، معلوم، پاک او یا هم له منځه یوسي، او د دغو توکو له خطرونو او اغیزو څخه د ملکي وګړو د ساتنې لپاره ټول ممکنه احتیاطي تدابیر ونیسي. د ماینونو د خطر په اړه د پوهاوي رواني هڅې د خلکو د ساتنې لپاره خورا مهمې دي. یوناما د دولت له خوا د مشخصو دودیزو وسلو په اړه د کنوانسیون د پنځم پروتوکول سره سم، کوم چې د ۲۰۱۸ کال د فبروري پر ۹ نېټه نافذ شوی، د خپلو ژمنو د رعایت کولو لپاره د دوامداره ترسره شویو ګامونو هرکلی کوي. یوناما د دې یادونه کوي چې نړیوال ځواکونه په دې هکله د مرستې کولو مسوولیت لري څو یقیني کړي چې دولت د پنځم پروتوکول سره سم خپل مکلفیتونه ترسره کوي او نړیواله ټولنه د هر ډول ممکنه دوامداره ملاتړ ي اقداماتو ته هڅوي.

## ۳. دولت ضد عناصر

### الف. عمومي کتنه

په ۲۰۱۸ کال کې دولت ضد عناصرو د نږدې دوه پر درې برخې ملکي تلفاتو اړول جاري ساتلي ، چې د هغو عمدي بریدونو چې ملکي وګړي په نښه کوي او د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د بې توپیره کارونې له امله د زیات ملکي زیان لامل شوي. د دولت ضد عناصرو له خوا د ځانمرګو او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کارَونه د ملکي تلفاتو مخکښ لامل و ، چې په ټول هیواد کې د ټولټال ملکي تلفاتو ۴۲ سلنه جوړوي. د دولت ضد عناصرو له خوا د مخ پر زیاتیدونکي ځانمرګو تعبیه شوي چاودیدونکو توکو باندې د اتکا له امله ملکي وګړي د مړه کیدو یا ژوبلیدو په ویره کې ژوند کوي. د ژورنالستانو ، لومړی مرسته رسوونکو ، ښوونکو ، دیني مشرانو ، انتخاباتي کارمندانو او نورو په ګډون د ملکي وګړو ټول قشرونه/طبقې اغیزمنې شوي.

| مسؤله خوا (د یوناما له خوا منسوب شوي)[56] | وژل شوي ملکیان | ټپي شوي ملکیان | ټولټال ملکي تلفات | د ټولو ملکي تلفاتو سلنه |
|---|---|---|---|---|
| طالبان | ۱۳۴۸ | ۲۷۲۴ | ۴۰۷۲ | ۳۷ سلنه |
| داعش/ISKP | ۶۸۱ | ۱۵۰۰ | ۲۱۸۱ | ۲۰ سلنه |
| نا معلوم دولت ضد عناصر | ۱۹۶ | ۴۸۲ | ۶۷۸ | ۶ سلنه |
| نور/ګډې خواوې | ۱۸ | ۳۱ | ۴۹ | تر یوې سلنې کم |

د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ او ډسمبر د ۳۱ ترمنځ ، یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا اړول شوي ملکي تلفات د ۶۹۸۰ کسانو په تعداد (۲۲۴۳ مړه او ۴۷۳۷ ټپي) مستند کړي ، چې د ۲۰۱۷ کال ته ورته د تلفاتو کچه په ډاګه کوي.[57] د دولت ضد عناصرو له خوا د هدفي وژنو[58] له امله په ملکي تلفاتو کې کموالي د بله پلوه د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو او د ځانمرګو بریدونو په پایله کې په ملکي تلفاتو کې د پام وړ زیاتوالي له امله زیات شوي ، په ځانګړې ډول له هغو چې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوي کوم چې دیخوا په پرتله دوه برابره څخه زیات شوي. همدارنګه د رایه اچوونکو د ثبت پرمهال او تر پارلماني ټاکنو مخکې د کمپاینونو په موده او د ټاکنو په ورځو کې تاوتریخوالي د ملکي تلفاتو په زیاتوالي کې مرسته کړې.

| | |
|---|---|
| د یوناما له خوا تایید شوي ملکي تلفات ، هغه پېښې چې طالبانو یې په ښکاره مسؤلیت پر غاړه اخیستي | ۹۴۳ (۳۱۹ مړه او ۶۲۴ ټپي) |
| د یوناما له خوا تایید شوي ملکي تلفات ، چې طالبانو ته منسوب شوي خو ښکاره دوی یې مسوولیت نه وي منلی | ۳۱۲۹ (۱۰۲۹ مړه او ۲۱۰۰ ټپي) |
| د یوناما له خوا تایید شوي ملکي تلفات ، د هغو پیښو له امله چې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې یې په ښکاره مسؤلیت پر غاړه اخیستي | ۱۷۵۲ (۵۱۴ مړه او ۱۲۳۸ ټپي) |
| د یوناما له خوا تایید شوي ملکي تلفات ، چې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته د منسوب شوي خو په ښکاره یې مسؤلیت نه وي منل شوی | ۴۲۹ (۱۶۷ مړه او ۲۶۲ ټپي) |

[56] یوناما د پیښو مسوولیت د دولت ضد عناصرو یوې مشخصې ډلې ته هغه مهال منسوبوي کله چې ډلې مسوولیت پر غاړه اخیستی وي ، یا کله چې د پیښې مسوولیت د کوم لوري له خوا نه وي منل شوی مګرد ټولو موجوده شواهدو شننه دې پایلې ته ورسیږي چې یوه مشخصه ډله د پیښې مسووله ده. د تابیه شویو چاودیدونکو توکو د ځانمرګو او غیر انتحاري پیښو په تړاو شننه کې هر ډول موجوده معلومات ، د دولت یا نورو سرچینو له خوا برابر شوي وي معلومات(چې ځینې یې په محرم ډول برابر شوی) او د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې په ډیټابیس کې ساتل شوی معلومات په دربر کی نیسي چی داټول بیا کتل کیږي. په کومو پیښو کې چې یوناما ملکي تلفات نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوبوي نوموړې اداره د دې شننه هم ترسره کوي ترڅو یقیني کړي چې پیښې له جګړې سره تړاو درلود. د یوناما دملکي تلفاتو په راپور کې دملکیانو هغه تلفات نه شاملیږي کوم چی د جنایي ډلو له خوا چې د جګړې ښکېله خوا نه وي د تابیه شویو چاودیدونکو توکو او نورو وسلو د کارونې له امله رامنځ ته شوي وي.

[57] په ۲۰۱۷ کال کې ، یوناما ۶۷۶۸ ملکي تلفات (۲۳۰۳ مړه او ۴۴۶۵ ټپي) د دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي. ددولت ضد عناصرو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو په شمېر کې هغه پیښې هم نه دي شاملې کوم چې د ځمکنیو نښتو پر مهال ملکي تلفات ددولت ضد عناصرو او ددولت پلوه ځواکونو ته په ګډه منسوب شوي. مهرباني وکړئ د دغه راپور د ځمکنیو نښتو: په ډزو کې راګیر ملکي وګړي برخه وګورئ.

[58] یوناما د "هدفي وژنو" په څیر هغه ملکي تلفات مستند کوي چې د جګړې اړوند بریدونو په پایله کې چې په مستقیم یا تصادفي ډول افراد په نښه کوي منځته راغلي وي ، که هغه ملکي وي یا نظامي ، او د دولت ضد عناصرو تر فیزیکي ساتنې او نظارت لاندې نه وي. د لا زیاتو معلوماتو لپاره دریېمه ضمیمه: اصطلاح ګانو برخه وګورئ.

### ۱. طالبان

په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما طالبانو ته د ۴۰۷۲ ملکیانو تلفات (۱۳۴۸ مړه او ۲۷۲۴ ټپیان) منسوب کړي. دا د ۲۰۱۷ کال په پرتله دغې ډلې ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې اوه سلنه کموالي په ډاګه کوي ، چې په عمده توګه د طالبانو له خوا دملکیانو په هدفي وژنو کی د ۲۳ سلنه کموالي له امله رامنځ ته راغلی.[۵۹] خو بیا هم د طالبانو له خوا د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي او دغه راز د ټاکنو اړوندو کارمندانو ، نوماندانو او بالقوه رایه اچوونکو په وړاندې د ټاکنو اړوند ګواښونو ، تهدیدونو او ځورونو پر ملکي وګړو د پام وړ منفي اغیز درلود. یوناما په ۲۰۱۸ کال کې په افغانستان کې د وسله والې جګړې له امله د رامنځ ته شویو ټولو ملکي تلفاتو ۳۷ سلنه طالبانو ته منسوب کړې ، چې په ۲۰۱۷ کال کې دغې ډلې د ۴۲ سلنه منسوب شویو تلفاتو په پرتله پنځه سلنه کموالی په ډاګه کوي.

طالبانو همدارنګه په ۲۰۱۸ کال کې پر دوو ولایتي مرکزونو ستر بریدونه ترسره کړي: د ۲۰۱۸ کال د مئ په میاشت کې د فراه پر ښار یو ورځنی برید ، او د ۲۰۱۸ کال په اګست کې د غزني پر ښار اوږد مهالي بریدونه. د غزني په ښار کې پنځه ورځنۍ جګړې لوړ شمېر ملکیانو ته تلفات واړول (د دغه برید په اړه د زیاتو معلوماتو لپاره لاندې برخه وګورئ). په ۲۰۰۱ کال کې د طالبانو تر سقوط وروسته ، په ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کلونو کې د کندز د نیونې او په ۲۰۱۸ کال کې پر فراه ښار تر برید وروسته ، غزني دریم ولایتي مرکز و چې له ستر برید سره مخ شوی. په هر حال ، پر غزني ښار برید د ولایت د ستراتیژیک موقعیت له امله چې د کابل-کندهار پر لویه لار پروت دی د ځانګړي اهمیت درلودونکی دی.

سر بیره پر دې ، د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په وروستیو کې د اروزګان ولایت په خاص اروزګان ولسوالۍ کې ، د طالبانو او د افغان سیمه ییزو پولیسو د یوه پخواني هزاره توکمه قوماندان ترمنځ جګړه ، د چا په ضد چې ددولت لخوا د نیولو امر موجود دی ، د زیات شمېر هزاره توکمه کورنیو د بېځایه کېدنې لامل شوه.[۶۰] تر دغې جګړې لږ وروسته ، طالبانو د غزني ولایت پر مالستان او جاغوري ولسوالیو خپل یرغلیز عملیات پیل کړل.

په دواړو ولسوالیو مالستان او جاغوري کې شخړې د نومبر پر ۱۹مه د دولت پلوه ځواکونو د سترو عملیاتو وروسته پای ته ورسیدې. د لوړ شمېر ملکي تلفاتو تر لومړنیو راپورونو وروسته ، یوناما په جاغوري ولسوالۍ کې ۲۶ ملکي تلفات (۲۰ مړه او ۶ ټپي) او په مالستان ولسوالۍ کې ۱۱ ملکي تلفات (خلور مړه او اوه ټپي) تایید کړل ، چې ټول یې د طالبانو له خوا د برید په اوږدوکې اړول شوي. په ملکي تلفاتو کې هغه کسان چې د خپلو کورونو په کاروني سره یې د طالبانو په وړاندې مقاومت کړی ، هغه چې د طالبانو له خوا دولت پلوه انګیرل کیده او نور هغه اشخاص شامل وو چې تر برید لاندې سیمې څخه په تیښته کې وو. یوناما معلومه کړې چې په لسګونو نورو هغو اشخاصو چې د سرچینو له خوا یې د بالقوه ملکي تلفاتو په څېر راپور ورکړل شوی ، په شخړو کې د مستقیمې برخې اخیستنې ، له امله یې خپل ملکي موقف له لاسه ورکړی.[۶۱]

یوناما دغه راز مستند کړې چې طالبانو پر یو امبولانس ډزې کړې او د صحي کلینک کارمندان یې تښتولي او لږ تر لږه دوه جوماتونو او ۴۰ ملکي کورونو ته یې زیان اړولی.[۶۲] په دواړو ولسوالیو کې د جګړې پر مهال ښوونځي تړل شوي وو چې د کلنیو ازموینو د ځنډولو لامل شوي. طالبانو هغو اندیښنو ته په غبرګون کې چې د بریدونو انګیزه یې قومي ښودله د نومبر پر ۷مه یوه اعلامیه خپره کړه ، چې دغې ډلې په فعال ډول افغان ملي امنیتي ځواکونه ، دولتي کارمندان او وسله وال افراد په نښه کړي ، خو د "مشخص توکم ، قوم یا ډلې" پر بنسټ یې ملکي وګړي هدف نه دي ګرځولي.[۶۳]

---

[۵۹] په ملکي تلفاتو کې دغه کموالي عمدتا له هغو هدفي وژنو له امله دي چیرې چې ملکیان اصلي هدف نه ووخو په تصادفي ډول اغیزمن شوي. که څه هم په دې کې د ملکیانو د عمدي په نښه کولو له امله په ملکي تلفاتو لږ کموالی شامل دی ، د کومو لپاره چې یوناما په ۲۰۱۸ کال ۴۶۵ ملکي تلفات (۳۱۲ مړه او ۱۵۳ ټپي ثبت کړي ، چې په ۲۰۱۷ کال کې د ۵۱۷ تلفاتو (۳۶۸ مړه او ۱۴۹ ټپي) په پرتله لس سلنه کموالی په ډاګه کوي.

[۶۰] یوناما داسې راپورونه ترلاسه کړي چې جګړه د افغان سیمه ییزو پولیسو د پخواني قوماندان له خوا چې د یوې داسې ډلې مشري کوي چې د طالبانو له خوا د زیاتې شوې مالیې سره مخالف دي له امله پیل شوه ، په داسې حال کې چې یو شمېر نورو په ډاګه کړې چې جګړه د کورنۍ شخړې له امله پیل شوه.

[۶۱] د لا زیاتو معلوماتو لپاره ، لطفا د ملکي او ملکي تلفاتو د تعریف په ګډون ، لومړۍ ضمیمه: حقوقي چوکاټ او دریېمه ضمیمه: اصطلاح ګانې وګورئ.

[۶۲] یوناما تایید کړې چې جګړې پر مهال په جاغوري ولسوالۍ کې لږ تر لږه ۱۰ کورونه ، ۲۴ نقلیه وسیلې ، او ۳۳ موټر سایکلونه او په مالستان ولسوالۍ کې دوه جوماتونه ، ۳۰ کورونه او پنځه دوکانونه زیانمن شوي.

[۶۳] د جاغوري ولسوالۍ په اړه اعلامیه د طالبانو له انټرنیټ پاڼې څخه ، ۷ نومبر ۲۰۱۸ ، له دغه انټرنیټ ادرس څخه تر لاسه شوې: http://www.alemarah-english.org/?p=37269

**پر غزني ښار د طالبانو یرغلیز برید، ۱۰-۱۴ اګست ۲۰۱۸**

*"تر پنځو ورځو وروسته کله چې جګړه ودریده ، مونږ په پشتون اباد کې خپل کور ته ستنیدو ، و مو مونډله چې سیمه په بشپړ ډول ګډه وډه ده. په کوڅو کې هر ځای مړه جسدونه او زخمیان پراته وو. هر یو په دې بېړه کې وو چې خپل خپلوان روغتون ته ورسوي. همدارنګه مو هغه ویجاړتیا ولیده چې طالبانو د ژوو په وژلو او موټرو په سوځولو سره رامنځ ته کړې وه. مونږ هڅه وکړه چې تپیان او مړه سره معلوم کړو ، خو دا کار ناشونی وه. ما اوریدلي چې یو شمېر کورنیو د خپلو خپلوانو جسدونه له جګړې ۲۱ ورځې وروسته ترلاسه کړي."*

-- په غزني ښار کې د مدني ټولنې سازمان استازی او ځایي اوسیدونکی

د اګست پر ۱۰ ، طالبانو پر غزني ښار برید پیل کړ ، چې په چیک پوستونو ، ودانیو او دولتي ادارو کې یې افغان ملي امنیتي ځواکونه په نښه کړل او تر هغې وروسته یې د ښار د مرکز د زیاتو برخو کنترول ترلاسه کړ ترهغه چې افغان ملي امنیتي ځواکونه د نړیوالو نظامي ځواکونو په ملاتړ د دې جوګه شول چې تر څو ورځنۍ جګړې وروسته دښار کنترول بیرته ترلاسه کړي.

په دغه موده کې جګړه ترسره شوه او ملکي وګړو ته د پام وړ زیان لامل شو. یوناما له ۳۰۰ څخه زیاتو خلکو سره تلیفوني او مخامخ مرکې ترسره کړې ، چې په مجموعي ډول ۲۶۲ ملکي تلفات (۷۹ مړه او ۱۸۳ ټپي) تاییدوي. خو د امنیتي اندیښنو له امله یوناما غزني ښار ته په رسیدو و نه توانیده څو د ملکي تلفاتو اضافي راپورونه تایید کړي ، کوم څه چې ښایي د ملکي تلفاتو د کمې راپور ورکونې لامل شوي وي. دمعلوماتو له مخې د ولسمشر دفتر له قربانیانو سره دکمک په تړاو د ۹۷ مړو او ۱۶۰ ټپیانو په تړاو د خسارې جبران ورکړی.

زیاتره ملکي تلفات د ځمکنیو نښتو پرمهال د غیر مستقیمو وسلو لکه هاوانونو او راکیټونو د کارونې له امله چې ۱۳۰ ملکي تلفات (۲۶ مړه او ۱۰۴ ټپي) یې اړولي ، او د سپکو وسلو دزو له امله چې ۳۶ ملکي تلفات (۱۳ مړه او ۲۳ ټپیان) یې اړولي ، رامنځ ته شوي. یوناما د طالبانو له خوا د مرچلو په څېر د کورونو او جوماتونو د کارونې زیات شمېر راپورونه ترلاسه کړي له کوم ځایه یې چې جګړه پرمخ وړې. سر بیره پر دې ، د ادعاوو له مخې طالبانو د نوملړونو په کارَونې سره د دولت کارکوونکی ،افغان ملي امنیتي ځواکونه او د هغوي د کورنۍ غړي په نښه کړي. د افغان ملي پولیسو د یوه قوماندان ورور کوم چې یو څارنوال او د ولسي جرګې نوماند وه په هدفي وژنه کې وژل شوی. یوناما همدارنګه د دولت پلوه ځواکونو له خوا اوه جلا جلا هوایي بریدونه مستند کړي چې د ۸۱ ملکی تلفاتو (۳۲ مړه او ۴۹ ټپیان) لامل شوي. په ځانګړي ډول یوه هوایی برید د غزني په پشتون اباد سیمه کې د اوو ماشومانو په ګډون ۱۶ ملکیان ووژل.[٦٤]

په لوړ شمېر د ملکي تلفاتو اړولو سربیره ، دطالبانو دغه برید د یوه ډاروونکي بشري وضعیت لامل شو. د جګړې تر پیل مخکې ، طالبانو په ښار کې مخابراتي شبکې او بریښنا پرې کړې وه ، چې د اوبو د جدي کمښت لامل شوې. په غزني ښار کې روغتونونه د ټپیانو د لوړ شمېر د منلو وړ نه وو ، چې له امله یې زیات شمېر په کابل کې د درملنې هڅه کوله ، کوم څه چې ټپیان یې له دوو تر دریو ساعتونو له ګواښ ډک مزل سره مخ کول. دغه جګړې همدارنګه ملکي زیربناوو ته د پام وړ زیانونه واړول. طالبانو د بازار زیاته برخه وسوځوله ، چې د زیات شمېر خلکو د معیشت له لاسه ورکولو لامل شوه ، او په عمدي ډول یې د رسنیو دوه دفترونه زیانمن کړل. د ټاکنو د خپلواک کمیسیون ولایتي دفتر هم وسوځول شو ، چې د ولسي جرګې د ټاکنو د نا مشخص خنډ لامل وګرځید ، چې وګړي په انتخاباتي پروسه کې د ګډون له حق څخه محرومو ي.

[٦٤] دغه پیښې اوس مهال د پریکند ملاتړ د ماموریت له خوا تر بیا کتنې لاندې دي.

**۲. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت**

*"د اختر دویمه ورځ وه ، او ډېر خلک طالبانو ته د هرکلي ویلو لپاره راغونډ شوي وو. ما شپږ طالبان وکتل چې سیمې ته راغلل او ځایي خلک د هغوي په غیر کې نیولو لپاره راغونډ شوي وو. دغه مهال له ۳۰۰ تر ۴۰۰ خلک د غازي امان الله خان په سټډیوم کې را ټول شوي وو. ما هغه کوله چې هغوي ته ځان ورسوم ، ښه راغلاست ورته ووایم او هرکلی یې وکړم. هغوي ته تر رسیدو مخکې مې د یوې سترې چاودنې غږ واورید او بې هوښه شوم. تر څو دقیقو وروسته پوه شوم چې سترګه ، پښه او د بدن نور غړي مې زخمي شوي. له ما وینه بهیده. زیات شمېر ټپي او مړي مې ولیدل. ما په ساحه کې زیات شمېر مړه جسدونه ولیدل. دا زما په ژوند کې یوه ډېره بده پېښه وه او زه به یې هیڅکله هېره نه کړم."* [٦٥]

-- د ۲۰۱۸ کال د جون پر ۱۶مه په ځان پورې د تړلو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د ځانمرګي بریدچي د کوچني اختر د لمانځنې پر یوه غونډه د دولت او طالبانو ترمنځ د درې ورځنۍ اوربند پر مهال د ننګرهار ولایت په روداتو ولسوالۍ کې ترسره شو (قرباني). په دغه برید کې د پنځو ماشوموهلکانو په ګډون ۳۰ نارینه ووژل شول او د ۱۹ ماشومو هلکانو په ګډون ۶۷ ملکیان ټپي شول. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د برید مسوولیت پر غاړه اخیستی.

داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې په ځانګړې ډول د هیواد په ختیځه برخه کې د خپلو بریدونو شمېر او شدت زیات کړی. د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ څخه د ډسمبر تر ۳۱ پورې ، د یوناما راپور داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته په ټول هیواد کې ۱۳۸ پېښې منسوبې کړې ، چې د ۲۱۸۱ ملکي تلفاتو (۶۸۱ مړه او ۱۵۰۰ ټپي) لامل شوی ، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۱۱۸ سلنه زیاتوالي په ګوته کوي.[٦٦] د دغو پېښو زیاته برخه -۱۰۲- د ننګرهار ولایت په مختلفو ولسوالیو کې رامنځ ته شوي ، چې د ۹۹۱ ملکي تلفاتو لامل شوي ، په داسې حال کې چې ۲۰ پېښې په کابل ولایت (ټولې په کابل ښار کې) کې رامنځ ته شوي ، چې د ۱۰۲۷ ملکي تلفاتو لامل شوي چې په دغه ګڼ میشته ښار کې د هر برید له خوا درامنځ ته شوي ملکي تلفاتو د ټولو څخه د لوړې کچې ملکي زیان منعکسوي.[٦٧] په ۲۰۱۸ کال کې د داعش/اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې بریدونه د ټولو ملکي تلفاتو ۲۰ سلنه جوړوي ، چې دغې ډلې ته په ۲۰۱۷ کال کې د منسوب شویو تلفاتو د شمېر له دوه برابرو څخه زیات ګڼل کیږي.

داعش/اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته په منسوب شویو تلفاتو کې د پام وړ زیاتوالی خاصتًا په ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو کې د زیاتوالي له امله دی چې نږدې ټول یې د ملکي وګړو په ضد یا په ملکي میشتو سیمو کې ترسره شوي. ځانمرګي او ډله ییز بریدونه په ۲۰۱۸ کال کې د داعش/اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته د ټولو منسوب شویو تلفاتو ۸۷ سلنه جوړوي. یوناما همدارنګه د داعش/اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا د فرقه ییزو انګیزه لرونکو دوامدارو بریدونو په اړه سخته اندیښمنه ده.[٦٨] سربېره پر دې ، لکه څرنګه چې پورته تشریح شول د دغې ډلې له خوا د ښوونځیو په ځانګړې ډول د نجونو دښوونځیو په نښه کولو عمدي کمپاین پر پوهنې سخت اغیز کړی.[٦٩]

---

[٦٥] له قرباني سره د یوناما تلیفوني مرکه ، ننګرهار ولایت ، ۲۰ جون ۲۰۱۸.

[٦٦] یوناما په ۲۰۱۸ کال کې هغو وسله والو ته چې ځانونه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت معرفي کوي ۱۹ نور ملکي تلفات (۱۱ مړه او اته ټپیان) منسوب کړي ، په ځانګړې په جوزجان ولایت کې. یوناما ملکي مرګ ژوبله هغه وخت هغو وسله والو ته چې "ځانونه داعش/د اسلامی دولت خراسان ولایت جنګیالي معرفي کوي" ، چېرې چې دولتضد عناصرو ځانونه داعش معرفي کړي یا یې د دې ادعا کړې وي ، خو کوم واقعي حقایق شتون و نه لري چې له مخې یې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې سره رسمي اړیکې ثابتې کړي. دغو ډلو په ۲۰۱۷ کې په جوزجان ، سر پل ، او غور ولایتونو کې تلفات اړولي. په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما هغو وسله والو ته چې ځانونه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډله معرفي کوي منسوب شوي ټول ملکي تلفات په جوزجان ولایت کې ثبت کړي (د یوې مړینې پرته چې سرپل ولایت کې ثبت شوې)، د دغې ډلې ترمنځ د پیاوړو اړیکو په ملاحظه کولو سره ښایي دا پایله ترلاسه شي ، چې دغه ډله د اسلامي دولت د پراخ سازمان یوه برخه ګرځیدلې. خو بیا هم ، د ۲۰۱۸ کال په جولای کې د طالبانو او دغې ډلې ترمنځ جګړه د دغې ډلې د نسبي منحل کیدو او د افغان دولت له خوا یې د زیاترو جنګیالو د نیول کیدو لامل شوه. د اګست تر لومړۍ نېټې وروسته ، یوناما هغو وسله والو ته چې ځانونه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډله معرفي کوي منسوب شوي درې ملکي تلفات ثبت کړي ، چې ټول یې د پاتې شوي فشاري ماین له امله رامنځ ته شوي.

[٦٧] په اوسط ډول ، یوناما یوازې په کابل ښار کې د هرې پیښې پر سر د ۵۰ ملکي تلفاتو په مقابل کې د ننګرهار ولایت د ټولو پیښو د هر پیښې پر سر ۱۰ ملکي تلفات مستند کړي. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوې پاتې پیښې په نورو ولایتونو کې رامنځ ته شوي.

[٦٨] د اعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې له خوا فرقه ییز بریدونه چې شیعه مذهبه لرکي په نښه کوي ، په اړه د ۳. ب. ۲ برخه ګورئ.

[٦٩] پر پوهنې د وسله واله جګړې اغیز په اړه پورته ۲ ج. برخه وګورئ.

## ب. هغه تاکتیکونه او د پېښو نوعیت چې ملکي وګړو ته د تر ټولو زیات زیان لامل شوي

### ۱. تعبیه شوي چاودیدونکي توکي (ځانمرګي او غیر انتحاري)

*"زه څوارلس کلن او د نهم ټولګي زده کوونکي یم. تر ښوونځي وروسته به په منظم ډول د میوند جیم ته تلم. د سپټمبر پر ۵ ، ماښام شاو خوا ۶:۰۰ بجې ، چې له خپلو ملګرو سره مې په جیم کې تمرین کاوه ، د کوچنیو وسلو تر دوه درې ډزو وروسته مې د یوې ډارونکې چاودنې غږ واورید. په جیم کې مې هر ځای دوړې او تور لوګي ولید. کله مې چې د وتلو دروازې په لور د منډې هڅه وکړه راپرېوتم. یوه شوم چې په پښه او ملا ټپي شوی یم ؛ له ما وینه بهیده. ځینې پرچې زما پر پښه او ملا لګیدلې او سخت ټپونه یې رامنځ ته کړي. ما د پورته کیدو هڅه وکړه ، خو بیا راپرېوتم. بالاخره ومې کولای شوای چې پر یوه پښه ودریږم. بیا پر یوې پښې په ټوپو ټوپو له جیم څخه د باندې ووتم.یو څوک ددې تصور نه شي کولی کله چې زه پر ځمکه د پرتو مړو جسدونو او د بدن غړو څخه تیریدم او زه د یوې پښې له سخت درد څخه کریدم څه احساس مې درلود. زه په روغتون کې د یوې اونۍ لپاره بستر شوم. وروسته یوه شوم چې په دغه ځانمرګي برید کې زما یو شمېر ملګري چې زموږ په ګروپ کې د غیرنیوني اتلان وو ، وژل شوي. بریدګر هڅوي په څو شیبو کې له منځه یوړل شول. زه د دغه برید له عاملینو دا پوښتنه کوم ، چې "ما او زما ملګرو څه جرم کړی و ، چې موږ مو هدف وګرځولو؟"موږ یوازې تمرین کوونکي او د سپورټ مینان وو. اوس له زده کړې بې برخې شوم. زه نه شم کولای چې زما د پښې د سختو ټپونو له امله ښوونځي ته لاړ شم."* [70]

-- د ښوونځي یو ۱۴ کلن زده کوونکی کوم چې د ۲۰۱۸ کال د سپټمبر پر ۵ د کابل ښار په قلعه ناظر سیمه کې د میوند سپورټس کلب په ورانده په ځانمرګي برید او موټر بم چاودنه کې ټپي شوی. دغه برید ۳۰ ملکي وګړي ووژل او ۱۰۶ نور یې ټپي کړل.

په دواړو انتحاري او غیر انتحاري بریدونو کې د دولت ضد عناصرو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کارونه خورا لوړ کچو ته رسیدلې او په ۲۰۱۸ کال کې د ملکي تلفاتو مخکښ لامل پاتې شوی ، چې د ټولو تلفاتو ۴۲ سلنه جوړوي. په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما ۴۶۲۷ ملکي تلفات (۱۳۶۱ مړه او ۳۲۶۶ ټپیان) مستند کړي چې د انتحاري او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله په ګډه رامنځ ته شوي.[71]

په ځانمرګو او دله ییزو بریدونو کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کارَونه زیاتره د دې لپاره طرحه شوي چې په عمدي ډول د ملکي وګړو ګڼې ګونې په نښه کړي څو پر هغوي زیانونکې اغیزه زیاته کړي چې ویره رامنځ ته کوي او د ټولنې د زیاتې ګډوډۍ او مهمو زیربناوو ته د زیان لامل کیږي. دولت ضد عناصرو همدارنګه د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو غیر انتحاري تاکتیکونه کارولي ، لکه د سړکونو پر غاړو د فشاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ځای په ځای کول چې ملکیان له زیات خطر سره مخ کوي مګر د دغه ډول وسیلو د استعمال اغیزې د نظامي اهدافو په خاطر نشي توجیه کیدای.

که څه هم د بشرپالنې نړیوال قانون د جګړې د ښکېلو خواوو له خوا د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کارونه نه منع کوي ، خو د دغو توکو کارَونه زیاتره د توپیر ، تناسب او په برید کې د احتیاطي تدابیرو له اصولو سرغړونه کوي ، په ځانګړې ډول ځانمرګي او دله ییز بریدونه او د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو فشاري ماینونه. د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو بې توپیره او بې تناسبه بریدونه د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونه ده او ښایي جنګي جرمونه تشکیل کړي. یوناما یو ځل بیا پر دولت ضد عناصرو غږ کوي ، چې په هغو سیمو کې چې په مکرر ډول د ملکیانو له خوا کارول کیږي د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو بې توپیره او بې تناسبه کارونه پای ته ورسوي ، زر تر زره د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو کارونه او د ملکي وګړو او ملکي شیانو عمدي په نښه کول ودروي.[72]

[70] له شاهد سره د یوناما تلیفوني مرکه ، کابل ښار ، ۶ سپتمبر ۲۰۱۸.
[71] د دې موضوع په اړه د یوناما ځانګړی راپور وګورئ ، دلته د لاس رسي وړ دی:-https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports
[72] هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي او ملکي شیان په نښه کوي په اړه ۳. ب.۲ برخه وګورئ

## ځانمرګي او ډله ییز بریدونه

د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې ، دولت ضد عناصرو خپله اتکا پر ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو زیاته کړې او خپل د پام وړ اهداف يې د ملکي وګړو په لور لا پسې نږدې کړي ، چې د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه مستقیمه سرغړونه ګڼل کیږي.

تر هغه جریان وروسته چې په لومړي ځل په ۲۰۱۷ کال کې په نښه شوی ، ځانمرګي او ډله ییز بریدونه دولت ضد عناصرو ته د منسوب شویو تلفاتو مخکښ لامل او تر ځمکنیو نښتو وروسته د هر واحد تاکتیک یا د پیښې د نوعیت دویم مخکښ لامل پاتې شوي. ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په ۲۰۱۸ کال کې ۲۸۰۹ ملکي تلفات (۸۸۶ مړه او ۱۹۲۳ ټپیان) اړولي ، چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۲۲ سلنه زیاتوالي په ډاګه کوي. له هغه وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې دملکي تلفاتومستندکول په سیستماتیک ډول پیل کړي دغه شمیره په یوه کال کې د دغه ډول بریدونو له امله د ملکي تلفاتو ترټولو لوړه شمیره دی ، او د ۲۰۱۴ کال د شمېرې نږدې دوه برابره ده په کوم کال کې چې د ملکي تلفاتو عمومي کچه تر ټولو لوړه وه.[۷۳]

**د ځانمرګي ځای په ځای شویو توکو او مرتکبینو په اساس ملکي تلفات**
جنوري - دسمبر ۲۰۱۷




د دولت ضد عناصرو په ۲۰۱۸ کال کې په افغانستان کې ۶۵ ځانمرګي او ډله ییز بریدونه ترسره کړي. له دغو بریدونو ، یوناما ۲۱ طالبانو ته منسوب کړي ، چې ۶۴۲ ملکي تلفات (۲۱۶ مړه او ۴۲۶ ټپیان) يې اړولي. له دغو بریدونو طالبانو د ۱۵ بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستی په کومو کې چې یوناما ۵۴۲ ملکي تلفات (۱۸۹ مړه او ۳۵۳ ټپي) تایید کړي. یوناما ۳۶ ځانمرګي او ډله ییز بریدونه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته منسوب کړي کوم چې د ۱۸۹۲ ملکي تلفاتو (۵۵۷ مړه او ۱۳۳۵ ټپیان) لامل شوي.[۷۴] نوموړې ډلې له دغو بریدونو د ۳۳ بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستی چې ۱۶۳۱ ملکي تلفات (۴۸۱ مړه او ۱۱۵۰ ټپیان) يې رامنځ ته کړي. په ۲۰۱۷ کال کې د دریو دغه ډول بریدونو په پرتله په ۲۰۱۸ کې له یادو بریدونو اووه هغه بریدونه وو چې مسوولیت يې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې منلی چې په هر یو برید کې یې نږدې ۱۰۰ ملکي تلفات اړولي.

**د ځانمرګي ځای په ځای شویو توکو او مرتکبینو په اساس ملکي تلفات**
جنوري - دسمبر ۲۰۱۸




*د جنوري په ۲۷ د کورنیو چارو وزارت د اداري تعمیر د باندې کابل ښار کې ځانمرګي برید د ۳۴۳ ملکي تلفات واړول (۱۱۴ مړه او ۲۲۹ ټپیان) شول چې د ۶۴۲ ملکي تلفاتو چې دې چارټ کې ښودل شوي او د نیمایی نه زیات جوړوي ، طالبانو ته منسوب شوي چې د ځانمرګي بمونو له امله اوښتي

[۷۳] په ۲۰۱۴ کال کې ، یوناما د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو له امله ۱۵۸۲ ملکي تلفات (۳۷۱ مړه او ۱۲۱۱ ټپیان) مستند کړي.
[۷۴] یوناما پاته اته ځانمرګي او ډله ییز بریدونه نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي ، چې د ۲۷۵ ملکي تلفاتو (۱۱۳ مړه او ۱۶۲ ټپیان) لامل شوي.

یوناما په ځانمرګو او دله ییزو بریدونو کی د کابل ښار اوسیدونکو ته د بې تناسبه او خورا زیات زیان اړولو دمستند کولو جریان ساتلی . په ۲۰۱۸ کال کې په ټول هیواد کې له ۶۵ ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو څخه ۲۸ یی هغه وو چې په کابل ښار کې ترسره شوي چې د ۱۶۸۶ ملکي تلفاتو (۵۵۴ مړه او ۱۱۳۴ ټپیان) لامل شوي چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله د ملکي تلفاتو په شمېر کې پنځه سلنه زیاتوالي څرګندوي. په کابل کې ترسره شویو بریدونو د دولت د ملکي ادارو ، عبادت ځایونو ، ښوونیزو مرکزونو ، د ټاکنو اړوند مرکزونو او نورو اسانو هدفونو په ګډون عموماً ملکي وګړي په نښه کړي. د بیلګې په ډول ، د نومبر د ۲۰مې پر ماښام ، یوه ځانمرګي بریدګر په کابل کې د ودونو په یوه تالار کې په ځان پورې تړلي چاودیدونکي توکي د نږدې ۲۰۰۰ دیني علماؤو ، دمدرسې شاګردانو او نورو ترمنځ وچول چې د ۱۷ ماشومانو په ګډون ۱۴۷ ملکي تلفات (۱۶ مړه او ۸۶ ټپیان) یې رامنځ ته کړل. د تالار شاو خوا کوم امنیت شتون نه درلود ، ځکه چې د غونډې تنظیموونکي په دې اړه افغان ملي امنیتي ځواکونو ته خبر نه و ورکړی. طالبانو پر "جهاد غږ" انټرنیټ پاڼه د دوی د ویاند له لارې د یوې اعلامیې په خپرولو سره دغه برید وغنده او په ډاګه یې کړه کوم څه چې پر ټولنیزو رسنیو کی د طالبانو له خوا د مسوولیت منلو په څېر خپاره شوي ، جعلي دي.[۷۵]

د اپریل پر ۳۰مه یوه ځانمرګي برید چې په کابل ښار کې یې د ملي امنیت ریاست له تروریزم سره د مبارزې ریاست په نښه کړ ۶۳ ملکي تلفات واړول. یوه ځانمرګي چې د ودانۍ مخې ته یې د امنیتي پوستې په وړاندې ځان والوځاوه په لسګونو شاو خوا تیریدونکي افراد اغیزمن کړل ، دویم ځانمرګي په ځان پورې چاودیدونکي توکي هغه مهال وچول کله چې لومړی ملکي مرسته رسوونکي او ژورنالستان د پیښې صحنې ته ورسیدل چې د ۲۱ ملکي وګړو د مړینې (د نهو ژورنالستانو ، دوو ښځو او یوه ماشوم په ګډون) او ۴۲ ټپیانو (د شپږو ژورنالستانو ، څلور ښځو او دریو هلکانو په ګډون) لامل شول. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د پیښې مسوولیت پر غاړه واخیست.

د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې دزیاتو فعالیتونو له امله په ننګرهار ولایت کې د ځانمرګو او دله ییزو بریدونو شمېر او دغه راز ملکي وګړو ته د هغوی زیان په خورا زیات ډول زیات شوی.




پ ه ۲۰۱۸ کال کی یوناما په ننګرهار کې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته منسوب شوي ۱۷ ځانمرګي او دله ییز بریدونه مستند کړي چې د ۷۳۸ ملکي تلفاتو (۲۲۲ مړه او ۵۱۶ ټپیان) لامل شوي. یوناما همدارنګه په هلمند ولایت کې د طالبانو پنځه ځانمرګي بریدونه ، کوم چې د ۱۲۱ ملکي تلفاتو (۲۸ مړه او ۹۳ ټپیان) لامل شوي او د پکتیا په ګردیز ښارکې د اګست پر ۳مه تر ټولو ناوړه برید مستند کړی. پر دغې ورځ په چادري کې دوو بریدګرو په ځان پورې تړلي واسکټونه د شیعه

---

[۷۵] د طالبانو له خوا د برید نه منل او غندنه پر دغې انټرنیټ پته د لاس رسی وړ دي: http://alemarah-dari.com/?p=99017 ، په وروسته ځل د ۲۰۱۹ کال د جنوري پر ۲۳ لیدل شوی.

مسلمانانو په جومات کې د جمعې لمانځه پرمهال وچول. یوناما د ۳۳ ملکي وګړو وژنه (۲۳ لویان نارینه او ۱۰ هلکان) او د ۹۴ نورو ژوبله (۹۰ لویان نارینه او څلور هلکان) مستند کړې. د اګست پر ۵مه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د برید مسوولیت پر غاړه واخیست په کوم کې چې دغې ډلې یې په لومړي ځل په پکتیا ولایت کې د فعالیتونو ادعا وکړه.

**د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو غیر انتحاري بریدونه**

*"زه په روغتون کې وم ، او غرمه وه. ناڅاپه مې د یوې لوړې چاودنې غږ واورید. د باندې را ووتم او د پېښې موقعیت په لور لاړم. د چاودنې صحنه خورا زړه بوګنوکې وه چې زه یې نه شم تشریح کولی. ما دوه ښځې او یو ماشوم ولیدل چې پر ځمکه پراته وو- د یوې ښځې جسد ټوټه ټوټه شوی و او بله سخته ټپي وه- یو کوچنی هلک چې د یوې ښځې له خوا نیول شوی و هم ټپي و او پر ځمکه پروت و. له کوم ځه چې خلکو ویل پوه شوم ، چې قربانیان پر تعبیه شویو چاودیدونکو توکو هغه مهال ور برابر شول کله چې زموږ روغتون ته د خپلو هغو خپلوانو لیدو ته پر لاره وو چې تیره ورځ د طالبانو په برید کې ټپي شوي وو. ټپي شوې ښځه او ماشوم په وخیم حالت کې وو او زر تر زره روغتون ته ولیږدول شول."* [۷۶]

-- د اکتوبر پر ۱۶ په دایکندي ولایت کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د برید شاهد. دغه برید یوه ښځه ووژله او یوه بله یې له ماشوم سره یو ځای ټپي کړه.

یوناما په ۲۰۱۸ کال کې ، د تعبیه شویو چاودیدونکو له امله په رامنځ ته شویو تلفاتو کې د دوه سلنې کموالي مستند کړې. د جنوري له لومړۍ د ډسمبر تر ۳۱ پورې ، یوناما د تعبیه شویو غیر انتحاري چاودیدونکو توکو داستعمال څخه ۱۸۱۸ ملکي تلفات (۴۷۵ مړه او ۱۳۴۳ ټپیانان) مستند کړي ، چې د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله په تیرو څو کلونو د کمښت مشاهده شوی جریان یې جاري ساتلی. غیر انتحاري تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د ټولو ملکي تلفاتو ۱۷ سلنه جوړوي ، چې تر ځمکنیو نښتو او ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو وروسته په ۲۰۱۸ کال کې د هر واحد تاکتیک یا پیښې د نوعیت دریم مخکښ لامل دی. یوناما د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ۷۲ سلنه طالبانو ، ۱۰ سلنه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې او ۱۸ سلنه نا معلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي.

د قرباني په وسیله فعالیدونکو تعبیه شویو چاودیدونکو توکو فشاري ماینونو له امله په ۲۰۱۸ کال کې ملکي تلفات ۲۶ سلنه راټیټ شوي چې د ۷۵۳ ملکي تلفاتو (۲۶۹ مړه او ۴۸۴ ټپیان) لامل شوي. یوناما همدارنګه د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو / ریموټ کنټرول بمونو له امله په ملکي تلفاتو کې اته سلنه کمښت مستند کړی په کوم کې چې ۵۰۵ ملکي تلفات (۹۶ مړه او ۴۰۹ ټپیان) اړول شوي ، او د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په مقناطسي بمونو کې ۹۱ سلنه زیاتوالي ثبت کړی چې د ۲۶۲ ملکي تلفاتو (۳۴ مړه او ۲۲۸ ټپیان) لامل شوی.[۷۷] یوناما په جنوبي سیمو کې د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له فشاري ماینونو څخه ملکي وګړو ته د بې تناسبه زیان مستند کول جاري ساتلي چیرې چې د دولت ضد عناصرو د دغه ډول وسیلو کارَونه د کنټرول لاندې سیمو د ولکې لاندې ساتلو لپاره د یوې وسیلې په څېر کاروي. د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د فشاري ماینونو له امله نیمایي ملکي تلفات د هیواد په جنوبي ولایتونو هلمند ، کندهار ، اروزګان او زابل کې ثبت شوي. یوناما همدارنګه د دغو وسیلو له امله د هیواد په شمال کې په ملکي تلفاتو کې زیاتوالی مستند کړی. د مثال په ډول ، د اګست پر ۸مه د بلخ ولایت په شولګره ولسوالۍ کې د طالبانو له خوا د افغان ملي امنیتي ځواکونو په نښه کولو لپاره د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو فشاري ماین د ملکي وګړو پر موټر وچاودید چې د څلورو ماشومانو په ګډون اته ملکیان یې ووژل او د څلورو ماشومانو په ګډون شپږ نور یې ټپي کړل.

طالبانو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د ۲۱ غیر انتحاري بریدونو مسوولیت پر غاړه اخیستی له کومو څخه چې یوناما ۸۸ ملکي تلفات (۱۶ مړه او ۷۲ ټپیان) تایید کړي. له دغو یې اته پیښې چې ۳۳ ملکي تلفات (پنځه مړه او ۲۸ ټپیان) تشکیلوي د ټاکنو اړوند وو. د بیلګې په توګه ، د اکتوبر پر ۲۰مه د رایه اچوونې پر لومړۍ ورځ طالبانو د لغمان ولایت په مهترلام ښار کې

[۷۶] UNAMA telephone interview with witness, Daikundi province, 16 October 2018.

[۷۷] په ۲۰۱۸ کال د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو نورو/نامعلومو ډولونو پاتې ۲۹۸ ملکي تلفات (۷۶ مړه او ۲۲۲ ټپي) اړولي. سربیره پر دې ، یوناما په جلا ډول د دولت ضد عناصرو له خوا په هدفي وژنو کې چې هدف یې مشخص افراد وو لکه ملکي وګړي او افغان ملي امنیتي ځواکونه ، د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له کاروني څخه ۹۱ ملکي تلفات (۳۲ مړه او ۵۹ ټپي) ثبت کړي. د هغو بریدونو په اړه چې په عمدي ډول یې ملکی وګړي او ملکي شیان په نښه کړي په اړه ۳. ب. ۲ برخه وګورئ.

په یوه ښوونځي کې چې د انتخاباتي مرکز په څېر کارېده دوه تعبیه شویو چاودیدونکو توکو ځای پر ځای کړي وو چې دغه تعبیه شوي چاودیدونکي توکي یو په بل پسې وچاودېدل چې د یوه ښوونکي او دوو ماشومانو په ګډون یې ۱۴ ملکي وګړي ټپي کړل. هغه خونه چیرې چې یو ریموټي ماین چاودیدلی وه د خونې دروازه زیانمنه او دښوونځي ټولې کړکۍ ټوټه ټوټه شوې. د دغې پېښې په پایله کې تر بریدوروسته سره له دې چې افغان ملي امنیتي ځواکونو سیمه پاکه کړه د راپورونو له مخې ډېر کم شمېر رایه اچوونکي دغه انتخاباتي مرکز ته د رایه اچونې لپاره لاړل. طالبانو پر ټویټر د دغې پیښې مسوولیت پر غاړه واخیست[۷۸].

### ۲. هغه بریدونه چې په قصدي ډول ملکي وګړي او ملکي شیان په نښه کوي

*"د اکتوبر پر ۲۶مه د جمعې پر ورځ د ماذدیګر شاو خوا ۴:۰۰ بجې وې زه په بازار کې وم کله مې چې د یو شمېر ډزو غږ واورید. په تلوسه کې شوم چې څه پېښ شول. ما بیرته د خپل کور په لور لار ته وکتل ومې لیدل چې خلک د راغونډېدو په حال کې دي. خلکو ته ورغلم و مې لید چې قرباني چې د ولسوالۍ د احصایې مدیر و په وینو کې لت پت پر ځمکه مړ پروت دی. خلکو ویلي چې پر موټر سایکل سپرو وسله والو طالبانو هغه په ډزو وویشت او له سیمې وتښتیدل. قرباني د دولت ملکي کارمند و او له هیچا سره یې مخکینۍ دښمني نه درلوده. دا د طالبانو لپاره کافي دلیل و. دوی له دولت سره هر تړلي شخص په نښه کوي."*[۷۹]

-- د غور ولایت په شهرک ولسوالۍ کې د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۲۶مه د هدفي وژنې د یوې پېښې شاهد په کوم کې چې یو ملکي وګړی د طالبانو له خوا ووژل شو.

د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي وګړو او ملکیانو دملکیتونو د نښه کولو زیاتیدونکې نمونې په نښه کړې ، کومه چې د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه مستقیمه سرغړونه ګڼل کیږي.[۸۰] یوناما یو ځل بیا د دې یادونه کوي ، چې هغه بریدونه چې په عمدي ډول ملکي وګړي او ملکیتونه یې په نښه کوي — د حکومت د ملکي ادارو ، ژورنالستانو ، د پوهنې کارمندانو او ادارو ، د روغتیایي کارمندانو او روغتونونو ، دیني مشرانو او مذهبي لړکیو په ګډون- د بشرپالنې له نړیوال قانون څخه جدي سرغړونې شمېرل کیږي او ښایي چې جنګي جرمونه تشکیل کړي.[۸۱] سر بیره پر دې ، کله چې دغه بریدونه د مشخصو ملکي وګړو لکه مسلمان شیعه مذهبه لړکیو په ضد د پراخو یا سیستماتیکو بریدونو د یوې برخې په څېر ترسره شي ، دغه ډول بریدونه هم ښایي د بشریت په ضد جرمونه وګڼل شي.[۸۲]

[۷۸] د ټاکنو ورځو په اړه د طالبانو له خوا ټول ټویټونه د یوناما د بشري خدمتونو له څانګې سره په دوسیه کې موجود دي. د دغه برید په تړاو ټویټ ، د طالبانو له رسمي حساب Zabihulla4@ څخه داسې په ډاګه کوي: "د لغمان په مهترلام ښار کې انتخاباتی مرکز تړل شوي ، ټول کارمندان تښتیدلی ، شرم وکړئ پروسه مو ناکام شوه. الخندق :نن سهار د لغمان ولایت مرکز مهترلام علی خیلو سیمه کې په مزدورو عسکرو حمله شوی .دښمن ته درانه تلفات اوښتي."

[۷۹] له شاهد سره د یوناما ټلیفوني مرکه ، غور ولایت ، ۳۱ اکتوبر ۲۰۱۸.

[۸۰] لومړۍ ضمیمه: حقوقي چوکاټ وګورئ.

[۸۱] درېیمه مشترکه ماده ؛ د الحاقي دویم پروتوکول ۴ (۲)، ۱۳ (۲) مادې ؛ د روم اساسنامه ، ۸ (۲) (سی) او ۸ (۲)(ای)(آی) مادې ؛ د اې سي آر سي د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون څېړنه ، ۱ ، ۶ ، ۸۹ ، ۱۵۶ قاعدې.

[۸۲] د مثال په ډول ، د بشریت په ضد په جرمونو کې لکه څنګه چې د روم اساسنامې په ۷ ماده کې تعریف شوي ، د پېژندنې وړ یوې ډلې په وړاندې د نورو شیانو تر څنګ د وژنې ، نابودۍ ؛ یا د عدلي تعقیب یا په ګډه /مجموعا د سیاسي ، نژادي ، قومي ، کلتوري ، مذهبي ، جنسیتي یا نورو ملحوظاتو پر بنسټ کړنې ،او د ورته خاصیت نورې غیر انساني کړنې شاملې دي ، چې په عمدي ډول د بدن یا فیزیکي روغتیا د زیات کړاو ، یا سختې ژوبلې باعث شي ، په داسې حال کې چې د پراخې کچې د یوې برخې په څېر یا په سیستماتیک برید کې هر ولسي وګړي په نښه شوی وي ، د برید په اړه د پوهې سره سره.

د ۲۰۱۷ کال په پرتله په ۲۰۱۸ کال کې د ملکي وګړو له عمدي هدف ګرځونې څخه ملکي تلفات ۴۸ سلنه زيات شوي چې د ۴۱۲۵ ملکي تلفاتو (۱۴۰۴ مړه او ۲۷۲۱ ټپيان) لامل شوي.[۸۳] له دغو پیښو طالبانو ته منسوب شوي ملکي تلفات نږدې دوه برابره او هغه چې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې ته منسوب شوي تر دوو برابرو هم ډېر زيات شوي.[۸۴]

يوناما د دولت د ملکي ادارو،[۸۵] مرستندويه کارمندانو او د نا دولتي ادارو کارکوونکو[۸۶] هدف ګرځولو څخه په رامنځ ته شويو ملکي تلفاتو کې زياتوالی او د ټاکنو په موده کې د پوهنې اړوند کارمندانو او موقعيتونو په وړاندې د بريدونو له امله په ملکي تلفاتو کې لوړوالی مستند کړي. همدارنګه[۸۷] په ۲۰۱۸ کال کې د پارلماني ټاکنو د ترسره کيدو پر مهال يوناما د ټاکنو اړوند کارمندانو، نوماندانو، رايه اچوونکو په وړاندې د بريدونو نا ارامونکی شمېر، او دغه راز د رايه اچوونکو د ثبت او انتخاباتي مرکزونو په وړاندې چې په ښوونځيو کې يې موقعيت درلود، بريدونه مستند کړي.[۸۸] دغو بريدونو څخه ځانګړې اندېښنې را ولاړې کړې چې د ماشومانو د پوهنې پر حق يې سمدستي او اوږد مهاله منفي اغيزه کړې.[۸۹]

د ملکي وګړو په ضد د بريدونو له امله زياتره ملکي تلفات -۵۸ سلنه (۲۴۰۷)- د ځانمرګو او ډله ييزو بريدونو له امله رامنځ ته شوي.[۹۰] د مثال په ډول د ۲۰۱۸ کال د جنوري پر ۲۷مه په کابل ښار کې د کورنيو چارو وزارت اداري ودانۍ مخې ته يوه ځانمرګي بريدګر په يوه رنګ شوي مسافر وړونکی وين ډوله موټر کې څو د امبولانس[۹۱] په څېر معلوم شي تعبيه شوي چاوديدونکي توکي وچول، چې د يوې ښځې په ګډون يې ۱۱۴ ملکي وګړي ووژل او د ۱۱ ښځو او ۱۰ ماشومانو په ګډون ۲۲۹ نور يې ټپي کړل.[۹۲] دغه ودانۍ پر هغه سړک پرته ده، چيرې چې يو زيرنتون، د سولې عالي شورا، ګڼ شمېر سفارتونه او شخصي هستوګنځايونه موقعيت لري. دغې زورورې چاودنې په سيمه کې ودانيو ته سخت زيان واړوه. د زيرنتون ودانۍ سخته زيانمنه شوې او په داخل کې ناروغان ټپي شوي. طالبانو د دغه بريد مسووليت پر غاړه واخيست.[۹۳] دا د يوناما له خوا ثبت شوی تر ټولو يوازيني هغه مرګوني بريد و، له کوم وخت راهيسې چې نوموړې ادارې په ۲۰۰۹ کال کې په سيستماتيک ډول د ملکي تلفاتو مستند کول پيل کړي.

[۸۳] په دغو شمېرو کې هغه بريدونه نه دي شامل چې د دولت ضد عناصرو له خوا افغان ملي پوليس په نښه شوي، کوم چې د ۶۶۹ نورو ملکي تلفاتو (۱۹۵ مړه او ۴۷۴ ټپي) لامل شوي، ځکه په نښه شوي پوليس ښايي د ملکي موقف پر بنسټ له خونديتوب څخه نه وي برخمن، چې د بريد پرمهال د هغوي په فعاليتونو پورې اړه لري، کوم چې کيدای شي هغه په جګړه کې په مستقيمه برخه اخيستنه کې راښکېل کړي (په هغو قضيو کې چې ملکي تلفات شمېرل شوي يوازې هغه اغيزمن شوي خلک رانغاړي چې په شخړو کې يې مستقيمه برخه نه ده اخيستې). يوناما دغه راز هغه بريدونه هم په دې شمېرو کې نه دي شامل کړي چې د دولت ضد عناصرو له خوا د نامعلومو اهدافو په وړاندې ترسره شوي، کوم چې د ۱۶۲ ملکي تلفاتو (۴۲ مړينې او ۱۲۰ ټپيان) لامل شوي.

[۸۴] په ۲۰۱۷ کال کې د ۹۱۶ تلفاتو (۵۳۵ مړه او ۳۸۱ ټپي) په پرتله، يوناما په ۲۰۱۸ کال کې د طالبانو د ټولو بريدونو څخه چې ملکي وګړي يې په نښه کړي ۱۷۵۱ ملکي تلفات (۶۶۷ مړه او ۱۰۸۴ ټپي) مستند کړي. په ۲۰۱۷ کال کې د ۸۴۳ تلفاتو (۳۳۳ مړه او ۵۱۰ ټپي) په پرتله، نوموړې ادارې په ۲۰۱۸ کال کې د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې له ټولو بريدونو څخه چې ملکي وګړي يې په نښه کړي ۱۸۷۱ ملکي تلفات (۵۶۶ مړه او ۱۳۰۵ ټپي) مستند کړي.

[۸۵] يوناما په ۲۰۱۷ کې د ۳۰۹ تلفاتو (۱۱۱ مړه او ۱۹۸ ټپي) په پرتله، په ۲۰۱۸ کال کې د هغو بريدونو له امله چې د دولت ملکي ادارې يې په نښه کړي ۹۱۰ ملکي تلفات (۲۹۸ مړه او ۶۱۲ ټپي) مستند کړي.

[۸۶] يوناما په ۲۰۱۷ کې د ۱۱ ملکي تلفاتو (اته مړه او درې ټپي) په پرتله، په ۲۰۱۸ کال کې د هغو بريدونو له امله چې د نا دولتي ادارو کارمندان يې په نښه کړي ۳۸ ملکي تلفات (۱۰ مړه او ۲۸ ټپي) مستند کړي.

[۸۷] يوناما په ۲۰۱۷ کې د ۱۴ تلفاتو (اته مړه او شپږ ټپي) په پرتله، په ۲۰۱۸ کال کې د هغو بريدونو له امله چې پوهنه يې په نښه کړي ۱۸۹ ملکي تلفات (۷۱ مړه او ۱۱۸ ټپي) مستند کړي.

[۸۸] يوناما په ۲۰۱۷ کال کې د ټاکنو اړوند هدف ګرځونې څخه هيڅ ملکي تلفات نه دي ثبت کړي، څرنګه چې د ۲۰۱۴ کال راهيسې هيڅ ټاکنې نه دي ترسره شوې. مهرباني وکړئ د لا زياتو معلوماتو لپاره د ولسي جرګې د ټاکنو په اړه برخه وګورئ.

[۸۹] د ماشومانو وسله والې جګړې په اړه پورته ۲. ب برخه وګورئ.

[۹۰] د لا زياتو معلوماتو لپاره ديوناما ځانګړی راپور: د تعبيه شويو چاوديدونکو توکو د عمدي او بې توپيره کارونې له امله زياتيدونکی زيان، وګورئ چې د ۲۰۱۸ په اکتوبر کې خپور شوي او دغې انټرنيټ پاڼه د لاس رسي وړ دی: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

[۹۱] يوناما د دې يادونه کوي، چې په ۲۰۱۱ کال کې طالبانو په يوه بريد کې د امبولانس کارولو مسووليت منلی، چې هغه مهال له سخت غبرګون او غندنې سره مخ شو، طالبانو د پيښې د خيرلو او ددې يقيني کولو ژمنه وکړه، چې دغه کار به بيا نه ترسره کيږي. دغه انټرنيټ پاڼه وګورئ:
http://www.irinnews.org/news/2011/04/12/taliban-rue-ambulance-attack

[۹۲] د بشرپالنې نړيوال قانون او نړيوال جنايي قانون هغه بريدونه منع کوي په کومو کې چې عاملين د ملکي وګړو يا نورو خوندي شويو موقفونو په اړه انګيرنه کوي، څه هغه ترسره سره کړي: د آی سير آر سي د بشرپالنې د عرفي نړيوال قانون څېړنه، ۶۵ قاعده. د روم اساسنامه، ۸ (۲)(ب)(VII) او (XI) او ۸ (۲)(ای)(IX) مادې د خيانت کولو مختلف ډولونه جرم ګڼي.

[۹۳] د طالبانو له خوا د بريد د مسووليت منل، د هغوي پر انګليسي، دري او پښتو انټرنيټ پاڼو او همدارنګه ټويټر باندې موجود دی. د مثال په ډول دغه انټرنيټ پاڼه وګورئ: http://alemarahenglish.com/?p=25043 ، د وروستي ځل لپاره د ۲۰۱۹ کال د جنوري پر ۲۷ نېټه کتل شوي.

د ځانمرګو بریدونو او د غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو کاروني سربیره چې په عمدي ډول یې ملکي وګړي او ملکي شیان هدف ګرځولي ، دولت ضد عناصرو همدارنګه په ځانګړي ډول په ډزو سره د ملکي وګړو هدفي وژنې ترسره کړې.[۹۴] په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما دغه ډول ۲۹۵ پیښې مستندې کړې چې د ۵۸۹ ملکي تلفاتو (۳۹۵ مړه او ۱۹۴ ټپیان) لامل شوې چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله د ملکیانو په هدفي وژنو کې ۱۷ سلنه کموالی وراندې کوي. په نښه شوي ملکیان هغه افراد وو چې د اوسني مامورین اویاهم پخواني استخدام شوي کسان او یا هم د کورنیو اړیکو له لارې د دولت یا د دولت پلوه وسله والو ډلو ملاتړې یا له هغوی سره تړلي انګیرل کیده. د قومي مشرانو په ضد بریدونه هم د اندیښنې وړ دي ، په ۲۰۱۷ کال کې له ۵۹ په ۲۰۱۸ کې ۳۰ ته د دغه ډول بریدونو په شمېر کې له کمښت سره ، د وژل شویو او ټپي شویو ملکیانو شمېر په ۳۴ مړینو او ۳۱ ژوبلو سره ډېر کم را ټیټ شوی.[۹۵] یوناما همدارنګه له ۱۳ مستندو پیښو سره چې د ۱۵ مړینو او د ۲۰ ټپیانو لامل شوی د دیني علماؤو او مشرانو د هدفي وژنو د هیښوونکي شمېر یادونه کوي ، لکه پر موټر سایکل د سپرو وسله والو له خوا د نومبر پر ۲۴ د وسله والې جګړې د سرسخت منتقد او د کابل د علماوو د شورا د مرستیال وژنه.

**په کابل کې پر انټرکانټیننټل هوټل د طالبانو برید، د ۳۹ ملکي تلفاتو لامل شو[۹۶]**

د جنوري پر ۲۰مه د شپې شاو خوا ۸ بجې او ۱۵ دقیقې ، یوې پنځه کسیزې ډلې چې افغان ډولې جامې یې اغوستې وې او په کلاشنکوفونو ، ټمانچو او لاسي بمونو سمبال وو ، په کابل ښار کې پر انټرکانټیننټل هوټل برید پیل کړ. د برید پر مهال په هوټل کې کابو ۲۰۰ ملکي میلمانه ، کارمندان او لیدونکي میشت وو. برید ټوله شپه او تر سبا غرمې دوام وکړ ترڅو چې دافغان امنیتي ځواکونو ټول بریدګر ووژل.

برید هممهاله له هوټل څخه بهر او د ننه له جلا جلا موقعیتونو څخه پیل شو ، کوم چې بیا وروسته د لږ تر لږه ۲۵-۳۰ افرادو له خوا ونیول شو. دوو بریدګرو په ریستورانت کې پر میز تر یو څه وخت وروسته پر میلمنو او کارمندانو ډزې پیل کړې ، چې په لومړیو کې یې په بې توپیره ډول ډزې کولې او هر چا به چې د تیښتې هڅه کوله هغه به یې ویشته ، چې بیا وروسته یې تمرکز د بهرنیانو په لور وګرځوه. په ریستورانت کې د ننه شاهدانو په ډاګه کړه چې بریدګرو هڅه کوله چې افغانان له بهرنیانو بیل کړي. بریدګرو بیا وروسته په سیستماتیک ډول د هوټل پوړ په پوړ وګرځیدل او هره انفرادي خونه یې هدف وګرځوله ، په ځانګړي ډول د بهرنیانو ، د سوداګریزو الوتکو د پیلوټانو په ګډون. بریدګرو پر میلمانو او کارمندانو او د زینو او خروجي دروازو په ګډون په هوټل کې پر مختلفو موقعیتونو ډزې کولې. یوناما د دې شواهد په نښه کړي چې ملکي افراد هدف ګرځول شوي او وژل شوي ، لکه یو شمېر قربانیان په خپلو حمامونو او خوب خونو کې په ډزو وژل شوي. زیات شمېر خونې په بشپړ ډول سوځول شوي ، د قربانیانو د معلوماتو سره سم ، چې بریدګرو به د هغو افرادو په نښه کولو اراده کوله چې د دوی په باور به په دغو خونو کې وه.

یوناما د ښځو په ګډون د ۲۴ ملکیانو مړینه ، او د لږ تر لږه یو ماشوم په ګډون د ۱۵ ملکیانو ژوبله تایید کړې. د قربانیانو ترمنځ پنځلس بهرنیان وو.

طالبانو د ټویټر له لارې د برید مسوولیت پر غاړه واخیست.[۹۷] د لوي څارنوال د دفتر له معلوماتو سره سم ، د ۲۰۱۹ کال د فبروري پر ۴مه د دغه برید د جرمونو په تړاو ۲۱ افراد مجازات شوي. د دغو له جملې اته یې د ۲۰ او ۳۰ کلونو ترمنځ د بند په سزا محاکمه او د هوټل د امنیتي کمپنۍ ۱۳ غړي د بې پروایي له امله د دوو او پنځو کلونو ترمنځ د بند پر سزا محاکمه شوي.

[۹۴] د هدفي وژنو د تعریف لپاره دریېمه ضمیمه: اصطلاح ګانې وګورئ. یوناما همدارنګه ۱۶۲ نور ملکي تلفات (۱۰۰ مړه او ۶۲ ټپیان) ثبت کړې د دولت ضد عناصرو له خوا د دولت پلوه ځواکونو په ضد د هدفي وژنو د ترسره کولو له امله په ضمني ډول د نورو دولت ضد عناصرو د ډزو او تعبیه شویو چاودیدونکو توکو له امله رامنځ ته شوي.

[۹۵] په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما د وژنو ۴۸ پیښې مستندې کړې چې قومي مشران یې په نښه کړي او د ۸۰ ملکي تلفاتو (۵۶ مړه او ۲۴ ټپیان) لامل شوي.

[۹۶] دغه انټرنیټ پاڼه وګورئ: https://unama.unmissions.org/unama-condemns-taliban-attack-civilians-intercontinental-hotel

[۹۷] له طالبانو له خوا پر ټویټر خپور شوي د برید مسوولیت، دلته او د هغوي پر انټرنیټ پاڼه د لاس رسی وړ دی: https://twitter.com/ZabihullaM4/status/95499807611206451 ، او http://shahamat1.com/?p=106970 ، په وروسته ځل د ۲۰۱۹ کال د جنوري پر ۲۳ لیدل شوي (انټرنیټ پاڼه بدله شوې خو د یوناما د بشري حقونو له څانګې سره د ملکي وګړو د ساتنې په ډیټابیس کې موجود ده).

**د ولسي جرګې ټاکنو پورې اړوند ترسره شوي بریدونه**

*"زموږ کور د تخار ولایت د اشکمش ولسوالۍ ښوونځي ته څېرمه دی، چېرې چې انتخاباتي مرکز و. د ټاکنو پر لومړۍ ورځ، طالبانو پر دغه انتخاباتي مرکز له غره څخه هاوان ګذارکړ، خو دهدف پر ځای زموږ پر کور ولګید. زما مور ټپي شوه او روغتون ته مو یوړه. زما ۱۰ کلن ورور په کې ووژل شو. زما دوه خویندې هم وژل شوې وې، چې یوه یې اته کلنه او بله یې شپږ کلنه وه. زما بله ۱۳ کلنه خور ټپي شوې وه هغه مو د تخار روغتون ته یوړه. زما ټوله کورنۍ ویجاړه شوه. تر اوسه مو مور ته د هغوی د مړینې په اړه څه نه دي ویلي."* [98]

-- د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر پر ۲۰مه د تخار ولایت په اشکمش ولسوالۍ کې د طالبانو د برید په اړه د قربانیانو د یوه خپلوان څرګندونې. په دغه برید کې پنځه ملکیان (درې نجونې، یو هلک او یوه ښځه) وژل شوي او دوه نور (یوه نجلۍ او یوه ښځه) ټپي شوي.

یوناما په ځانګړي ډول د خساراتو د نا پیشبیني شویو کچو په اړه اندېښمنه ده، چې د ټاکنو اړوند تاوتریخوالي لکه د ملکي وګړو او ملکي شیانو مستقیمې هدف ګرځونې له امله چې عمدتا د طالبانو له خوا ترسره شوي اوښتی. د اپریل پر ۱۴مه د رایه اچوونکو له ثبت سره پیل او د ۲۰۱۸ کال تر پای پورې، یوناما د ټاکنو اړوند له ۳۱۰ تښتونو سره یو ځای، د ټاکنو اړوند ۱۰۰۷ ملکي تلفات (۲۲۶ مړه او ۷۸۱ ټپي) تایید کړي. که څه هم یوناما داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته د تعبیه شویو چاودیدونکو د ځانمرګو او غیر انتحاري بریدونو اوه پیښې منسوبې کړې په کوموکې چې ۳۳۸ ملکي تلفات (۹۴ مړه او ۲۴۴ ټپیان) منځته راغلي، د ټاکنو اړوند زیاتره پیښې او د ملکي تلفاتو له نیما یي زیاته برخه طالبانو ته منسوب شوي. [99] د ټاکنو اړوند د ملکي تلفاتو تر نیمایي زیاته برخه د پارلماني ټاکنو د اکتوبر پر ۲۰-۲۱ د رایې اچوونې پر ورځو رامنځ ته شوی، چې د اکتوبر پر ۲۰مه په ۲۰۱۸ کال کې د بلې هرې ورځ په پرتله د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ شمېر ثبت شوي. [100]

دیوناما څارنه د طالبانو له خوا د ټاکنیزې پروسې د ګډوډولو په یوه هڅه کې د ملکي وګړو په ضد د تاوتریخوالي او تهدیدونو یو ښه تنظیم شوی او همغږي شوی کمپاین په ډاګه کوي. نوموړې ادارې د طالبانو له خوا ۱۸۹ بریدونه مستند کړي، چې ۵۰۸ ملکي تلفات (۱۰۲ مړه او ۴۰۶ ټپیان) یې اړولي، چې دغې ډلې ته ۳۱۸ منسوب شوي ملکي تلفات د رایې اچوونې پر لومړۍ ورځ د اکتوبر پر ۲۰مه رامنځ ته شوي. په دغو بریدونو کې ۷۶ هغه بریدونه شامل دي چې طالبانو یې مسوولیت منلي او له کومو څخه چې یوناما ۱۱۳ ملکي تلفات (اته مړه او ۱۰۵ ټپیان) تایید کړي. [101] له کوم وخت راهیسې چې یوناما په ۲۰۰۹ کال کې په سیستماتیک ډول د ملکي تلفاتو مستند کول پیل کړي، دا په افغانستان کې د ترسره شویو تیرو څلورو ټاکنو په پرتله د ټاکنو پر ورځ د ملکي زیان ترټولو لوړه کچه وه. د طالبانو په زیاترو بریدونو کې د وسلو د غیر مستقیمو سیستمونو لکه راکیټونه، لاسي بمونو، هاوانونو او تعبیه شوي چاودیدونکي توکو چې ټول یې د بې توپیره اغیزو درلودونکي دي او دکوچنیو وسلو کارونه شامله وه. پر انتخاباتي مرکزونو او ملکي میشتو نورو سیمو د غیر مستقیمو هاوانونو، لاسي بمونو او راکیټونو ویشتل د ټاکنو په دریو وروځو کې د ټاکنو اړوند د ټولو ملکي تلفاتو نږدې ۳۸ سلنه جوړوي.

د یوناما له خوا مستند شوې د ټاکنو اړوند ټولې ۳۱۰ تښتونې او د ګواښونو، تهدیدونو او ځورونې له ۱۲۶ پیښو څخه ۱۱۶ یې طالبانو ته منسوب شوي.

یوناما پر ملکي میشتو او له ملکي میشتو سیمو څخه د غیر مستقیمو وسلو د سیستمونو د کارونې په اړه د خپلې اندیښنې بیا یادونه کوي، کوم چې په اکتوبر میاشت کې د ولسي جرګې د ټاکنو پر مهال طالبانو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو ستر عامل

---

[98] په روغتون کې له شاهد سره د یوناما مرکه، تخار ولایت، ۲۳ اکتوبر ۲۰۱۸.

[99] یوناما همدارنګه د هدفي وژنو او غیر انتحاري تعبیه شویو چاودیدونکو توکو نامعلومو دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې ۱۵ پیښې مستندې کړي چې د ۱۲۶ ملکي تلفاتو (۲۷ مړه او ۹۹ ټپیان) لامل شوي. پاتې تلفات و نه کړای شول چې د ټاکنو اړوند ځمکنیو نښتو پر مهال کوم مشخص لورې ته منسوب کړای شي.

[100] له غزني او کندهار پرته د ولسي جرګې ټاکنې د اکتوبر پر ۲۰-۲۱ په ټولو ولایتونو کې ترسره شوې. د غزني ټاکنې تر یوې نامعلومې مودې لپاره وځنډیدې په داسې حال کې چې په کندهار کې د اکتوبر پر ۲۷ ترسره شوې. یوناما په کندهار کې د رایې اچوونې پر ورځ د ټاکنو اړوند هیڅ تلفات نه دي مستند کړي.

[101] د ټاکنو ورځو په اړه د طالبانو له حساب @Zabihulla_4 څخه ټول ټویټونه د یوناما د بشري خدمتونو له څانګې سره په دوسیه کې موجود دي.

و.[۱۰۲] سر بيره پر دې ، په ملکي ميشتو سيمو کې د بې توپيره چاوديدونکو وسيلو کارونه ، په قطعي توګه ملکي وګړو ته د خورا زيات زيان لامل کيږي ، او له همدې وجې ښايي جنګي جرمونه تشکيل کړي.

يوناما پر دې ټينګار کوي چې د ټاکنو اړوند کارکوونکي ، انتخاباتي نوماندان ، رايه اچوونکي او هغه اشخاص چې د دولت لپاره کار کوي ملکيان دي او د بشرپالنې تر نړيوال قانون لاندې له ساتنې حق څخه برخمن دي ، ترڅو چې د وسله والو څواکونو غړي نه وي او په شخړو کې يې مستقيمه برخه نه وي اخيستې. يوناما له طالبانو غوښتنه کوي ، چې د ملکيانو هغه تعريف تطبيق کړي ، کوم چې د بشرپالنې له نړيوال قانون سره په سمون کې وي. نومورې اداره بيا د دې يادونه کوي ، چې د ملکي وګړو او ملکي شيانو په ضد د تاوتريخوالي کړنې د بشرپالنې تر نړيوال قانون لاندې په کلکه منع دي او ښايي جنګي جرمونه تشکيل کړي.[۱۰۳]

### هغه بريدونه چې عبادت ځايونه، ديني مشران او عبادت کوونکي په نښه کوي

په ۲۰۱۸ کال کې ، يوناما د ۲۲ بريدونو په ثبتولو سره چې د ۴۵۳ ملکي تلفاتو (۱۵۶مړه او ۲۹۷ټ ټپيان)[۱۰۴] لامل شوي ، او ټول يې د دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ، د ۲۰۱۷ کال په څېر د هغو بريدونو له امله چې عبادت ځايونه ، ديني مشران او عبادت کوونکي يې په نښه کړي د ملکي تلفاتو مستند کول جاري ساتلي.[۱۰۵]

زياتره تلفات د ځانمرګو بريدونو له امله رامنځته شوي په کوم کې چې ۱۳۶ ملکيان وژل شويدي او ۲۶۶ نور يې ټپيان شوي ي ، چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۱۱۸ سلنه زياتوالي په ګوته کوي. زيات شمېر دغه بريدونه د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې له خوا ترسره شوي. د مثال په ډول ، د جون پر ۴مه په کابل ښار کې يو بريدګر په ځان پورې تړلي چاوديدونکي توکي د لويې جرګې خيمې مخې ته وچول ، چيرې چې د هيواد له مختلفو برخو څخه ۲۰۰۰ ديني علماؤو د دولت ضد عناصرو له خوا د پر مخ وړونکې جګړې په ضد په يوه غونډه کې ګډه فتوا نهايي کوله. بريدګر د ولسمشر د محافظتي قطعې يونيفورم پر ځان و ، چا چې هغې ساحې ته د تګ اجازه درلوده چيرې چې امنيتي ځواکونو د سيمې ساتنه کوله. په دغې پيښه کې د دوو ديني علماؤو په ګډون اوه ملکي سړي ووژل شول او د شپږو ديني علماؤو په ګډون ۲۰ نور ټپيان شول. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې د دغه بريد مسووليت پر غاړه واخيست ، چې په ځانګړي ډول يې په ډاګه کوله چې دولت پلوه عالمان يې وژلي او ټپي کړي.[۱۰۶]

د ځانمرګو بريدونو سربيره ، يوناما د ديني علماؤو او عبادت کوونکو له هدفي وژنو څخه ۳۵ ملکي تلفات (۱۵ مړه او ۲۰ ټپيان) مستند کړي.[۱۰۷] د مثال په ډول د اپريل پر ۲۹ د سمنګانو ولايت په آيبک ولسوالۍ کې طالبانو په يوه واده کې پر يوه سړي عَمدي ډزې وکړې. قرباني هغه مُلا و ، چې د طالبانو پر ضد يې تبليغ کاوه. په پيښه کې دغه مُلا او يوه ښځه ووژل شول او دوه ښځې ټپي شوې.

### د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې له خوا عَمدي فرقه ييز بريدونه چې شيعه مذهبه لړکي په نښه کوي

يوناما د داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې له خوا د شيعه مذهبه لړکيو په ضد چې زياتره يې هزاره توکمه دي ، د فرقه ييزې انګيزې درلودونکي د لوړې کچې تاوتريخوالی مستند کول جاري ساتلي. يوناما د دغو مذهبي لړکيو د خونديتوب او

---

[۱۰۲] د څمکنيو نښتو پر مهال د غير مستقيمو وسلو د سيستمونو د کارونې له امله ملکي تلفات برخه ګوري.

[۱۰۳] د ټاکنو اړوند تاوتريخوالي په اړه د لا زياتو معلوماتو لپاره ، مهرباني وکړئ د يوناما دوه ځانګړي راپورونه چې د دغې موضوع په اړه د ۲۰۱۸ کال په مئ او نومبر مياشتو کې خپاره شوې وګورئ. دلته د لاس رسي وړ دي: https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports.

[۱۰۴] په ۲۰۱۷ کال کې ، يوناما د خلکو او عبادت ځايونو په ضد ۳۸ بريدونه مستند کړي ، چې د ۴۹۹ ملکي تلفاتو (۲۰۲ مړه او ۲۹۷ ټپيان) لامل شوي ، کوم چې په ټولو ملکي تلفاتو کې ۲۴ زياتوالي جوړوي او د ۲۰۱۶ کال په پرتله درې برابره زيات دي.

[۱۰۵] په دې کې هغه بريدونه چې په تصادفي ډول يې جوماتونه/عبادت ځايونه زيانمن کړي يا پر هغو جوماتو/عبادت ځايونو بريدونه نه دي شامل چې د جګړې د کوم لوري له خوا کارول شوي وي.

[۱۰۶] اسلامی دولت د الاعماق خبري ايجنسي له لارې د بريد مسووليت منلی ، پر دغه انټرنيټ پاڼه د لاس رسي وړ دی ، چې په وروسته ځل د ۲۰۱۹ کال د جنوري پر ۲۳ نېټه ليدل شوي: https://ent.siteintelgroup.com/Statements/amaq-reports-is-responsibility-for-suicide-bombing-on-gathering-of-scholars-in-kabul.html

[۱۰۷] په دې کې د اپريل پر ۲۹ يوه پيښه شامل ده ، په کومه کې چې د سمنګانو ولايت په آيبک ولسوالۍ کې د يوه ديني مشر په هدفي وژنه کې درې ملکي وګړي ټپي او وژل شوي.

امنیت په اړه او تر هغه حده چې دغه بریدونه د هغوی د دینی مناسکو او دتلو راتلو ازادي او د ژوند کیفیت متاثره کوي سخته اندیښمنه ده.

د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ څخه د ډسمبر تر ۳۱مې نېټې پورې ، یوناما د شیعه مذهبه مسلمانانو په ضد د فرقه ییزې انګیزې درلودونکي تاوتریخوالي ۱۹ پیښې مستندې کړې چې د ۷۴۷ ملکي تلفاتو (۲۲۳ مړه او ۵۲۴ ټپیان) لامل شوي. دا د ۲۰۱۷ کال په پرتله د دغه ډول بریدونو له امله په ملکي تلفاتو کې ۳۴ سلنه زیاتوالی را په ګوته کوي ، چې په دغې ټولنې کې دزیاتو ملکي تلفاتو او زیان هغه جریان ته ادامه ورکوي چې په لومړي ځل په ۲۰۱۶ کال کې د یوناما له خوا مستند شوي.[۱۰۸] له ۱۹ پیښو څخه د اوو پیښو مسوولیت یې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې پر غاړه اخیستی چې د ۷۱۱ ملکي تلفاتو (۲۱۲ مړه او ۴۹۹ ټپیان) لامل شوي. د مثال په ډول د مارچ پر ۲۱مه یوه ځانمرګي بریدګر په ځان پورې تړلې تعبیه شوي چاودیدونکي توکي د کارته ای سخي زیارت په سیمه کې وچول چیرې چې شیعه مذهبه مسلمانان د نوروز لمانځلو لپاره راغونډ شوي وو. دغه برید د خلورو ماشومانو په ګډون ۳۵ ملکي وګړي ووژل او د شپږو ماشومانو په ګډون یې ۶۵ نور ټپیان کړل. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د دغه برید مسوولیت پر غاړه واخیست ، چې په څرګنده توګه فرقه ییزه انګیزه په ډاګه کوي. په یوه اونۍ کې دا دویم برید وُ چې په عمدي ډول یې شیعه مذهبه مسلمانان په نښه کړې.

که څه هم په ۲۰۱۷ کال کې د شیعه مذهبه مسلمانانو په ضد د فرقه ییزې انګیزې درلودونکي زیاتره بریدونه په عبادت ځایونو کې ترسره شوي ، یوناما په ۲۰۱۸ کال کې دغه ډول یوازې دوه بریدونه مستند کړي چې ۱۳۸ ملکي تلفات (۳۵ مړه او ۱۰۳ ټپیان) یې اړولي. په ۲۰۱۸ کال کې د شیعه مذهبه مسلمانانو په وړاندې زیاتره بریدونه دعبادت ځایو څخه بغیر په نورو ملکي میشتو سیمو کې رامنځ ته شوي لکه د شیعه مذهبه مسلمانانو یا هزاره میشتو سیمو کې. د مثال په ډول ، په کابل ښار کې د اپریل د ۲۲مه د سهارپه وخت ، یوه ځانمرګي بریدګر په ځان پورې تړلې چاودیدونکي توکي په یوه هزاره میشته سیمه کې د تذکیرو د ویش د مرکز مخې ته وچول ، چیرې چې زیات شمېر ځایي اوسیدونکي د تذکیرو تر لاسه کولو په موخه چې د رایه اچوونکو د ثبت پروسې لپاره لومړي ګام ګڼل کیږي راټول شوي وو. د دغه برید له امله د ۲۳ ښځو او ۱۱ ماشومانو په ګډون ۶۰ ملکیان ووژل شول او د ۶۵ ښځو او ۱۷ ماشومانو په ګډون ۱۳۸ نور ټپیان شول. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې د دغه برید مسوولیت پر غاړه واخیست چې په څرګنده توګه فرقه ییزه انګیزه په ډاګه کوي.[۱۰۹] د اګست پر ۱۵مه په دشتِ برچي کې په یوه بله ناوړه پیښه کې چې په کابل کې د شیعه مذهبه لږکیو با نفوسه سیمه ده ، ځانمرګي بریدګر په ځان پورې تړلې چاودیدونکي توکي په یوه تعلیمي ټولګي کې وچول چې د دغه برید له امله لږ تر لږه د ۱۴ ښځینه وو په ګډون چې د ځینو عمرونه ښایي تر ۱۸ کلنۍ کم وو ۴۰ ملکي وګړي ووژل شول او د لږ تر لږه پنځو ماشومانو او ۱۴ ښځو په ګډون ۶۷ نور ټپیان شول. پر شیعه مذهبه مسلمانانو بریدونه د هغوی د دین پر ازادۍ تیری ګڼل کیږي ، او له عبادت ځایونو پرته پر ښوونیزو مرکزونو ، دسپورټ پر کلبونو ، په مراسمو او نورو ټولنیزو غونډو د دغو بریدونو پراخ وسعت په مستقیم ډول د هغوی د عادي ژوند کولو وړتیا اغیزمنه کوي.

د ملکي وګړو او دهغوی دملکیتونو په ضد د بریدونو د نړیوال حقوقي ممنوعیت سربیره د بشرپالنې نړیوال قانون او جنایي نړیوال قانون هغه بریدونه منع او جرم ګڼي چې پر عبادت ځایونو ترسره شوي وي ، کوم چې فرهنګي شتمنې جوړوي.[۱۱۰]

یوناما دافغانستان دولت ته یو ځل بیا د هغه د مکلفیت یادونه کوي چې د مذهبي مراسمو د لمانځلو پر مهال د مذهبي او قومي لږکیو په ګډون ، د ټولو لږکیو امنیت او خوندیتوب یقیني کړي. دولت همدارنګه باید د ټولو اشخاصو ، په ځانګړي ډول

---

[۱۰۸] په ۲۰۱۷ کال کې ، یوناما ۵۵۷ ملکي تلفات (۲۱۱ مړه او ۳۴۶ ټپیان) ثبت کړي چې فرقه ییزې انګیزې درلودونکو بریدونو په پایله کې رامنځ ته شوي. د زیاتو معلوماتو لپاره په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۷ کال د راپور ۴۱-۴۲ مخونه وګورئ ؛ همدارنګه د عبادت ځایونو ، دیني مشرانو او عبادت کوونکو په اړه یوناما د ۲۰۱۷ کال د نومبر ځانګړی راپور وګورئ.

[۱۰۹] اسلامی دولت د الاعماق خبري ایجنسي له لارې د برید مسوولیت منلی ، پر دغه انټرنیټ پاڼه د لاس رسي وړ دی ، چې په وروسته ځل د ۲۰۱۹ کال د جنوري پر ۲۳ نېټه لیدل شوي: https://ent.siteintelgroup.com/Statements/is-khorasan-province-claims-100-casualties-in-suicide-bombing-at-voter-registration-center-in-kabul.html

[۱۱۰] د آی سي آر سي د نړیوال عرفي قانون څېړنه ، ۳۸ قاعده. د روم اساسنامې ۸ (۲) (ای) (آی وي) ماده په داخلي وسله والو شخړو کې "د مذهب [...] تاریخي یادګار لپاره پر ځانګړیو شویو ودانیو بریدونه ، د دې په صراحت سره چې هغه نظامي اهداف نه دي" جرمي عمل ګڼي. دغه راز د دویم الحاقي پروتوکول ، ۱۶ ماده ؛ د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال کنوانسیون ۱۸ ماده وګورئ. دغه راز د افغانستان د جزا د نوي قانون (۲۰۱۸) ۳۳۷-۳۴۰ مادې جنګي جرمونو په اړه او ۳۳۶ ، ۳۴۲ او ۳۴۳ مادې د بشریت ضد جرمونو په اړه وګورئ.

د لرګیو ، حق خوندي کړي ځو وکولای شي د عبادت ، اومراسمو له لارې په سوله ییز ډول د خپل دین یا عقیدې دمناسکو د لمانځلو لپاره سره راټول شي.[111] دولت همدارنګه مکلف دی څو یقیني کړي د قومي چې نژادي اومذهبي کرکې خپرول چې تبعیض ، دوښمني یا تاوتریخوالی راپاروي او د قانون له خوا منع شوی د قانون دتنفیذ له مخې یې دخپرولو مخه ونیسي.[112]

### ۳. د جګړې پورې اړوند د ملکي وګړو تښتونې

د دولت ضد عناصرو په ټول هیواد کې په ۲۰۱۸ کال کې د تهدید او پر خلکو د کنترول د تعمیل د وسیلې په توګه د ملکي وګړو تښتونې جاري ساتلې. د ۲۰۱۸ کال د جنوري له لومړۍ نېټې څخه د ډسمبر تر ۳۱ پورې یوناما د جګړې پورې د اړونده تښتونو[113] ۲۷۱ پیښې مستندې کړې ، چې ۱۸۵۷ ملکیان یې اغیزمن کړي او د ۵۳ مړینو او ۳۳ ټپیانو لامل شوې. د دولت پلوه وسله والې ډلې له خوا د یوې پیښې چې ۱۲ کسان یې متاثره کړي وو او د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا د دریو تښتونو پرته ، پاتې ټولې پیښې د دولت ضد عناصرو له خوا ترسره شوې.[114] که څه هم د جګړې پورې داړونده تښتونو څخه د ملکي تلفاتو شمېر د ۲۰۱۷ کال له شمېر سره ورته پاتې ده خو د تښتول شویو ملکیانو شمېر ۸۵ سلنه لوړ شوی ، چې شمېر یې تقریباً د ۲۰۱۶ کال دشمیر تر کچې رسیږي. دغه زیاتوالی د ټاکنو پورې د اړوندو تښتونو پیښو له امله رامنځ ته شوی ، چې طالبانو تر ټاکنو په مخکو میاشتو او د ټاکنو په شپو ورځو کې نوماندان ، د ټاکنو اړوند کارمندان ، رایه اچوونکي او هغه اشخاص چې غوښتل یې رایه واچوي تښتولي. د مثال په ډول ، د اکتوبر د ۱۷ او ۱۹ ترمنځ د بغلان په بورقه ولسوالۍ کې ، طالبانو د ولسوالۍ د پوهنې د مدیر په ګډون ۴۷ ښوونکي وتښتول او په یوه مدرسه کې یې په دې موخه بندي کړل ، څو د اکتوبر په ۲۲مه نیټه د ټاکنو د کارمندانو په حیث د هغوی مخنیوی وکړي. طالبانو د ټاکنو کارمندان دخپلو کورونو ته څېرمه یا د خپلو تر ولکې لاندې سیمو ته تښتولي کله چې نوموړي کارمندان یې د حکومت تر کنترول لاندې سیمې څخه بلې سیمې ته د یوې ناستې لپاره بللي ، چیرې چې بیا وروسته یې تښتولي. ټول تښتول شوي کسان د اکتوبر پر ۲۳ او ۲۴ وروسته تر هغې په خوندي ډول خوشې شول چې په ولایت کې ټاکنې ترسره شوې.

یوناما همدارنګه داسې پیښې مستندې کړې په کومو کې چې د دولت ضد عناصرو زیاتره له حکومت سره د طالب بندیانو د تبادلې د هڅې په موخه له دولت سره د واقعي یا شکمنو اړیکو په اړه ملکي وګړي تښتولي ، او په ځانګړي ډول په شمالي ، شمال ختیځو او ختیځو سیمو کې ملکیان د ناقانونه مالیې په ورکړې د نه توانیدو له امله تښتول شوي. د بیلګې په توګه ، د اګست پر ۳مه د ننګرهار ولایت په مومندرې ولسوالۍ کې طالبانو د ۱۰ لاریو چلوونکي هغوی ته د مالیې په ورکولو کې د پاتې راتلو له امله وتښتول. هغوی یې ګاونډۍ ولسوالۍ ته ولیږدول چې بیا د قومي مشرانو د منځګړیتوب له لارې تر څلورو ورځو وروسته خوشې شول. د جولای پر ۳۰مه په پکتیا ولایت کې د ګردیز-کابل پر لویه لار طالبانو په یوه ناقانونه چیک پوست کې ۲۲ ملکي وګړي چې په دریو نقلیه وسیلو کې کابل ته پر لار وو وتښتول. کله چې افغان ملي امنیتي ځواکونه د تښتول شویو کسانو د خلاصون لپاره راورسیدل ، د دواړو خواوو ترمنځ جګړه وشوه او شپږ ملکیان د هغوی له منګولو په تیښته بریالي شول. طالبانو پاتې ۱۶ افراد له ځان سره نامعلوم ځای ته یوړل. د سرچینو له معلوماتو سره سم ، طالبانو غوښتل چې دغه ملکي وګړي له حکومتي توقیف ځایو څخه د خپلو یو شمېر غړو د خوشې کولو لپاره تبادله کړي. ټول تښتول شوي کسان د قومي مشرانو د منځګړیتوب له لارې تر ۱۰ ورځو وروسته راخوشې کړای شول.

یوناما طالبانو ته د تښتونې ۲۴۰ پیښې منسوب کړې چې د ۱۷۳۲ ملکي وګړو د تښتونې او د ۸۰ ملکي تلفاتو (۴۹ مړه او ۳۱ ټپیان) لامل شوې. له دغو پیښو طالبانو د ۱۳ هغو مسوولیت منلی چې د ۲۹۸ ملکي وګړو تښتونه رانغاړي. یوناما داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې ته دتښتونې ۱۸ پیښې منسوب کړې چې د ۹۱ ملکي وګړو د تښتونې او د دریو ملکي تلفاتو (دوه مړه او یو ټپي) لامل شوې.

---

[111] د بشري حقونو نړیواله اعلامیه (۱۹۴۸)؛ د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال کنوانسیون (۱۹۶۶) ۲ ، ۱۸ او ۲۷ مادې. دغه راز د بشري حقونو د کمیټې پر ۱۸ مادې عمومي ۲۲ تبصره وګورئ. همدارنګه د عدالت د نړیوالې محکمې ، په اشغال شوې فلسطین کې د دیوال د جوړولو پر سر د حقوقي مسلو په هکله مشورتي نظر ، د ۲۰۰۴ کال د جولای ۹ ، ۱۰۶ پاراګراف وګورئ.

[112] د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال کنوانسیون ، ۲۰ ماده.

[113] د تښتونې د تعریف لپاره درییمه ضمیمه: اصطلاح ګانې وګورئ.

[114] یوناما د افغان سیمه ییزو پولیسو له خوا تښتونې مستند کوي ، څرنګه چې دوی تر افغان قوانینو لاندې په قانوني توګه د خلکو د نیونې واک نه لري.

د دولت ضد عناصرو زيات شمېر افراد له کوم زيان پرته د پيسو تر ورکړې يا د قومي مشرانو تر منځګړيتوب وروسته زياتره تر څو ورځو وروسته خوشې کړي. خو بيا هم يوناما ۶۲ پېښې مستندې کړي په کومو کې چې تښتول شوي ملکي وګړي د خلاصون د هڅو يا د عمدي وژنو له کبله يا ټپي او يا هم وژل شوي. د مئ دمياشتی پر ۳مه د ننګرهار ولايت په بتی کوټ ولسوالۍ کې ، د جلال اباد- تورخم پر لويه لار ، طالبانو چې د افغان ملي اردو يونيفورم يې پر تن و د طالبانو په يوه ناقانونه چيک پوست کې يو موټر ودراوه چې د يوه بانک د کارمند له خوا چلول کيده او درې ملکي نارينه يې وتښتول. کله چې نارينه وو د مقاومت هڅه وکړه ، طالبانو پرې ډزې وکړې ، چې دوه يې ووژل او يو بل يې ټپي کړ.

يوناما همدارنګه د ناقانونه وسله والو ډلو او جنايي باندونو له خوا دوامداره تښتونه په نښه کړی ، په ځانګړې ډول د کابل په ښېر په لويو ښارونو کې ، چې په اړه يې کم راپور ورکول کيږي. که څه هم يوناما هغه تښتونې چې د جګړې د ښکېلو خواوو له لوري نه ترسره کيږي په سيستماتيک ډول نه مستند کوي ، خو بيا هم په منظم ډول د دغه ډول پيښو راپورونه ترلاسه کوي ، لکه هغه چې د نادولتي ادارو او د ملګرو ملتونو کارمندان په نښه کوي. د مئ پر ۲۴مه په کابل کې د ملګرو ملتونو د يوې کارکوونکی او د هغې د ماشوم کوم چې د نامعلومو يرغمل کوونکو له خوا له څلورو مياشتو د زياتې مودې لپاره يرغمل شوي وو ، د خوشې کيدو هرکلی وکړ او د بل همکار وژنه يې وغندله کوم چې د ورته پيښې پرمهال تښتول شوی و.[۱۱۵]

د جګړې پورې اړونده تښتونې افغانان د شخصي ازادۍ او د خپلسري توقيف څخه د ازاد اوسيدلو له بنسټيزو حقونو څخه محرومو. د طالبانو له خوا پر سترو سړکونو او لويو لارو ترسره شوې تښتونې او د هغوی ګواښونه د ګرځيدو ازادي محدودوي او له ويرې ډک چاپيريال رامنځ ته کوي.

### ۴. د ملکي وګړو په ضد ترسره شوې ناقانونه سزاګانې

په ۲۰۱۸ کال کې يوناما د دولت ضد عناصرو ۱۶ داسې پېښې مستندې کړې چې د ملکي وګړو په ضد ناقانونه سزاګانې جاري کوي. دولت ضد عناصرو د موازي عدلي جوړښتونو سره سم د جنايي او ملکي قضيو په اړه قضاوت کول جاري ساتلی ، په ځانګړې ډول د دوی تر کنټرول لاندې سيمو کې چيرې چې ملکي وګړو ددولت قضايي قانوني ميکانيزمونو ته محدود لاسرسی درلود. په دغو ناقانونه سزاګانو کې ادعاشوی جرمونه عبارت دي له جاسوسي کولو تور ، د دولت ملاتړ ، د افغان ملي امنيتي ځواکونو غړيتوب او غير اخلاقي تخطي ګانې چې ورکړل شوی سزاګانې يې عبارت دي له اعدامونه ، د بدن د غړو پرې کول ، وهل ټکول او داسی نور. يوناما دغه ډول پيښې چې د ۲۱ ملکي تلفاتو (۱۴ مړه او اووه ټپيان) لامل شوي طالبانو ته او درې نورې چې ۸ وژنې يې رامنځ ته کړې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې ته منسوب کړې.

د بيلګې په توګه ، د جولای پر ۲۸مه د کونړ ولايت په دره پيچ ولسوالۍ کې داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې څلور نارينه د دولت پلوه ځواکونو ته د جاسوسۍ په تور ووژل. دغه قربانيان تښتول شوي وو او د دوو مياشتو لپاره په حراست کې ساتل شوي وو. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولايت ډلې د دغو نارينه وو د اعدامَونې مسووليت منلي او انځورونه يې پر الاعماق انټرنيټ پاڼه خپاره کړي.[۱۱۶] د فبروري پر ۲۸مه د بدخشان ولايت په يمګان ولسوالۍ کې طالبانو د زنا په تور يو سړی او يوه ښځه په ډزو ووژل. ښځه په خپل کور او سړی په يوه نږدې بڼ کې ووژل شول.

د دولت ضد عناصرو له خوا جاري شوې سزاګانې د افغانستان تر قوانينو لاندې جرمي کړنې ګڼل کيږي او د بشري حقونو سرغړونې تشکيلوي. سربيره پر دې ، د اعدام په څېر سختې سزاګانې کولی شي د بشرپالنې له نړيوال قانون څخه جدّي سرغړونې تشکيلی او جنګي جرمونه وشمېرل شي. يوناما له دولت ضد عناصرو غوښتنه کوي چې روان موازي عدلي جوړښتونه سمدلاسه بند ی کړي ، کوم چې د افغانستان د قوانينو لاندې کوم اساس نه لري او پر ملکي وګړو د سزاګانو تحميلول ودروي. يوناما يو ځل بيا د دې يادونه کوي چې دولت په افغانستان کې د بنسټيزو بشري حقونو د ساتلو اعظمي مسووليت لري او بايد د دغه ډول ناقانونه محاکماتو مخنيوي وکړي.

[۱۱۵] د يوناما انټرنيټ پاڼه: https://unama.unmissions.org/statement-united-nations-afghanistan-abducted-personnel-kabul

[۱۱۶] يوناما د مسووليت هغه ادعا ثبت کړې چې پر بيان ايف ايم راډيو خپره شوې. خپرونه د يوناما د بشري حقونو له څانګې سره په دوسيه کې موجود ده.

**۵. د نظامي موخو لپاره د کورونو او نورملکي ځایونو کارول**

یوناما په دوامدار ډول داسې پیښې مستندې کړې په کومو کې چې د دولت ضد عناصرو ملکي کورونه او نور ملکي شیان (ملکیتونه) د نظامي موخو لپاره کارولي. دمثال په توګه د دولت ضد عناصرو لخوا دعملیاتواوبریدونو لپاره دداسې ساحو تعینول چې ملکي وي او یا د دولت پلوه ځواکونو سره د نښتې پرمهال په ملکي کورونو کې پناه اخستل.[۱۱۷]

د پوځي نښتو پرمهال له ملکي وګړو سره ګډیدل او دغه راز د نظامي موخو لپاره د هستوګنو کورونو کارول ملکي وګړي د افغان ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو ځواکونو له خوا د برید له ګواښ سره مخ کوي.[۱۱۸] د مثال په ډول ، د جنوري پر ۲۳مه د فاریاب ولایت په شیرین تګاب ولسوالۍ کې طالبانو د کوچنیو وسلو او لاسي بمونو په کارولو سره چې د کورونو تر شا پټ شوي وو د افغان ملي اردو پر چیک پوست او مورچلو برید وکړ. افغان ملي اردو د برید په غبرګون کې هماغه کور پر هاوان وویشت چې د یوې ښځې د ټپي کیدو لامل شو. د نومبر پر ۲۷مه د هلمند ولایت په ګرمسیر ولسوالۍ کې طالبانو چې له هوایي برید څخه په تیښته کې وو او پر موټر سایکلونو سپاره وه نږدې کلي ته په رسیدو یې د کورونو دروازې وټکولې څو پناه واخلي. کله چې ملکیانو دروازه خلاصه کړه ، د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا له چورلکې څخه په نښه شول ، چې د طالبانو او دوو نارینه ملکیانو د وژنې لامل شو. یوناما زیات شمیر داسې پیښې تایید کړې په کومو کې چې طالبان د اګست په میاشت کې پر غزني ښار د برید پرمهال کورونو ته ننوتي او هغه یې د جګړې د مورچلو په څېر کار ولې ، یوناما همدارنګه د طالبانو په اړه راپورونه ترلاسه کړي چې په ځینو حالاتو کې یې خلکو ته د ځای د پریښودلو امر کوي.

یوناما د جګړې ښکېلو خواوو ته د هغه مکلفیت بیا یادونه کوي چې د جګړې په چمتووالي او ترسره کولو کې د تفکیک د اصل درناوي وکړي ، کوم چې د جګړې له ښکېلو خواوو د دې غوښتنه کوي چې د ملکي وګړو او جنګیالیو او د ملکي شیانو او نظامي موخو ترمنځ څرګند توپیر وکړي. د دغه مکلفیت مهمه برخه له برید څخه د نظامي موخو د خوندي کولو یا د نظامي عملیاتو د مخنیوي لپاره د ملکي وګړو د کارونې منع کول دي. پر دې باید ټینګار وشي چې د جګړې د ښکېل د یوه لوري له خوا د دغو اصولو په رعایت کولو کې پاتې راتلل مخالف لوري د نړیوال قانون لاندې د تفکیک ، احتیاطي تدابیرو او د تناسب اصولو په تړاو له مکلفیتونو څخه نه بري کوي.[۱۱۹]

---

[۱۱۷] د ۲۰۱۴ کال د ملکي وګړو د ساتنې نیم کلن راپور ، ۱۰ مخ ، د ۲۰۱۸ کال د دریېمې ربع راپور ؛ https://unama.unmissions.org/unama-calls-anti-government-elements-cease-attacks-civilian-areas; https://unama.unmissions.org/unama-condemns-taliban-attack-kabul (۲۰۱۶)

[۱۱۸] UNAMA also notes incidents in which Anti-Government Elements have been targeted inside their homes at night while with their family members, which contributed to an increase in casualties of women and children. See section IV.b.i. below on *Aerial Operations*.

[۱۱۹] د هوایي عملیاتو برخه وګورئ

# ۴. دولت پلوه ځواکونه

## الف. عمومي کتنه

د ۲۰۱۷ کال په پرتله یوناما په ۲۰۱۸ کال کې د دولت پلوه ځواکونو ته په منسوب شویو ملکي تلفاتو کې ۲۴ سلنه زیاتوالی مستند کړي چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د هوایي عملیاتو او دغه راز د افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ترسره شویو چانیزو عملیاتو په پایله کې په رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو کې د پام وړ زیاتوالی له امله دی. د ۲۰۱۸ کال د جنوري د لومړۍ او ډسمبر د ۳۱ ترمنځ ، یوناما د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ترسره شویو عملیاتو له امله ۲۶۱۲ ملکي تلفات (۱۱۸۵ مړه او ۱۴۲۷ ټپیان) مستند کړي. دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ملکي تلفات په ۲۰۱۸ کال کې د ټولو ملکي تلفاتو ۲۴ سلنه جوړوي چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۲۰ سلنه زیات دي.

د دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي زیاتره ملکي تلفات د ځمکنیو نښتو او هوایي عملیاتو (هر یوه یې ۳۹ سلنه) او په تعقیب یې د چانیزو عملیاتو (۱۴ سلنه) له امله رامنځ ته شوي.[120]

دولت پلوه ځواکونو د ځمکنیو نښتو پرمهال ۱۰۱۵ ملکي تلفات (۲۸۲ مړه او ۷۳۳ ټپیان) اړولي ، چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله اوه سلنه کموالی وړاندې کوي او په پرلپسې دول دویم کال دی په کوم کې چې یوناما د ځمکنیو نښتو پرمهال کمښت مستند کړی. یوناما د ځمکنیو عملیاتو پر مهال د دولت پلوه ځواکونو د ډزو له امله په رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو کې ۴۴ سلنه کموالی مستند کړي کوم چې په ځمکنیو نښتو کی د ملکي تلفاتو عمومي کموالي یی اصلي مرستندویه فکتور ګڼل کیږي. د دولت پلوه ځواکونو له خوا د غیر مستقیمو وسلو له کارونې څخه ملکي وګړو ته د زیان کچه د ۲۰۱۷ کال کچې ته ورته ده ، چې د ۸۵۴ ملکي تلفاتو (۲۱۱ مړه او ۶۴۳ ټپیان) لامل شوې.[121]

د دولت پلوه ځواکونو له خوا هوایي عملیات ځمکنیو نښتو ته د ورته شمېر ملکي تلفاتو لامل شوي ان په نسبي ډول یې لا زیاتې مړینې اړولې چې په پایله کې یې ۱۰۱۵ ملکي تلفات (۵۳۶ مړه او ۴۷۹ ټپیان) رامنځ ته شوي. د ۲۰۱۷ کال په پرتله د هوایي عملیاتو له امله ملکي تلفات ۶۱ سلنه لوړ شوي چې زیاتره یې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا رامنځ ته شوي.

د دولت پلوه ځواکونو له خوا چانیز عملیات د ملکي تلفاتو دریم مخکښ لامل وُه چې په ۲۰۱۸ کال کې یې ۳۵۳ ملکي تلفات (۲۸۴ مړه او ۶۹ ټپیان) اړولي ، کوم چې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۱۸۵ سلنه زیاتوالي په نښه کوي.[122] یوناما د دغو عملیاتو له امله ملکیانو ته په زیان رسولو کې د زیاتوالي له امله په ځانګړي ډول اندیښمنه ده. زیاتره چانیز عملیات د ملي امنیت ریاست د ځانګړو ځواکونو واحدونو او د خوست ساتنې ځواک (کې پي اِف) له خوا ترسره شوي کوم چې زیاتره له نړیوالو نظامي ځواکونو سره په ګډه ، د افغان ځواکونو عملیاتي قوماندې د رسمي سلسله مراتبو څخه بهر فعالیت کوي. د دغو عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي د مړینو پام وړ شمېر د دې اندیښنه راولاړوي چې ښایي ځواک په بې توپیره ډول کارول شوی وي.

| مسؤله خوا (د یوناما له خوا منسوب شوي) | وژل شوي ملکي وګړي | ټپي شوي ملکي وګړي | ټولټال ملکي تلفات | د ټولو ملکي تلفاتو سلنه |
|---|---|---|---|---|
| افغان ملي امنیتي ځواکونه | ۶۰۶ | ۹۲۹ | ۱۵۳۵ | ۱۴ سلنه |
| دولت پلوه وسله والې ډلې | ۹۹ | ۸۱ | ۱۸۰ | ۲ سلنه |
| نړیوال نظامي ځواکونه | ۴۰۶ | ۲۶۸ | ۶۷۴ | ۶ سلنه |
| نا معلوم دولت پلوه ځواکونه/ګډ دولت پلوه ځواکونه | ۷۴ | ۱۴۹ | ۲۲۳ | ۲ سلنه |

[120] دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي پاتې نور ملکي تلفات د ځمکنیو نښتو له زمیني بهر رامنځ ته شوي ، زیاتره د ملکي وګړو د وژنې او ټپي کولو په پېښو کې (یا خو له اوله معلومه چې ملکي دی یا د دولت ضد عناصرو په شک).

[121] په ۲۰۱۷ کال کې ، د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ځمکنیو نښتو پر مهال د غیر مستقیمو وسلو د کارونې پېښو ۸۴۹ ملکي تلفات (۲۰۰ مړه او ۶۴۹ ټپي) اړولي. د ځمکنۍ نښتې: په ډزو کې را ګیر ملکي وګړو په اړه برخه وګورئ.

[122] په ۲۰۱۷ کال کې ، د دولت پلوه ځواکونو له خوا د چانیزو عملیاتو له امله ۱۲۴ ملکي تلفات (۸۰ مړه او ۴۴ ټپي) مستند کړي.

### ۱. افغان ملي امنيتي ځواکونه

افغان ملي امنيتي ځواکونه په ۲۰۱۸ کال کې د ۱۵۳۵ ملکي تلفاتو (۶۰۶ مړه او ۹۲۹ ټپيان) لامل شوي ، چې دغه شمېر په ۲۰۱۷ کال کې د رامنځ ته شويو تلفاتو له شمېر سره ورته دی.[123] دوی لا اوس هم نږدې د ټولو هغو ملکي تلفاتو مسوول دي چې د ځمکنيو نښتو په پايله کې دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ، کوم چې نهه سلنه کم شوي. دغه کموالی د افغان هوايي ځواک له خوا د هوايي بريدونو له امله د رامنځ ته شويو تلفاتو له امله چې د ۲۰۱۷ کال په څېر يې په لوړه کچه دوام درلود او ۳۰۴ ملکي تلفات (۱۱۸ مړه او ۱۸۶ ټپيان)[124] يې اړولي ، او د ځانيزو عملياتو په پايله کې د رامنځ ته شويو دېام وړ تلفاتو له امله چې ۱۹۷ سلنه زيات شوي او ۲۷۳ ملکي تلفات (۲۲۲ مړه او ۵۱ ټپيان) يې اړولي ، بېرته زيات شوي.[125]

يوناما د افغان ملي امنيتي ځواکونو له خوا د ځانيزو عملياتو په پايله کې د رامنځ ته شوي لوړ شمېر ملکيانو مړينې (زيات شمېر ژوبلې)- ۸۱ سلنه- له امله په ځانګړي ډول انديښمنه ده ، چې زياتره د هغو پيښو په پايله کې رامنځ ته شوي کومې چې د ملي امنيت رياست ځانګړو ځواکونو ته منسوب شوي.[126] يوناما همدارنګه د دې يادونه کوي چې له ځينو دغو عملياتو سره نږدې هوايي ملاتړ مل وي چې په سيمه کې د موجوده افغان ځواکونو د ملاتړ لپاره ترسره کيږي ، کومو چې د دغو عملياتو په پايله کې رامنځ ته شوي ملکي تلفات زيات کړي.

| مسؤله خوا (د يوناما له خوا منسوب شوي) | وژل شوي ملکي وګړي | ټپي شوي ملکي وګړي | ټولټال ملکي تلفات |
|---|---|---|---|
| افغان سيمه ييز پوليس | ۱۴ | ۲۴ | ۳۸ |
| افغان ملي پوليس | ۳۵ | ۷۰ | ۱۰۵ |
| افغان ملي اردو (د هوايي ځواک په ګډون) | ۲۶۷ | ۶۴۶ | ۹۱۳ |
| د ملي امنيت رياست ځانګړي ځواکونه | ۲۳۴ | ۶۰ | ۲۹۴ |
| نور افغان ملي امنيتي ځواکونه | ۵۶ | ۱۲۹ | ۱۸۵ |

**د ۲۰۱۸ کال د اپريل پر ۲مه نېټې د کندز ولايت په دشتِ ارچي ولسوالۍ کې د افغان هوايي ځواک له خوا هوايي بريدونه**[127]

د ۲۰۱۸ کال د اپريل پر ۲مه شاو خوا ۱۲:۳۰ بجې ، د افغان هوايي ځواک چورلکو د کندز ولايت په دشت ارچي ولسوالۍ کې هوايي عمليات ترسره کړل ، چې يوې مدرسې ته څېرمه په پرانيستې فضا کې د دستار بندۍ د مراسمو پر مهال چيرې چې په سلګونو نارينه او ماشومان راغونډ شوي وو ، ګڼ شمېر راکيټونه او درنې ماشينګنې وکارولې.

د حکومت د معلوماتو سره سم ، هوايي بريدونو د کويټې شورا د غړو او دغه راز د سرې قطعې د غړو په ګډون په سيمه کې د طالبانو مشران په نښه کړي ، څوک چې پر کندز ښار د بريد ترسره کولو لپاره سره راغونډ شوي وو. د ملکي تلفاتو په اړه د جدي تورونو تر راپورته کېدو وروسته ، حکومت د ملکي تلفاتو اوښتل ومنل او ولسمشر د پېښې دڅېړلو لپاره يو کميسون تشکيل کړ. د کندز والي هم څېړونکې ولايتي کميټه جوړه کړه. د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کميسيون سره په همکارۍ ، يوناما د له ۹۰ څخه له زياتو افرادو سره د مرکو ، د ټولنې په کچه پراخه سلا مشورو او د اپريل پر ۲۳مه د لغماني کلي له ساحې د ليدنې په ګډون د پېښې په اړه د حقيقت موندنې څېړنې ترسره کړې.

[123] په ۲۰۱۷ کال کې ، افغان ملي امنيتي ځواکونه د ۱۵۲۳ ملکي تلفاتو (۴۷۱ مړه او ۱۰۵۲ ټپي) لامل شوي.
[124] په ۲۰۱۷ کال کې ، يوناما د افغان هوايي ځواک له خوا د هوايي عملياتو په پايله کې ۳۰۹ ملکي تلفات (۹۹ مړه او ۲۱۰ ټپي) مستند کړي.
[125] په ۲۰۱۷ کال کې ، يوناما د افغان امنيتي ځواکونو له خوا د ځانيزو عملياتو په پايله کې ۹۲ ملکي تلفات (۶۳ مړه او ۲۹ ټپي) مستند کړي.
[126] د خوست ساتنې ځواک په اړه د ورته را ولاړو شويو انديښنو لپاره د دولت پلوه وسله والو ډلو په اړه برخه وګورئ.
[127] دغه پيښه د يوناما د ۲۰۱۸ کال په مئ کې د خپور شوي ځانګړي راپور موضوع وه. پر دغې انټرنيټ پاڼه ډلاس رسي ور دی:
https://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

یوناما د ۲۰۱۸ کال دمئ په میاشت کې ، له لومړنیو موندنو سره یو ځای د دغې پېښې په اړه خپل ځانګړی راپور خپور کړ ، او له هغه وخت راهیسې یې د ۷۹ ماشومانو په ګډون ۹۵ ملکي تلفات (۳۰ مړه او ۶۵ ټپي) تایید کړل. موندنې په ډاګه کوي ، چې د دغې پېښې په اړه له پخوا راهیسې خبرتیاوې خپرې شوې وی او خلکو ته یې په اړه معلومات وو ، او راغونډې شوي خلک عموماً ملکي وګړي وو چې تر ۱۰ کلنې د کم عمر ماشومان په کې هم شامل وو. که چیرې د طالبانو مشر غړي هم پکی موجود وو- خو یوناما یې په اړه په داسې یوه موقف کې نه ده چې هغه په خپلواک ډول تایید کړي- د ملکي وګړو د مراسمو په ضد د غیر دقیقو وسلو کارَونه او په ملکي تلفاتو کې د ماشومانو لوړ شمېر جدي اندېښنې را ولاړوي چې ګواکی دولت احتیاطي تدابیر په پام کې نیسي او د تناسب اصولو ته درناوی کوي که یا. د یوناما په ځانګړي راپور کې ، دغې اداري په ټینګه کړی چې دا په معقول ډول د وړاندوینې وړ و چې د غیر دقیقو وسلو کارَونه پر دیني مراسمو د برید په شکل به بې توپیره مرګونې اغیزې ولري او په لوړ شمېر به د ملکي تلفاتو لامل شي.

د ۲۰۱۸ کال د مئ دمیاشتی پر ۱۶مه ولسمشر غني د برید د قربانیانو له کورنیو بخښنه وغوښته او د سیمې له مشرانو سره یې خپله غمرازي شریکه کړه.[۱۲۸] یوناما قربانیانو ته د اوښتي زیان د جبران لپاره د دغه مهم ګام هرکلی کوي او له حکومت څخه غوښتنه کوي چې د ولسمشر له خوا د تاسیس شوي کمیسیون د راپور موندنې خپرې کړي ، او د خسارې د جبران د تادیې په اړه هغو اندېښنو ته رسیدګي وکړي چې د ټولنې له خوا د لوژیستکي موضوعاتو او ننګونو په اړه راولاړې شوي او د قوماندې له سلسله مراتبو سره د برید د عاملینو په وړاندی حسابدهي یقیني کړي.

## ۲. نړیوال نظامي ځواکونه

په ۲۰۱۸ کال کې ، نړیوال نظامي ځواکونه د ۶۷۴ ملکي تلفاتو (۴۰۶ مړه او ۲۶۸ ټپیان) مسوول دي.[۱۲۹] نړیوالو نظامي ځواکونو ته د ټولټال منسوب شویو ملکي تلفاتو څخه ۹۴ سلنه یې د هوایي عملیاتو له امله رامنځ ته شوي.

د ۲۰۱۸ کال د جنوري دلومړۍ او د دسمبر د ۳۱مې نیټې ترمنځ ، یوناما د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د ترسره شویو هوایي عملیاتو په پایله کې رامنځ ته شوي ۶۳۲ ملکي تلفات (۳۹۳ مړه او ۲۳۹ ټپیان) مستند کړي ، چې شمېر یې په ۲۰۱۷ کال کې د ثبت شویو پیښو او ملکي تلفاتو له شمېر څخه دوه برابر زیات دی.[۱۳۰] دا د هوایي عملیاتو له امله په ټولو ملکي تلفاتو کې د پام وړ زیاتوالي لامل شوی ، په داسې حال کې چې په ۲۰۱۸ کال کې افغان هوایي ځواک ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو شمېر راکم شوی.

څرنګه چې یې یادونه شوې یوناما د هوایي عملیاتو ، په ځانګړي ډول پر ودانیو د بریدونو او نورو هغو بریدونو له امله چې د ځانیزو عملیاتو پر مهال په سیمه کې د افغان عملیاتو د ملاتړ لپاره ترسره شوي ، د ملکي مړینې د دوامدارو لوړو کچو په اړه په ځانګړي ډول اندیښمنه ده.[۱۳۱]

## ۳. دولت پلوه وسله والې ډلې

په ۲۰۱۸ کال کې ، په افغانستان کې دولت پلوه وسله والې ډلې په ۵۳ پیښو کې د ۱۸۰ ملکي تلفاتو (۹۹ مړه او ۸۱ ټپیان) لامل شوي ، او د جګړې پورې د اړوندو ۱۲ ښتونو مسوول هم دي. دا د ۲۰۱۷ کال په پرتله د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا په ملکي تلفاتو کې ۹۴ سلنه زیاتوالي په ښه کوي چې نږدې بیرته هغې اندازې ته رسیږي چې په ۲۰۱۶ کال کې مشاهده شوې.[۱۳۲] د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا ملکي تلفات زیاتره د ځمکنیو نښتو (۴۳ سلنه) او ځانیزو عملیاتو (۲۸ سلنه) پرمهال رامنځ ته شوي ، چې وروستي یی د زیاتې اندیښنې وړ ساحه ده. یوناما په هغو پیښو کې د زیاتوالي په اړه په ځانګړي ډول اندیښمنه ده ، چیرې چې دولت پلوه وسله والو ډلو د ځانیزو عملیاتو پر مهال په قصدي ډول ملکي وګړي په ښه کړي چې زیاتره په قصدي وژنو تمامیږي کوم چې په ۲۰۱۸ کال کې د دغو ډلو له خوا د رامنځ ته شویو ملکي تلفاتو زیاتیدونکې

[۱۲۸] انټرنیټ پاڼه: https://president.gov.af/ps/news/3293291

[۱۲۹] د پرتلې له مخې ، په ۲۰۱۷ کال کې ، نړیوال نظامي ځواکونه د ۲۵۵ ملکي تلفاتو (۱۵۶ مړه او ۹۹ ټپیان) مسوول وو.

[۱۳۰] په ۲۰۱۷ کال کې ، یوناما د نړیوالو نظامي ځواکونو د هوایي عملیاتو ۵۰ پیښې مستندې کړې ، چې د ۲۴۶ ملکي تلفاتو (۱۵۴ مړه او ۹۲ ټپیان) لامل شوې.

[۱۳۱] د هوایي عملیاتو په اړه برخه وګورئ.

[۱۳۲] په ۲۰۱۶ کال کې ، یوناما دولت پلوه وسله والو ډلو ته ۱۸۵ ملکي تلفات (۵۲ مړه او ۱۳۳ ټپي) منسوب کړي.

برخه (۲۱ سلنه) جوړوي. د دغو تلفاتو زیاتره برخه په خوست ، پکتیا او پکتیکا ولایتونو کې د خوست ساتنې ځواک (کی پي ایف) له خوا رامنځ ته شوې (د لا زیاتو معلوماتو لپاره لاندې برخه وګورئ). د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا پاتې ملکي تلفات زیاتره په فاریاب او تخار ولایتونو کې رامنځ ته شوي.

دولت پلوه وسله والې ډلې له معافیت سره مل فعالیت کوي ، چانیز عملیات ترسره کوي چې د شخصي شخړو پر سر په ګډون په قصدي ډول ملکي وګړي وژني او له دولت ضد عناصرو او نورو ناقانونه وسله والو ډلو سره په وسله والو شخړو کې ښکېلیږي. یوناما ۱۱ داسې پېښې مستندې کړي چیرې چې دولت پلوه وسله والو ډلو د ملکي وګړو په ضد قصدي وژنې ترسره کړې چې د ۲۷ ملکي تلفاتو (۲۰ مړه او اوه ټپیان) لامل شوي. د مثال په ډول ، د اپریل پر ۲۴مه په فاریاب ولایت کې د دولت پلوه وسله والې ډلې قوماندان وروسته له هغې یې یو ۷۵ کلن سړی وتښتاوه او تر مرګه یې وواهه کله چې یې زوی (د طالبانو غړی) د یوه قومي مشر او د قوماندان خپلوان په وژنه تورن شو.

دولت پلوه وسله والې ډلې تر افغان قوانینو لاندې د کوم قانوني دلیل پرته او د قوماندې د سلسله مراتب او حسابدهي د یقیني کولو له جوړښتونو او د بشرپالنې او بشري حقونو د نړیوالو قوانینو په ګډون د قانون سرغړونو لپاره د احتساب له موجوده میکانیزمونو څخه د باندې فعالیت کوي. یوناما پر دولت کوم چې د ټولو افغانانو د ژوند ، ازادۍ او امنیت د حقونو په ګډون ، د بشري حقونو د ساتلو لومړنی مسوولیت لري ، غږ کوي چې ټولې دولت پلوه وسله والې ډلې منحل کړي. سربیره پر دې دولت د دغو ډلو له خوا د بشرپالنې د نړیوال قانون د سرغړونو په ګډون ، د بشري حقونو د سرغړونو تورونه وڅیړي او د افغانستان د جزا قانون سره سم د لوړ پوړو کسانو په ګډون د په ګوته شویو شکمنو عاملینو په ضد مناسب ګامونه پورته کړي.

### د خوست ساتنې ځواک

*"موږ لا هم ویده وو چې کله د خوست ساتنې ځواک زموږ د کور عمومي دروازه ماته کړه او موږ ته یې له خپلو کوټو څخه د ژر تر ژره د باندې وتو امر وکړ. کله چې موږ د باندې راووتو ، هغوی موږ ټول ، د خپلو لسو زامنو سره یو ځای وتړلو. هغوی زموږ څخه هیڅ و نه پوښتل او یو ناڅاپه یې زما تر مخ زما یو زوی په ډزو وویشت. زما د زوی تر وژلو وروسته هغوی زموږ د کور څخه د باندې ولاړل او دوه نور بې ګناه کلیوال یې ووژل. زما زوی په نږدې لیسه کې د نهم ټولګي زده کونکی و. هغه ډېر پوه هلک او په خپل ټولګي کې اول نمره و."*[۱۳۳]

--د هغه زوی پلار څوک چې د خوست ولایت د صبري په ولسوالي کې د خوست ساتنې ځواک د تلاشي په عملیاتو کې ووژل شو.

یوناما د خوست ساتنې ځواک د دوامداره راپورونو په اړه چې ، د بشري حقونو سرغړونې سرته رسوي ، په عمدي توګه ملکیان وژني ، په غیرقانوني توګه اشخاص توقیف کوي ، او د تلاشي د عملیاتو او د شپنیو بریدونو په جریان کې ملکي شتمنۍ سوځوي ، اندیښنه لري. د خوست ساتنې ځواک یوه دولت پلوه ملیشه یې ډله ده چې د ۲۰۱۷ کال راهیسې یې د افغانستان په سهیل ختیځ کې ځانګړي عملیات ترسره کړي. دا ډله د منظمې پوځې قوماندې او کنترول د جوړښتونو څخه د باندې کار کوي او په رسمي دولتي تشکیل کې ځای نه لري او د دې ډلې عملیات اکثراً د محلي چارواکو او ملي امنیت د ریاست سره په همغږۍ کې نه ترسره کیږي. که څه هم ، یوناما پوهیږي چې د خوست ساتنې ځواک یو تن قوماندان په خوست ولایت کې په هفته وارو امنیتي ناستو کې چې مشري یې د افغان ملي امنیتي ځواکونو تر څنګ د والي له خوا څخه ترسره کیږي ګډون کوي ، دا د حکومت له خوا د خپلو عملیاتو په اړه د یو څه معلوماتو د شریکولو او ضمني رضایت وړاندیز کوي. یوناما د خوست ساتنې ځواک د عملونو په اړه د ملي امنیت ریاست او امنیت شورا ته د ملکي تلفاتو او د ژوند او فزیکي امنیت او نورو بشري حقونو د سرغړونو د ادعاو په اړه په وار وار اندیښنې مطرح کړې. د افغان ملي امنیتي ځواکونو په دننه او یا په دولتي ملکي اداره کې هیڅ کوم داسې واحد شتون نلري چې اراده ولري او یا دې توان ولري چې هغو پیښو ته په کومو کې چې د خوست ساتنې ځواک ښکېل دی ، د احتساب مسلو ته ځواب ووایي.

---

[۱۳۳] د قرباني شخص د خپلوانو سره د یوناما مرکه ، خوست ولایت ، د ۲۰۱۸ کال د مي ۳۱

## په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د افغانستان کلنۍ راپور: ۲۰۱۸

په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما د خوست ساتنې ځواک د عملیاتو په نتیجه کې ټولټال ۲۲ پیښې په کومو کې چې ۱۰۷ ملکي تلفات (۷۰ مړه او ۳۷ ټپي کیدنې) شامل وو ، مستندې کړې. ځینې قربانیان په عمدي توګه په نښه شوې یا د تلاشیو د عملیاتو پر مهال او همدراز د ځمکنیو نښتو پر مهال په تصادفي ډول متضرره شوې. دا د ۲۰۱۷ کال راهیسې د پام وړ زیاتوالي ښکارندوي کوي چې کله یوناما د خوست ساتنې ځواک ته پنځه ملکي تلفات (۳ مړه او ۲ ټپي کیدنې) منسوب کړل ، دا د دې ډلې له خوا د ملکي ترسره شوې زیان لوړه کچه څرګندوي له هغه راهیسې چې کله یوناما په ۲۰۰۹ کال کې د شخړې سره د تړلو ملکي تلفاتو په سیستماتیک ډول د مستند کولو پیل وکړ.

په تیرو کلونو کې ، یوناما داسې پیښې مستندې کړې په کومو کې چې په خوست کې د خوست ساتنې ځواک ښکېل وو. په ۲۰۱۸ کال کې ، په خوست ولایت کې د ۱۴ پیښو ، په پکتیکا ولایت کې د څلورو پیښو او په پکتیا ولایت کې د څلورو پیښو په درلودلو سره کومو چې ملکي تلفات اړولي ، یوناما د خوست ساتنې ځواک په عملیاتو کې د جغرافیایي پراخوالي او زیاتیدو یادونه کوي. یوناما د خوست ساتنې ځواک له خوا په هغو ولسوالیو کې ، د بیلګې په توګه ، د پکتیا ولایت په زرمت ولسوالي کې چیرې چې دا ځواکونه له دې وړاندې په نښتو کې ښکېل نه وو ، د پیښو په مستند کولو پیل کړی.

د خوست ساتنې ځواک ته منسوب د ملکي تلفاتو ډېری برخه د تلاشي د عملیاتو په ترڅ کې د قصدي ډزو له امله رامنځ ته شوې. د بیلګې په توګه ، د مارچ په ۴ ، د خوست ولایت د نادرشاه کوټ په ولسوالي کې د خوست ساتنې ځواک ۲ غړو په یوه کور کې د تلاشي عملیات ترسره کړل چې په نتیجه کې یې دوه ملکیان (ورونه) ووژل او د هغوی یوه میرمن یې ټپي کړه. هغوی همدارنګه د کورنۍ د غړو تر مخ یوه موټر ته اور واچاوه چیرې چې یوه درې کلنه نجلۍ په ژوندۍ بڼه د اور په لمبو کې وسوځیده. د خوست ساتنې ځواک درې تنه نارینه خپلوان له ځان سره خپلې اډې ته یوووړو او بیا یې په هماغه ورځ په سیمه کې د سلګونو معترضو اوسیدونکو له خوا له اعتراض کولو وروسته راخوشي کړل.

یوناما همدارنګه د خوست ساتنې ځواک د غړو په اړه متعدد راپورونه ترلاسه کړې چې په عمدي توګه ملکي شتمنیو ته زیان اړوي ، کورونو او نقلیه وسیلو ته اور اچوي ، او د پوښتنو ګرویږنو په موخه د څو ورځو لپاره اکثراً په ناقانونه توګه ملکیان توقیف کوي. په ځینو مواردو کې یې کسان خوشي کړې خو په ځینو نورو هغو کې یې له څو ورځو ځنډ وروسته کسان د ملي امنیت ریاست ته په لاس ورکړي. د بیلګې په توګه ، د مارچ په پنځمه ، د خوست په ښار کې د خوست ساتنې ځواک په یوه مدرسه کې د اوسیدو د ځای په شمول چیرې چې ځینې زده کونکي هم اوسیدل د تلاشي عملیات ترسره کړل. هغوی څه نا څه شپږو موټرسایکلونو ته چې د باندې ولاړ وو اور واچاوه او اته تنه زده کونکي یې له ځانه سره یوووړو چې څلور یې یوه ورځ وروسته خوشي شول. پاته څلور تنه په خوست ښار کې یوه توقیف ځای ته چې د ملي امنیت د ریاست له خوا اداره کیده انتقال شول. د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر تر ۳۱ نېټې پورې د دوی موقف نا معلوم پاتې شوی. د ډسمبر په ۳۰، د پکتیا ولایت په زرمت ولسوالي کې د خوست ساتنې ځواک د سولې د ولایتي شورا د غړي په کور د تلاشي عملیات ترسره کړل. د شاهدانو په حواله ، هغوی کور ته دننه شو ، د سولې د شورا غړی او د هغه د کورنۍ بالغ غړي یې د کور د ښځینه وو غړو څخه جلا کړل. د سولې د شورا ولایتي غړی او د هغه د کورنۍ پنځه غړي یې یو یو په ډزو ووژل.[۱۳٤]

د یوې دولت پلوه وسله والې ډلې په توګه چې ، د افغان ملي امنیتي ځواکونو د *تشکیل* څخه د باندې عمل کوي ، د خوست ساتنې ځواک د موجودیت لپاره هیڅ قانوني بنسټ شتون نه لري او د سرغړونو لپاره د هغوی د غړو دوامداره او پراخ معافیت د ډېرې اندیښنې وړ دی. افغان چارواکو د دې ډلې د غړو له خوا د زیات ځواک د کارولو ، قصدي وژنو ، او نورو سرغړونو د ادعاوو په حواله چې تر ډېره بشري حقونه او د افغانانو ژوند متاثره کوي د حساب ورکونې لپاره اړین ګامونه نه دي پورته کړي. یوناما یادونه کوي چې حکومت لومړنی مسئولیت لري چې د افغانستان د ټولو خلکو ژوند ، آزادی او امنیت خوندي کړي. یوناما له حکومت څخه غوښتنه کوي چې یا دې په رسمي توګه د خوست ساتنې ځواک په وسله والو ځواکونو کې شامل کړي ، او غړي یې د نړیوال بشردوستانه قانون او د بشري حقونو د نړیوالو قوانینو د هر ډول احتمالي سرغړونو لپاره مسئول وګڼي

[۱۳٤] د افغان ملي امنیتي ځواکونو او خوست ساتنې ځواک لخوا د ملکي خلکو د عمدي وژنو په اړه لاندې برخه IV.iiiii وګورئ.

او یا دې یاده ډله منحل او غړی یې د هغو عملونو لپاره چې د افغانستان له جنایي قانون سره په ټکر کې دي ، تر تحقیق او عدلي تعقیب لاندې ونیسي.[۱۳۵]

## ب. هغه تاکتیکونه او د نمونو ډولونه چې ملکي کسانو ته زیات زیان اړوي

### ۱. هوایي عملیات

*" د نومبر په ۲۷ ، د ماښام د پیل راهیسي په هوا کې چورلکې ګرځیدې. د شپې په نږدې لسو بجو یوه جیټ الوتکه راورسیده. ما په خپله د الوتکې غږ واورید او هغه مې ولیده. یوې جیټ الوتکې په یوه ملکي کور چیرې چې زما د ورور کورنۍ هم پکې موجوده وه هوایي برید ترسره کړ. موږ و نه شوای کولای چې د پیښې سمدستي وروسته د پیښې ځای ته ورشو خو بیا د پیښې ځای ته د سهار په پنځو بجو ورغلو. ما ولیدل چې ټولې خونې نړیدلي وې او ماشومان او ښځې د ختو لاندې وو. موږ له خاورو څخه د هغوی په را ایستلو پیل وکړ. د وژل شویو کسانو زیاتره برخه ماشومان وو او زیاتره سوځیدلي وو. زما اته کلن وراره ټپي شوی و او هغه مو روغتون ته ولیږداوه. هغه دېر سوځیدلی و. د پیښې په وخت کې ځینې طالبان د سیمې څخه تیریدل چې ښایي نړیوالو پوځي ځواکونو په هغوی برید کړی وي ، خو هغوی ملکي کور بمبارد کړ. سیمه په بشپړه توګه د طالبانو تر کنترول لاندې ده او موږ نشو کولای خپل ګرځنده تلیفونونه وکاروو." [۱۳۶]*

-- د نومبر په ۲۷ ، د هلمند ولایت په ګرمسیر ولسوالي کې د نړیوالو پوځي ځواکونو د هوایي عملیاتو یو تن شاهد او د قربانیانو خپلوان. د برید په نتیجه کې ټولټال ۲۳ ملکیان ووژل شول (د لسو ماشومانو په شمول) او یو ماشوم یې په جدي توګه ټپي کړ. یاده پیښه د دې راپور د لیکلو پر مهال د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا تر څیړنې لاندې وه.

د ۲۰۱۸ په اوږدو کې ، یوناما د دولت پلوه ځواکونو لخوا د هواییهوایي بریدونو له امله د ملکي تلفاتو په برخه کې دوامداره زیاتوالی مستند کړی. دا دوامداره زیاتوالی د ۲۰۱۷ کال[۱۳۷] په پای کې په افغانستان کې د متحده ایالتونو د ځواکونو لخوا د هوایي بریدونو لپاره د ښکیلتیا د قواعدو د نرمولو څخه وروسته را منځ ته شوی ، او له هغه وروسته د هوایي وسلو د راویشتلو په شمېر کې زیاتوالی را منځ ته شوی[۱۳۸]. په ۲۰۱۸ کې ، هوایي عملیاتو هم د ځمکنیو نښتو پرمهال د دولت پلوه ځواکونو له خوا ورته ملکي تلفات اړولي.[۱۳۹]

په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما د ۱۷۳ هوایي عملیاتو څخه چې د دولت پلوه ځواکونو لخوا ترسره شوي ، ۱۰۱۵ ملکي تلفات (۵۳۶ مړه او ۴۷۹ ټپي) ثبت کړي ، دا د ۲۰۱۷ کال راهیسي د دې تاکتیک په پایله کې د ملکي تلفاتو ۶۱ سلنه زیاتوالي ښيي.[۱۴۰] دا له هغه راهیسي چې کله یوناما په ۲۰۰۹ کال کې د ملکي تلفاتو سیستیماتیک مستندول پیل کړل او پر له پسې څلورم کال دی چې د هوایي بریدونو په پایله کې ملکي تلفات لوړ شوي ، دا د ملکي تلفاتو تر ټولو لوړ ارقام دي چې په یوه کال کې مستند شوي. یوناما په خاص ډول په هوایي بریدونو کې د ملکي تلفاتو د شمېرې په اړه اندیښمنه ده ، کومې چې ۸۲ سلنه زیاتوالی موندلی. په ۲۰۱۸ کال کې د هوایي عملیاتو له امله دومره ملکي تلفات را منځ ته شوي لکه یواځې چې په درېو کلونو ، یعني ، ۲۰۱۴، ۲۰۱۵ او ۲۰۱۶ کې را منځ ته شوي. د هوایي عملیاتو په پایله کې ښځې او ماشومان د ټولو ملکي تلفاتو نږدې دوه پر دریمه برخه جوړوي ، چې ۶۴۸ ملکي تلفات (۳۲۰ مړه او ۳۲۸ ټپي) دي.

[۱۳۵] د تلاشي په عملیاتو کې لاندې برخه IV.b.ii وګورئ.
[۱۳۶] په روغتون کې د قرباني شخص د خپلوانو سره د یوناما مرکه ، هلمند ولایت ، ۲۸ نومبر ، ۲۰۱۸.
[۱۳۷] وګورئ https://www.nytimes.com/2017/10/06/world/asia/mattis-afghanistan-rules-of-engagement.html. د بدلون د مخه ، د ښکېلتیا قواعدو د راپور سره سم په هغو حالتونو کې هوایي بریدونه محدود کړي کله چې ټاکل شوې موخې د متحده ایالاتونو د ځواکونو یا افغان ځواکونو ته چې د متحده ایالاتونو د ځواکونو لخوا مشوره ورکول کیده ، نږدې وې.
[۱۳۸] د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر تر ۳۱ پورې ، د متحده ایالتونو د هوایي ځواک مرکزي قوماندانی ، په ۲۰۱۷ کې د ۴۳۶۱ خپرو شویو وسلو په پرتله ، په ۲۰۱۸ کال کې ۷۳۶۲ وسلې خپرې کړې چې دا ارقام په ۲۰۱۶ کال کې ۱۳۳۷ و. پدې احصایو کې هغه وسلې شاملې دي د غوڅ ملاتړ د ماموریت او د ازادي د عملیاتو د دیده بان په ملاتړ کې خپرې شوي. دویمه ضمیمه وګورئ: د شخړې خواوې. https://www.afcent.af.mil/About/Airpower-Summaries/.
[۱۳۹] په ۲۰۱۸ کې ، دولت پلوه ځواکونو د ځمکنیو نښتو په ترڅ کې ۱۰۱۵ ملکي تلفات (۲۸۲ مړه او ۷۳۳ ټپي) را منځ ته کړي. د ځمکنیو نښتو په اړه لاندې پنځم څپرکي برخه وګورئ: د ډزو په تبادله کې راګیر ملکي کسان.
[۱۴۰] په ۲۰۱۷ کې ، یوناما ۶۳۱ ملکي تلفات(۲۹۵ مړه او ۳۳۶ ټپي) مستند کړي چې د دولت پلوه ځواکونو لخوا د هوایي بریدونو څخه را منځ ته شوي دي.







پداسې حال کې چې په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو کې د هوایي بریدونو له امله افغان هوایي ځواک د ډېرو ملکي تلفاتو مسئول و، په ۲۰۱۸ کې په دې بنه کې بدلون راغی او زیاتره قربانیان د نړیوالو پوځي ځواکونو عملیاتو ته منسوب شوي.

د ۲۰۱۷ کال د شپږو سلنو په پرتله، هوایي عملیات په ۲۰۱۸ کال کې په افغانستان کې د ټولو ملکي تلفاتو د نهه سلنې لامل شوي.

یوناما په اندیښنې سره د ۲۰۱۷ کال څخه د هوایي عملیاتو په پایله کې د ماشومانو د تلفاتو په برخه کې د ۸۵ سلنې زیاتوالی په درلودلو سره، د څلورم کال لپاره د ښځو او ماشومانو د تلفاتو په شمېر کې زیاتوالی مستند کړی. د دې تاکتیک له امله د ماشومانو د ټولټال ۴۹۲ تلفاتو (۲۳۶ مړه او ۲۵۶ ژوبل) له جملې څخه، د ۲۰۱۸ کال په مې میاشت کې د کندز په دشت ارچي ولسوالۍ کې افغان هوایي ځواک یواځې د ۷۹ ماشومانو د تلفاتو لامل شوی.[141]

یوناما د افغان هوایي ځواک او نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا د پلان شویو بریدونو په نتیجه کې او همدارز د دولت پلوه ځواکونو له خوا چې کله پر ځمکه د عملیاتو د ترسره کولو غوښتنه کوي، را منځ ته شوي ملکي تلفات مستند کړي.[142] یوناما د هغه زیات ملکي زیان چې د هوایي بریدونو له امله چې کله دولت ضد عناصر د پوځي موخو لپاره[143] ملکي کورونه کاروي، را منځ ته شوی، یادونه کوي، بېلګه یې د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالۍ کې هغه ملکي زیان ده چې په لاندې بېلګه کې تشریح شوې، او همدارز چې کله دولت ضد عناصر د شپې له خوا په خپلو کورونو کې په نښه کیږي چې په نتیجه کې د هغوی د کور ملکي کسان او سیمه کې اوسیدونکي وژل کیږي او ټپي کیږي، لکه څنګه چې د کنړ ولایت د شیګل په ولسوالۍ کې د بل بیګې په واسطه ښودل شوي. د ملکي زیان لوړه کچه چې د دغو هوایي عملیاتو په نتیجه کې را منځ ته کیږي، هغه خطرونه منعکسوي چې په ملکي ګڼ میشتو سیمو یا کورونو یا نورو ملکي جوړښتونو کې د بریدونه د ترسره کولو سره تړلي دي. یوناما د تیرو څو کلونو په ترڅ کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه په خپلو راپورونو او د افغان ملي امنیتي ځواکونو او غوڅ ملاتړ د ماموریت سره په ناستو کې د هوایي بریدونو په پایله کې د ملکي تلفاتو د مخ پر زیاتیدونکي شمېر، د هدف نیولو د معیارونو او د ښکېلتیا څخه د مخه د احتیاطي تدبیرونو د دوامداره بیاکتنې، په خاص ډول په هغه احتمال غور چې ښایي په ورته تعمیرونو او موقعیتونو کې چې دولت ضد عناصر[144] وي د ملکي کسانو د شتون په اړه په دوامداره توګه اندیښنې مطرح کړې. کله چې د هدف نیولو پریکړې په بیړه ترسره شي او د ملکیانو د شتون په تړاو نا کافي معلومات موجود وي، یوناما په ځمکه د موجودو نړیوالو او افغان

[141] د افغان ملي امنیتي ځواکونو په اړه په پورته IV.a.i برخه کې د پیښې په اړه تفصیلي حساب وګورئ.
[142] دا د دولت ضد ځواکونو په وړاندې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ارزول شویو اهدافو په وړاندې بریدونو ته اشاره کوي، چې د ملکي تلفاتو لامل شوي.
[143] د پوځي موخو لپاره د کورونو او نورو ملکي موو د کارولو په اړه پورته دریمې b.v برخې ته مراجعه وکړئ.
[144] د مثال په توګه وګورئ، د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۷ کال کلني راپورونو (مخ ۴۷) ؛ ۲۰۱۶ (۹ پاڼه) او ۲۰۱۵ (.۱۱ پاڼه).

پوځې شریکباڼو ځواکونو د ملاتړ په موخه چې ممکن تر برید لاندې راشي د هوايي بریدونو د ترسره کولو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو په اړه زیاته اندېښنه لري.[١٤٥]




یوناما یادونه کوي چې نړیوال بشر دوستانه قانون د شخړې د ټولو خواوو څخه غوښتنه کوي څو په هره پېښه کې د ملکیانو د ژوند د تصادفي زیان ، د ملکیانو د ټپي کېدو او ملکي موخو ته د زیان اوښتو څخه د مخنیوي لپاره ټول ممکنه تدبیرونه ونیسي.[١٤٦] پدې کې د ځانګړي برید په ځای کې د کافي معلوماتو د راټولولو هغه مسئولیت چې په موثره توګه د ملکي کسانو شتون وارزوي شامل دی. دا کیدای شي په سیمه کې د ملکي ژوند د تحلیل د یوه طرزالعمل او هغې لارې له لارې په کومه کې چې خاص جوړښتونه کارېدلي ، او همدارز د ټولو هوايي بریدونو د بشپړې ، شفافې او باوري بیاکتنې ترسره کول کوم چې د ملکي تلفاتو لامل شوي او د یوه نظر په درلودلو سره چې موخه یې د نیول شویو احتیاطي تدبیرونود اغیزمنتوب ارزول دي ، ترسره شي.[١٤٧] د شخړې خواووې مکلفې دي چې د هوايي عملیاتو د پلانولو او ترسره کولو پر مهال د تناسب اصل ته درناوی وکړي ، او هغه برید چې ممکن ملکیانو ته د زیان اوښتو لامل شي مخه ونیسي یا وځنډوي او کوم چې ښايي د اټکل وړ ریښتیني او مستقیمې پوځې برترې څخه زیاته وي.[١٤٨]

په څمکه کې په عملیاتو کې د ښکېلو ځواکونو د ملاتړ په موخه د ترسره شویو هوايي عملیاتو په حواله ، یوناما پدې ټینګار کوي چې دولت پلوه ځواکونه باید په سیمه او یا د جوړښتونو په دننه کې د کومو له منځ څخه چې دولت ضد عناصرجګړه کوي د ملکي کسانو د شتون احتمال په نظر کې ونیسي چې کله د عملیاتو د پوځې برترې توازن په پام کې نیسي ، چې له امله یې ممکن زیان را منځ ته شي.[١٤٩]

حتی که چیرې د شخړې یوه خوا د نړیوال بشردوستانه قانون په درناوي کې پاته راځي ، نو دا متخاصمې ډلې د نړیوال بشردوستانه قانون په وړاندې له خپلو مسئولیتونه نه را ګرزوي.[١٥٠] د دې مسلې د نه په پام کې نیولو سره چې ، ایا هوايي

---

[١٤٥] پدې کې هغه شرایط شامل دي په کوم کې چې افغان ځواکونه ځمکني یرغلیز عملیات ترسره کوي ، د برید لاندې راځي او د هوايي ملاتړ غوښتنه کوي. وګورئ ، د بیلګې په توګه ، هغه پیښه چې د ۲۰۱۸ کال د جولای په ۱۹ د کندز ولایت په چهاردره ولسوالۍ او همدارنګه د کنړ ولایت د شیګل په ولسوالۍ کې د دسمبر په ۱۳-۱۴ واقع شوې ، چې پدې لاندې برخه کې تشریح شوي.

[١٤٦] ۱۵ قاعده وګورئ ، آی سي آر سي ، سرهصلیب د نړیوالي کمیټې ، عنعنوي نړیوال قانون څېړنه او ۱۳ ماده ، د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ نېټې د جینیوا د کنوانسیون اضافي پروتوکول ، او د غیر نړیوالې وسله والې شخړې په تړاو د قربانیانو ساتنه (دویم پروتوکول) د ۱۹۷۷ کال د جون ۸.

[١٤٧] د مثال په توګه وګورئ ، د پخوانی یوګوسلاویا ، کوپراسکیک قضیې لپاره نړیواله جنايي محکمه ، قضاوت ، پاراګرافونه. ۴۹ ، ۱۳۲ ، ۵۲۶.

[١٤٨] د آی سي آر سي ، سرهصلیب د نړیوالي کمیټې ، د عنعنوي نړیوال قانون د څېړنې ۱۴ قاعده وګورئ.

[١٤٩] یوناما همدارنګه یادونه کوي چې د دولت ضد عناصرو د کورنۍ غړي ، چې کیدای شي ډېری وخت په ودانیو او د استوګنې د جوړښتونو په دننه ځای کي موجود وي ، ملکي کسان ګڼل کیږي او تر هغو چې په مستقیمه توګه په دښمنیو کې برخه وا نه خلي ، د بریدونو په وړاندې خوندي دي.

[١٥٠] د آی سي آر سي ، سرهصلیب د نړیوالي کمیټې ، د عنعنوي نړیوال قانون د څېړنې ۱۴۰ قاعده وګورئ

بریدونه د یو لړ پلان شویو او عمدي عملیاتو په حیث ترسره شوي یا په څمکه د ګواښ په غبرګون کې ترسره شوي د تناسب اصل د پلې کیدو وړ دی. یوناما ټینګار کوي چې په ځینو حالتونو کې ، حتی که د زیان د ټیټې کچې د وسلې له لارې اقدام کیږي ، د ملکي زیان د زمینې په نظر کې نیولو سره چې ممکن ملکي زیان را منځ ته کړي ، ښایي دومره نه وي چې د تناسب اصل پوره کړي.

**د کندز ولایت په چهار دره ولسوالي کې د ۲۰۱۸ کال د جولای د ۱۹ نېټې هوایي برید چې له امله یې ۱۴ ښځې او ماشومان ووژلی شو او یو ماشوم ټپي شو**

*"د دویم هوایي برید وروسته ، دری کورونه له منځه ولاړل او ټول کلی په خاورو او شګو وپوښل شو. موږ د یوه عراده سکواتور په مرسته د مړو د جسدونو په لټولو پیل وکړ. لومړی ، "موږ خپله ښینه ومونده. هغې لا هم خپل دواړه ماشومان په غیږ کې نیولي و. ما کوښښ وکاوه چې هغوی له هغې څخه جلا کړم ، خو دا ډیر ځورونکی کار و. نو ما هغوی یو ځای په یوه کمپله کې سره را غونډ کړل. بیا ، موږ زما خور له خپل ماشوم سره یو ځای ومونده. هغې ساه ورکړې وه خو زما خوریي لا هم ژوندی و. په پای کې ، مو خپل مشران وریرونه وموندل چې ټول مړه وو". [151]*

-- د قربانیانو خپلوان

د ۲۰۱۸ کال د جولای د میاشتې د ۱۹ نېټې په سهار ، نړیوالو پوځي ځواکونو د کندز ولایت د چهار درې په ولسوالي کې د استوګني پر یوه ودانۍ هوایي برید ترسره کړ چې له امله یې ۱۴ ښځې او ماشومان ، ټول د یوې پراخې او لوی کورنۍ غړي ، ووژل شول. یواځې یو ماشوم ، څوک چې په برید کې ټپي شوې و ، ژوندی پاته شو.

دا پیښه د څمکنیو عملیاتو پر مهال د افغان ملي پوځ د کوماندو په شمول ، د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا ، ، چا ته چې په څمکه د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا ملاتړ برابریده ، را منځ ته شوه. د عملیاتو پر مهال ، افغان ځواکونه تر برید لاندې راغلل چې په ځواب کې یې هغوی د درنو وسلو ډزې وکړې او وروسته یې په هغه ودانۍ چې ګمان کیده له هغه ځایه پر دوی ډزې شوې ، د هاوان ډزې وکړې. د ودانۍ په دننه کې د کورنۍ یوه تن غړي د راپور سره سم د سیمه ییزو پولیسو په افغان قومندان چې پیښې ته نږدې و د ودانۍ څخه د باندې د وتلو لپاره په هغه غږ وکړ ، خو مخکې له دې چې په کوم اقدام لاس پورې کړي ، د نړیوالو پوځي ځواکونو یوې جیت الوتکې د ودانۍ په څنده چیرې چې دوی موقعیت درلود ، هوایي برید ترسره کړ. دویم بم په مستقیم ډول په ودانۍ وغرځول شو چې په پشپړه توګه یې له منځه یووړه.

په سیمه کې د پیښې په ځای کې د سیمې اوسیدونکو د افغان ملي پوځ کوماندو لیدلي ، چې له هوایي برید ۲۰ دقیقې وروسته یې له سیمې پښې سپکې کړې. د پیښې ځای ته په لسګونو خلک راغلي ترڅو د پاته شونو د لرې کولو له لارې د ژوندي پاته شویو کسانو په لټون کې مرسته وکړي. د ښځو او ماشومانو ۱۴ جسدونه د خاورو څخه را وایستل شول- ځیني سوځیدلي وو او د ځینو نورو د جسدونو ټوټې ومومندل شوې. یو ماشوم ژوندی پاته شوی.

پداسې حال کې چې په پیل کې افغان چارواکو د ملکي تلفاتو تورونه رد کړل ، د ولسمشر له خوا ټاکل شوي پلاوي د پیښې د سیمې څخه لیدنه وکړه ، د کندز والي د چهار درې ولسوال ته دنده وسپارله څو د پیښې په تړاو معلومات را غونډ کړي. د جولای په ۲۰ ، دفاع وزارت ومنله چې ملکي تلفات رامنځ ته شوي. [152] د متحده ایالاتونو د پوځ ویاند په پیل کې په رسنیو کې د هر ډول ملکي تلفاتو تورونه رد کړل ، په عامه توګه یې ادعا کوله چې په برید کې ټول وژل شوي کسان مشروع پوځي اهداف دي ،خو بیا یې د جولای په ۲۵ وویل چې د پیښې په اړه څیړنې کیږي. [153]. د افغانستان حکومت د قربانیانو خپلوانو ته خسارې تادیه کړې. [154]

[151] د قربانیانو د خپلوانو سره د یوناما تلیفوني مرکه ، کندز ولایت ، ۲۰۱۸ کال د جولای ۲۰

[152] http://mod.gov.af/fa/blog/400192 (دري). طلوع نیوز د جولای په ۱۹ راپور ورکړ چې د دفاع وزارت تصدیق کړی چې په عملیاتو کې له ۱۰ څخه زیات ملکي کسان وژل شوي ، وګورئ https://www.tolonews.com/afghanconfirms-civilian-deaths-kundduz-operation

[153] وګورئ https://rs.nato.int/news-center/press-releases/2018-press-releases/us-forcesafghanistan-investigation-is-underway-after-civilian-casualty-claims.aspx

[154] وګورئ https://www.nytimes.com/2018/07/20/world/asia/afghanistan-us-civilian-casualties.html.

د افغان دولت د موندنو بر عکس ، په افغانستان کې د متحده ایالتونو ځواکونو د اګست په ۱۰ یوه مطبوعاتي اعلامیه خپره کړه بیا یې د ملکي تلفاتو ادعاوې رد کړې. د موندنو په تړاو د افغان دولت د راپورونو په شمول ، د ټولو مناسبو موجوده او اړوندو معلوماتو د ارزولو وروسته هغوی وویل چې دوی داسې باوري معلومات نه دي ترلاسه کړي چې "د ادعاوو تایید" وکړي.[155] د یوناما له خوا د پام وړ مدافع وروسته ، غوڅ ملاتړ ماموریت د پیښې د بیا کتنې پروسه له سره پرانیستله او د متحده ایالتونو د پوځ ۶-۱۵ مقرري لاندې د رسمي تحقیق غوښتنه وکړه چې په نتیجه کې یې د ۱۲ ملکیانو وژل او یوه تن ټپي کیدل تایید کړل.

### ۲. د تلاشي عملیات

یوناما په ۲۰۱۸ کې د افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو ، په ځانګړې توګه د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو او د خوست ساتنې د ځواک لخوا د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو په برخه کې د پام وړ زیاتوالی مستند کړی. د ملکي وګړو د تلفاتو برسیره ، دغو عملیاتو اکثراً شتمنیو ته زیات زیان رسولی ، قربانیانو ته د لړو مرستو په ورکولو سره یې دولت ضد احساسات راپارویې او د ملکي خلکو له خوا یې لاریونونه را منځ ته کړي.

په ۲۰۱۸ کال کې ، یوناما د تلاشي د عملیاتو په پایله کې ۳۵۳ ملکي تلفات (۲۴۸ مړه او ۶۹ ژوبل) مستند کړې چې زیاتره یې د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو او د خوست ساتنې ځواک له خوا را منځ ته شوي.[156]

یوناما د افغان امنیتي ځواکونو له خوا د تلاشي ۶۴ عملیات چې په نتیجه کې یې ۲۳۷ ملکي تلفات (۲۲۲ مړه او ۵۱ ټپي) را منځ ته شوي مستند کړې.[157] دا د ۲۰۱۷ کال په پرتله چې کله یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا (کوم چې لا له وړاندې د ۲۰۱۶ کال راهیسې ۴۰ سلنه زیاتوالی ښیې) د تلاشي په ۲۶ عملیاتو کې ۹۲ ملکي تلفات (۶۳ مړه او ۲۹ ټپي) مستند کړې ، یو څه زیاتوالی ښیې.[158] د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونوله خوا په یواځې سر د تلاشي په عملیاتو ، یا د نړیوالو ځواکونو سره په ګډو عملیاتو کې په ۵۱ پیښو کې د ۲۴۰ ملکي تلفاتو (۲۰۳ مړینو او ۳۷ ټپي) په درلودلو سره د دغو تلفاتو د زیاترې برخې لامل شوې.[159] د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو لخوا د تلاشي ټول عملیات په کومو کې چې ملکي تلفات را منځ ته شوې ، په مرکزي ، ختیځو او جنوبي سیمو کې ترسره شوې. یوناما د خوست ساتنې ځواکونو لخوا د تلاشي د ۱۳ عملیاتو په ترڅ کې د ۵۱ ملکي تلفات (۴۱ مړینې ، ۱۰ ټپي) مستند کړې.[160]

د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو (د ۰۲ قطعي) له خوا د هیواد په ختیځه سیمه کې چیرې چې د طالبانو او داعش په وړاندې جګړو زور واخیست د تلاشي د عملیاتو ډېرې پیښې ترسره شوې. د بیلګې په توګه ، د ملي امنیت د ریاست (۰۲ قطعي) د نړیوالو پوځي ځواکونو په ملاتړ د ۲۰۱۸ کال د سپتمبر په ۱۷ د شپې په شاخوا ۱۱:۳۰ بجو د طالبانو د شکمنو موقیعتونو پر وړاندې د تلاشي عملیات ترسره کړل. یادو ځواکونو د استوګنې د ودانۍ دروازه د چاودیدونکو توکو په واسطه والوزوله او ودانۍ ته ننه شول. د طالبانود غړو سره جګړه ونښته چې په نتیجه کې یې د پنځو ماشومانو په شمول چې عمرونه یې د ۱۰ او ۱۴ کلونو تر منځ و ، ۱۵ تنه ملکي کسان ووژل شول.

---

[155] https://rs.nato.int/news-center/press-releases/2018-press-releases/us-forcesafghanistan-investigation-is-underway-after-civilian-casualty-claims.aspx and https://rs.nato.int/news-center/press-releases/2018-press-releases/us-forcesafghanistan-investigation-refutes-civilian-casualty-claims-in-kunduz.aspx.

[156] دا د ۲۱۰۷ کال سره پرتله کیږي کله چې یوناما د دولت پلوه ځواکونو لخوا د تلاشی د عملیاتو څخه ۹۲ ملکي تلفات (۶۳ مړه او ۲۹ ټپي) ثبت کړي.

[157] د می په ۱۱ ، د ملي امنیت د ځانګړو ځواکونو لخوا د تلاشي د عملیاتو په جریان کې چې ملاتړ یې د نړیوالو پوځي ځواکونو لخوا ترسره شوې ، د نړیوالو ځواکونو لخوا په غلطۍ سره یو ملکي شخص په دې ګمان چې هغه وسلې لري وژل شوی. په دې هکله د نړیوالو ځواکونو لخوا بیاکتنه ترسره شوه. نور ټول ملکي تلفات افغان ملي امنیتي ځواکونو ته منسوب شوي.

[158] د ملي امنیت ۰۱ څانګه په مرکزي سیمو ؛ د ملي امنیت ۰۲ څانګه په ختیځ زون کې ؛ او د ملي امنیت ۰۳ څانګه- په سویل زون کې فعالیت کوي.

[159] یوناما د دغو ۵۱ پیښو له جملې څخه ۱۹ مستندې کړي کومې چې د نړیوالو پوځي ځواکونو لخوا حمایه شوي.

[160] یوناما د خوست ساتندویه ځواک ته د یوې دولت پلوه وسله واله ډلې په سترګه ګوري. د زیاتو معلوماتو لپاره ، لطفا دویمه ضمیمه وګورئ: د *شخړې اصلي خواوې*. د دولت پلوه ځواکونو لخوا د تلاشې د عملیاتو پاتې نور تلفات په لاندې ډول منسوب شوي: ۱۳ ملکي تلفات (۸ مړه او ۵ ټپي) په ګډه مختلفو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي ؛ پنځه ملکي تلفات (۴ مړه او ۱ ټپي) نړیوالو پوځي ځواکونو ته ؛ او ۱۱ ملکي تلفات (۹ وژنې ۲ ټپي) ناپیژاندو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي.

د اکتوبر په ۲۲، د ننګرهار ولایت په سرخ رود ولسوالي کې د ملي امنیت د ریاست (۰۲ قطعې) د نړیوالو پوځې ځواکونو په ملاتړ د طالبانو په وړاندې د تلاشي شپنې عملیات ترسره کړل چې له امله یې ځمکنۍ نښته را منځ ته شوه. د یادې پیښې په پایله کې د ملي امنیت د ریاست د ۰۲ قطعې له خوا پنځه تنه ملکي کسان ووژل شول. د سیمې اوسیدونکو د ولسوالۍ د اداري مرکز تر مخ د قربانیانو د جسدونو په ایښودلو سره په لاریون لاس پورې کړ.[161]

یوناما د تلاشي عملیاتونو له امله، په خاص ډول د ملي امنیت د ریاست د خاصو ځواکونو او د خوست ساتنې ځواک له خوا ملکي وګړو ته د زیان اوښتو په برخه کې د پام وړ زیاتوالي په هکله خورا اندېښمنه ده. د تېپانو د شمېر په پرتله د مرګ ژوبلې لوړ ارقام د دې وړاندیز کوي چې ځواک بې تویږه کارول شوی. د دې سربیره، یوناما د خوست ساتنې ځواک له خوا د بشري سرغړونو، جرم او ملکي شتمنیو ته د زیان اوښتو د پیښو په برخه کې د پام وړ زیاتوالي په اړه اندېښمنه ده. یوناما همداراز د ملي امنیت د ریاست د بیلابیلو خاصو ځواکونواو د خوست ساتنې ځواک له خوا د ډله ییزو نیونو په شمول د ناقانونه او په خپل سرې توقیف په اړه راپورونه ترلاسه کړي.[162] یوناما د دغو نهادونو تر ولکې لاندې په توقیف ځایونو کې د شکنجې او ناوړه چلند په اړه باوري راپورونه ترلاسه کړي.[163]

یوناما خپله اندېښنه په دې ډول بیا تکراروي ښکاري چې د ملي امنیت د ریاست ځانګړو ځواکونه او د خوست ساتنې ځواک په معافیت سره عمل کوي، افغان ملکي وګړي د خسارې د موجوده وسیلو څخه بې برخې کوي. د ولایتي افغان ملي امنیتي ځواکونو یا د ملکي اداري د چارواکو سره د هغوی د عملیاتو په برخه کې د همغږۍ نه شتون دا احتمال را منځ ته کوي چې د موثره عملیاتي پلانونو مخه ډب کړي، ماتیدونکي سیاسي او امنیتي تیاریانې چې ممکن په سیمه ییزه کچه په غیر رسمي ډول موجودې وي، متاثره کړي او د سیمه ییزو چارواکو توان او ورتیا چې کله د ملکي تلفاتو تورونه رامنځ ته کیږي چې په مناسبه توګه پیښې وڅیړي د خنډ سره مخ کړي. ښکاري چې د ملي امنیت د ریاست د ځانګړو ځواکونو او خوست ساتنې ځواک عملیات تر یوې اندازې پورې د نړیوالو پوځې فعالینو سره همغږې وي، دا په دې معنی چې دا عملیات د قوماندې د معمول دولتي سیستم څخه بهر دي کوم چې د دې عملیاتو د روڼوالي او احتساب په اړه جدي اندېښنې مطرح کوي.

**د نړیوالو پوځې ځواکونو په ملاتړ چې له امله یې په لسګونو ملکي تلفات را منځ ته شول د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر په ۱۳-۱۴ د کنړ ولایت د شیګل (شلتن) په ولسوالي کې د ملي امنیت د ریاست د خاصو ځواکونو له خوا د تلاشي عملیات**

د ۲۰۱۸ کال د ډسمبر په ۱۳، د کنړ ولایت د شیګل (شیلتن) په ولسوالي کې په هغه سیمه کې د ملي امنیت د ریاست د خاصو ځواکونو (د ملي امنیت د ریاست د ۰۲ قطعی) له خوا چې ملاتړ یې د نړیوالو پوځې ځواکونو له خوا کیده د طالبانو تر کنترول لاندې په یوه کلي کې د یوې وادۍ په دننه کې د طالبانو د یوه شکمن موقیعیت په وړاندې شپنې عملیات ترسره کړل.

د عملیاتو موخه د یوه لوړ پوړي طالب قوماندان په نښه کول و. کله چې د ملي امنیت د ریاست ۰۲ قطعه د چورلکې په واسطه کلي ته ورسیده، نو هغوی د قوماندان په شمول د ځینو خلکو څخه وغوښتل چې وادۍ ته ورشي. طالبانو بیا د شاخوا کورونو او انګړونو څخه د ملي امنیت د ریاست د ۰۲قطعې په لور په ډزو کولو پیل وکړ چې له امله یې د ډسمبر په ۱۴ تر شاخوا څلورو بجو پورې اوږده جګړه را منځ ته شوه. نړیوال پوځې ځواکونه چې د ملي امنیت د ریاست د ۰۲ قطعې په ملاتړ په ځمکه په هوایي بریدونو کې ښکیل وو د راپورونو سره سم هغه انګړ له کومه ځایه چې پر دوی ډزې کیدې او چیرې چې طالبان موجود و، په نښه کړ. د هوایي بریدونو په تعقیب، د ملي امنیت ریاست ۰۲ قطعې څلور تنه له خپلو کورونو راوایستل او په ډزو یې ووژل.

---

[161] هغه پیښه هم وګورئ چې د کنړ ولایت په شلتن ولسوالۍ کې د ډسمبر په ۱۴ رامنځ ته شوې، ، چې د هوایي عملیاتو په اړه په پورته IV.b.i برخه کې بیان شوې.

[162] د ملي امنیت د ریاست څخه د ترلاسه شوي معلوماتو پر اساس (د یوناما سره د دوسیې په اړه په ۱۳۹۷/۰۹/۰۶ نېټه ۱۲۸۵۵ شمېر غوښتنلیک لیک)، د ملي امنیت ریاست عملیاتي واحدونه او ځانګړي واحدونه خپل توقیف ځایونه نه لري. د نیولو پر مهال، د ملي امنیت د ریاست ځانګړي واحدونه شکمن او تورن کسان په مرکز او ولایتونو کې د ابتدایي تحقیقاتو لپاره د ملي امنیت د ریاست توقیف ځایونه ته راجع کوي.

[163] یوناما د شخړې د اړوندو توقیفیانو سره د چلند په اړه دوه شپږ میاشتنې راپورونه خپروي. د نورو معلوماتو لپاره، وګورئ .https://unama.unmissions.org/treatment-conflict-related-detainees-afghan-custody

یوناما د هوایي برید په پایله کې نړیوالو پوځي ځواکونو ته ۳۱ ملکي تلفات (۱۳ مړه او ۱۸ ټپي) ، چې ۲۸ ښځې او ماشومان پکې شامل دي منسوب کړي. د هوایي برید قربانیان د چاودني په پایله کې د ودانۍ د چتونو/سقفونو د راپریوتو او د چاودیدونکو توکو د پارچو له امله د ټپي کیدو په نتیجه کې د ذهني ټکان او ټپونو له امله متاثره شوي ، یوناما د ملي امنیت د ریاست د ۰۲ قطعي- لخوا د ملکي اشخاصو څلور عمدي وژنې مستندې کړې ، چې ممکن په غیر قانوني وژنو کې وشمېرل شي ، او د نا معلومو حالتونو پر اساس دوه نور ملکي تلفات د ملي امنیت د ریاست د ۰۲ قطعي له خوا رامنځ ته شوي.

د پیښې سملاسي وروسته ، والي یوه هیئت ته ، ولسوالي ته د تلو دنده وسپارله څو د قربانیانو د کورنیو او قومي مشرانو سره لیده کاته وکړي. د غوڅ ملاتړ ماموریت په پیل کې په رسنیو کې د دې مسلې څخه انکار وکړ چې نړیوالو پوځي ځواکونو د پیښې په وخت کې په کنړ کې هوایي بریدونه ترسره کړي دي. بیا وروسته د رسنیو مقاله تازه شوه څو وښیې چې پداسې حال کې چې د غوڅ ملاتړ ماموریت د ملکي خلکو مړیني ردوي ، دا یې ومنله چې ملکي کسان د نړیوالو پوځي ځواکونو په عملیاتو کې ټپیان شوي.[164] د دې راپور تر لیکلو پورې ، پېښه د غوڅ ملاتړ د ماموریت د تلفاتو د اعتباري کولو د تحلیل د ارزونې د بورډ له خوا د بررسي په حال کې وه.

### ۳. د افغان ملي امنیتي ځواکونو۱۶۵ او خوست ساتنې ځواک له خوا د ملکي کسانو عمدي وژنې

یوناما د ډزو په واسطه د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د ملکي کسانو د عمدي وژنو ۱۶ پیښې ، چې په نتیجه کې یې ۲۵ مړیني را منځ ته شوي ، ثبت کړې. د دغو پیښو ډېرې برخه افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوي ، (څلور مړیني) افغان ملي پولیسو او (دوه مړیني) افغان ملي پوځ ، (لس مړیني) د ملي امنیت ریاست خاصو ځواکونو او (دوه مړیني) په ګډه افغان ملي پولیسو او افغان سیمه ییزو پولیسو ته منسوب شوې. په دغو پیښو کې پنځه تنه ملکي کسان ټپیان شوي.

په هغو پیښو کې چې د افغان ملي امنیتي ځواکونو له خوا ملکیان په عمدي توګه وژل شوي ، دا تلفات د جګړه ییزو عملیاتو پر مهال او یا د هغو څخه د باندې د عملیاتو په ترڅ ، او همدارز د تلاشي عملیاتو پر مهال چې کله په ملکیانو د دولت ضد عناصرو د ډلو (ملاتړ یا غړیتوب) سره د ښکېلتیا شک شوی ، چې ممکن په خوندي ډول نیول شوي او توقیف شوې وای ، را منځ ته شوي.

د بیلګې په توګه ، د ۲۰۱۸ کال د مي په ۳۱ ، د پکتیکا ولایت په اومنه ولسوالي کې په یوه څرګنده پیښه کې ، د افغان ملي پولیسو یوه تن غړي یو ۱۲ کلن هلک هله په ډزو وواژه چې کله یې پوستې ته د اوبو له وړلو انکار وکړ. د پیښې وروسته ، افغان سیمه ییزو پولیسو د افغان ملي پولیسو دوه تنه غړي څوک چې په پیښه کې ښکېل و په ډزو ووژل او دریم یې ټپي کړ.[166] د دې راپور تر لیکلو پورې هیڅوک مسؤل نه دی ګڼل شوي.

سربیره پردې ، یوناما د هغو شرایطو په پایله کې په کومو کې چې افغان ملي امنیتي ځواکونو په عمدي توګه په ملکیانو د دې لپاره ډزې کړې چې په ګمان یې دولت ضد عناصر و ، ۱۲ داسې پیښې مستندې کړې چې له امله یې ۱۰ ملکي تلفات را منځ ته شوي.

یوناما همدارنګه د خوست ساتنې ځواک له خوا د عمدي وژنو پنځه پیښې مستندې کړې چې له امله یې ۱۳ ملکي کسان وژل شوي.[167] د بیلګې په توګه ، د ډسمبر په ۳۰ ، د پکتیا ولایت د زرمت په ولسوالي کې ، د خوست ساتنې ځواک د تلاشي د شپنیو عملیاتو پر مهال چې موخه یې د سولې د ولایتي شورا د یوه غړي او قومي مشر په نښه کول و ، شپږ کسان ووژل. هغوی د کور عمومي دروازه په چاودیدونکو توکو والوزوله ، دوه نقلیه وسیلې یې له منځه یووړې او کور ته دننه شول چیرې چې دوی

[164] https://www.reuters.com/article/us-afghanistan-casualties/at-least-20-afghan-civilians-killed-in-airstrike-officials-idUSKBN1OE0LH.

[165] په دې کې هغه کسان شامل نه دي چې ممکن په تصادفي ډول د مشروع پوځې موخو په وړاندې د هدفي وژنو په وړاندې وژل شوې یا ټپي شوې وي

[166] یوناما همدارنګه د دولت پلوه وسله والو ډلو ، د بیلګې په توګه ، د ملي پاڅون د خوځښتونو او د خوست د ساتندویه ځواک له خوا د عمدي وژنو ۱۹ اضافي پیښې مستندې کړې چې په نتیجه کې یې ۲۳ مړه او د تصادفي ټپي کیدو پنځه پیښې را منځ ته شوې. د نورو معلوماتو لپاره د دولت پلوه وسله والو ډلو په اړه پورته برخه IV.a.iii وګورئ.

[167] د دولتي چارواکو سره د هغوی د اړیکو په اړه د نورو جزئیاتو لپاره د خوست د ساتندویه ځواک په اړه په ضمني برخه کې د دولت پلوه وسله والو ډلو لپاره پورته IV.a.iii برخه وګورئ.

د کور نارینه او ښځینه غړي د یو بل څخه جلا کړل. د خوست ساتنې ځواک د سولې د ولایتي شورا غړی د هغه د کورنۍ د پنځو غړو تر څنګ په ډزو وواژه. ښځو او ماشومانو ته یې زیان ونه رساوه. یوه ورځ وروسته، نږدې ۱۰۰ ځایي اوسیدونکو د مړو جسدونه ګردیز ښار ته راوړل، لاریون یې وکړ او د عدالت غوښتنه یې کوله. د دې راپور تر لیکلو پورې، قربانیانو ته هیڅ ډول خساره نه ده ورکړل شوې او د مسئولیت ادعا نه ده شوې.

یوناما بیا تاکید کوي چې د شخړې د هرې ډلې لخوا د هغو کسانو وژنه چې په دښمنیو کې فعاله برخه نه اخلي، د عمومي درېمې مادې پر اساس په هر وخت او هر ځای کې منع ده او ممکن په جنګي جرمونو کې وشمېرل شي. یوناما همدا راز بیا تکراروي چې د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې، د یوه شخص غیرقانوني وژنه د ژوند د حق څخه سرغړونه تشکیلوي. دولتونه باید د قانون د انفاذ د عملیاتو په زمینه کې او د وسله والې شخړې په ترڅ کې د ژوند د حق څخه د ادعا شویو سرغړونو په حالتونو کې د هغوی د فعالینو لخوا د قهریه ځواک د کارولو په اړه تحقیق وکړي[۱۶۸].

---

[۱۶۸]. د غیر قانوني، په خپل سر او سملاسي اعدامونو د موثره مخنیوي او تحقیق لپاره د ملګرو ملتونو د اصولو ۹، ۱۰ او ۱۷ پاراګرافونه وګورئ، کوم چې د اقتصادي او ټولنیزې شورا د ۶۵/ ۱۹۸۶ پریکړه لیک په واسطه د ۱۹۸۹ کال د مي په ۲۴ تصویب شو. د غیرې وسله والې شخړې په اړه د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او عمومي اسامبلې پریکړه لیکونه وګورۍ، د شخړې د ټولو ډلو څخه غوښتنه کوي څو د بشري حقونو د نړیوال قانون درناوی وکړي.

## ۵. ځمکنۍ نښتې: د ډزو په تبادله کې راګیر ملکي کسان

*"د سهار د چای وخت و، چې کله طالبانو د افغان ملي پوځ د اډې په لور چې د کلي څخه د باندې موقعیت لري ډزې پیل کړې. طالبان زموږ د کور ترشا په سړک د کلي په منځ کې و. طالبانو منډه کړه او افغان ملي پوځ د هاوان دوه مرمۍ فیر کړې. د هاوان یوه مرمۍ زموږ په کور ولګیده او زما ۲۰ کلنه لور یې ټپي کړه او بله مرمۍ په کرونده کې ولګیده او یو زوړ سړی یې چې وانبه یې ریبل ټپي کړ. کلیوال د پیښې ځای ته راورسیدل خو وګوري څه پیښ شوي، موږ لا په خبرو لګیا و چې کله د افغان ملي پوځ له خوا بل توغول شوی هاوان زما په کور ولګید او په کور دننه یې ۱۳ کسان ټپیان کړل. ما په افغان ملي پوځ غږ وکړ چې تاسو په ملکي کورونو هاوانونه توغوئ، قومندان چې ډېر جدي ښکاره کیده ماته یې وویل چې، زما ملګري په هغو ډزو ووژل شو، چې ستاسو د کلي څخه پر موږ وشوې، زه څه کولای شم، یواځې کښینه او انتظار باسه."*[169]

-- د ۲۰۱۸ کال د مي ۱۱، د زابل په ولایت کې، د طالبانو او افغان ملي پوځ تر منځ د ځمکنۍ نښتې پر مهال د هاوان د برید قرباني. د دریو ماشومانو په ګډون په برید کې ۱۵ تنه ملکیان ټپیان شول. افغان ملي پوځ د ملکي تلفاتو مسئولیت ومانه.

### الف. کتنه

د دویم پرله پسې کال لپاره، یوناما د شخړې د ښکېلو ډلو تر منځ د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې کموالی مستند کړی. ځمکنیو نښتو د ۲۰۱۸ کال په جریان کې ۳۳۸۲ ملکي تلفات (۸۱۴ مړه او ۲۵۸۶ ټپي) را منځ ته کړي، چې دا د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله درې سلنه کم ملکي تلفات ښیي، چې دا تر یوې اندازې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو په برخه کې د کموالي له امله ده. دا هغه مثبت رجحان دی چې په لومړي ځل په ۲۰۱۷ کال کې ثبت شو، چې کله یوناما د ۲۰۱۶ په پرتله[170] د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو په برخه کې ۲۳ سلنه کموالی مستند کړ. د ځمکنیو نښتو د پیښو شمېر چې له امله یې ملکي تلفات را منځ ته شوي، په ۲۰۱۸ کال کې ۲۴ سلنه کم شوي.[171] لا هم ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو دویم مخکښه لامل پاته شوی، چې د ټولو ملکي تلفاتو د ۳۱ سلنې لامل شوی.[172]

د ۱۳۹۴ ملکي تلفاتو (۲۹۱ مړینو او ۱۱۰۳ ټپي) په درلودلو سره چې دغو ډلو ته منسوب شوي، د ۲۰۱۷ کال[173] په څېر، په ۲۰۱۸ کې دولت ضد عناصر په دوامداره توګه د ځمکنیو نښتو له امله د ډېری ملکي تلفاتو لامل شوي، چې په ۲۰۱۸ کال کې[174] د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو ۴۱ سلنه جوړوي. دولت پلوه ځواکونه د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو (۱۰۱۵ ملکي تلفات (۲۸۲ مړه او ۷۳۳ ټپي)) د ۳۰ سلنې مسؤل وو، دا د۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله د دغه ډول تاکتیک په پایله کې دغو ځواکونو ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو په برخه کې نهه سلنه کموالی ښیي.[175] په داسې حال کې چې نړیوال پوځي ځواکونه د داسې ملکي تلفاتو د دوه سلنې مسؤل و، په ۲۰۱۸ کې د ځمکنیو نښتو پر مهال د دولت پلوه ځواکونو له خوا نږدې ټول ملکي تلفات افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب شوي. د

[169] د شاهد سره د یوناما تلیفوني مرکه ، د غزني ولایت، د ۲۰۱۸ کال د اګست ۱۴.

[170] په ۲۰۱۷ کال کې یوناما د ځمکنیو نښتو څخه ۳۴۸۵ ملکي تلفات (۸۲۴ مړه او ۲۶۶۱ ټپي) ثبت کړي.

[171] په ۲۰۱۷ کال کې د ۱۸۴۶ ځمکنیو پیښو په پرتله، یوناما په ۲۰۱۸ کال کې، د ځمکنیو نښتو ۱۳۹۶ پیښې مستندې کړې چې له امله یې ملکي تلفات رامنځته شوي.

[172] د دویم پرله پسې کال لپاره، د ځمکنیو نښتو په پرتله د تبعیه شویو چاودیدونکو توکو د ګډو تاکتیکونو (د ځانمرګو او پیچلي بریدونو، مقناطیسي، د ریموټ کنترول په واسطه د کنترولیدونکو تبعیه شویو چاودیدونکو توکو او د فشار په ذریعه د تبعیه شویو چاودیدونکو توکو) زیات ملکي تلفات را منځ ته کړي. په پرتله بیز ډول، د ځانمرګو تبعیه شویو چاودیدونکو توکو او د تبعیه شویو چاودیدونکو توکو په پرتله چې له ځانه سره ماشې هم لري (د بیلګې په توګه، میقناطیسي، فشاري آلو او د ریموټ کنترول په واسطه تبعیه شویو چاودیدونکو توکو) ځمکنیو نښتو ډېر ملکي تلفات را منځ ته کړي. د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې د ۲۰۱۶ کال راپور ځمکنۍ نښتې د ملکي تلفاتو اصلي لامل ګڼل کیږي؛ په دې کال کې ځمکنیو نښتو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو په پرتله د ملکي وګړو زیات تلفات رامنځته کړل. د ۲۰۱۶ کال څخه د مخه، د ځمکنیو نښتو په پرتله د تبعیه شویو چاودیدونکو توکو ګډو تاکتیکونو زیات ملکي تلفات اړولي، خو د یوناما راپورونو د تبعیه شویو چاودیدونکو توکو ګډ تاکتیکونه نه دي فهرست کړي.

[173] په ۲۰۱۷ کې، دولت ضد عناصرو د ځمکنیو جګړو پرمهال د دغو ډلو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ ۱۳۶۸ ملکي تلفات (۳۰۶ مړه او ۱۰۶۲ ټپي) را منځ ته کړي. په ۲۰۱۸ کې، یوناما همدارنګه د دولت ضد عناصرو د ډلو ترمنځ د جګړو له امله ۵۰ ملکي تلفات ثبت کړي، د هغه رجحان دوام دی چې په لومړي ځل په ۲۰۱۷ کې مشاهده شوی.

[174] پداسې حال کې چې داعش/ د اسلامي دولت خراسان ولایت د داسې پیښو د دوو سلونو څخه د کمو هغو مسئولیت درلود، د دولت ضد عناصرو له خوا د ځمکنیو نښتو پر مهال را منځ ته شوې ټول ملکي تلفات طالبانو ته منسوب شوي.

[175] په ۲۰۱۷ کال کې، دولت پلوه ځواکونو په ځمکنیو نښتو کې ۱۱۲۱ ملکي تلفات (۲۷۵ مړه او ۸۴۶ ټپیان) رامنځ ته کړي.

دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو تر منځ د ځمکنیو نښتو پر مهال د ډزو د تبادلې له امله را منځ ته شوي ملکي تلفات د کومو لپاره چې د مرتکبینو پېژندل ممکن نه وي ، ۹۱۳ ملکي تلفاتو ته (۲۲۸ مړه او ۶۸۵ ټپي) د دوه سلنې په واسطه را ټيټ شوي چې د ملکي نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو ۲۷ سلنه جوړوي . د ځمکنۍ نښتو په پایله کې ۶۰ ملکي تلفات ( ۱۳ وژل شوي او ۴۷ ټپيا ن) پاکستاني پوځي ځواکونو ته منسوب شوي.




یوناما یادونه کوي چې که څه هم چې د عمومي رجحاناتو سره سم په ۲۰۱۸ کال کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ښځو او ماشومانو په منځ کې ملکي تلفات کم شوي ، خو اندېښنه لري چې داسې عملیاتو په واسطه په بې توپیره توګه اغیزمن شوي ، دا په ګډه د ټولو ملکي تلفاتو ۵۲ سلنه جوړوي چې د دې ډول پېښو له امله را منځ ته شوي.[۱۷۶]

یوناما د ځمکنۍ جګړې له امله د ملکي تلفاتو په برخه کې د ټولیز دوامداره کمښت هرکلی کوي. د تیرو کلونو په څېر ، د ملکي تلفاتو په برخه کې د دوامداره کمښت لپاره فاکتورونو لاندې موارد احتوا کړي: په ملکي ګڼ مېشتو سیمو باندې د دولت ضد عناصرو له خوا د بریدونو په برخه کې نسبي کموالی ، د هغو استثناء وو پرته چې پدې راپور کې یې یادونه شوي ، د شخړې څخه مخکې د ښکېلو ډلو لخوا خبرداری او د هغو سیمو څخه د ملکي کسانو بې ځایه کېدنه چې په منظمه توګه د سختو جګړو له امله اغیزمنې شوي ، او د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د ملکي تلفاتو د کمولو او مخنیوي په اړه د ملي پالیسۍ د پلي کولو په تړاو ترسره شوي اقدامونه.[۱۷۷] په هرصورت ، د اګست په میاشت کې ، په غزني ښار کې د طالبانو برید ، په اکتوبر میاشت کې د پارلماني ټاکنو په تړاو بریدونه هغه مهم عوامل وو چې د نور کموالی مخه یې ونیوله.[۱۷۸]

د ځمکنیو نښتو له امله ملکي تلفاتو د سیمې او ولایت پر اساس توپیر درلود چې په لاندې ډول دي: د ټولیز نسبي کمښت په درلودلو سره په یو شمېر ولایتونو کې د پام وړ کموالی رامنځ ته شوی ، د پام وړ زیاتوالي په درلودلو سره په ځینو ولایتونو کې په ځټ تللی. په ۲۰۱۸ کال کې ، د هیواد په سهیل کې د هلمند ، کندهار او ارزګان په دریو ولایتونو کې د ځمکنیو نښتوله امله د ملکي تلفاتو په برخه کې دوامداره کموالی راغلی.[۱۷۹] ښکاري چې دا د دودیزو ځمکنیو نښتو څخه د دوامداره لیرې له

---

[۱۷۶] په ۲۰۱۷ کې د ۶۲۸ ملکي تلفاتو(۱۴۱ مړه او ۴۸۷ ټپي) په پرتله ، په ۲۰۱۷ کې د ۱۴۳۴ تلفاتو (۳۲۵ مړه او ۱۱۰۹ ټپیانو) په پرتله ، د ماشومانو ۱۱۹۲ تلفات (۲۷۶ مړه او ۹۱۶ ټپي) ، یوناما په ۲۰۱۸ کې د ځمکنیو نښتو له امله ۵۶۷ ښځینه تلفات (۱۳۲ مړه او ۴۴۴ ټپي) ثبت کړي.

[۱۷۷] شپږم څپرکی وګورئ: د ملکي تلفاتو د کمولو پالیسي او میکانیزمونه چې په کې د احتساب لاندې هڅې شامل دي. د ۲۰۱۷ کال رجحانونو د بشپړ تحلیل لپاره چې له امله یې د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې د پام وړ کمښت سره مخ دي ، د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۷ کال د راپور ۲۰-۲۱ پاڼې وګورئ ؛ د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۷ کال راپور ۲۳-۲۴ مخونه وګورئ.

[۱۷۸] په ۲۰۱۷ کال کې د ځمکنیو نښتو له امله په غزني کې د د ۱۴۷ ملکي تلفاتو په پرتله ، د ۲۰۱۸ کال په اګست کې یواځې یوناما په غزني ولایت کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې ټولټال ۱۸۹ تلفات (۵۳ مړه او ۱۳۶ ټپي) ثبت کړې ، د نورو ولایتي مرکزونو په پرتله د کومو په وړاندې چې په ۲۰۱۸ کال کې طالبانو بریدونه ترسره کړې ، فراه ښار د ځمکنیو نښتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې کمښت مستند کړی.

[۱۷۹] د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د یوناما د ۲۰۱۷ کال د کلني راپور ۲۶ پاڼه وګورئ.

امله را منځ ته کېږي ، او کله چې ځمکنۍ نښتې پېښېږي ، نو په کم ګڼ مېشتو سیمو کې پېښېږي (د بېلګې په توګه ، د تلاشي د پوستو په وړاندې بریدونه). [۱۸۰] یوناما همدارنګه د کندز او لغمان په ولایتونو کې د ځمکنیو نښتو له امله د ملکي تلفاتو په برخه کې دوامداره کمښت ثبت کړی ، په دې سره دغه ولایتونه د هغو پنځو ولایتونو په خوا کې راځي چې په ۲۰۱۸ کال کې يې د دغه ډول عملیاتو په پایله کې د ملکي تلفاتو په برخه کې کمښت را منځ ته کړی. [۱۸۱]

د غزني په ولایت کې د ځمکنیو نښتو په نتیجه کې د پام وړ زیاتوالي برسېره ، په تېره بیا د ۲۰۱۸ کال په اګسټ کې د غزني په ښار د طالبانو د برید له امله ، یوناما په بغلان ، بلخ ، کنړ او پکتیا ولایتونو کې زیاتوالی مستند کړی چې په نورو ځایونو کې يې مشاهده شوې کمښتونه په شا وهلي. [۱۸۲]

## ب. د ځمکنیو نښتو پر مهال د ډزو د غیر مستقیمو سیستمونو څخه را منځ ته شوي ملکي تلفات

د جنوري د لومړۍ نېټې څخه د ډسمبر د ۳۱ نېټې تر منځ ، د ډزو د غیر مستقیمو سیستمونو (د هاوانونو ، راکټونو او د ځمکنیو نښتو پر مهال د لاسي بمونو په شمول) د کارولو په نتیجه کې ۲۰۲۲ ملکي تلفات (۴۲۶ مړه او ۱۵۹۶ ټپي) را منځ ته شوي چې دا د ۲۰۱۷ راهیسې ۹ سلنه زیاتوالی ښيي ، او هغه ۲۹ سلنه کمښت په شا وهي کوم چې د ۲۰۱۶ څخه تر ۲۰۱۷ پورې ثبت شوی. دغه منفي جریان د ملکي تلفاتو په برخه کې د هغه ۲۵ سلنې زیاتوالي له امله را منځ ته شوی چې د دولت ضد عناصرو لخوا د توغول شویو هاوانونو ، توغندیو او لاسي بمونو د کارولو په نتیجه کې را منځ ته شوی. یوناما د دغه ډول وسلو د کارولو په اړه په دوامداره توګه اندېښنه څرګندوي ، او کارول يې شاید د ملکي ګڼ مېشتو سیمو په دننه او د باندې کې بې توپیره اغېزې ولري.




د جنوري د لومړۍ څخه د ډسمبر تر ۳۱ پورې ، یوناما ۷۴۷ ملکي تلفات (۱۲۰ مړه او ۶۲۷ ټپي) مستند کړي چې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوي ، او د غیر مستقیمو وسلو د څخه را منځ ته شویو ټولو ملکي تلفاتو ۳۷ سلنه څرګندوي. [۱۸۳] که څه هم چې ، دولت پلوه ځواکونه د غیر مستقیمو وسلو د کارولو له امله د اکثرو ملکي تلفاتو د - ۴۲ سلنې مسئولیت لري ، چې له امله يې ۸۵۴ ملکي تلفات (۲۱۱ مړه او ۶۴۳ ژوبل) را منځ ته شوي ، چې د ۲۰۱۷ کال د مودې سره ورته والی لري. [۱۸٤] د ډزو د غیر مستقیمو سیستمونو څخه را منځ ته شوي پاته ملکي تلفات د دې په خاطر چې د خاص مرتکیب

[۱۸۰] یوناما په دې ټینګار کوي چې د لاسرسي نشتوالی ممکن په هغو سیمو کې چې د لاس رسی وړ دي د ملکي تلفاتو د ارقامو د کم راپور ورکولو لپاره لار هواره کړې ، او په دې توګه ویلای شو چې د ملکي تلفاتو ټول ارقام کم تصدیق شوې ، او د ټولو را منځ ته شویو ملکي تلفاتو استازیتوب نه شي کولای.

[۱۸۱] یوناما په ۲۰۱۸ کال کې په دغو ولایتونو کې د لاندې ځمکنیو نښتو په پایله کې ملکي تلفات ثبت کړي (د تلفاتو د شمېر په تړاو د ۲۰۱۷ سره پرتله شوې): هلمند ۳۴۲ ملکي تلفات ، ۲۷ سلنه کمښت ؛ کندهار ۱۰۵ ملکي تلفات ، ۴۵ سلنه کمښت ؛ کندز ۱۰۹ ملکي تلفات ، ۳۱ سلنه کمښت ؛ لغمان ۱۲۳ ملکي تلفات ، ۵۳ سلنه کمښت ؛ او ارزګان ۱۲۶ ملکي تلفات ، ۶۲ سلنه کمښت.

[۱۸۲] یوناما په ۲۰۱۸ کال کې په دغو ولایتونو کې د ځمکنیو نښتو په پایله کې لاندې ملکي تلفات ثبت کړي (د تلفاتو شمېر په حواله د ۲۰۱۷ سره پرتله شوې): بلخ ۹۹ ملکي تلفات ، ۲۹۶ سلنه زیاتوالي ؛ غزني ۳۸۳ ملکي تلفات ، ۱۶۱ سلنه زیاتوالی ؛ کنړ ۲۰۳ ملکي تلفات ، ۵۱ سلنه زیاتوالی ؛ پکتیا ۱۰۵ ملکي تلفات ، ۶۱ سلنه زیاتوالی ؛ او بغلان ۱۸۸ ملکي تلفات ، ۴۲ سلنه زیاتوالي.

[۱۸۳] یوناما ۷۱۷ ملکي تلفات (۱۱۷ مړه او ۶۰۰ ټپي) طالبانو ته ؛ نهه ملکي تلفات (دوه مړه او اوه ټپي) داعش/ د اسلامي دولت خراسان څانګې ، ۱۹ ملکي تلفات دولت ضد عناصرو او دوه ملکي تلفات (یو مړینه او یوه ټپي کېدنه) په ګډه دولت ضد عناصرو ته منسوب کړې.

[۱۸٤] یوناما افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ۸۳۶ ملکي تلفات (۲۰۲۶ مړه او ۶۳۰ ټپیان) ؛ نړیوالو نظامي ځواکونو ته ۱۷ ملکي تلفات (۵ مړه او ۱۲ ټپي) او یوه ټپي کېدنه ناپېژاندو دولت پلوه ځواکونو ته منسوب کړې.

پیژندل ممکن نه و تر ډېره په ګډه دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوې (۱۸ سلنه) او په اخر کې پاته نږدې دوه نیم سلنه پاکستاني پوځي ځواکونو ته منسوب شوې.

په ۲۱۰۸ کې د ډزو د غیر مستقیمو سیستمونو په نتیجه کې د ملکي تلفاتو په برخه کې زیاتوالی تر ډېره په ټولټاکنو پورې د اړوندو ساحو ، پرسونلو او توکو په وړاندې د عمدي بریدونو له امله را منځ ته شوې ، چې ټولټال ۲۷۰ ملکي تلفات(۳۱ مړه او ۲۳۹ ټپي) يې لرل. د دغو تلفاتو زیاتره برخه - ۲۴۸ – په اکتوبر میاشت کې[185] د راي اچولو په ورځو کې را منځ ته شوې ، چې ۱۳ يې دولت ضد عناصرو ته منسوب شوې.[186] د بېلګې په توګه ، د اکتوبر په ۲۰ ، طالبانو د تخار ولایت په ایکامیش ولسوالي کې د راى ورکولو په یوه مرکز چې په یوه ښوونځي کې يې موقعیت درلود هاوانونه وتوغول. یو هاوان په خپل هدف ، یعني د رايو په مرکز و نه لګید او په یوه کور چې د یوه کیلو متر په واټن کې پروت و ، اصابت وکړ چې په نتیجه کې يې درې نجونې ووژلې شوې ، یو هلک او یوه ښځه ، او یوه نجلۍ او یوه ښځه ټپي کړه. د ټولټاکنو د اړوندو پېښو څخه د باندې په ملکي سیمو کې د مرمیو دوامداره انداختونو هم ملکي تلفات را منځ ته کړې. د اکتوبر په ۶ ، د پکتیا ولایت د وازا ځدراڼ په ولسوالۍ کې ، د خوست ساتنې ځواک غړو د دولت ضد عناصرو سره د جګړې پر مهال د ګڼې ګونې په بازار له هغه وروسته د هاوان یوه مرمۍ وتوغوله چې کله دوي د خپلې نقلیې وسیلې پرېښودلو ته اړ شول. د خوست ساتنې ځواک له خوا د هاوان توغول شوې مرمۍ په ملکي کسانو څوک چې په سیمه کې د پوځې پرېښودل شوې نقلیه وسلې لیدو ته راغلي و ، اصابت وکړ چې په نتیجه کې يې اته هلکان او دوه نارینه ووژل شول او ۱۸ هلکان او اوه نارینه ټپيان کړل.

یوناما یادونه کوي چې په ګڼ مېشتو سیمو کې د هاوانونو ، لاسي بمونو او توغندیو کارول د وسلو د ماهیت له امله ، کوم چې د هدف په لور د لیدو د مستقیمې کرښې پرته په سمه توګه نه رهبري کېږي او توغول کېږي او د اغیزو پراخه ساحه ولري ، د ملکي زیان لوړ خطر را منځ ته کوي. سربیره پر دې ، د ځمکنیو نښتو پر مهال د دغو وسلو کارول هم په بالقوه توګه سیمې په ناچاودو توکو ککړوي ، او په ځانګړې توګه د ماشومانو په منځ کې د نښتو د پای ته رسیدو ډېر وخت وروسته هم د نورو ملکي تلفاتو خطر را منځ ته کوي.[187]

### ج. د ځمکنیو نښتو پر مهال د ډزو په نتیجه کې را منځ ته شوي ملکي تلفات

په ۲۰۱۷ کال کې د مشاهده شویو رجحاناتو څخه په وتو ، چې کله د ډزو له امله د ملکي تلفاتو کچه یو څه لوړه شوه ، د ۱۲۰۶ ثبت شویو ملکي تلفاتو (۳۵۱ مړه او ۸۵۵ ټپي) په درلودلو سره یوناما په ۲۰۱۸ کې د ځمکنیو نښتو پر مهال د ډزو له امله د ملکي تلفاتو په برخه کې د ۲۳ سلنې کموالي یادونه کړې.

د ۶۲۹ ملکي تلفاتو (۱۶۷ مړینو او ۴۶۲ ټپي) په درلودلو سره چې دغې ډلې ته منسوب شوې[188] د دې ډول تلفاتو ډېرې برخه (۵۲ سلنه) دولت ضد عناصرو را منځ ته کړې ، په داسې حال کې چې دولت پلوه ځواکونه د ۱۳ سلنې یا ۱۵۱ ملکي تلفاتو (۶۷ مړینو او ۸۴ ټپي) مسؤولیت لري.[189] د ملکي تلفاتو پاته ۳۵ سلنه کوم خاص مرتکیب ته نه شي منسوبیدلای نو له دې کبله په ګډه دواړو دولت ضد عناصرو او دولت پلوه ځواکونو ته منسوب شوي.

په ۲۰۱۶ او ۲۰۱۷ کلونو کې د ځمکنیو نښتو پر مهال د ډزو له امله د ملکي تلفاتو په برخه کې د پام وړ زیاتوالي وروسته ، یوناما په ۲۰۱۸ کې د ثبت شوې کمښت هرکلي کوي ، خو همدارز یادونه کوي چې د هغه څه څخه کوم چې په ۲۰۱۵ او د هغه نه مخکې کلونو په ترڅ کې ثبت شوي دوه برابره لوړ دي. پداسې حال کې چې ملکیان په سړکونو کې سفر کوي ، کرهڼیز

[185] د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په ۲۰ او ۲۱ ، کله چې د هیواد په ډېری برخو کې ټولټاکنې ترسره شوې ، د اکتوبر په ۲۷ چې کله د کندهار په ولایت کې ټاکنې ترسره شوې ، د یوناما لخوا د ټولټاکنو په تړاو ملکي تلفات ثبت نه شول.

[186] یوناما د ټولټاکنو په تړاو د بریدونو په پایله کې ۱۳ ملکي تلفات (دوه مړه او ۱۱ ټپي) په ګډه دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ته د جګړې پر مهال منسوب کوې دا تلفات د ټولټاکنو په اړوندو ساحو د دولت ضد عناصرو د بریدونو په نتیجه کې را منځ ته شوې.

[187] د جګړو څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په اړه د پورته II.e برخه وګورئ.

[188] یوناما طالبانو ته ۵۹۰ ملکي تلفات (۱۵۷ مړه او ۴۳۳ ټپي) ؛ داعش / د اسلامي دولت خراسان ولایت ته ۱۰ ملکي تلفات (۴ مړینې ، ۶ ټپي) ؛ هغه چې ځان ته داعش/د اسلامي دولت د خراسان ولایت وايي د ملکي تلفاتو دوه پیښې (یوه مړینه او یوه ټپي کیدنه) او څلور نور ټپیان نا پیژانودو دولت ضد عناصرو ته منسوب کړي. پاتې ۲۳ ملکي تلفات د دولت ضد عناصرو له خوا په ګډه رامنځ ته شوي.

[189] یوناما افغان ملي امنیتي ځواکونو ته ۱۱۶ ملکي تلفات(۵۲ مړه او ۶۴ ټپي) ، نړیوالو پوځې ځواکونو ته دوه ملکي ټپيي کیدنې ، دولت پلوه وسله والو ډلو ته ۱۴ ملکي تلفات (۷ مړه او اوه ټپي) بیلابیلو دولت پلوه ځواکونو ته په ګډه ۱۹ ملکي تلفات (اته مړه او ۱۱ ټپي) منسوب کړي.

فعالیتونه ترسره کوي او په ورځنیو کارونو کې برخه اخلي ، هغوی په دوامداره توګه د ځمکنیو نښتو پر مهال اغیزمن کیږي. د بیلګې په توګه ، د نومبر په ۱۰ ، د فراه ولایت په خاک سفید ولسوالي کې ، طالبانو د افغان محلي پولیسو د تلاشي په پوستو برید وکړ ، چې له امله یې د څو ساعتونو لپاره د ډلو ترمنځ جګړه ونښتله. د جګړې په ترځ کې ، د طالبانو د ډزو له امله اته ملکي وګړي ووژل شول (څلور هلکان ، یوه ښځه او درې نارینه) او اته نور کسان چې په سیمه کې یې ژوند کاوه (دوه هلکان ، یوه ښځه او پنځه نارینه ژوبل) ټپیان شول.

## د. د پولې د پورې غاړې شخه ډزې

یوناما په ملکي وګړو باندې د پولې په اوږدو کې د ډزو د اغیزو په اړه اندیښمنه ده. په ۲۰۱۸ کې ، یوناما په افغانستان کې د پاکستان له خوا د ډزو ۲۴ پیښې مستند کړې چې په نتیجه کې یې ۴۹ ملکي تلفات (۱۱ مړه او ۳۸ ټپي) را منځ ته شوي چې د ۲۰۱۷ ورته کچې ته رسیدلي.[190] هغه وسلې چې له پاکستان څخه په سرحدي سیمو کې توغول شوې ، د بیلګې په توګه ، په کنړ کې په دوامداره توګه ملکي کسان متاثره کوي چې له امله یې ملکي ژوند ته زیان اوړي ، شتمنۍ زیانمنوي او څاروي وژني. د بیلګې په توګه ، د اګست په ۲۲ مه د کنړ ولایت په سرکانو ولسوالی کې ، د پاکستاني پوځې ځواکونو له خوا یو توغول شوی هاوان د استوګنې په یوه سیمه اصابت وکړ چې په نتیجه کې یې یو ملکي کور ویجاړ ، یوه نجلۍ او یو شخص ووژل او یوه نجلۍ او یو هلک ټپیان کړل. د اګست په ۶ مه د کنړ ولایت په شیګل (شیلتن) ولسوالی کې ، هغه مهال ۹ څاروي ووژل شول او یو کور ویجاړ شو چې کله په سیمه د پاکستان له خوا په لسګونو هاوانونه راپریوتل.

[190] په ۲۰۱۷ کې یوناما ۵۳ ملکي تلفات (۱۵ مړه او ۳۸ ټپیان) مستند کړي چې د پولې هاخوا د ډزو له کبله رامنځ ته شوي وو. په ۲۰۱۸ کال کې یوناما د پولې د پورې غاړې د ګولۍ د ویشتلو دوه اضافي پیښې داسې مستند کړي چې د ملکي تلفاتو پرته یې ملکي شتمنۍ او څارویو ته زیان اړولی. د راکټونو د ویشتلو پیښو سربیره ، یوناما ۱۱ ملکي تلفات ( دوه مړه او نهه ټپیان) نورو ۸ پیښو ته منسوب کړي چې په هغه کې د پاکستان نظامي ځواکونه د ځمکنې نښتو په نورو ډولونو کې ښکیل دي ، خو په پرتلیزه توګه په ۲۰۱۷ کال کې داسې ورته یوه پیښه رامنځ ته شوې وه چې ۱۰ ملکي تلفات (دوه مړه او اته ټپي) یې اړولي وو.

## ۶. د احتساب د هڅو په شمول د ملکي تلفاتو د کمولو پالیسۍ ګانې او میکانیزمونه

یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو، نړیوالو پوځي ځواکونو او طالبانو له خوا د هغو هڅو تصدیق کړی چې موخه یې د هغه زیان څخه چې شرح یې لاندې راغلې، د ملکي کسانو ساتنه ده. که څه هم چې، د کلونو راهیسې د ملکي تلفاتو کچه خورا لوړه پاته شوې، د ملکي کسانو د موثره خوندیتوب لپاره به ښه وي چې شخړو ته د پای ټکی کیښودل شي.

د ۲۰۱۸ کال د جون د ۱۵-۱۷ نېټو تر منځ په ریښتیا سره د کوچني اختر دوه ورځنۍ اوربند په لومړي ځل په ۱۷ کلونو کې د دښمنیو د پای ته رسیدو لامل شو. په جګړه کې دخیل موقتي دمې افغانانو ته دا غیر معمولي فرصت ور په لاس کړ څو د طالبانو تر کنترول لاندې سیمو ته کومو ته چې یې د کلونو راهیسې سفر نه شوای کولای، ولاړ شي، او د خپلو کورنیو د غړو، ملګرو او پلارنیو کورونو څخه لیدنه وکړي او اړیکې ټینګې کړي. د اور بند له امله د بې شمېره ملکي وګړو ژوند ، کوم چې د وسله والې شخړې له امله ډېر متاثره شوی، وژغوره.

دغه لنډ مهاله اوربند ملکي وګړو ته په داسې یوه وخت کې چې زیاترو یې هم تصور نه شوای کولای د امید هیلې ور وښښلې. یوناما هیله مندې ښکاره کوي چې د شخړې ښکېلې خواووې کولای شي په افغانستان کې یوه تل پاته سوله ییز حل ته ځانونه ورسوي.

### الف. افغان ملي امنیتي ځواکونه او نړیوال پوځي ځواکونه

په افغانستان کې د ملکي وګړو د ساتنې د لومړني مسئول په حیث، دولت او د هیواد امنیتي ځواکونو د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې د ملکي وګړو د کچې د راکمولو په خاطر دوامداره تدبیرونه نیولي دي. په دې تدبیرونو کې د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمولو په اړه د ملي پالیسۍ جاري تطبیق (تیر ځل د ۲۰۱۷ کال په اکتوبر کې تصویب شوی) او د ځینو دودیزو وسلو د پنځم پروتوکول په اړه د ۱۹۸۰ کال تر پروتوکول لاندې (کوم چې د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې پلی شو) د دولت د ژمنو د ترلاسه کولو په هدف او د کار کولو په لور، ممکنه ککړ موقعیتونه معلوم او نښاني کړي، شامل دي. دولت هم د هوایي بریدونو په موخه د هدف نیولو پر پروتوکولونو له سره کتنه وکړه او د هدف نیولو په پروسو کې یې د حقوقي مشاورینو د شمولیت په پلې کولو پیل وکړ.

نړیوال پوځي ځواکونه د افغان ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ کوي، همدارنګه د هغوی سره کار کولو ته دوام ورکوي او د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت د روزنې، مشورې او مرستندویه ماموریت له لارې د هغوی په پالیسۍ ګانو بیا کتنه کوي، ترڅو د ملکي ساتنې په اړه تدبیرونه همغږي او هغو ته مسیر ورکړي. د غوڅ ملاتړ د ماموریت په حواله، د دې ماموریت د ملکي تلفاتو د کمولو ټیم د " روزونکو د روزنې " د جاري پروګرام له لارې د دولت او افغان ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ ته دوام ورکوي څو د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمولو ، راپور ورکولو او څیړنو په برخه کې د ټولیز پوهاوي کچه لوړه کړي او د خسارې د تادیاتو د ورکړې او طبي درملنې د برابرولو له لارې د قربانیانو ملاتړ وکړي. دولت د غوڅ ملاتړ د ماموریت په ملاتړ د ولسمشر د دفتر د معلوماتو د همغږې په مرکز کې د ملکي تلفاتو د معلومولو ډیټابیس جوړ او په ملي کچه د ملکي تلفاتو د معلومولو د خپل ډیټابیس ساتنه کوي. د ملکي تلفاتو دمخنیوي او کمولو د بورډ (CAMB) د لوړې کچې د منظمو ناستو د تنظیمولو او د انفرادي وزارتونو سره[۱۹۱] د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمولو د بورډ د هڅو او د هغو د تعقیب په شمول، د ملي امنیت د شورا په دفتر کې د ملکي تفاتو د معلومولو ټیم د ملي پالیسۍ د پلې کولو په اړه د همغږۍ هڅو ته دوام ورکوي.

د ۲۰۱۸ کال په فبروري کې د جزا د نوي قانون د انفاذ په تعقیب، یوناما د افغانستان د لوی څارنوال له خوا د هغې پریکړې چې موخه یې د جرمونو د یوه وقف شوي نړیوال دفتر را منځ ته کول دي، هرکلی کوي. یاد دفتر به د بشریت، ټول وژنې او جنګي جرمونو په وړاندې د څیړنو او عدلي تعقیب مسئولیت ولري. د لوی څارنوال په غوښتنه، یوناما د دې دفتر د ظرفیت

[۱۹۱] د ملي امنیت شورا دفتر د مارچ په ۱۰، د جولای په ۷ او د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په ۸ نېټه، او د ۲۰۱۹ کال د جنوري په ۱۵ نېټه د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمولو د بورډ غونډې دایرې کړې.

جوړولو په خاطر لکه څنګه چې نوموړی دفتر د ظرفیت جوړولو خپلې چارې پر مخ بیایي د تخنیکي مرستو د برابرولو په برخه کې همکاري ته دوام ورکړي.

د نړیوال پوځې ځواک له خوا د ملکي تلفاتو د کمولو د ترسره شویو اقدامونو په حواله ، د غوڅ ملاتړ ماموریت راپور ورکړی چې ماموریت د نړیوالو پوځې ځواکونو له خوا د را منځ ته شویو ملکي تلفاتو د ادعاوو د بیاکتنې په موخه ځینې بهیرونه له سره تنظیم کړي. پدې بهیرونو کې حقوقي سلاکارانو ته د اجازې ورکول شامل دي څو خپلواکې بیاکتنې ترسره کړي ، او د بیلابیلو منتقیدینو لپاره لار برابره او وروسته د پایلو او ترسره شویو اقدامونو په اړه مشرتابه ته سپارښتنې برابروي. په دې کې همدارنګه په معیاري عملیاتي کړنلارو کې د ملکي تلفاتو د پیښو د راپور ورکولو د بهیر یو ځای کول هم شامل دي ترڅو د غوڅ ملاتړ د ماموریت په کچه د راپور ورکولو یو هراړخیز میکانیزم چمتو کړي. د ملکي تلفاتو د ادعاوو په اړه د افغان شریکبانو او تولنو سره د مستقیمو اړیکو نیولو په خاطر ، غوڅ ملاتړ ماموریت د ملکي تلفاتو د کمولو په ټیم کې یو تن ژبپوه په دنده ګمارلی.[۱۹۲]

د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې ، د هغوی په راپورونو کې د دقت څخه د ډاډ حاصلو په خاطر ، یوناما د افغان ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو پوځې ځواکونو سره په منظم ډول د معلوماتو شریکولو ته دوام ورکړی څو د شخړې د ښکېلو خواوو سره د مخه نیونکو او کمولو د تدبیرونو د نیولو په برخه کې مرسته وکړي ، قربانیانو ته د خسارې د ورکړې په شمول حسابورکونې ته ترویج ورکړي. کورنیو چارو وزارت ، افغان سیمه ییزو پولیسو ، ملي امنیت ریاست او نړیوالو پوځې ځواکونو د ملکي تلفاتو د انفرادي پیښو او اړوندو تحقیقاتو په اړه یوناما ته په منظمه توګه معلومات برابر کړی. د کورنیو چارو وزارت یوناما ته ویلي تولې هغه ۵۶ پیښې یې څېړلې کومې چې د یوناما له خوا راپور شوې ، د دغو پیښو له جملې څخه په اوو هغو کې یوناما موندلی چې افغان ملي پولیسو ۲۲ ملکي تلفات (اوه مړه او ۱۵ ټپي) را منځ ته کړي ، راپور یادونه کوي چې په نهو قضیو کې مرتکبین نیول شوي. د کورنیو چارو په وزارت کې د افغان سیمه ییزو پولیسو ریاست د ۳۲ پیښو له جملې څخه په کومو کې چې افغان سیمه ییز پولیس ښکېل وو د تولټال ۲۱ پیښو په اړه کومې چې د یوناما له خوا مستندې شوې ، غبرګون ښودلی ، همداراز یادونه کوي چې یاد ریاست د پنځو ملکي تلفاتو (څلورو مړینو او یوې ټپي کیدنې) د موندلو تصدیق کوي. د افغان سیمه ییزو پولیسو ریاست ویلي چې د دریو پیښو په حواله یې تر ادعا لاندې مرتکبین نیولي او د افغان ملي پولیسو دوه قوماندانان یې له دندو ګوښه کړي. د ملي امنیت ریاست ویلي چې د یوناما له اړخه تولې شریکې شوې قضیې یې څېړلي او د خاصو ځواکونو په ۳۵ عملیاتو کې د ۱۱۵ ملکي تلفاتو (۸۵ مړه او ۳۰ ټپي کیدنې) د اوښتو تصدیق کوي. د پاته قضیو په حواله ، د ملي امنیت ریاست ویلي چې پیښې یې ارزولي چې په ترڅ کې یې هیڅ ملکي تلفات نه دي اوښتي ، او یا د دولت ضد عناصرو له خوا را منځ ته شوي. د ملي امنیت ریاست د حسابورکونې د ترسره شویو تدبیرونو په اړه څه نه دي ویلي. دفاع وزارت د هغو انفرادي قضیو په اړه کومې چې د یوناما له خوا د یاد وزارت پاملرنې ته وړاندې کړې ، هیڅ ډول غبرګون نه دی ښودلی ، او په ځواب کې یې ویلي چې د ملکي تلفاتو د هر ډول پیښو په اړه یې څېړنې نه دي ترسره کړې.[۱۹۳]

په ۲۰۱۸ کال کې ، د غوڅ ملاتړ ماموریت یوناما ته خبر ورکړ چې د یاد ماموریت د ملکي تلفاتو د اعتبار د ارزونې د بیاکتنې بورډ تولټال ۱۳۰ پیښې ارزولي په کومو کې چې یوناما نړیوالو پوځې ځواکونو[۱۹۴] ته د منسوب شویو ملکي تلفاتو تایید کړي. د معیارونو او میتودولوژۍ په حواله کوم چې په ځانګړې توګه د یوناما[۱۹۵] د هغو څخه توپیر لري ، د دغو تلفاتو له جملې څخه ،

---

[۱۹۲] پداسې حال کې چې غوښتنه په ۲۰۱۸ کې شوې ، د ژبپوه شتون د ۲۰۱۹ تر لومړیو پورې نه ده تایید شوی.

[۱۹۳] د ۲۰۱۹ کال د جنوری په لومړیو کې ، د څېړل شویو قضیو په اړه د یوناما د پوښتنې په هکله دفاع وزارت وویل: "د اردو د لوی درستیز د دفتر د عملیاتي څانګې لخوا د تحقیقاتو د یوه لیک پر بنسټ چې د پوځ د لوی درستیز د دفتر محاکمو او د پوځې څارنوالي ته په دې- ۱۳۹۷/۱۰/۲۴ استول شوې د پوځې قومندانانو او کارکونکو د عدلي تعقیب په اړه و ، د پرسونل د تعقیب په اړه پوځې تعقیب او محکمو ته لیږل شوی. د پوځ لوی درستیز دفتر د پوځې قوماندانانو او پرسونل د تعقیب په اړه د چا د وظیفوي غفلت په پایله کې چې ښایي د افغان ملي پوځ د هوایي بریدونو او ځمکنیو عملیاتو پر مهال د ملکي تلفاتو لامل شوي وي ، پوښتنه کوي ، د ۲۰۱۸ کال په جریان کې د ملکي تلفاتو هیڅ ډول قضیې نه راپور شوې او نه تحقیق شوې. له هغه راهیسې چې د زیان د اوښتو په اړه هیڅ راپور نه دی ورکړل شوی ، نو هیڅ ډول خسارې هم نه دي تادیه شوې. "

[۱۹۴] بورډ همدارنګه د ملکي تلفاتو په اړه د هغو ادعاوو بیا کتنه او ارزونه کړې کوم چې د نورو سرچینو څخه را منځ ته کیږي ، د بیلګې په توګه د پوځې واحدونو د ځاني راپورونو په نتیجه کې چې په عملیاتو کې ښکېل دي ، او د جمهوري ریاست مانۍ راپورونه ، په کومو کې چې د غوڅ ملاتړ د ماموریت په خبره د ۲۰۱۸ په اوږدو کې ښه والی راغلی.

[۱۹۵] د دې راپور په پیل کې د میتودولوژۍ برخه وګورئ. د متحده ایالتونو د دفاع د وزارت په حواله ، د غوڅ ملاتړ د ماموریت د ملکي تلفاتو د مدیریت ټیم د غوڅ ملاتړ د ماموریت له خوا د روزنې ، مشورې او ملاتړ د قوماندې د مرکز (TAACs) ، د ایتلاف د نورو ځواکونو د مرکزونو ، د افغانستان د جمهوري ریاست د معلوماتو د

د ۱۸ پیښو په جریان کې، بورډ د ۸۵ ملکي تلفاتو (۴۷ مړینو او ۳۸ ټپي) تصدیق کړی، په ۲۲ پیښو کې ۱۲۰ ملکي تلفات (۵۹ مړینې ۶۱ ټپیان) نا څرګند او نا معلوم بللي او په ۹۰ پیښو کې یې ټولټال ۴۵۶ ملکي تلفات (۲۹۷ مړه او ۱۵۹ ټپي) رد کړي. په درویشتو پیښو کې په کومو کې چې د ملکي تلفاتو ادعاووې شاملي وې د متحده ایالتونو د پوځ د ۶-۱۵ مقرري لاندې د ژورو تحقیقاتو لپاره زمینه برابره کړه، د کومې په نتیجه کې چې بورډ په یو شمېر پیښو کې ملکي تلفات تصدیق کړل.[196] د غوڅ ملاتړ د ماموریت په حواله، د تصدیق شویو ملکي تلفاتو د ټولټال ۳۶ پیښو له جملې څخه، د ۱۹ پیښو په تړاو د تسلیت په نامه تادیات سپارل شوي او پاته د بیاکتنې په حال کې دي.

یوناما د پیښو په اړه چې له امله یې ملکي تلفات را منځ ته کیږي د غوڅ ملاتړ د ماموریت سره د دوامداره مشارکت پیژندنه او ستاینه کوي او د هغو شدیدو هڅو چې د ۲۰۱۸ کال په پای کې په لار اچول شوې او موخه یې د خاصو قضیو څوابول او په تولیزو رجحاناتو بحث دی تصدیق کوي. یوناما نړیوال پوځې ځواکونه هڅوي ترڅو د ملکي تلفاتو د پیښو چې د یوناما لخوا تصدیق شوې بیاکتنه وکړي څو د زیان د پراخو نمونو په پیژندلو کې مرسته وکړي او داډ ترلاسه کړي چې دا معلومات په عملیاتي کچه په پام کې نیول شوې. یوناما همدارنګه سپارښتنه کوي چې د غوڅ ملاتړ ماموریت د خپلو افغان همکارانو سره چیرته چې دوی ګډ عملیات ترسره کوي د ملکي تلفاتو د پیښو د بیاکتنې لپاره خپلې هڅې پیاوړې کړي؛ د جګړې د موثره زیان د ارزولو په ترسره کولو کې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته نورې روزنې او مرستې برابرې کړي؛ او له اغیزمنو ټولنو سره د خپلو افغان شریکبانو او د غوڅ ملاتړ د ماموریت د ولایتي ملکي مشورتي ټیمونو له لارې، چیرې چې ممکنه وي، د هغو پیښو په اړه چې له امله ملکي تلفات رامنځ ته شوي وي مشارکت او ښکیلتیا زیاته کړي. په دې پوهیدل چې د پوځي عملیاتو د بشپړولو د دریو ورځو په دننه کې چې کله لا تر اوسه د ملکي تلفاتو ادعاووې معلومې یا تصدیق شوې نه وي د عمل وروسته بیاکتنې ترسره شي، یوناما د غوڅ ملاتړ د ماموریت او افغان ملي امنیتي ځواکونو څخه غوښتنه کوي ترڅو د ملکي تلفاتو په اړه د معلوماتو د ارزولو لپاره د معلوماتو د ورکولو یو پرمختللی میکانیزم را منځ ته کړي څو د ملکي تلفاتو د مخنیوي په اړه د راتلونکي عملیاتي پلان جوړونې لپاره معلومات ورکړي.

د دې لپاره چې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د خبرو اترو روڼ او ښکاره ډایلوګ پر مخ بیووړل شي، یوناما په دوامداره توګه د افغان ملي امنیتي ځواکونو څخه غوښتنه کوي څو د هغو پیښو په اړه چې ملکي تلفات رامنځته کوي په منظمه توګه د یوناما سره ښکیل شي. په دې کې د ملکي تلفاتو د پیښو او تعقیبي عملونو په اړه معلومات، د بیلګې په توګه، د پالیسۍ او لارښودونو په اړه د ترلاسه شویو مشقونو تطبیق، د احتساب هڅې چیرته چې تضمین یې شوې وي، د عملیاتو په واسطه د اغیزمن شویو وګړو لپاره د خسارې مناسبه او پر وخت ورکړه شامله ده. یوناما همدارنګه د حکومت او د افغانستان د امنیتي ځواکونو لپاره د غوڅ ملاتړ د ماموریت د سپارښتنې ملاتړ هم کوي څو د قول اردو ګانو په کچه د حقوقي مشاورینو په شمېر کې زیاتوالی راولي څو د پروتوکولونو او پریکړو په نښه کولو کې مرسته وکړي.[197] یوناما پوهیږي چې د دې راپور تر لیکلو پورې د افغان ملي امنیتي ځواکونو د عملیاتي قانون په برخه کې ۱۵ کسان، چې پخوا یواځې دوه کسان وو، ور اضافه شوي ، حقوقي مشاورین به استخدام، وروزل او د قول اردو په بیلابیلو مرکزونو کې په دندو وګمارل شي. یوناما همداراز پوهیږي چې د غوڅ ملاتړ ماموریت د افغان ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ کوي تر څو د په نښه کولو خپله پالیسۍ له سره تازه کړي تر څو د احتیاط، تناسب او توپیر د اصولو په شمول د نړیوال بشر دوستانه قانون د اړوندو اصولو په ښه توګه د څرګندولو لپاره حقوقي زمینې ته ځای ورکړي.

یوناما یادونه کوي چې د جګړې اړخونه باید د ملکي تلفاتو د ادعاګانو په تعقیب تحقیقات ترسره کړي، د تعقیب په شمول چیرې چې اړین وي د حساب ورکونې څخه ډاډ حاصل کړي.[198] د دې پروسې لپاره دا مهمه ده څو د جګړې د زیان په اړه له

---

قوماندې د مرکز څخه د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو د راپورونو څخه په عملیاتي راپور ورکولو تکیه کوي. وګورئ .https://www.sigar.mil/pdf/quarterlyreports/2018-10-30qr-section3-security.pdf

[196] د متحده ایالتونو د پوځ د ۶-۱۵ مقررې لاندې د تایید شویو ملکي تلفاتو ټولټال شمېر یوناما ته څرګنده نده.

[197] دا سپارښتنه د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په ۱۳ نېټه د ملکي تلفاتو د مخنیوي او کمولو د بورډ په غونډه کې د افغانستان حکومت ته وړاندې شوه.

[198] د نړیوال بشردوستانه قانون د سرغړونو د تحقیق په موخه د هغې ژمنې په حواله، چې ممکن په جنګي جرمونو کې ونه شمېرل شي، د آی سي آر سي، سره صلیب د نړیوالي کمیټې، د روم د اساسنامي مقدمه ؛ د آی سي آر سي، سره صلیب د نړیوالي کمیټې، د دودیز نړیوال قانون د څیړنې ۱۵۸ قاعده وګورئ. هغه ژمنه چې موخه یې د نړیوال بشر دوستانه قانون د سرغړونو د ادعاوو څیړل دي او کومه چې په جنګي جرمونو کې و نه شمېرل شي، په څرګند ډول نه ده بیان شوې، کیدای

احتیاط څخه ډکې ارزونې ترسره کړي- د عملیاتي چاپیریال په نظر کې نیولو سره چیرې چې ممکن وي د ملکي تلفاتو د ټولو ادعاوو د موثره بیا کتنې د چارو سره مرسته وکړي. یوناما د عامه بخښنې[۱۹۹] په شمول ، او د نړیوالو ځواکونو له خوا د ترسره شویو هڅو چې موخه یې د ملکي تلفاتو د ادعاوو د بیاکتنې لپاره د خپلو پروسو پیاوړې کول دي ، د افغان ملي امنیتي ځواکونو لخوا د ترسره شویو هڅو تصدیق کوي چې موخه یې د ملکي تلفاتو د کچې چې کله واقع شي معلومول ، تحقیق او تصدیقول دي.

چیرې چې د شخړې خواوې دا ومني چې د هغوی د پوځې عملیاتو له امله ، د دې په نظر کې نیولو پرته چې عملیات په خپله قانوني وه او که نه ملکي تلفات را منځ ته کړي ، ملکي تلفات باید تصدیق شي ، مستند شي ، او د را منځ ته شوې زیان لپاره باید خسارې ورکړل شي. یوناما ټینګار کوي چې هغه طریقه د کومې له لارې چې د متاثره شویو ټولنو سره د شخړو د ښکېلو ډلو له خوا د ملکي تلفاتو تصدیق او هغو ته رسیدګي کیږي ، د ناهیلۍ ، قهر او شخړې د مخنیوي په برخه کې مرسته کوي ، اړین دي. د تیرو عملیاتو د اغیزې په اړه پوځې ځواکونو ته ، د هوایي برید څخه وړاندې د ملکي تلفاتو د شتون په اړه د معلوماتو او تحلیلونو په برخه کې د هر ډول تشو جوتول ، او د راتلونکي عملیاتي پلان جوړونې او تصمیم نیولو په اړه د مرستې لپاره د معلوماتو د یوه موثره میکانیزم برابرول د ملکي تلفاتو د تصدیق لپاره اړین ده. د خسارې د تادیاتو او د اوښتې زیان د منلو په شمول ، کله چې ملکي تلفات پیښیږي ، د دې د نه په نظر کې نیولو سره چې قربانیان د دولت ضد عناصرو تر کنترول لاندې سیمو کې ژوند کوي ، یوناما افغان ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو پوځې ځواکونو ته د تاوان د ورکولو اهمیت ور په یادوي.

د پنځم پروتوکول لاندې افغانستان د دولت د ژمنو په یادولو سره چې موخه یې د احتمالي تخریب لپاره د ناچادو توکو څخه د ممکنه ککړو سیمو معلومول او نښاني کول دي ، او همداراز" د یوه استعمالونکي په حیث څوک چې په ساحه کنترول نه لري "د نړیوالو پوځې ځواکونو ژمنې ، "چیرې چې ممکنه وي د نورو شیانو تر څنګ تخنیکي ، مالي ، مادي یا د بشري سرچینو مرستې برابرې کړي او داړ حاصل کړي چې پاته شونې توکي له منځه تللي" ، یوناما حکومت او نړیوالو پوځې ځواکونو ته د تخنیکي مرستې د چمتو کولو لپاره خپل وړاندیز بیا تکراروي. دا د ملګرو ملتونو د ماین پاکۍ د خدمتونو د دفتر په نقش بیا ټینګار کوي ، کوم چې په افغانستان کې د ماین پاکولو په پراخو بشر دوستانه هڅو کې ښکېل دی.

## ب . طالبان

یوناما یادونه کوي چې په ۲۰۱۸ کال کې د شخړې د هرې ډلې په پرتله طالبانو په دوامداره توګه ډېر ملکي تلفات را منځ ته کړي. د دې پر اساس ، یوناما د ملکي وګړو د ساتنې په شمول د طالبانو سره خپل ډایلوګ ته دوام ورکړی او د ملکي او پوځې موخو تر منځ په توپیر او د ملکي تلفاتو په برخه کې د احتیاط په اړتیا ټینګار کړی.[۲۰۰] یوناما یادونه کوي چې طالبانو د ۲۰۱۹ کال لپاره دا منلی چې دوي به یواځې د پوځې موخو پر وړاندې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي کاروي او همداراز بیا یادونه کوي چې د ملکي تلفاتو د مخنیوي د ریاست لپاره یې یو نوی خو زیات لوړ پوړی کس په دنده ګمارلی.

د هغوی د ساتنې د اړتیاوو په اړه د ټولنو ښکېلتیا ، د خپلو جنګیالیو لپاره د ساتنې په اړه د روزونو برابرول ، د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د کارولو په اړه د اصولو د بیاکتنې په شمول ، طالبانو د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې د ملکي وګړو د ساتنې په موخه د عامه بیانونو خپرولو ته دوام ورکړی ، او همداراز یې وړاندې یوناما ته ویلي چې د کال په اوږدړو کې یې د خپلو عملیاتو پر مهال د ملکي وګړو د ساتنې د ښه کولو په موخه اضافي ګامونه اخیستي.

---

شي نتیجه ګیری یې د دودیز نړیوال بشر دوستانه د سرغړونو څخه وشي څو د نړیوال بشر دوستانه قانون څخه درناوی وشي. د آی سي آر سي ، سره صلیب د نړیوالي کمیټې ، د دودیز نړیوال بشر دوستانه قانون د څیړنې ۱۳۹-۱۴۴ قاعدې وګورۍ: د بشري حقونو د نړیوالو قانون د مسئولیتونو په اړه د تحقیق په موخه د نورو معلوماتو لپاره د قانوني چوکاټ لومړۍ ضمیمه وګورۍ..

[۱۹۹]: د ۲۰۱۸ کال د اپریل په ۲ نېټه ، د کندز ولایت په دشت ارچي ولسوالي کې د هوایي پیښې په اړه د جزیاتو لپاره د دولت پلوه ځواکونو په اړه پورته څلورم څپرکی وګورئ.

[۲۰۰]یوناما د طالبانو له خوا د "ملکي" تعریف په اړه اندیښنې څرګنده کړي. د یوناما ۲۰۱۳ کال د ملکي وګړو د ساتنې د کلنی راپور (۳۲ مخ) او د یوناما د ملکي وګړو د ساتنې ۲۰۱۴ کال د کلني راپور (۷۴) وګورۍ.

د تلیفون د شمېرې او بریښنالیک په شمول د کومو له لارې چې عام وګړي کولای شي د دې نهاد سره خپل شکایتونه شریک کړي ، د طالبانو ویب پاڼه د ملکي تلفاتو د مخنیوي په هدف د خپل ریاست لپاره د اړیکو معلومات برابروي. طالبانو یوناما ته ویلي چې یاد ریاست په منظمه توګه د شکایتونو د ترلاسه کولو په اړه د تعقیب او د احتساب لپاره ګامونه پورته کړي. طالبانو ویلي که چیرې څوک وموندل شی چې د ماشومانو په استخدام[۲۰۱] کې ښکېل وي ، د دندو د له لاسه ورکولو په شمول به د خپلو عملونو لپاره حسابورکونکي وي ، طالبان باور لري چې دې چارې د ماشومانو د استخدام په برخه کې کموالی را منځ ته کړی.[۲۰۲] طالبانو وړاندې ټینګار کړی چې خپلو جنګیالیو ته یې لارښوونه کړې چې "په هغو سیمو کې چیرې چې د ملکي تلفاتو خطر شتون ولري عملیات ترسره نه کړي" ، او وړاندې بیا هم یادونه کوي چې د ملکي تلفاتو د مخنیوي ریاست د پیښو د څېړلو په موخه په هر ولایت کې استازي لري.[۲۰۳] د یوناما له خوا د دوامدارې مدافعې په تعقیب ، طالبانو د ۲۰۱۸ کال په نیمايي موده کې وویل چې په ملکي وګړو د تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د یو شمېر نمونو د کارولو د اغیزو د راکمولو په خاطر یې اصلاح شوي قواعد ځای پر ځای کړي.[۲۰۴] دوی همدارنګه راپور ورکړی چې د دوی "ملکي تلفاتو د مخنیوي ریاست" په ۲۰۱۸ کال کې په افغانستان کې د خپلو ټولو غړو لپاره د ملکي وګړو د ساتنې په اړه روزنې چمتو کړې ، او دا چې دوی د ساتنې د مسلو د اهمیت په اړه د ټولنو د حساسیت په خاطر د ټولنو لپاره پراخ پوهاوی ترسره کړی.[۲۰۵]

د طالبانو په عامه ویب پاڼو کې بیانونو د ملکي وګړو د ساتنې په اړه منظمې ارجاع ګانې احتوا کوي ، همداراز اضافه کوي چې د ملکي کسانو ساتنه د یادې ډلې لپاره د "ماموریت د مهمو اصولو څخه یو هغه ده"او " د اسلام د عمومي اصولو[۲۰۶] سره سم د دوی لپاره د خوندیتوب د برابرولو په هدف"په خپلو ژمنو ټینګار کوي. د ۲۰۱۸ کال په نومبر[۲۰۷] کې په مسکو کې د طالبانو د مشرتابه له خوا د خپرو شویو تبصرو پر مهال او د هغو په ګډون ، او د متحده ایالتونو[۲۰۸] سره د سولې د دوه اړخیزو وروستیو خبرو اترو په تعقیب د بیانونو په شمول ، طالبانو د سولې د خبرو اترو په تړاو چې د ۲۰۱۸ کال په لومړیو کې پیل شوې په خپلو عامه بیانونو کې د ملکي کسانو پر اهمیت ټینګار وکړ.

په خاصه توګه د پارلماني ټاکنو په تړاو ، طالبانو د انتخاباتو په درشل کې د اونیو په ترځ کې یو شمېر عامه بیانونه خپاره کړل. د اکتوبر په ۸ ، د جهاد غږ په ویب پاڼه د عامه بیان له لارې ، "طالبانو خپلو ټولو مجاهدینو ته د امریکایانو تر رهبرۍ لاندې د هیواد په کچه د دې پروسې په وړاندې د جدي خنډونو د را منځ ته کولو لارښونه کړې" او په بیان کې یې وړاندې ویلي هغه کسان چې د امنیت په برابرولو سره د دې پروسې (ټاکنو) د دایرولو د چارو سره مرسته کوي باید هدف وګرځول شي.[۲۰۹] دغې اعلامیې په خاص ډول د طالبانو غړو ته لارښونه کړې چې "د ملکي کسانو د ژوند او د هغوی شتمنیو په تړاو د پراخې او زیاتې پاملرنې څه کار واخلي." د طالبانو د بیلابیلو دریو کمیسیونو له خوا د اکتوبر د میاشتې د څو ورځو په ترځ کې ، د ۱۷ څخه د اکتوبر تر ۱۹ نېټې پورې یو لړ بیانونه خپاره کړې. لکه څنګه چې پدې راپور کې تشریح شوي ، یادې ډلې د ټولټاکنو په ورځ په ټول هیواد کې یو شمېر بریدونه ترسره کړل چې له امله یې سلګونو ملکي تلفات اوښتي.

یوناما د طالبانو له خوا د ملکي وګړو د ښه خوندیتوب په موخه د ترسره شویو اقدامونو په تړاو د اعلامیو تصدیق کوي ، خو د غیر مستقیمو وسلو د سیستمونو او تعبیه شویو چاودیدونکو توکو د کارولو سره او همدارنګه په ملکي سیمو کې د دغو وسلو د

[۲۰۱] یوناما یادونه کوي ، چې د طالبانو له خوا د "ماشوم" تعریف د نړیوال قانون سره په سمون کې نه دی. د دوی د چلند د اصولو (یا لایحې) ۶۹ ماده داسې حکم وړاندې کوي چې په بارکونو یا پوځې اډو کې بې ږیرې ځوانان نشي ساتل کیدای.

[۲۰۲] د طالبانو د سیاسي کمیسیون سره د یوناما غونډه ، د ۲۰۱۹ کال د جنوري ۲۹.

[۲۰۳] وګورئ http://alemarahenglish.com/?p=37316 ، په وروستي ځل د ۲۰۱۹ کال د فبروري ۱۷ ، ورته لاس رسی شوی.

[۲۰۴] د طالبانو د سیاسي کمیسیون سره د یوناما ناسته ، د جولای ۳۱ ، ۲۰۱۸.

[۲۰۵] د طالبانو د سیاسي کمیسیون سره د یوناما غونډه ، د جنوري ۲۸ ، ۲۰۱۹.

[۲۰۶] وګورئ ، د بیلګې په توګه ، http://alemarahenglish.com/?p=34439 ، په وروستي ځل د ۲۰۱۹ کال د فبروري په ۱۷ نېټه ورته لاسرسی شوی.

[۲۰۷] د طالبانو په انګلیسي ژبې ویب پاڼه نسخه وګورئ ، چې په دې پته د لاسرسی وړ ده: http://alemarahenglish.com/?p=37316 په وروستیي ځل د ۲۰۱۹ کال د فبروري په ۱۷ ورته لاسرسی شوی.

[۲۰۸] د طالبانو په انګلیسي ژبې ویب پاڼه بیان وګورئ ، چې په دې پته د لاسرسی وړ ده: http://alemarahenglish.com/?p=40999 په وروستیي ځل د ۲۰۱۹ کال د فبروري په ۱۷ ورته لاسرسی شوی.

[۲۰۹] د جهاد غږ ، "د راتلونکو جعلي ټولټاکنو په اړه د اسلامي امارت اعلامیه" (۸ اکتوبر ۲۰۱۸) ،

په لاندې ډول دې: http://www.alemarah-english.org/?p=35689 ، په وروستي ځل د ۲۰۱۸ کال د اکتوبر په ۲۹ نېټه ورته لاسرسی شوی.

بې توپيره کارولو په اړه چې موخه يې د ملکي خلکو او ملکي هدفونو په نښه کول دي ، د دوامداره انديښنو يادونه کوي. يوناما د طالبانو څخه غوښتنه کوي څو ډاډ حاصل کړي چې د دوي لارښودونه او حکمونه د نړيوال بشر دوستانه قانون سره په سمون کې دي او هغه لارښودونه چې د دوي غړو ته د ملکي تلفاتو د مخنيوي لارښودنه کوی ، پلې کړي ، او هغه ځوک ، ځوک چې د ملکي وګړو او ملکي موخو په وړاندې بې توپيره او عمدي بريدونه ترسره کوي ، مسئول وګڼي او د ‘ملکي’ شخص هغه تعريف کوم چې د نړيوال بشر دوستانه قانون سره په سمون کې دی ، وکاروي.

## لومړۍ ضمیمه: حقوقي چوکاټ

د دغه راپور لپاره کارول شوي حقوقي چوکاټ د بشري حقونو نړیوال قانون، د بشرپالنې نړیوال قانون، نړیوال جنایي قانون او د ملګرو ملتونو د امنیت شورا اړوند پریکړه لیکونه رانغاړي.[۲۱۰]

### د وسله والې جګړې د ښکېلو خواوو حقوقي مسئولیتونه

د یوناما د دریځ له مخې په افغانستان کې وسله واله شخړه یوه غیر نړیواله وسله واله شخړه ده چې د افغانستان د حکومت او د حکومت د پوځي ځواکونو (افغان ملي امنیتي ځواکونو چې ملاتړ یې د نړیوالو ځواکونو له خوا کیږي) او د طالبانو او داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې په ګډون د غیر دولتي مخالفو وسله والو ډلو تر منځ ده. د افغان دولت ګډ ځواکونه (د نړیوالو پوځي ځواکونو په ګډون) په دې راپور او افغانستان کې د"دولت پلوه ځواکونو" په نامه، او غیر دولتي وسله والې مخالفې ډلې په دې راپور او افغانستان کې"د دولت ضد عناصرو" په نامه یادیږي. (د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو د تعریف لپاره د اصطلاحاتو برخه وګورئ).

د وسله والې شخړې ټولې ښکېلې خواوې- افغان وسله وال ځواکونه، نړیوال پوځي ځواکونه او غیر دولتي وسله والې ډلې- تر نړیوال قانون لاندې د ملکي وګړو د ساتنې لپاره څرګند مکلفیتونه لري.

د امنیت شورا ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) پریکړه لیک څرګنده کړې، چې دا د ټولو دولتونو لپاره خورا مهمه ده څو په ښځو او نجونو د بشرپالنې د نړیوال قانون او د بشري حقونو د نړیوال قانون اړوند نورمونه په بشپړ ډول تطبیق کړي، او د وسله والې جګړې پر مهال د جنډر پر بنسټ له تاوتریخوالي څخه د هغوی د ساتلو په موخه ځانګړي اقدامات ترسره کړي.[۲۱۱]

### (۱) د بشر پالنې تر نړیوال قانون لاندې مکلفیتونه

افغانستان د ۱۹۴۹ کال د جینوا د ۴ کنوانسیونونو او الحاقي پروتوکولونو، د ۱۹۷۷کال[۲۱۲] د دویم الحاقي پروتوکول په ګډون، غړی دی کوم چې په غیر نړیواله وسله واله جګړه کې د ملکي کسانو ساتنې ته رسیدګي کوي او د ملکي کسانو او هغو شیانو په وړاندې بریدونه منع کوي کوم چې د ملکي وګړو د ژغورنې لپاره اړین دي.

د ۱۹۴۹ کال د جینوا د ۴ کنوانسیونونو ګډه ۳ ماده د دولتي او غیر دولتي فعالینو په ګډون د شخړې د ښکېلو خواوو لپاره حد اقل معیارونه را منځ ته کوي، کوم چې باید په غیر نړیواله وسله واله شخړه کې مراعت شي. ګډه ۳ ماده په ښکاره توګه د ملکي وګړو په ګډون د هغو خلکو په تړاو چې په شخړو کې فعاله برخه نه اخلي، هر وخت او هر ځای کې د قتل،[۲۱۳] اندامونو پرې کولو، ظالمانه چلند او شکنجې، یرغمل نیولو، او دغه راز په شخصي وقار د تیري، او غیر قانونی اعدامونو په ګډون،[۲۱۴] په ښکاره توګه د ژوند او شخص په ضد تاوتریخوالی منع کوي.

---

[۲۱۰]د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۴۰۵ (۲۰۱۸) پریکړه لیک "[c]ټول باید په ټول افغانستان کې د نړیوال قانون، د بشرپالنې د نړیوال قانون په ګډون، د ټولو بشري حقونو او بنسټیزو ازادي ګانو لپاره بشپړ درناوي او ساتنه وکړي [...]"

[۲۱۱]د ملګرو ملتونو د امنیت شورا اړوند پریکړه لیکونه , S/RES/1325 (2000) . See also S/RES/1820 (2008) , S/RES/1888 (2009) , S/RES/1889 (2009) , S/RES/1960 (2010) , S/RES/2106 (2013) , S/RES/2122 (2013) , and S/RES/2242 (2015) .

[۲۱۲]افغانستان د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۱۰، د ۱۹۷۷ کال دویم الحاقیه پروتوکول لاسلیک کړی. دا پروتوکول د ۲۰۰۹ کال د ډسمبر په ۲۴ نافذ شو.

[۲۱۳]یوناما د ملکي وګړو مړه او ژوبلې د روانې وسله والې جګړې له بیلابیلو تاکتیکونو سره په تړاو کې ثبتوي، دبیلګې په توګه، هدفي وژنې، ځانمرګي او ډله ییزه بریدونه، ځای پرځای شوي چاودیدونکي توکي او نور. په دې ډول، یوناما هم تورونه ثبتوي، چې د روم د اساسنامې له مخې جنګي جرمونه پیژندل شوي او/یا د نړیوال عرفي قانون له مخې د غه ډول جرمونه دي لکه د قتل جنګي جرم د روم د اساسنامې د ۸ (c) (i) او د ملکي کسانو مړینې چې د جنګونو په جریان کې پیښیږي، چې شاید قانوني بڼه ولري. یوناما په جګړه پورې تړلې ملکي مړینې او ژوبلې له هغو څخه بیلوي چې د داخلي جنایي حملو څخه راپیدا کیږي، لکه د یو شخص لهخوا د قتل او یا حملې تر سره کول، چې د وسله والې جګړې له شرایطو څخه بهر وي. هغه پیښې چې دغه اړین اړخ ونه لري، په دې راپور کې نه دي شاملې.

[۲۱۴]د ۱۹۴۹ کال د اګست د ۱۲ مۍ د ژنیو د کنوانسیونونو دریمه عمومي ماده د غیر نړیوال ماهیت د شخړو پر مهال د تطبیق وړ دی. د پوځي شخړې په صورت کې چې نړیوال خصوصیات و نه لري او د کنوانسیونونو د لوړ پوړو ډلو په قلمرو کې واقع کیږي، د شخړې هر طرف باید د لاندې مقرراتو په پلې کولو مکلف وي(۱) هغه کسان، د وسله والو ځواکونو په شمول چې وسلې یې په ځمکه ایښیي او یا هغه کسان چې ناروغ، ټپي او توقیف شوي وي، د هر ډول نورو شرایطو په پام کې نیولو پرته لکه نژاد، رنګ، مذهب، عقیدې، جنسیت، زیږون یا شتمنې چې په شخړو کې فعاله ونډه نه اخلی د هغوی سره په ټولو حالتونو کې انساني چلند وشي. په دې معنی، ټول عملونه منع دي او د پورته یادو شویو کسانو په حواله هر وخت او هر ځای ممنوع دی: (الف) د ژوند او شخص په وړاندې خشونت، په ځانګړې توګه د

د ۱۹۴۹ کال د جینوا د څلورو کنوانسیونونو او یو شمېر نورو قواعدو محتویات له هغو سره ورته دي چې د هغوی په الحاقي پرتوکولونو کې موندل شوي ، په زیاته پیمانه د عرفي نړیوال قانون برخه جوړوي.[۲۱۵] د ترټولو اړوندو اصولو ترمنځ هغه چې د جګړې پر ښکېلو خواوو د افغانستان په غیر نړیواله جګړه کې د شخړو په ترسره کولو کې تطبیق کیږي په لاندې ډول دي:

- تفکیک: ملکي وګړي او همدارنګه انفرادي ملکي کسان نه باید د برید هدف وي او د شخړې ټولې خواوې باید هر وخت د ملکیانو او جنګیالیو تر منځ توپیر وکړي.[۲۱۶]

- تناسب: "هر هغه برید منع دی ، چې ښایي د ملکي وګړو د مړینې ، ټپي کیدنې ، د ملکي شیانو د ضمني زیان یا د دغو دواړو د داسې اتفاقي زیان لامل شي ، چې له هغې حقیقي او مخامخ نظامي بریا څخه یې اندازه زیاته وي ، د کومې چې تمه کیدای شي.[۲۱۷]

- په بریدونو کې احتیاط: "[...] ملکي کسان باید د پوځي عملیاتو څخه د را ولاړو شویو خطرونو په وړاندې د ټولیزې ساتنې څخه برخمن وي."[۲۱۸] د ملکي عملیاتو د ترسره کولو په برخه کې ، باید د ملکي وګړو ، ملکیانو او ملکي شیانو د ژغورلو په موخه پرله پسې پاملرنه وشي"او باید ټول اړین احتیاطي تدبیرونه چې موخه یې په هر ډول پېښه کې د ملکي کسانو د ژوند ، د ملکي کسانو د ټپي کیدو او د ملکي کسانو او د ملکي شیانو د ضمني زیان څخه مخنیوي او کمول وي ، ونیول شي.[۲۱۹]

د سرتیرو ورکوونکو ټول هیوادونه چې په افغانستان کې د نړیوالو نظامي ځواکونو په چوکاټ کې مرسته کوي د ۱۹۴۹ کال د جینوا د ۴ کنوانسیونونو لاسلیک کوونکي دي. که څه هم چې د سرتیرو ورکوونکي ټول هیوادونه د ۱۹۷۷ کال د دویم الحاقي پرتوکول لاسلیک کوونکي نه دي ، خو دا هیوادونه د بشرپالنې د نړیوال عرفي قانون د اړوندو مقرراتو په اساس چې پر غیر نړیوالې وسله والې جګړې د پلي کیدو وړ دي ، په رعایت کولو لا هم مکلف دي.

**(۲) د بشري حقونو تر نړیوال قانون لاندې مکلفیتونه**

د بشري حقونو نړیوال قانون د سولې او د وسله والې شخړې پر مهال ، د بشرپالنې د نړیوال قانون سره یو ځای په متمم ډول د پلي کیدو وړ دي.

افغانستان د بشري حقونو[۲۲۰] ، د مدني او سیاسي حقونو په اړه د نړیوال میثاق په شمول یو لړ نړیوالې معاهدې لاسلیک کړې دي ، کومې چې حکومت پر دې مکلف کوي ، څو د خپل قلمرو په دننه او یا د هیواد د واکمنۍ لاندې سیمو په دننه کې د ټولو کسانو لپاره اساسي بشري حقونه خوندي کړي.

ټولو ډولونو قتل لکه د اندامونو پرې کول ، بی رحمه سلوک او شکنجه ، (ب) یرغمل ، (ج) په شخصي وقار باندې تیری ، په ځانګړې توګه تحقیرونکی او ناوړه سلوک ، (د) ، د حکمونو صادرول او د منظمې تشکیل شوي محکمې لخوا د مخکنې قضاوت د حکم پرته د اعدامونو ترسره کول ، د ټولو قضایې ضمانتونو د عهدې نه وتل کوم چې د متمدینو خلکو لخوا د لازم الاجرا په حیث پیژندل شوي.

[۲۱۵] د نړیوال سره صلیب د کمیټې لهخوا پر نړیوال عرفي قانون څیړنه.

[۲۱۶] الحاقي دویم پروتوکول ، ۱۳(۲) ماده د نړیوال سره صلیب د کمیټې لهخوا پر نړیوال عرفي قانون څیړنه ۱ قاعده. همدا راز وګورئ د نړیوال سره صلیب د کمیټې لهخوا پر نړیوال عرفي قانون څیړنه ۱ - ۲۴ قاعدې

[۲۱۷] د نړیوال سره صلیب د کمیټې لهخوا پر نړیوال عرفي قانون څیړنه ۱۴ قاعده.

[۲۱۸] دویم الحاقي پروتوکول ، ۱۳(۱) ماده

[۲۱۹] د سره صلیب د نړیوالې کمیټې له خوا پر بشر پالنې عرفي نړیوال قانون څیړنه ، ۱۵ - ۲۱ قاعدې.

[۲۲۰] افغانستان د بشري حقونو لاندني میثاقونه او کنوانسیونونه لاسلیک کړی دي: د مدني او سیاسي حقونو په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اپریل په ۲۴ مه تصویب شو ، د اقتصادي ، ټولنیزو او کلتوري حقونو په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اپریل په ۲۴ مه تصویب شو ، د نژادي تبعیض د ټولو بڼو د مخنیوي په هکله نړیوال میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د اګسټ په ۵ مه تصویب شو ، د ښځو په وړاندې د توپیر د ټولو بڼو د مخنیوي په هکله میثاق چې د ۱۹۸۳ کال د مارچ په ۵ مه تصویب شو ، د شکنجې او نورو بی رحمانه ، غیر انساني ، ناوړه سلوک او سزا په وړاندې کنوانسیون چې د ۱۹۸۷ کال د جون په ۲۶ مه تصویب شو ، د ماشوم د حقونو په هکله کنوانسیون چې د ۱۹۹۴ د اپریل په ۲۷ مه تصویب شو ، د ماشومانو د سوداګری ، د ماشومانو فاحشه ګری او د ماشومانو د هزره نګاری په هکله د ماشومانو د حقونو د کنوانسیون اختیاري پروتوکول چې د ۲۰۰۲ کال د اکتوبر په ۱۹ تصویب شو ، په وسله واله شخړه کې د ماشومانو د ښکېلتیا په هکله د ماشوم د حقونو په اړه د کنوانسیون اختیاري پروتوکول چې د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر په ۲۴تصویب شو او د معیوبو کسانو د حقونو په هکله کنوانسیون ، د ۲۰۱۲ کال د سپتمبر

که څه هم غیر دولتي فعالین د وسله والو ډلو په ګډون د بشري حقونو د نړیوالو تړونونو غړي کیدای نه شي ، خو د نړیوال عرفي قانون له مخې دوي له دې مستثنی نه دي چې د بشري حقونو مکلفیتونو ته پابنده واوسي. نادولتي فعالین په زیاته پیمانه فکر کیږي چې د ځینو ټاکلو نړیوالو بشري حقونو په درناوي کولو مکلف وي ، خصوصاً د طالبانو په څېر هغه ډلې چې په عملي ډول ځینې سیمې تر خپلې ولکې لاندې لري.[۲۲۱]

د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې ، دولتونه باید د خپلو منسوبینو[۲۲۲] له خوا په خاص ډول د هغو ارګانونو له خوا چې د قانون په انفاذ بوخت دي ، د وژونکي ځواک کارول وڅیړي. دا دنده د احتمالي نه رعایتولو د مسئولیت سره یو ځای د ژوند د حق د ساتنې[۲۲۳] د مکلفیت څخه سرچینه اخلي . د دې لپاره چې د هیواد څېړنې اغیزمنې وي ، څیړنې باید تر ممکنه حده چټکې ، بشپړې ، بې طرفه ، خپلواکې[۲۲۴] وي او د عامه پلټنې لپاره پرانیستې وي.[۲۲۵] د څېړنو په موخه د دولت مکلفیت د قانون د اجراء په ټولو زمینو کې د هغو زمینو په ګډون چې د وسله والو شخړو پر مهال را ولاړیږي ، د تطبیق وړ دي.[۲۲۶]

## (۳) د نړیوال جنایي قانون لاندې مسئولیتونه

افغانستان د خپل قلمرو په دننه کې د نړیوالو جرمونو لکه د جنګي جنایتونو ، د بشریت په وړاندې د جرمونه او نسل وژنې د څیړلو او تعقیب په هکله لومړی مسئولیت لري.[۲۲۷] افغانستان په ۲۰۰۳ کال کې د روم د اساسنامې د نړیوالې جنایې محکمې غړیتوب تر لاسه کړ. د دې په پایله کې ، که چیرې افغانستان په خپل قلمرو کې تر یوه حده نه شي کولای او یا نه غواړي د نړیوالو جرمونو په اړه خپل صلاحیت وکاروي ، نړیواله جنایي محمکه کولای شي پر افغانستان خپل صلاحیت وکاروي.[۲۲۸]

د نړیوالې جنایي محکمې د محاکمې څخه وړاندې د اسنادو او مدارکو د بررسي هیئت په اوس حال کې د څارنوال د دفتر له خوا د یوې غوښتنې د بررسي کولو په حال کې دی چې موخه یې د هغو جرمونو چې په کافي اندازه سنګین وي د ادعا سره سم د ۲۰۰۳ کال د مۍ د میاشتې د لومړۍ نېټې راهیسې د محکمې د قلمرو په دننه کې چې د افغانستان په خاوره کې ترسره

---

په ۱۸ د لاسرسي وړ ، مراجعه وکړي. http://www. aihrc. org. af/English/Eng_pages/X_pages/conventions_af_z_party. html. په وروستي ځل د ۲۰۱۷ کال د جنوري په ۱۵ نیته ورته لاسرسی شوی

[۲۲۱] د ملګرو ملتونو د عمومي منشي راپور ته مراجعه وکړئ ، په سریلانکا کې د حساب ورکونې په هکله د عمومي منشي د کارپوهانو د هیئت راپور ، د ۲۰۱۱ کال د مارچ ۳۱ ، ۱۸۸ پاراګراف. همدارنګه د لیبیا په عربي جمهوریت کې د نړیوال بشري حقونو د ټولو ادعا شویو سرغړونو د څیړنې د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور ته مراجعه وکړئ- A/HRC/17/44, 1 June 2011; د سوریې په عربي جمهوریت کې د بشري حقونو د وضعیت په اړه د تحقیقاتو د نړیوال کمیسیون راپور- A/HRC/19/69, para. 106; د جنوبي سودان په جمهوریت کې د ملګرو ملتونو ماموریت ، په جنوبي سودان کې شخړه: د بشري حقونو راپور ، ۲۰۱۴ کال د مۍ ۸ ، ۱۸ پاراګراف.

[۲۲۲] د غیر قانوني ، په خپل سر او سملاسي توګه اعدامونو د څیړنې او موثره مخنیوي په هکله د ملګرو ملتونو د اصولو ۹ ، ۱۰ او ۱۷ پاراګرافونو ته مراجعه وکړئ چې د اقتصادي او ټولنیزې شورا د ۶۵/۱۹۸۹پریکړه لیک په واسطه د ۱۹۸۹ کال د مۍ په ۲۴ تصویب شو ، د غیرې نړیوالې وسله والې شخړې په هکله د ملګرو ملتونو د امنیت شورا او د عمومي اسامبلې پریکړه لیکونو ته هم مراجعه وکړئ چې د ټولو خواوو څخه د بشري حقونو د نړیوال قانون د درناوي غوښتنه کوي.

[۲۲۳] کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری ، عمومي تبصره ۳۱(۲۰۰۴) ، § 15 ، د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالی کمیشنری ، عمومي تبصره ۶(۱۹۸۲) § 4 ; ECtHR, Kaya case, § 86; ECtHR, Ergi v. Turkey, Application No. 23818/94, ECtHR, McCann case, § 169; Judgment of 28 July 1998, §§ 82, 86; ECtHR, Isayeva v. Russia, Application No. 57950/00, Judgment of 24 February 2005, §§ 208-9, 224-5; IACiHR, Abella (La Tablada) case, § 244; IACiHR, Alejandre case, § 47; ACiHPR, Civil Liberties case, § 22.

[۲۲۴] IACiHR, Abella (La Tablada) case, § 412; ECtHR, Özkan case, § 184; ECtHR, Orhan v. Turkey, Application No. 25656/94, Judgment of 18 June 2002, § 335; ECtHR, Isayeva et al. case, § 210-11; ECtHR, McCann case.

[۲۲۵] ECtHR, Hugh Jordan v. the United Kingdom, Application No. 24746/94, Judgment of 4 May 2001, § 109; ECtHR, Özkan case, § 187; ECtHR, Isayeva et al. case § 213; ECtHR, Isayeva case, § 214: د نړیوالو بشري حقونو د جدي سرغړونو او د بشر پالنې د نړیوال قانون د جدي سرغړونو د قربانیانو لپاره د جبران او تاوان د حق په اړه اساسي اصولو او لارښودونو ته مراجعه وکړئ.

[۲۲۶] سی دروګ ته مراجعه وکړئ ، د دښمنیو د ترسره کولو څخه د قانون د انفاذ توپیر ۵۷-۶۳ مخونه د کارپوهانو غونډه ، د کیمیاوي اجنټانو بی واکه کول ، د قانون انفاذ ، بشري حقونه او د پالیسی لړلیدونه - Montreux, Switzerland 24-26 April 2012 at http://www. icrc. org/eng/assets/files/publications/icrc-002-4121. pdf; Nils Melzer, د دښمنیو د ترسره کولو او د قانون د انفاذ تر منځ تداخل او مفکوره یې توپیر ، د پوځي عملیاتو د نړیوال قانون کتاب ګوتی(اکسفورډ: د اکسفورډ د پوهنتون مطبعه ، ۲۰۱۰) ، pp. 43-44. Nils Milzer, په جګړه کې د بې پیلوټه روباټونو او ډرونونو د کارولو د بشري حقونو دلالت ، د اتحادیې د بهرنیو پالیسي ګانو لپاره عمومي رییس ، د پالیسی ریاست ، (۲۰۱۳) at

[۲۲۷] د نړیوال جنايي محکمې اساسنامه ، سریزه ، ۱ ، ۱۷ مادې ، همدا راز وګورئ: د نړیوال سره صلیب پر کمیټې لهخوا د نړیوال عرفي قانون څیړنه ، ۱۵۸ قاعده.

[۲۲۸] د نړیوال جنايي محکمې اساسنامه ۱ ، ۱۲ -۱۷ مادې.

### په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د افغانستان کلنۍ راپور: ۲۰۱۸

شوې د جنايي تحقيقاتو د پيلولو د اجازې غوښتل دی. هغه غوښتنه چې د ۲۰۱۷ کال د مې په ۲۰ نېټه درج شوې ، څارنوال په دې باور دی چې داسې د پام وړ بنسټ موجود دی څو باور وشي چې "د افغان ملي امنيتي ځواکونو" او "دولت ضد عناصرو " له خوا چې د رواني غير نړيوالې وسله والې شخړې سره تړاو لري جرمونه ترسره شوې ، او همدارنګه باور موجود دی چې د دولت ضد وسله والو ډلو له خوا د بشريت په وړاندې جرمونه ترسره شوي.[۲۲۹]

په غير وسله واله نړيواله شخړه کې جنګي جرمونه د درېيمې مشترکې مادې او نورو قوانينو او دودونو چې په وسله واله شخړه کې چې نړيوال خصوصيت و نه لري د پلې کيدو وړ دي. په جنګي جرمونو کې لاندې موارد شامل دي- د هغو کسانو په حواله چې په نښتو ، د ژوند او شخص په وړاندې خشونت کې برخه نه اخلي ، د قتل ، د ملکي وګړو په وړاندې د عمدي بريدونو په شمول ، يا هغه کسان چې په شخړو کې برخه نه اخلي.[۲۳۰]

هغه هيوادونه چې ځواکونه يې د نړيوالو پوځي ځواکونو په ډله کې دي او په افغانستان کې د شخړې اړخ دي هم د ادعا شويو جرمونو د څېړنې او تعقيب مسئوليت لري او ښايي دا جرمونه په افغانستان کې د هغوی د اتباعو لخوا ترسره شوي وي.[۲۳۱] د ۲۰۱۷ کال د نومبر په ۲۰ ، په افغانستان کې د يوې څېړنې د پيل په موخه په خپله غوښتنه کې ، د نړيوالې جنايي محکمې څارنوال هغه موجوده معلومات د کوم لپاره چې د پام وړ بنسټ برابروي وسپارل څو باور وشي چې په افغانستان کې د غير نړيوالې وسله والې شخړې په زمينه کې د شخړې د اړوندو توقيفيانو د استنطاق پر مهال د نړيوالو پوځي ځواکونو عملونه د منلو وړ نړيوالې جنايي دوسيې تشکيلوي کوم چې ښايي د څېړنو له امله که چيرې اجازه ورکړل شي ، را منځ ته شي.[۲۳۲]

[۲۲۹] د ۲۰۱۶ کال د لومړنې ازموينې د فعاليتونو په اړه د نړيوال جنايي محکمې راپور ، ۴۳-۵۱ مخونه وګورئ. (۱۴ نومبر ۲۰۱۶).

[۲۳۰] د نړيوالې جنايي محکمې اساسنامه ، ۸(۲)(c)( (e ، د سره صليب د نړيوالې کميټې له خوا د بشر پالنې پر عرفي نړيوال قانون څېړنه ، ۱۵۶ قاعده.

[۲۳۱] پرته له دې چې هيوادونه د ای سی سی د موضوعه قانون غړيتوب ولري ، هغوی ټول د دوديز قانون لاندې مکلف دي تر څو د بشري حقونو او د بشر پالنې نړيوال قانون جدي سرغړونې کله چې دوي د افغانستان په قلمرو کې عمليات ترسره کوي ، وڅيړي.

[۲۳۲] د څېړنې د واک لپاره د نړيوالې جنايي محکمې د څارنوال غوښتنه ، ۸۸- ۱۲۵ پې پې.

## دویمه ضمیمه: د جګړې اصلي خواوې

### دولت پلوه ځواکونه

په دغو ځواکونو کې هغه شامل دي خو په افغان ملی امنیتي ځواکونو پورې نه دي محدود (افغان سرحدي ځواک ، افغان سیمه ییز پولیس ، افغان ملي اردو ، افغان سیمه ییزه اردو ، افغان ملي پولیس ، د ملي امنیت ریاست) په دې کې همدارنګه نور دولت پلوه ځایي دفاعي ځواکونه ، او نړیوال پوځي ځواکونه او نور بهرني استخباراتي او امنیتي ځواکونه شامل دي.

### افغان ملي امنیتي ځواکونه

افغان ملي امنیتي ځواکونه د افغان ملي اردو (او د هغه د افغان هوايي ځواک او افغان سرحدي ځواک فرعي برخې) ، افغان ځانګړو ځواکونو ، ملي امنیت ریاست (د افغان دولت استخبارات) ، افغان سیمه ییزو پولیسو ، افغان ملي پولیسو ، د عامه نظم ملي ځواک او افغان سرحدي ځواک په ګډون ، د دولت له ټولو امنیتي ځواکونو څخه تشکیل دي.

د کورنیو چارو وزارت تر مسئولیت لاندې ، افغان ملي پولیس د قانون د انفاذ لومړنی ارګان دی ، او په ځینو حالاتو کې په جګړو کې برخه اخلي. افغان سیمه ییز پولیس په ۲۰۱۰ کال کې ایجاد شوي څو د بغاوت ضد هڅو د یوې برخې په څېر په ټولنه کې پولیسي خدمتونه برابر کړي. دوي ظاهراً د افغان ملي پولیسو او کورنیو چارو وزارت له لارې راپور ورکوي ، د جګړه ییزو دندو ترسره کولو له امله ، افغان سیمه ییز پولیس د وسله والو ځواکو بالفعل غړي ګڼل کیږي. د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه د ۲۰۱۷ کال د طرح تر چوکاټ لاندې د امنیتي سکتور د اصلاحاتو تر تطبیق وروسته ، پخواني افغان سرحدي پولیسو او د عامه نظم ملي پولیس په ۲۰۱۸ کال کې له کورنیو چارو وزارت څخه دفاع وزارت ته ولیږدول شول.

### نړیوال پوځي ځواکونه

د ۲۰۱۵ کال د جنوري پر لومړۍ نېټه ، د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) په افغانستان کې خپل ماموریت له ایساف څخه د غوڅ ملاتړ غیر جګړه ییز ماموریت ته واړاوه. د ایساف پر خلاف ، چا ته چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا لخوا اختیارات ورکړل شوي و خو د غوڅ ملاتړ د ماموریت لپاره حقوقي بنسټ د ځواکونو د تړون دریځ برابر کړی ، کوم چې په کابل کې د ۲۰۱۴ کال د ډسمبر پر ۳۰ نېټه لاسلیک شو او د افغان پارلمان له خوا د ۲۰۱۴ کال د نومبر پر ۲۷ تصویب شو. د ملګرو ملتونو د امنیت شورا ۲۱۸۹(۲۰۱۴) پریکړه لیک د افغانستان د اسلامي جمهوریت او ناټو تر منځ د دوه اړخیز تړون چې موخه یې د غوڅ ملاتړ د ماموریت را منځ ته کول وه ، هرکلی کړی. غوڅ ملاتړ چې اصلاً یو غیر جګړه ییز ماموریت دي ، چې افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه روزي ، له هغوی سره مرسته وکړي او سلا مشورې ورکړي. دغه ځواکونه اوس مهال د ناټو له ۳۹ هیوادونو څخه له شاوخوا ۱۶۰۰۰ تنه سرتیرو څخه تشکیل چې د روزنې ، مرستې او مشورې په پنځو سیمه ییزو قرارګاوو کې تنظیم شوي ، چې متحده ایالات ، جرمني ، ایتالیا او ترکیه یې د یوه یوه مشري کوي ، مرکز (ترکیه) ، شمال (جرمني) ، ختیځ (متحده ایالات) ، جنوب (متحده ایالات) او لویدیځ (ایټالیا).

اوس مهال د متحده ایالاتو سرتیري په افغانستان کې د نړیوالو پوځي ځواکونو زیات اکثریت جوړوي ، چې شاو خوا ۱۴۰۰۰ امریکایي سرتیري د غوڅ ملاتړ ماموریت او د ازادۍ عملیاتو ساتونکي ماموریت ملاتړ کوي کومو چې د ۲۰۱۵ کال د جنوری د ۱ نېټې څخه د پایښت لرونکي ازادۍ د عملیاتو ځای ونیوه. د متحده ایالاتو سرتیري د افغانستان- د متحده ایالاتو د ۲۰۱۴ کال تر دوه اړخیز امنیتي تړون لاندې د ازادۍ عملیاتو ساتونکي ماموریت کې ګډون کوي چې له تروریزم سره د مبارزې پر عملیاتو تمرکز کوي . د غوڅ ملاتړ د ماموریت قوماندان همدارنګه د افغانستان لپاره د امریکایي ځواکونو د قوماندان په حیث دنده ترسره کوي خو د قوماندې د مراتبو سلسلې یې بیلې دي.

### دولت پلوه وسله والې ډلې

دولت پلوه وسله والې ډلې هغه نا دولتي تنظیم شوی فعالې ډلې دی چې د وسله والو مخالفو ډلو سره په جګړه کې ښکېل وي. دغه ډلې له دولتي ځواکونو سره تړېير لري او د افغانستان تر قوانینو لاندې کوم حقوقي بنسټ نه لري. په دغو ډلو کې د ملي پاڅون خوځښتونه ، په افغانستان کې د ټولنې دفاعي نوښتونه او خوست ساتنې ځواک شامل دي.

**دولت ضد عناصر**

په دې کې هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پېژندل شوي او همدارنګه هغه اشخاص او نا دولتي وسله والې ډلې چې په جګړه کې مستقیمه برخه اخلي ، او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه ، د ازبکستان اسلامي حرکت ، د اسلامي جهاد اتحاد ، لشکر طیبه او جیش مُحَمَّد او نورې هغه ډلې چې ځانونه اسلامي دولت/داعش معرفي کوي او نورې ملیشې او وسله والې ډلې چې سیاسي ، ایدیالوژیکي او اقتصادي اهداف تعقیبوي شاملې دي ، د هغو جنايي ډلو په ګډون چې د یوې ښکېلې ډلې په استازیتوب په جګړه کې مستقیم ګډون کوي.

**طالبان**

په ۲۰۱۴ کال کې د ایساف ځواکونو په وتلو سره ، که څه هم چې دولت پلوه ځواکونو د هوايي بریدونو په نتیجه کې طالبانو ته مخ پرزیاتیدونکي تلفات واړول ، طالبانو په تدریجي توګه په ساحه خپله ولکه زیاته کړه او په پیل کې یې د افغان ملي دفاعي او امنیتي پوستو په وړاندې د هدف نیولو د لوړې کچې بریدونه پیل کړل. طالبانو په زیاترو ولایتونو کې تش په نامه اداري جوړښتونه تشکیل کړي. د دغې ډلې د مشر ملا عمر مړینه د ۲۰۱۵ کال په اګست کې خلکو ته معلومه شوي ، چې د دغې ډلې ترمنځ یې داخلي اختلافات وزیږول. د ۲۰۱۶ په مئ میاشت کې د ملا عمر د ځای ناستي ملا منصور تر وژنې او د ملا هیبت الله اخندزاده تر ټاکنې وروسته کړکیچونه او اختلافات په کمه کچه راڅرګند شول. د ۲۰۱۸ کال له وروستۍ نیمه یې راهیسې ، طالبانو او د امریکا متحده ایالات د سیاسي حل په لټه په مستقیمو خبرو اترو بوخت دي.

حقاني شبکې د طالبانو په نظامي عملیاتو کې زیات نفوذي رول تر لاسه کړی. ددغې ډلې مشرې اوس مهال د سراج الدین حقاني له خوا کیږي ، څوک چې د طالبانو د مشر ملا هیبت الله اخندزاده یو مرستیال دی. طالبان ادعا کوي چې د حقاني شبکه د طالبانو د تحریک تر چتر لاندې ده او سراج الدین حقاني د طالبانو د مشر مرستیال دی. د حقاني شبکې په تیرو وختونو کې د بریدونو مسئولیت منلي ، چې تر یوې اندازې یې خپلواکې ساتلې. باور کیږي چې د حقاني شبکه پر دواړو دولت او نړیوالو اهدافو او د کابل پر کڼ میشتو سیمو د بریدونو مسئوله ده. د ۲۰۱۷ کال راهیسې ، یوناما هغه بریدونه چې باور کیږي د حقاني شبکې له خوا ترسره شوي طالبانو ته منسوب کړي ، ځرنګه چې نور د دوې ترمنځ تفکیک په کره ډول نه شي کیدای.

**داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت**

د عراق او شام اسلامي دولت- خراسان ولایت ډله په رسمي ډول د ۲۰۱۵ کال په جنوري کې ، له پرمختګ او د ځینو چارو د بیا تنظیمولو یا له طالبانو ، د ازبکستان د اسلامي خوځښت او تحریک طالبان پاکستان له جنګیالو جوړه شوه. داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډله له نږدې ۳۰۰۰ جنګیالیو سره د افغانستان په ختیځو سیمو په ځانګړې ډول ننګرهار او کونړ ولایتونو کې فعالیت کوي. د افغان ملي دفاعي امنیتي ځواکونو/نړیوالو نظامي ځواکونو د عملیاتو (د هوايي بریدونو په ګډون) ، د ځايي ملیشو د بسیجولو ، او په جلا ډول د طالبانو د بریدونو له خوا د دغې ډلې د پراخیدو مخه ډب شوې. ځرنګه چې یې جغرافیايي پراخوالی له ګواښ سره مخ شوي ، د ځانمرګو او ډله ییزو بریدونو په ګډون چې په کابل ، هرات او جلال اباد ښار کې په عمدي ډول ملکي وګړي په نښه کوي (په خورا مهم ډول د شیعه مذهبه هزاره توکمه ټولنې په ګډون) ، داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډلې په پراخه چې پر نا انډولو/نا برابرو تاکتیکونه اتکا کړې. د افغانستان په شمال کې د جوزجان ولایت په جنوبي ولسوالیو کې د هغو وسله والو چې ځانونه داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت معرفي کوي د ۲۰۱۸ کال په اګست کې د طالبانو د پرلپسې بریدونو له امله سیمې سقوط وکړ. طالبان او داعش/د اسلامي دولت خراسان ولایت ډله مختلف هویت لري او د سرچینو او ځواک پر سر سیالي کوي.

یو شمېر نورې نا دولتي وسله والې ډلې په افغانستان خپل فعالیت جاري ساتي ، د هغو ملیشو په ګډون چې له سیاسي ګوندونو او د مجاهدینو د پخوانیو جهادي مشرانو سره تړلې ، او ښايي د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه په ملاتړ یا د هغوی په خلاف فعالیت وکړي. دغه ډول وسله والې ډلې په مکرر ډول د بشري حقونو په سرغړونو او له یو بل سره په جګړو په ګوته شوي ، که څه هم طالبان او افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونه د جغرافیايي کنترول پر سر یو له بل سره جګړه کوي. په

ځینو ولسوالیو په ځانګړي ډول د افغانستان په شمالي برخو کې ، د دغو ډلو شمېر له دواړو افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو او طالبانو څخه زیات دی.

**د دولت ضد عناصرو نورې ډلې**

د ۲۰۱۶ کال په سپتمبر کې ، افغان دولت او حزب اسلامي چې د ګلبدین حکمتیار له خوا یې مشري کیږي ، د سولې یو تړون لاسلیک کړ ، چې د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د بندیزونو له لست څخه ایستل ، د بندیانو خوشې کول ، د افغان ملي دفاعي او منیتي ځواکونو له لیکو سره د جنګیالیو یو ځای کیدل او د حزب اسلامي د بغاوت د پای ته رسیدو پرمهال د بیرته راستنیدونکو لپاره د ځمکې تخصیصونه پیشبیني کوي. حکمتیار د ۲۰۱۷ کال په مئ کې کابل ته راستون شو. د حزب اسلامي په یو ځای کیدنه کې سوکه پرمختګ په وسله واله جګړه کې د ځینو ډلو د دوامدار ګډون په اړه اندیښنې راولاړې کړې.

باور کیږي چې القاعده د افغانستان په ختیځ په ځانګړي ډول کونړ او نورستان ولایتونو کې محدود شتون او له هغو دولت ضد ډلو سره دومداره اړیکې لري ، چې په افغانستان کې فعالیت کوي. د ۲۰۱۸ په منځ کې وروستي راپورونه په ډاګه کوي ، چې د القاعده فعالین په دې وروستیو کې د ۲۰۱۷ کال په نیمه یې کې له کابو ۱۰۰-۱۲۰ څخه نږدې ۲۵۰-۴۰۰ هغو ته لوړ شوي.

## دريمه ضميمه. اصطلاحات[۲۳۳]

**AXO: پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي.** هغو چاودېدونکو توکو ته ويل کېږي چې د وسله والو جګړو په جريان کې نه وي کارول شوي او د يوې ښکېلې ډلې له خوا په ساحه کې پرېښودل شوي يا ښخ شوي وي په داسې حال کې چې دغه توکي د دې ډلې له کنټرول څخه بهر وي. دغه پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي کېدای شي فعال فيوز ولري او د چاودلو لپاره اماده وي.

**تښتونه:** يوناما يوازې د شخړې سره تړلې تښتونې مستندوي چېرې چې د شخړې يو طرف په زور او جبر يو ملکي شخص يا ملکيان د هغوی د ارادې پرته و نيسي او يا يې وساتي ، د دې لپاره چې دريېم اړخ يا توقيف شوی شخص يا اشخاص د يوه کار په اجرا او يا د هغه پرېښودو ته اړ کړي. په دغو کې همدارنګه هغه تښتونې چې موخه يې د شخص يا اشخاصو وژل وي او هغه تښتونې چې د اشخاصو له له خوا ترسره کېږي او په دښمنيو کې مستقيمه بره اخلي ، شاملې دي. په دې کې د شخړې د ښکېلې ډلې له خوا د ټاکنو په تړاو تښتونې شاملې دي.

**هوايي عمليات/برید یا هوايي ګوزار:** له الوتکې څخه ويشتونکې مهمات چې په هغو کې نږدې هوايي ملاتړ (د الوتکې له خوا بريد) او نږدې جنګي بريد چې د چورلکې په مرسته ترسره کېږي ، همدارنګه په هوايي بريدونو کې هغه هوايي بريدونه هم شامل دي چې بې پيلوټه جنګي الوتکه يا ډرون يې تر سره کوي.

**افغان ملي امنيتي ځواکونه:** يوه ټوليزه اصطلاح ده ، چې افغان سرحدي پوليس ، افغان سيمه ييز پوليس ، افغان ملي پوځ ، افغان هوايي ځواک ، افغان ملي پوليس ، د عامه نظم افغان ملي ځواک ، افغان ځانګړي ځواکونه ، افغان سيمه ييز پوځ (همدارنګه افغان ملي ځواک – سيمه ييز ځواک) او د ملي امنيت اداره په کې شامليږي.

**وسله وال ځواکونه:** يوناما افغان ملي پوځ او افغان هوايي ځواک ته د افغانستان د وسله والو ځواکونو په حيث ګوري . يوناما همدارنګه افغان محلي پوليسو ، د ملي امنيت رياست ، د ترهګرۍ پر ضد پوليسو ، افغان سرحدي ځواک ، د کورنيو چارو د وزارت د ملکي نظم افغان ملي ځواک ، ځانګړو ځواکونو ، (د افغان ملي پوليسو د چټک غبرګون ځواک په شمول) د هغو دندو پر اساس چې دوی يې پر مخ وړي د وسله والو ځواکونو برخه دي. يوناما په پام کې نه نيسي چې ملي پوليسو بايد د افغانستان په وسله والو ځواکونو کې د پورته ذکر شويو ځانګړو ځواکونو پرته استثناء شي.

**افغان ملي سرحدي پوليس:** له دې وړاندې د افغان ملي پوليسو په نامه ياديدل. د افغان سرحدي پوليسو ډېری د ۲۰۱۷ کال په ډسمبر کې د کورنيو چارو له وزارت څخه جلا او دفاع وزارت ته ولېږدول شوه ، او بيا د افغان سرحدي پوليسو په نوم ونومول شو. دا ځواکونو د افغان ملي پوځ قول اردو ګانو ته ځواب ورکونکي دي.

**د عامه نظم افغان ملي ځواک:** له دې وړاندې د ملکي نظم د افغان ځواک په نوم ياديدل. د ملکي نظو د افغان ځواک ډېری د ۲۰۱۸ کال په مارچ کې د کورنيو چارو له وزارت څخه جلا او دفاع وزارت ته ولېږدول شوه. دا ځواکونو د افغان ملي پوځ قول اردو ګانو ته ځواب ورکونکي دي.

**دولت ضد عناصر :** په دې ډله کې ټول هغه اشخاص او ډلې راځي چې اوس مهال د افغانستان د دولت او نړيوالو پوځي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکېل دي. هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پېژندل شوي او هغه اشخاص او بيلا بيلې ډلې چې په جګړه کې فعاله برخه اخلي. دويمه ضميمه وګورۍ: د نورو معلوماتو لپاره د شخځې مهم اړخونه.

**وسله واله ډله :** نا دولتي تنظيم شوې وسله والې ډلې چې په شخړو کې ښکېلې وي او په څرګند ډول د دولت څخه بيلې وي چې د جوړښت پر اساس د مليشو څخه نيولې تر ياغي جنايي مجريمو ډلو پورې رسيږي. دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قوانينو لاندې حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې د هيوادونو ، د هيوادونو د ايتلافونو يا د دولتونو تر منځ د سازمانونو د رسمي پوځي چوکاټونو په دننه کې نه دي او د هيواد(هيوادونو) تر کنټرول لاندې په کومو کې چې دوی فعاليت کوي ،نه دي. وسله واله ډلې کيداې شي د دولت د رسمي ولکې او کنټرول د سيمې نه د باندې وي خو کيداې شي چې د کوربه يا نورو

[۲۳۳] په دې اصطلاح ګانو کې ځای شوي تعريفونه يوازې د دې راپور د موخو لپاره دي.

هیوادونو مستقیم یا غیر مستقیم ملاتړ ولري. دغه تعریف عبارت له لاندې ډلو څخه دي خو یوازې تر دوي پورې محدودې نه دي: مخالفې یاغي ډلې ، سیمه ییزې ملیشې (چې په کې توکمیزې ، قومي یا په بل اساس) ، یاغیان ، ترهګر ، ګوریلا او نور مدني دفاعي ځواکونه او نیمه پوځي ډلې (چې په څرګند ډول د دولت په ولکه کې نه وي).[۲۳۴] ځینې وسله والې ډلې په داسې یوه طریقه باندې چې د حکومت سره په عمومي توګه همغاړې دي ، که څه هم چې د هغوی تر کنټرول لاندې نه دي او موږ ته د دولت پلوه وسله والو ډلو په حیث راجع کیږي ، فعالیت کوي.

"دولت ضد عناصرو" ته چې په دې راپور کې تشریح شوی د نا دولتي وسله والو ډلو په حیث ګوري ، خو د دولت په وړاندې د هغوی د وسله وال مخالفت پر اساس د هغوی توپیر کیږي.

**بچه بازي:** بچه بازي یو ناوړه عمل دی چیرې چې هلکان د نارینه وو لخوا د تفریح لپاره کارول کیږي. ډېری وخت هلکان په محفلونو کې په ښځینه جامو کې ګډول کیږي او د جنسی تاوتریخوالی سره مخ کیږي.

**ملکیان:** د دې راپور د موخو په خاطر او د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې د توپیر د اصل د پلې کولو په هدف "ملکی وګړي" هغه افراد دي چې د پوځي /نیمه پوځي ځواکونو غړي نه وي یا په جنګ کې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلو کې غړیتوب و نه لري او تر هغو چې په دښمنیو کې په مستقیم ډول برخه وا نه خلي د بریدونو څخه خوندي دي. د پولیسو د هغو غړو لپاره کوم چې دوامداره جګړه ییز فعالیتونه نه لري ، د ځان د ساتنې لپاره د ځواک کارول د ملکي وګړي په حیث د خوندیتوب د له منځه تلو په معنی نه ګڼل کیږي. یوناما په افغانستان کې هغو پولیسو ته د ملکي په سترګه ګوري څوک چې د قانون د انفاذ چارې پر مخ بیایي او څوک چې په مستقیم ډول په دښمنیو کې برخه نه اخلي او د یاغیتوب پر وړاندې په عملیاتو کې ښکېل نه وي.

**د ملکی تلفات:** وژل شوي او ټپي شوي ملکی کسان. یوناما هغه ملکی تلفات کوم چې د شخړې سره د تړلې خشونت او د جګړې څخه د پاته شونو چاودیدونکو توکو په نتیجه کې را منځ ته کیږي مستندوي: یوناما هغه تلفات نه مستندوي چیرې چې ملکي (ملکیان) د مرګ ژوبلې په وخت کې په مستقیم ډول په دښمنیو کې برخه اخلي او نه د هغو کسانو مرګ ژوبله مستندوي څوک چې د نړیوال بشر دوستانه قانون لاندې خوندي دي او چا ته چې د ملکي کسانو په سترګه نه کتل کیږي ، د بیلګې په توګه ، د جګړې د ډګره څخه وتلي یا د وسله والو ځواکونو طبي او مذهبي کارکونکي.[۲۳۵]

یوناما د هغو **ټپي شویو** ملکي کسانو په اړه چې د فزیکي ټپي کیدو له امله په روغتیایي مرکزونو کې د طبي درملنې د ترلاسه کولو په موخه بستري کیدو او یا د روزل شویو طبي کارکوونکو له خوا د طبي مرستې د ترلاسه کولو په برخه کې مرستې ته اړتیا لري-غور کوي. د یوناما په ډیټابیسونو کې د کیدو شدت نه دی ریکارډ شوی. په ټپونو کې ټکان او د پیښې غیر فزیکي اغیزې او پایلې ، د بیلګې په توګه رواني ټروما یا ټکان ، نه دي شامل.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو د کنوانسیون له مخې ماشوم د داسې یوه شخص په حیث تعریف شوی چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي (۱۷ کلن ماشوم). د دې تر څنګ د روم د نړیوالې جزایي محکمې اساسنامې له مخې چې د افغانستان دولت هم په ۲۰۰۳ کې تصویب کړې ، د ۱۵ کلونو څخه کم عمر ماشومان په دولتي عسکري لیکو کې او یا غیر دولتي ډلو کې شاملول او ګمارل ، چې په فعال ډول په جنګ کې برخه واخلي جنګي جرم ګڼل کیږي (د ۸ مادې (۲) (ب) (xxvi)) او ۸ (۲) (e) (vii) وګورئ.)

**ډله ییز برید:** یوناما پیچلی برید د یوه قصدي او همغږي برید په حیث په کوم کې چې ځانمرګي وسیله (د بیلګې په توګه په ځان پورې تړلې تبعیه شوې چاودیدونکي توکي یا په نقلیه وسیله کې ځای پر ځای شوې چاودیدونکي توکي) ، د یوه څخه

[۲۳۴] له وسله والو ډلو سره د ملګرو ملتونو د بشر پالنې خبرې اترې: د فعالینو لپاره لارښود ، جیراډ مک هو او مانول بیسلر ، د بشر پالنې د چارو د همغږۍ لپاره د ملګرو ملتونو دفتر ، نیویارک ،جنوری ، ۲۰۰۶. د وسله والو ډلو د خصوصیاتو لپاره ۲,۳ برخه وګورئ.

[۲۳۵] د نړیوال قانون لاندې په دښمنیو کې د مستقیمې برخې اخیستنې د تصور په اړه د آی سي آر سي ، سرهصلیب د نړیوالې کمیټې ، تفسیري لارښود هم وګورۍ ، آی سي آر سي ، سرهصلیب نړیواله کمیټه ، جنیوا ، ۲۰۰۹.

زيات بريدګر او د يوې څخه زياتې وسيلې (د بېلګې په توګه ، په ځان پورې تړلې چاوديدونکي توکي او هاوانونه) شامل وي ، تعريفوي.

**داعش:** د داعش کلمه د عراق او شام د اسلامي دولت (*الدعوه الاسلامي العراق والشام*) مخفف او لنډيز دی.

**ERW:** له جګړې څخه چاوديدونکي پاتې شوني توکي ناچاودو توکو ، پريښودل شويو چاوديدونکو توکو ته هم راجع کيږي.

**چاوديدونکې وسلې:** چاوديدونکې وسلې د نړيوال قانون له مخې په وضاحت سره نه دي تعريف شوي. چاوديدونکې وسلې په عمومي صورت د يوې جعبې/ لولې څخه جوړې دي چې د لوړې کچې د چاوديدونکو موادو څخه ډکه وي چې ويجاړونکې اغيزې يې په عمومي توګه د چاودنې د موج له لارې او هغو ټوټو څخه را ولاړيږي چې د انفجار وروسته توليديږي. هاوانونه ، د توپ ګولۍ ، د الوتکو بمونه ، راکټونه اود ميزايلو جنګي سرګولولې ، او ډېری ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي د دغې اصطلاح لاندې راځي. ځينې مشخصې چاوديدونکې وسلې کيدای شي چې د **سپکو وسلو** په کټګورۍ کې (د بېلګې په توګه ، د لاسي بمونو ګوزارونکي لانچرې چې د ټوپک د ميل لاندې نصب کيږی او د اوږی د پاسه ګوزارونکی لانچرې ، د ټانک ضد ميزايلونو وارونکي لاسي لانچرې او د راکټونو سيسټمونه ، د الوتکو ضد د ميزايلو لاسي سيسټمونه ؛ او د ۱۰۰ ملی مترو څخه کم لوله ييز هاوانونه) راځي. ډېری چاوديدونکې وسلې ، لکه د الوتکو بمونه ، د راکټونو سيسټمونه ، د توپ ګولۍ او ستر هاوانونه د **درندو وسلو** په کټګوريو کې راځي.[۲۳۶]

**ځمکنی نښتې:** په ځمکنيو جګړو کې دغې جګړې شاملې دي: د جګړې د ښکېلو خواوو تر منځ ځمکنۍ متحرک عمليات ، د ليرې واټن څخه بريد ، د ډزو تبادله او وسله والې نښتې. په ځمکنيو نښتو کې د بريدونو او عملياتو په وخت کې د سپکو او درندو وسلو ، او يا د ساحوي وسلو سيستمونه لکه د هاوانونو راکټونو کارول هم شامل دي.

**IED:** ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي: يو بم چې د دوديزې پوځي طريقې په خلاف په نورو طريقو جوړيږي او کارول کيږي. کيدای شي چاوديدوني توکي په څلورو کټګوريو تقسيم شي: د کنټرول له لارې فعاليدونکي چاوديدونکي توکي ، د قرباني شخص په وسيله فعاليدونکي چاوديدونکي توکي ، د ځانمرګي بم په شکل کې استعمال شوي چاوديدونکو توکو او ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي.

*د دستور له لارې فعاليدونکی ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي*- هغه راديويي يا د ليرې واټن څخه کنټرول شوي ځای پرځای شوي چاوديدونکي توکي (ريموټ کنټرول بمونه (RC-IEDs)) دي چې د ليرې واټن څخه کار کوي چې استفاده کوونکی کولای شي د وړاندې څخه ځای پر ځای شوي دغه توکي ته په يوه مناسب وخت کې چاودنه ورکړي او يو متحرک هدف په نږدې کيدو سره تر بريد لاندې راولي.[۲۳۷] په دغه ډله کې لاندني چاوديدونکي توکي شامل دي: د استفاده کوونکي په ذريعه فعاليدونکي چاوديدونکي توکي ، لکه د سړک د غاړې بمونه او پر اشياوو يا حيواناتو باندې ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي لکه موټر ، بايسکل ، موټر سايکلونه او مرکب. مقناطيسي- تعبيه شوی ځای پر ځای شوي چاوديدنکي توکي د يوې مقناطيسي او يا نورو وسيلو په واسطه نښلول کيږي او دا د تماس له لارې فعاليدونکي چاوديدونکي توکي دی ، په افغانستان کې د عادي رسولو د ميتود له امله يوناما دا وسيلې په جلا ډول ثبت کوي ، د بېلګې په توګه ، د هدف وړ اشخاصو په نقيله وسيلو کې ځای په ځای کول.

*د قرباني شخص په ذريعه فعاليدونکي ځای پرځای شوي چاوديدونکي توکي*- دغه چاوديدونکي توکي په هغه وخت کې فعاله کيږي چې کله يوه شخص او يا موټر د ده د پښاقې سويچ ته فشار ورکړي ، دغه سويچ ممکن فشاري وي يا د فشار د خوشې کيدو سيستم وي او يا هم د کش کولو سيم يا د کوم بل سيستم په توګه وي چې په هر صورت کې د چاودنې سبب ګرځي.[۲۳۸]

---

[۲۳۶] بوري ج او بريهم م "په ګڼ ميشتو سيمو کې د چاوديدونکو وسلو د کارولو څخه د ملکيانو د ساتنې تقويه کول: د سره صليب نړيوال کميټه په بيا کتنه کې د پاليسۍ او څېړنې د اجنډا جوړول ، ۹۳ جلد ، ۸۸۳ ګڼه " ۳۳ او ۱۹۶ پايځوړي

[۲۳۷] د سپکو وسلو سروې ، د تعبيه شوي چاوديدونکو توکو ، ۱۰ څېرکۍ ساعتې بمونه ، ۲۲۰- ۲۲۱ مخ.

[۲۳۸] همدغه ماخذ

*نور چاودیدونکي توکي*- په دې کټګورۍ کې عام تاري بمونه او ساعتي بمونه[۲۳۹] (د ۲۰۰۹ څخه راهیسې ، یوناما د دې چاودیدونکو توکو له امله ډېر کم شمېر پیښې ثبتې کړې دي) ، او هغه چاودیدونکي توکي په کې شامل دي چې د پټاقې یا سویچ ډول یې نه معلومیږي.

*ځان مرګی ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي (ځانمرګي/انتحاري بریدونه)* - د ځای پر ځای شویو چاودیدونکو توکو په هکله د معلوماتو برسیره ، یوناما د ځانمرګو او پیچلو عملیاتو له امله د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې پیښې ثبتې کړې دي. ځانمرګي تبعیه شوي چاودیدونکي توکي په عمومي توګه یا په ځان پورې تړلي تبعیه شوي چاودیدونکي توکي یا په نقلیه وسیله کې ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي وي. د دغو پیښو په ارقامو کې ځانمرګی برید هغو حالتونو ته راجع کیږي چیري چې ځانمرګی بریدګر په تبعیه شویو چاودیدونکو توکو بار واسکټ یا کمربند اغوندي ، په چاودیدونکو توکو د ډک موټر ځانمرګی بریدګر داسې تعریف شوی چې یو ډرایور یا د موټر په دننه کې مسافر په چاودیدونکو توکو بار موټر چوي.

**د ځاي پر ځاي شويو چاويدنکو توکو تحليل او تشخيص:** د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو تحليل د هغو معلوماتو او موادو د تشخيص ، راټولولو ، پروسس او معلوماتو خپرولو پروسه ده چې د ځاي پر ځاي شويو چاويدنکو توکو د پيښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي ، د ځاي پرځاي شويو چاوديدونکو توکو ضد پروسیجرونه او میتودونه غښتلي او د دې لپاره چې د یاغیانو منابع کمزوري کړای شي او د دوی د عدلي تعقیب ملاتړ وشي. په دې کې د ځاي پر ځاي شويو چاوديدونکو توکو ساتنه ، د مختلفو برخو تشخیصونه ، تخنیکي ، عدلي طب او بایومتریک ازمویني او تحلیل راځي چې د با صلاحیته متخصصو اسانتیاوو او مرکزونو د لوړې تر سره کیږي. د چاوديدونکو توکو تحليل او تشخيص چاوديدونکو توکو پر ضد د اغیزمنو او دوامداره اقداماتو یوه اساسي برخه ده.

**پیښې:** هغه دي چې په وسله والو جګړو کې ملکی وګړو ته تلفات اړوي ، ملکیان تښتول کیږي ، یا ملکي شتمنۍ زیانمني کیږي ، او همدارنګه د وسله والې شخړې سره تړلي ګواښونه/تهدیدونه/ځوروني او د شخړې د ښکېلو ډلو له خوا د طبي او روغتیا پالنې د مرکزونو کارول.

**غير مستقيمې وسلې:** د وسلو سیستمونه ، د بیلګې په توګه توپخانه او د هاوانونو ګولۍ ، هغه چې د وسلو او د هغه د هدف تر منځ د لیدو کرښې ته اړتیا نه لري. د وسلو غیر مستقیمه کارونه د وسلو او د هغه د هدف تر منځ د لید د کرښې پرته د وسلې کارولو ته وای.

**نړیوال پوځي ځواکونه:** په "نړیوالو پوځي ځواکونو" کې ټول هغه بهرني عسکر شامليږي کوم چې د ناټو د پریکنده ملاتړ د ماموریت یوه برخه جوړوي کوم چې پخوا د (ایساف) په نوم یادیده او په افغانستان کې د امریکې د متحده ایالاتو نورو ځواکونه (د سنتینیل د ازادۍ د عملیاتو په شمول ، چا چې د ۲۰۱۵ کال د جنوری د ۱ نېټې څخه د پایښت لرونکی ازادۍ د عملیاتو ځای ونیو) او او همدارنګه څوک چې د غوڅ ملاتړ د ماموریت تر قومندان لاندی دي او څوک چې په افغانستان کې د امریکایې ځواکونو قومندان هم دی. دغه اصطلاح همدا راز پر ځانګړو عملیاتي ځواکونو او نورو بهرنيو استخباراتي او امنيتي ځواکونو باندې هم د پلي کیدو وړ ده.

**محرم:** د ښځې میړه ، یا د هغې نارینه خپل(د بیلګې په توګه ، پلار ، ورور ، ترونه او ماما ګان او د هغې وریرونه او خوريیونه) د چا سره چې د شریعت د قانون لاندې واده منع دی.

**ناټو:** د شمالي اتالنتیک تړون سازمان. د ناټو غړي د غوڅ ملاتړ د ماموریت د سرتیرو ورکونکو اصلي هیوادونه دي (غوڅ ملاتړ ماموریت او دویمه ضمیمه وګورۍ) د جزیاتو لپاره د شخړې اصلي اړخونه.

**NDS:** د ملي امنیت ریاست یا د افغانستان دولتي استخباراتي اداره

[۲۳۹] د ۲۰۰۹ کال راهیسې یوناما د دغو سویچ لرونکو نمونو په نتیجه کې ډېرې کم شمېر پیښې ثبتې کړې دي.

**غیر ځانمرګي تبعیه شوي چاودیونکي توکي:** د ځانمرګو تبعیه شویو چاودیدونکو توکو پرته ، د بیلګې په توګه ، هغه چې د فشاري آلې ، مقناطیسي او د ریموټ کنترول په واسطه د ماشه لرونکو چاودیدونکو توکو په واسطه را منځ ته کیږي ، هر ډول چاودیدونکي چاودیدونکي توکي دي.

**OHCHR:** د بشري حقوقو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ.

**د ازادۍ عملیاتو ساتونکی ماموریت- Operation Freedom's Sentinel:** په افغانستان کې د امریکا د متحده ایالتونو ځواکونه ځوک چې د غوځ ملاتړ ماموریت ملاتړ کوي او همدارنګه په افغانستان کې د افغانستان- او د متحده ایالتونو د ۲۰۱۴ کال د دوه اړخیزه امنیتي تړون پر اساس د ترهګرۍ پر ضد عملیات پر مخ وړي. دویمه ضمیمه وګورئ: د جزیاتو لپاره د شخړې اصلي خواووي.

**دولت پلوه وسله والې ډلې (یا دولت پلوه ملیشه :** د دولت پلوه وسله والو ډلو" اصطلاح یوه نا دولتي تنظیم شوی فعال ته چې په شخړه کې ښکېل وي او د دولتي ځواکونو ،یاغیانو او جنایي ډلو څخه توپیر ولري ، راجع کیږي. دولت پلوه وسله والې ډلې افغان سیمه ییز پولیس کوم چې د کورنیو چارو د وزارت تر کنترول او قوماندې لاندې راځي نه احتوا کوي. دغه وسله والې ډلې د افغانستان د قانون لاندې کوم حقوقي بنسټ نه لري. وسله والې ډلې دا پوتانسیل لري چې د ځواک په کارولو سره وسلې وکاروي تر څو سیاسي ، ایدیالوژیکي او اقتصادي موخې تر لاسه کړي ، دا ډلې د هیوادونو ، دولتی ایتلافونه او بین الحکومتي ادارو د رسمي پوځي جوړښتونو په دننه کې ځای نه لري او د هیواد(هیوادونو) تر کنترول لاندې نه دي په کومو کې چې دوي فعالیت کوي. په ځینو مواردو کې ، وسله والې ډلې د کوربه هیواد یا نورو هیوادونو څخه مستقیمې او غیر مستقیمې مرستې تر لاسه کوي. په دې تعریف کې دا شامل دی ، خو تر لاندې ډلو پورې محدود نه دي: د ملي پاڅون خوځښتونه[۲۴۰] ، محلي ملیشا (نژادي ، قومي یا په بل عبارت) او ملکی دفاعي ځواکونه او نیمه پوځې ډلې (داسې ډلې په ښکاره د دولت تر کنترول لاندې نه دي).

**دولت پلوه ځواکونه:** افغان دولتي ځواکونه او ټول هغه ځواکونه او ډلې دي چې په پوځې او نیمه پوځې عملیاتو یا د بغاوت ضد عملیاتو کې برخه اخلي او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د افغانستان د دولت تر قوماندې او ادارې لاندې دي. دویمه ضمیمه وګورئ: د جزیاتو لپاره د شخړې اصلي خواووي.

**د غوځ ملاتړ:** د ۲۰۱۵ کال د جنوری په ۱ نېټه، د شمالي اتلانتیک تړون سازمان (ناټو) په افغانستان کې خپل ماموریت د ایساف څخه د غوځ ملاتړ غیر جګړه ییز ماموریت ته واړاوه چې موخه یې افغان ملي امنیتي ځواکونو ته د روزنې ، مرستې او مشورې برابرول دي. دویمه ضمیمه وګورئ: د جزیاتو لپاره د شخړې اصلي خواووي.

**د تلاشۍ عملیات:** د تلاشي عملیات یو پوځې تاکتیک دی چې په افغانستان کې د دولت پلوه ځواکونو لخوا د هغو کسانو د نیولو یا وژلو لپاره کارول کیږي چې دوي فکر کوي د دولت ضد عناصرو اهداف دي ، چې په ترځ کې یې معمولاً د شپې له خوا کورونو ته دننه کیږي یا نور ملکي جوړښتونه تلاشي کیږي ترسره کیږي.

**سپکې وسلې:** هغه وسلې دي چې د انفرادي کارولو لپاره طرح شوي. په دې کې لاندې موارد راځي: د نورو شیانو تر څنګ ، ټومانچې ، اتومات ټومانچې ، ټوپکونه او کاربین ، فرعي ماشین ګنې ، د حملې ټوپکونه او سپکې ماشین ګنې شاملې دي.[۲۴۱]

**ځان مرګی برید (د تبعیه شویو چاودیدونکو توکو ځان برید:** یوناما د تبعیه شویو چاودیدونکو توکو د ځانمرګي برید یا ځانمرګي بریدونو هغو ټولو ته کاروي څو هغه ټول بریدونه احتوا کړي په کومو کې مرتکیب د یوه تبعیه شویو چاوددیدونکي توکي څخه

---

[۲۴۰] په شخړه کې د ملي پاڅون د غورځنګ د غړو د جګړو د تفصیلاتو او تعریفونو لپاره په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۴ راپورونه وګورئ.

[۲۴۱] پخپل وخت او په باوري توګه د ناقانونه کوچنیو او سپکو وسلو د تشخیص او څرک معلومولو لپاره د دولتونو د ځواکمنولو لپاره نړیواله مقرره ، چې د ۲۰۰۵ کال د ډسمبر په ۸ نېټه د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا تصویب شوې، A/CON.192/15 : په لاندني سایټ کې د لاسرسی وړ دی: http://www.un.org/events/smallarams2006/pdf/international_instrument.pdf

کار اخیستی ،په تیره بیا په ځان پورې تړلي یا په موټر کې ځای پر ځای شوي ځای پر ځای شوي چاودیدونکي توکي چې د چولو پر مهال د هغه یا هغې پر مړینه تمامه شي. پدې کې همدارنګه 'پیچلي بریدونه' هم شامل دي (پورته تعریف وګورئ) .

**هدفي وژنې:** د دې راپور د موخو لپاره ، هغه وژنې دي چې د یوه ځانګړي شخص په وړاندې څوک چید مرتکیب شخص په فزیکي بند کې نه دی ، د دولت پلوه ځواکونو یا دولت ضد عناصرو له خوا د قهریه قوې د قصدی کارولو په حیث تعریف شوې.[۲۴۲] په دې ډول پېښو معمولا له وړاندې قصد موجود وي. یوناما د ملکی کسانو د تلفاتو داسې قضې ثبت کړیدې کوم چې په نیغه د دا ډول بریدونو څخه را منځ ته شوي او یا هم ورسره تړلي دي.

**تشکیل:** په دري کې د جوړښت په مانا ده چې د کارکوونکو د ګمارنې رسمي فهرست او د تجهیزاتو اختصاص ته چې د افغانستان د دولت له خوا د دولت د یوه ځانګړې نهاد ، د امنیتي ځواکونو او ملکی حکومت دواړو لپاره تصویب شوې وي ، راجع کیږي

**یوناما:** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی.

**UXO:** ناچاودي توکي.

**جنګي جرمونه:** جنګي جرمونه د بشر پالنې د نړیوال قانون د میثاق او عرفي قانون څخه جدی سرغړونې دي.

په غیر وسله واله نړیواله شخړه کې جنګي جرمونه د درېیمې عمومي مادې او نورو قوانینو او دودونو چې په وسله واله شخړه کې چې نړیوال خصوصیت و نه لري د پلې کیدو وړ دي. په جنګي جرمونو کې لاندې موارد شامل دي-د هغو کسانو په حواله چې په نښتو ، د ژوند او شخص په وړاندې خشونت کې برخه نه اخلي ، د قتل ، د ملکي وګړو په وړاندې د عمدي بریدونو په شمول ، یا هغه کسان چې په دښمنیو کې برخه نه اخلي.[۲۴۳]

لمړی ضمیه وګورئ د نورو معلوماتو لپاره حقوقي چوکاټ.

[۲۴۲] که څه هم چې په زیاترو حالتونو کې چې هدفي وژنې د ژوند د حق څخه سرغړونه کوي ، د وسله والې شخړې په استثنایی حالتونو کې ، کیدای شي حقوقي بڼه ولري خو په دې شرط چې د بشر پالنې د نړیوال قانون د اړوندو مقرراتو او بشری حقونو درناوي شوي وي. د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلې ، د بشري حقونو د شورا ۱۴مه ناسته ، د اجنډاء درېیمه ماده ،د غیر قانونی یا په خپل سر او نا قانونه اعدامونو په هکله د ځانګړي راپور ورکوونکی ، فیلیپ آستون راپور ته مراجعه وکړئ. د هدفي وژنو په هکله تعدیل شوي څېړنه A/HRC/14/24/Add.6. 10 May 2010. په یوناما کې د دیټا بیس د ثبتولو په موخه ، د هدفي وژنو په کټګوري کې د وژنو ځینې داسې قضیې هم شاملې دي چې قرباني شوی کس د لنډې مودې لپاره د وژنکو په حراست کې پاتې شوي خو دغه حراست د تیښتونې له امله نه وو په دا معنی چې تشخیص شوي کس چې باید وژل شوي واي لومړي د مسلحو کسانو له خوا درول شوي ، هویت یې معلوم شوي او وروسته برید کوونکي دغه کس وژلي چې دا ډول وژنی اکثراً د ناقانونه تلاشي پوستو کې ترسره شوي.

[۲۴۳] د نړیوالې جنایې محکمې اساسنامه ، ۸(۲)(c)( e) ، د سره صلیب د نړیوالې کمیټې له خوا د بشر پالنې پر عرفي نړیوال قانون څېړنه ، ۱۵۶ قاعده

## څلورمه ضمیمه: د ملکي تلفاتو ولایتي تجزیه

د ۲۰۱۸ کال د جنوري د ۱ څخه د ډسمبر د میاشتې تر ۳۱ نېټې پورې ، نښلول شوی نوملړ د دې په خاطر تنظیم شوی څو د ملکي تلفاتو د لوړ شمېر او د ملکي تلفاتو د ټیټ شمېر درلودنکي ولایتونه مشخص کړي او د ملکي تلفاتو هغو ټولیزو ارقامو ته چې د راپور ورکولو د مودې پر مهال د افغانستان د ۳۴ ولایتونو له جملې څخه په هر یوه ولایت کې مستند شوې ، په هر ولایت کې د ملکي تلفاتو درې مهمو لاملونو او د ۲۰۱۷ کال د ورته مودې په پرتله د ملکي تلفاتو په برخه زیاتوالي او کموالي ته په نوملړ کې ځای ورکړل شوی.

| ولایت | مخکښ تاکتیک او لامل | دويم مخکښ تاکتیک | دریم مخکښ تاکتیک | ټولټال ملکي تلفات | د ۲۰۱۷ کال په پرتله |
|---|---|---|---|---|---|
| کابل | ځانمرګي/پیچلي بریدونه | تبعیه شوي چاودیدونکي توکي (غیر ځانمرګي) | عمدي وژنې | ۱۸۶۶(۵۹۶ مړه او ۱۲۷۰ ټپي) | %۲+ |
| ننګرهار | ځانمرګي/پیچلي بریدونه | تبعیه شوي چاودیدونکي توکي (غیر ځانمرګي) | ځمکنۍ نښتې | ۱۸۱۵ (۶۸۱ مړه او ۱۱۳۴ ټپي) | %۱۱۱+ |
| هلمند | ځمکنۍ نښتې | تبعیه شوي چاودیدونکي توکي (غیر ځانمرګي) | ځانمرګي/پیچلي بریدونه | ۸۸۰ (۲۸۱ مړه او ۵۹۹ ټپي) | %۱۱- |
| غزني | ځمکنۍ نښتې | هوايي بریدونه | هدفي/عومدي وژنې | ۶۵۳ (۲۵۳ مړه او ۴۰۰ ټپي) | %۸۴+ |
| فارياب | ځمکنۍ نښتې | هوايي عملیات | ناچاوده توکي / ځمکنې ماينونه | ۶۴۶ (۲۳۰ مړه او ۳۳۳ ټپي) | %۱+ |
| کندهار | تبعیه شوبې چاودیدونکي توکي (غیر ځانمرګي) | ځمکنۍ نښتې | د تاشي عملیات | ۵۳۷ (۱۵۲ مړه او ۲۷۶ ټپي) | %۲۵- |
| پکتیا | ځانمرګي/پیچلي بریدونه | ځمکنۍ نښتې | هوايي بریدونه | ۴۲۸ (۱۵۲ مړه او ۲۷۶ ټپي) | %۱۳- |
| کنړ | ځمکنۍ نښتې | هوايي بریدونه | تبعه شوي چاودیدونکي توکي (غیر ځانمرګي) | ۳۹۷ (۱۲۸ مړه او ۲۶۹ ټپي) | %۷۷+ |
| کندز | ځمکنۍ نښتې | هوايي بریدونه | تبعه شوي چاودیدونکي توکي (غیر ځانمرګي) | ۳۳۷ (۱۰۵ مړه او ۲۳۲ ټپي) | %۱۱- |
| زابل | ځمکنۍ نښتې | تبعیه شوي چاودیدونکي توکي(غیر ځانمرګي) | ناچاوده توکي/ځمکنې ماينونه | ۲۹۳ (۵۷ مړه او ۲۳۶ ټپي) | %۱۲- |
| فراه | ځمکنۍ نښتې | تبعیه شوي چاودیدونکي توکي(غیر ځانمرګي) | هدفي وژنې | ۲۷۵ (۱۲۲ مړه او ۱۵۳ ټپي) | %۱۹- |
| لغمان | ځمکنۍ نښتې | هدفي وژنې | ناچاوده توکي/ځمکنې ماينونه | ۲۷۱ (۹۳ مړه او ۱۷۸ ټپي) | %۲۳- |
| بغلان | ځمکنۍ نښتې | تبعیه شوي چاودیدونکي توکي(غیر ځانمرګي) | هدفي وژنې | ۲۶۱ (۶۸ مړه او ۱۹۳ ټپي) | %۱۷+ |
| هرات | ځانمرګي/پیچلي بریدونه | ځمکنۍ نښتې | هدفي وژنې | ۲۵۹ (۹۵ مړه او ۱۶۴ ټپي) | %۴۶- |
| بلخ | ځمکنۍ نښتې | تبعیه شوي چاودیدونکي توکي(غیر ځانمرګي) | هدفي وژنې | ۲۲۷ (۸۸ مړه او ۱۳۶ ټپي) | %۷۶+ |
| وردک | ځمکنۍ نښتې | ځانمرګي بریدونه | تبعیه شوي چاودیدونکي توکي (غیر ځانمرګي) | ۲۲۴ (۸۸ مړه او ۱۳۶ ټپي) | %۱۷۰+ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| **جوزجان** | ځمکنۍ نښتې | هوايي بريدونه | تبعيه شوي چاوديدونکي توکي (غير ځانمرګي) | ۱۸۳ (۶۱ مړه او ۱۲۲ ټپي) | %۵۵+ |
| **خوست** | ځانمرګي/پيچلي بريدونه | هدفي وژنې | تلاشي | ۱۷۵ (۸۴ مړه او ۹۱ ټپي) | %۳- |
| **ارزګان** | ځمکنۍ نښتې | تبعيه شوي چاوديدونکي توکي(غير ځانمرګي) | هوايي بريدونه | ۱۷۳ (۴۶ مړه او ۱۲۷ ټپي) | %۷۰- |
| **پکتيکا** | ځانمرګي/پيچلي بريدونه | هدفي وژنې | ځمکنۍ نښتې | ۱۵۰ (۶۷ مړه او ۸۳ ټپي) | %۶- |
| **لوګر** | ځمکنۍ نښتې | هدفي وژنې | پيچلي بريدونه | ۱۴۳ (۶۸ مړه او ۷۵ ټپي) | %۳- |
| **کاپيسا** | ځمکنۍ نښتې | هوايي بريدونه | تبعيه شوي چاوديدونکي توکي (غير ځانمرګي) | ۱۳۹ (۳۹ مړه او ۱۰۰ ټپي) | %۳۸+ |
| **تخار** | ځمکنۍ نښتې | تبعيه شوي چاوديدونکي توکي (غير ځانمرګي) | ګواښ/تهديد/ځورونې | ۱۱۳ (۲۶ مړه او ۸۷ ټپي) | %۱۵+ |
| **سرپل** | ځمکنۍ نښتې | ناچاوده چاوديدونکي توکي | تبعيه شوي چاوديدونکي توکي (غير ځانمرګي) | ۱۰۱ (۲۲ مړه او ۷۹ ټپي) | %۶- |
| **نيمروز** | ځمکنۍ نښتې | ناچاوده چاوديدونکي توکي | هوايي بريدونه | ۸۲ (۱۸ مړه او ۶۴ ټپي) | %۱۷- |
| **بادغيس** | ځمکنۍ نښتې | ناچاوده چاوديدنکي توکي | تبعيه شوي چاوديدونکي توکي (غير ځانمرګي) | ۷۹ (۲۱ مړه او ۵۸ ټپي) | %۴۰- |
| **غور** | هدفي/قصدي وژنې | ځمکنۍ نښتې | تبعيه شوي چاوديدونکي توکي (غير ځانمرګي) | ۶۴ (۲۸ مړه او ۳۶ ټپي) | %۹۴+ |
| **بدخشان** | ځمکنۍ نښتې | اختطاف<br>تښتونې | هدفي وژنې | ۶۳ (۱۸ مړه او ۴۵ ټپي) | %۳- |
| **سمنګان** | ځانمرګي/پيچلي بريدونه | هدفي/عمدي وژنې | ځمکنۍ نښتې | ۴۶ (۱۹ مړه او ۲۷ ټپي) | %۲۱+ |
| **پروان** | ځمکنۍ نښتې | ځانمرګي/پيچلي بريدونه | ځمکنۍ نښتې | ۴۱ (۲۰ مړه او ۲۱ ټپي) | %۴۷- |
| **دايکوندي** | ځمکنۍ نښتې | اختطاف/تښتونې | تبعيه شوي چاوديدونکي توکي (غير ځانمرګي) | ۴۱ (۱۹ مړه او ۲۲ ټپي) | %۵- |
| **نورستان** | ځمکنۍ نښتې | هدف/قصدی وژنې | هوايي بريدونه | ۲۵ (۹ مړه او ۱۵ ټپي) | %۴۱+ |
| **باميان** | ناچاودي چاوديدونکي توکي | ځمکنۍ نښتې | ګواښ/تهديد/ځورونې | ۷ (۱ مړينه او ۶ ټپي) | %۷۵+ |
| **پنجشير** | N/A | N/A | N/A | ۰ | ۰ |

## پنځمه ضمیمه: د طالبانو له خوا ادعا شوي بریدونه: د هدف د نمونې پر اساس تجزیه

د ۲۰۱۸ کال د جنوري د ۱ او د جون د ۳۰ تر منځ ، طالبانو په څرګند ډول د ۱۵۳ بریدونو مسئولیت منلی د کومو په نتیجه کې چې ملکي تلفات را منځ ته شوي. د طالبانو د ۱۵۳ ادعا شویو بریدونو له جملې څخه ، ۶۱ بریدونو دولت پلوه ځواکونه په نښه کوي او ۹۲ په عمدي توګه ملکي کسان په نښه کوي.

لاندې نوملړ د هدف د نمونو په واسطه د ټولټال ۱۵۳ بریدونو د کومو په نتیجه کې چې ۹۴۳ ملکي تلفات (۳۱۹ مړه او ۶۲۴ ټپي) را منځ ته شوي ، تجزیه وړاندې کوي.

| | |
|---|---|
| **د افغان امنیتي ځواکونو،نړیوالو پوځي ځواکونو او دولت پلوه ډلو په وړاندې هدایت شوي بریدونه** | |
| افغان ملي پولیس | ۲۶ |
| افغان ملي امنیتي ځواکونه | ۱۱ |
| افغان ملي پوځ | ۱۰ |
| د ملي امنیت ریاست | ۳ |
| افغان سیمه ییز پولیس | ۷ |
| نړیوال پوځي ځواکونه | ۲ |
| افغان سرحدي پولیس | ۲ |
| د امنیتي ځواکونو په وړاندې ټولیز بریدونه چې له امله یې ملکي تلفات را منځ ته شوي او په ویب پاڼه او ټوټیر باندې د طالبانو له خوا ادعاوې | ۶۱ |
| **د ملکي کسانو او ملکي هدفونو په وړاندې هدایت شوي بریدونه** | |
| نورې ملکي موخې | ۱۴ |
| ملکي حکومتي اداره | ۱۷ |
| قومي مشران | ۵ |
| قاضیان ،څارنوالان او قضایي کارکوونکي | ۱ |
| قراردادیان/کارګر | ۴ |
| په ټاکنو پورې اړوند | ۵۰ |
| ادغام شرې پخواني دولتي ضد عناصر | ۱ |

د طالبانو له خوا په ملکي کسانو او ملکي ځایونو ادعا شوي بریدونه چې ملکي تلفات یې را منځ ته کړي: ۹۲

**د طالبانو له خوا ټولټال ادعا شوي بریدونه په کومو کې چې ملکي تلفات را منځ ته شوي ۱۵۳**

## شپږمه ضمیمه: د "جنګي جرمونو" په اړه د طالبانو د ادعاوو فهرست

د ۲۰۱۸ کال د جنوري د ۱ او ډسمبر د ۳۱ تر منځ ، طالبانو په دولت پلوه ځواکونو د ملکي تلفاتو د را منځ ته کولو تور پورې کړی. دغه ادعاووې د طالبانو په عامه بیانونو یا راپورونو کې راغلې. لاندې نوملړ د جنایي جرمونو د ټولټال ۳۵۶ ادعاوو خلاصه وړاندې کوي په کومه کې چې طالبانو ادعا کړې جنګي جرمونه د دولت پلوه ځواکونو له خوا ترسره شوې. یوناما ټینګار کوي چې په دغو پېښو کې د ملکي تلفاتو تایید په حتمي توګه دا نه ښیي چې جنګي جرمونو لکه څنګه چې د نړیوال قانون له مخې تعریف شوي ، نه دي ترسره شوي.

| ټولټال | د یوناما مستند کول | ملکي تلفات چې د یوناما له خوا تایید شوي | منسوبونه |
|---|---|---|---|
| ۳۵۶ | د طالبانو د بیانونو/راپورونو د نشر کیدو څخه وړاندې د یوناما له خوا ۲۰۴ قضیې مستندې شوې. | په ۵۰ قضیو کې ، یوناما د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې د ملکي تلفاتو ورته شمېرې تایید کړې<br>په شپږو پېښو کې ، یوناما د ملکي تلفاتو د ورته ټولیز شمېر خو د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې بیلابیل ارقام تایید کړی. | ۴۶ دولت پلوه ځواکونه<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ته په ګډه ۴<br>دولت ضد عناصرو ته ۶ |
| | | په ۷۶ قضیو کې یوناما د ملکي تلفاتو د ټیټو شمېرو تایید کړی. | دولت پلوه ځواکونو ته ۶۳<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ته په ګډه ۹<br>دولت ضد عناصرو ته ۴ |
| | | په ۲۵ قضیو کې د ملکي تلفاتو لوړې شمېرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۲۲<br>دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ته په ګډه ۳ |
| | | ۷ قضیو د وسله والې شخړې سره تړاو نه درلود | |
| | | د ۴۰ قضیو تلفات ملکیان نه و و یا یې هیڅ تلفات نه درلودل. | |
| | | | |
| | د طالبانو د بیانونو/راپورونو د نشر کیدو څخه وروسته د یوناما له خوا ۸۰ قضیې مستندې شوې. | په ۲۱ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمېرې موجودې وې.<br>د وژل شویو او ټپي شویو کسانو تر منځ د مختلف نسبت په درلودلو سره یوناما په ۲ قضیو کې د ملکي تلفاتو ورته شمېرې تایید کړې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۱۶<br>د دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ته ۴<br>دولت ضد عناصرو ته ۳ |
| | | په ۲۶ قضیو کې د ملکي تلفاتو کمې شمېرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۲۳<br>دولت پلوه ځواکونو او دولت ضد عناصرو ته ۳ |
| | | په ۹ قضیو کې د ملکي تلفاتو لوړې شمېرې موجودې وې. | دولت پلوه ځواکونو ته ۹ |
| | | د ۲۲ پېښو تلفات ملکیان نه وو او یا یې هیڅ ډول تلفات نه درلودل | |
| | یوناما و نه شوای کولای ۷۲ قضیې تایید کړي. | | |

## اومه ضمیمه: په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۸ کال د کلني راپور په اړه د افغانستان د اسلامي جمهوریت غبرګون

د ۲۰۱۹ کال د فبروري ۲۳

د افغانستان د اسلامي جمهوریت دولت ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) څخه په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې د ۲۰۱۸ کال د راپور د طرحې د شریکولو مننه کوي.

دولت ضد وسله وال څواکونه ، طالبان ، تروریستي ډلې او په هغوی پورې تړلي کسان په افغانستان کې د ملکي تلفاتو مسوول دي. په داسې حال کې چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د ولسي وګړو د ساتنې لپاره احتیاطي او مشخص تدابیر کاروي ، خو طالبان او تروریستي ډلې ملکي وګړي د هغوی د جګړې د ډال او تاکتیکونو په څېر کاروي چې د زیاتو ملکي تلفاتو لامل شوي. دغه ډلې آن په قصدي ډول ملکي وګړي په نښه کوي چې د ټولنې ترمنځ ډار وزيږوي. په داسې حال کې چې د دولت ضد وسله والو څواکونو له خوا رامنځ ته شوي ملکي تلفات لوړ شوي ، خو د ۲۰۱۸ کال لپاره دولت پلوه څواکونو ته منسوب شوي د ملکي تلفاتو شمېرې هغه چې موږ راغوندې کړي د هغه څه په پرتله چې ستاسو راپور یې په ډاګه کوي ، ډېر کم دي. دولت ضد وسله وال څواکونه یو شمېر تاکتیکونه کاروي ، څو دولت پلوه څواکونو ته ملکي تلفات منسوب کړي. د بېلګې په توګه ، دوی د جګړې په ډګر کې خپل تلفات بې وسلې پرېږدي.

ولسي وګړو ته د زیان مخنیوي او راکمونه د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت قانوني او اخلاقي دنده ده او د ملکي وګړو د زیان د مخنیوي او راکمونې په اړه زموږ تر ملي پالیسي لاندې کومه چې د ملي امنیت شورا له خوا تصویب شوې ، تر ټولو مهم لومړیتوب ګڼل کیږي. زموږ دفاعي او امنیتي څواکونه په داسې یوه لار د عملیاتو په پلانونو کې اعظمي پاملرنه کوي څو د ملکي تلفاتو مخنیوی وکړي. په ګڼ شمېر حالاتو کې مهم عملیات د ملکي وګړو ژوند ته د پېښ ګواښ له امله ځنډول شوي یا هم لغوه شوي.

موږ غواړو یو ځل بیا د دې یادونه وکړو ، چې د افغانستان د اسلامي جمهوریت حکومت د خپلې یوې ستړې دندې په څېر د ملکي وګړو ساتنې ته په بشپړ ډول ژمن دی ، ټولې هغه هڅې هڅوي او هرکلی یې کوي چې له زموږ سره په دې برخه کې مرسته کوي.

## اتمه ضمیمه: په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۸ کال د کلني راپور په اړه ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت غبرګون

غیر حساس معلومات خلکو ته د خپریدو وړ دي

۱۹ فبروري، ۲۰۱۹

**موضوع: په وسله واله جګړه کې د ملکي تلفاتو په اړه په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي د ۲۰۱۸ کال د کلني راپور په اړه د ناټو د غوڅ ملاتړ د ماموریت له خوا رسمي غبرګون**

د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت له فرصت څخه په کټه اخیستو سره په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۸ کال کلني راپور ګوري او ځواب ورکوي.

د غوڅ ملاتړ ماموریت د ملګرو ملتونو د امنیت شورا تر ۲۴۰۵ (۲۰۱۸) پریکړه لیک لاندې د خپلو اختیاراتو په تعقیب په افغانستان کې د ملکي تلفاتو د پیښو د څیړلو او راپور کولو په برخه کې د یوناما مهمې هڅې ستایي. د غوڅ ملاتړ ماموریت یوناما له خوا د ملګرو ملتونو د امنیت شورا د ۲۱۸۹ (۲۰۱۴) پریکړه لیک د منلو قدرداني کوي، کوم چې د افغانستان او ناټو ترمنځ دوه اړخیز ترون په رسمیت پیژني څو د غوڅ ملاتړ ماموریت رامنځ ته کړي.

د غوڅ ملاتړ ماموریت د یوناما له خوا د هغه کار په رسمیت پیژندلو مننه کوي، چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو د کچې را کمولو لپاره ترسره شوي او همدا راز د هر ډول ادعا شویو پیښو بشپړه او شفافه څیړنه یقیني کوي چې د ایتلافي ځواکونو د عملیاتو څخه یا د هغو په پایله کې را منځ ته کیږي. موږ به د ملکي تلفاتو د مخنیوي په برخه کې خپلو پراخو هڅو ته دوام ورکړو او په بشپړ ډول به د ملکي تلفاتو تورونه وڅیړو.

په افغانستان کې د غوڅ ملاتړ ماموریت ټول عملیات د نړیوال قانون له مکلفیتونو سره په سمون کې ترسره شوي او د ملکي تلفاتو د احتمال د محدودولو لپاره ټول د پیشبیني وړ احتیاطي تدابیر ترسره شوي. کله چې د غوڅ ملاتړ ماموریت د ملکي تلفاتو د پیښو تورونه ترلاسه کړي، چې د نړیوالو نظامي ځواکونو له خوا رامنځ ته شوي، هغه د جدي ادعاوو په څېر ګڼي (پرته له دې چې دا په پام کې ونیول شي چې تورونه د نړیوالو نظامي ځواکونو د یوه واحد یا د باندني کوم نهاد له خوا را منځ ته شوي). د ملکي تلفاتو ټول تورونه بیا د جدي پلټنو او د بیا کتنې له رسمي پروسو تیریږي څو د تور ریښتینولي معلومه کړای شي.

د غوڅ ملاتړ ماموریت د ملکي تلفاتو د بیا کتنې د پروسې پر اساس، د ملکي تلفاتو هر تور به د غوڅ ملاتړ د ماموریت له خوا هغه مهال "تایید شوی" وشمېرل شي کله چې ټول اړوند او باوري معلومات په مناسب ډول د لاس رسي وړ وي، دا معلومه شوې وي چې د دې زیات احتمال شته چې د غوڅ ملاتړ د ایتلافي ځواکونو د عملیاتو په پایله کې یو ملکي کس ټپي یا وژل شوی تر دې چې نه وي شوی. په ځینو مواردو کې، د ملکي تلفاتو یو تور ښایي له ځان سره ځینې داسې نا کافي تفصیلات ولري چې د غوڅ ملاتړ ماموریت ته دا اجازه ورکوي څو د تورونو د ریښتینولي په اړه تایید شوې پریکړه وکړي، خو چیرې چې د ملکي تلفاتو شونتیا موجوده وي، دغه تور ته د غوڅ ملاتړ ماموریت له خوا د یوه اختلافي تور په سترګه کتل کیږي. که چیرې ملکي تلفات د ایتلافي ځواکونو د عملیاتو په پایله کې نه وي رامنځ ته شوي یا هغوی ته د منسوبیدو وړ نه وي، هغه تور د غوڅ ملاتړ ماموریت له خوا د ناتایید شوي هغه په څېر ګڼل کیږي.

د غوڅ ملاتړ ماموریت د ملکي تلفاتو د بیاکتنې پروسې د یوې برخې په څېر، د ملکي تلفاتو هر تور په حقوقي ډول کتل کیږي څو دا یقیني کړي چې د تحقیق ټولې ممکنه کړنې په پام کې نیول شوې، ټولو موندنو سره د شواهدو او نړیوال قانون له خوا مرسته شوې، او ټولې سپارښتنې له موندنو ملاتړ کوي. په ټولو قضیو کې که چیرې نوي شواهد تر سترګو شي، د ملکي تلفاتو هر ترل شوی او اختلافي تورونه له سره پرانیستل کیږي او د بیا کتلو او څیړلو وړ دي. په لا مهم ډول، د غوڅ ملاتړ د ماموریت

## په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د افغانستان کلنی راپور: ۲۰۱۸

استازي په منظمه توګه د یوناما له استازو ګوري ، خو د ملکي تلفاتو د هر تور چې د یوناما له خوا راپور شوی ، د پایلو په اړه خبرې اترې ترسره کړي.

د تفصیلي عملیاتي ریکاډونو پر بنسټ ، د غوڅ ملاتړ ماموریت د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې ۱۱۷ تایید شوي ملکي تلفات (۶۲ مړه او ۵۵ مړه) او ۱۳۴ اختلافي ملکي تلفات ( ۶۸ مړه او ۶۶ ټپي) په ګوته کړي دي. د غوڅ ملاتړ ماموریت د دغو ملکي تلفاتو لپاره احتساب مني. د دې په یادولو سره چې دا د ملکي تلفاتو ډېره کمه برخه ده ، د غوڅ ملاتړ ماموریت بیا مني چې دا ډېر لوړ شمېر دی او خپلې هڅې به جاري وساتي چې د ملکي تلفاتو نورې پیښې له منځه یوسي ، څرنګه چې موږ د یوې مذاکره شوې سولې د ترلاسه کولو لپاره کار کوو.

د غوڅ ملاتړ ماموریت د ملکي تلفاتو د تورونو په اړه له یوناما سره د لا زیاتو همکاریو او معلوماتو شریکولو د فرصت هرکلی کوي. د غوڅ ملاتړ ماموریت دې ته ژمن دی چې د ملکي تلفاتو د مخنیوي لپاره هره معقوله هڅه ترسره کړي.

راندي اي. جورج

میجر جنرال (OF-7) د متحده ایالاتو پوځ

د عملیاتو د رئیس ارکان مرستیال

د غوڅ ملاتړ ماموریت مرکزي قرارګاه

## نهمه ضمیمه: په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د ۲۰۱۸ کال د کلني راپور په اړه د طالبانو غبرګون

**په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه مأموریت د حقوق بشر د څانګې د ۲۰۱۸ میلادي کال د ملکي وګړو د ساتنې د راپور په اړه د افغانستان د اسلامي امارت ځواب**

مونږ ستاسو څخه مننه کوو چې خپل کلنۍ راپور مو تر نشر مخکې زمونږ سره شریک کړ. مونږ ستاسو راپور ولوست او د ډېر غور څخه وروسته مو لاندې کرښې ستاسو د راپور په ځواب کې توري کړې.

تاسې په خپل راپور کې لیکلي چې دافغانستان د شخړې په اړه د یوناما موقف دا دی چې دا یو داخلي وسله واله شخړه ده ، البته مونږ دا په کلکه ردوو او دا یوه نړیواله وسله واله شخړه بولو. همداراز دا وایو چې د افغانستان شخړه د جینیوا کنوانسیون د ۳ مشترکې مادې لاندې نه بلکې د څلورم جینیوا کنوانسیون لاندې راځي. امریکایانو د ټولو نړیوالو حقوقو په خلاف په افغانستان باندې حمله کړې ده او دا حقیقت باید د ملګرو ملتونو اداره درک کړې. دوی پرته له دې ، لکه څنګه چې د ملګرو ملتونو منشور هدایت کوي ، چې سوله ایزو لارو باندې د افغانستان اسلامي امارت سره جوړجاړی وکړي ، په افغانستان باندې حمله وکړه او یو ثابت حکومت یې وپرزولو چې په نتیجه کې یې د نړۍ او سیمې امن مختل کړو او ډېر افغانان یې شهیدان ، معیوبین ، بې کوره او مهاجر کړل. په افغانستان باندې ددوی برید نه د دفاعي برید شرایط پوره کوي او نه د ملګرو ملتونو د حمایت لاندې د اجتماعي برید شرایط.

د ملکي تلفاتو په هکله هم مونږ ستاسې شمېرې ردوو. سره له دې چې تاسې په راپور کې یادونه کړې ده ، چې د اشغالګرو ځواکونو لخوا په ۲۰۱۸ کې بې سارې بمبارۍ شوې دي او تر نورو ټولو کلونو ډېر تلفات یې اړولي ، خو بیا مو هم د ټولو تلفاتو ۷ سلنه اشغالګرو ځواکونو ته منسوب کړي دي ، چې دا نه یواځې د افغانستان اسلامي امارت او افغان ولس ته د منلو وړنه دي بلکې ځوک چې د افغانستان د حالت په الف باء باندې خبر وي نو هغوی به هم دا راپور په پټو سترګو یو طرفه وبولي او رد به یې کړي. په هلمند ، ننګرهار ، کندز ، غزني ، پکتیا ، وردګو ، او نورو ډېرو ولایتونو کې د چاپو او هوایي بمباروںو څخه خلک دومره تنګ راغلي چې ډېری خلکو خپل کورونه او کلي پرېښي دي او کوم خلک چې هلته استوګن هم دي هغوی هم تر ډېره پورې د شپې غرونو ته خیژي او یا نورو سیمو کې شپې تیروي. دا خبره مونږ د اسلامي امارت د مجاهدینو نه بلکې د عام ولس خبره کوو ، ځکه چې په اکثره بمبارونو او عملیاتونو کې عام ولس ته تلفات اوړي.

دا اوس هر چا ته جوته ده چې د کابل اداره او خارجي اشغالګر د جنګ د ادابو څخه یو ادب ته هم ژمن نه دي او هدف یې یواځې د خلکو وژل او ترهول دي ، او په دې برخه کې دوی د خلکو د وژلو ، شکنجه کولو ، ځورولو ، بندیانولو ، لوټلو ، تښتولو او د بل هیڅ کوم غیر انسانی عمل څخه دریغ نه کوي. د کابل د اداري او اشغالګرو ځواکونو وحشت اوس د جنګي جرمونو د دائرې څخه وراوښتي دي او د ټولوژنې په دائره کې راځي ، ځکه چې بالفعل دوی د خلکو ټولوژنه او ډلوژنه شروع کړې ده. ددې پر ځای چې د ملګرو ملتونو د حقوق بشر اړوند اداره ددوی ددغه ټولوژنې مخه ونیسي او ددوی کړغېړنو کړنو ته دواقعیت مطابق انعکاس ورکړي ، ملکري ملتونه ددوی په کړنو باندې پرده اچوي او په شکل د اشکالو باندې ددوی د تلفاتو د کم ښودولو هڅه کوي. برعکس ، په دې برخه کې د اسلامي امارت د منتجو هڅو سره سره دوی په امارت باندې د ملکي تلفاتو د یوې غوښنې برخې پړه اچوي او د اشغالګرو او ګوډاګیو ځواکونو تلفات پکې تر سیوري لاندې راولي.

له بل پلوه بیا د افغانستان اسلامي امارت لپاره د ملکي خلکو خوندیتوب تر نورو شیانو لومړیتوب لري او سربیره پر دې چې ددې لپاره یې ځانګړی کمیسون ټاکلی او په هر ولایت او ولسوالۍ کې نماینده لري ، اوس یې د خپلو ملګرو د لا زیات پوهاوي لپاره ټولو ولایاتو او ولسوالیو ته د هیأتونو د لیږلو لړۍ پیل کړې ده چې وخت په وخت ولایاتو ته ځي او د ملکي تلفاتو په تعداد ، عوامل ، او دا چې د چا لخوا شوي او څنګه یې باید مخنیوی وشي ، کار کوي. نه یواځې دا ، بلکې که چیرته د کوم مجاهد نه په دې برخه کې غفلت شوی وي ، هغې سره قانوني چلند کیږي ، او متأثرینو سره مرسته هم کیږي. خو ډېر کله د اسلامي امارت لخوا د ملکي تلفاتو هڅې د امارت د مسؤلینو د شهادت سبب هم کیږي. دملکي تلفاتو دکمیسیون هغه مسؤلین ،

چې په خپلو سیمو کې دعام ولس دربغ اوربدلو لپاره گرځي ، دمجاهدینو پوهاوی کوي ترڅو ملکي وګړو ته تلفات وانه ړوي ، په دې برخه کې سترپاوې ګالي: نه باید داشغالګرو او ګوډاګی اداري دټوپکیانو لخوا په نخښه شي بلکه دداسي کسانو دګړو وړو باید قدرونه وشي خو د دې پر عکس اشغالګرو او ګوډاګیانو تر بل هرچا د دې اداري کسان په نښه کړي او تر اوسه یې یو عمومي مرستیال ، الحاج ملا عبد المنان ، یو ولایتي رئیس او دیارلس تنه دولسوالیو مدیران په شهادت رسولي ، یو تن مدیر یې زخمي کړی او یو تن مدیر یې هم اسیر کړی دی.

دافغانستان اسلامي امارت دملکي تلفاتو دمخنیوي او سمع شکایاتو دکمیسیون لخوا څخه د تیر ۲۰۱۸ کال په اخیر کې دټول کال دملکي تلفاتو بشپړ مستند راپور نشر شوی ، چې په هغه کې هر لوري ته منسوب تلفات په ډېر دقت او مستند ډول پسولل شوي دي ؛ تاسې لطفا هغه راپور هم ولولئ ، چې داسلامي امارت دمجاهدینو او مسؤلینو لخوا په دې برخه کې څومره احتیاط شوی او داشغالګرو او ګوډاګی اداري دټوپکمارو لخوا په څومره خرپنده بې پروايي عام ولس ته تلفات او خسارات آوښتي دي ؟!

سره له دې چې د ملګرو ملتونو اداره د مکملې بې طرفی دعوه کوي ، خو کوم عبارات او الفاظ چې په ټول راپور کې ، خصوصا د سپارښتنو په برخه کې ، د افغانستان اسلامي امارت ته دوی استعمال کړي او کوم چې یې خارجي اشغالګرو ته استعمال کړي په منځ کې یې ډېر فرق دی. ځکه نو په کار ده چې دوی په راپور کې د اړخونو ترمنځ بې طرفي وساتي او څنګه چې امارت ته سپارښتنه کوي چې ځانګړی تکتیک دې ژر تر ژره پریږدي ، همداراز دې امریکایانو ته هم یادونه وکړي چې باید ژر تر ژره په ملکي کورونو چاپې او بمبار ودروي.

که څه هم موږ دا راپور په کلکه ردوو ، خو سره له دې موږ د یوناما او هرې بشري اداري له لوري د ملکي تلفاتو په اړه سپارښتونو ته د قدر په سترګه ګورو او عملا یې په کار اچوو.

ستاسو د یو شمېر سپارښتنو په اړه موږ داسې وایو چې:

- د اسلامي امارت مجاهدین د ملکي خلکو د ګڼې ګوڼې او استوګنې په ځایونو کې او همداسې په بې توپیره او غیر متناسب توګه چاودیدونکي توکي نه استعمالوي ، بلکې دا زموږ اسلامي ، افغاني او سیاسي وجیبه ده چې د خلکو د سر او مال حفاظت وکړو. ډېر کرتې داسې شوي چې د ملکي تلفاتو د اندېښنې له امله د اسلامي امارت مجاهدینو خپلو عملیاتو ته تغیر ورکړی.
- د ټاکنو پروسه ډېره فاسده او غیر مشروعه پروسه وه ، په هیڅ صورت د افغان ولس د ارادې تمثیل پکې نه کیدو ، او دا د افغان ملت د سر ، مال او شتمنې سره خیانت دی چې په داسې حالاتو کې دې ټاکنې ترسره شي. همداراز دا د کابل اداري غلطي ده چې دوی د ټاکنو لپاره مکتبونه ، مسجدونه او کلینیکونه استعمالوي ، دا شیان باید د سیاسي اهدافو لپاره استعمال نه شي. خو سره له دې د افغانستان اسلامي امارت د ټاکنو په پروسه کې هم خپله ټوله هڅه کړې ده چې ملکي خلکو ته تلفات وانه وړي.
- اسلامي امارت ملکیان او ملکي اهداف نه په نښه کړي ، نه په نښه کوي او نه به یې ان شاء الله په راتلونکي کې په نښه کړي.
- د اسلامي امارت مجاهدین د ملکي ځایونو څخه یا د ملکي ځایونو پر لور انداخت نه کوي ، بلکې همیشه یې دا هڅه کړې ده چې د ملکیانو د ساحې څخه لرې خپل عملیات تر سره کړي.
- اسلامي امارت بې احتیاطه ، بې توپیره او نا متناسب بریدونه نه کوي ، او که د امارت د کوم مجاهد لخوا په دې برخه کې غفلت کیږي نو هغه په شرعي توګه محاکمه کیږي. سربیره پر دې اسلامي امارت دهغو ټپیانو بشپړه درملنه هم کوي ، چې په جګړو ، چاودنو او نورو عملیاتو کې زخمي کیږي ، نړیوالې اداري باید په دې چاره کې دملکي خلکو دژغورنې پر پار داسلامي امارت لاس نیوی او تقدیر وکړي.

په وسله واله شخړه کې د ملکي کسانو د ساتنې په اړه د افغانستان کلنی راپور: ۲۰۱۸

- اسلامي امارت د ملکي تلفاتو په اړه خپله پالیسي هر وخت څرګنده کړې ده ، اسلامي امارت دا خپله دیني وجیبه بولي او په وار وار د اسلامي امارت د مشرتابه لخوا په دې هکله اعلامیې خپرې شوي دي ، حتی د امیر المؤمنین په اختریز پیغام کې پر مجاهدینو باندې غږ شوی چې په کومه سیمه کې چې د ملکي تلفاتو اندیښنه وي ، هلته باید د عملیاتو څخه ډډه وکړي.

- .اسلامي امارت په خپلو لیکو کې بې ړیري ماشومان نه پرېږدي او په دې هکله امارت د مجاهدینو لیکو ته وخت په وخت پلاوي لیږلي او لیږي تر څو دا یقیني کړي چې بې ړیري ماشومان په سنګرونو کې نه وي ، که چیرته احیانا په کوم ځای کې د پالیسۍ خلاف کوم بې ړیرى موندل کیږي ، نو هغه استخدام کوونکی قومندان به بیا مسؤل ګڼل کیږي او ځواب به وایي.

- . د اسلامي امارت مجاهدین صحي کار کوونکي ، د پولیو د واکسین اړوند کسانو په شمول ، مکتبونه ، او تعلیمي پرسونل نه په نښه کوي ، بلکې تر وسې پورې یې امنیت تأمینوي او خپله ټوله هڅه کوي چې د نظامي عملیاتو له امله ، د مکتبونو په شمول ، د هیوادوالو دیني او دنیوي کارونه تعطیل نه شي.

مونږ یو وار بیا وایو چې کومې شمېرې چې تاسو په راپور کې د ملکي تلفاتو په برخه کې ذکر کړي ، مونږ ته د منلو وړ نه دي او مونږ یې په کلکه ردوو. سربېره پر دې ستاسو څخه په کلکه غوښتنه کوو چې په دې برخه کې خپله بې طرفي وساتئ او خارجي اشغالګر او ددوی داخلي ملګرو ته نور جرأت مه ورکوئ چې په معافیت سره د بشر په ضد جنایت تر سره کړي. همداراز د خارجي اشغالګرو او د هغوی د داخلي ملګرو لخوا چې د بمباریو او چاپو له امله کوم جنایات ترسره کیږي ، هغې ته پوره انعکاس ورکړئ ، بې له ځنډه یې وغندئ او د مخنیوي لپاره یې خپلې ټولې هڅې په کار واچوئ. په پای کې یوځل بیا په جدیت غوښتنه کوو ، چې دیوناما اداره دې اشغالګر او دکابل ګوډاګی اداره وپوهوي ترڅو له ملکي زورونو ، کړونو ، ربړونو ، نیونو او دعام ولس له بمباردولو څخه لاس واخلي ، البته په بشپړ ډاډ سره ویلای شو چې اسلامي امارت دملکي خلکو دساتنې په برخه کې خپلو تعهداتو ته ژمن دی.

د افغانستان اسلامي امارت – سیاسي دفتر

نېټه: ۱۴۴۰/۰۶/۱۵ (۲۰۱۹/۰۲/۲۰)